# Shaikh Zayed

Quarterly Academic & Research Journal 2024
No: 35

## In this Issue:

- **Types of foreigners**
- **Means of Proving Crime**
- **Pashto modern poem and sadism**
- **The role of Forensic medicine in determining of homicide**
- **Controlling of Inflation in Islamic System**

**& ETC...**



شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

۳۵

# شیخ زاید
# علمي - څېړنیز ژورنال

علمي، څېړنیزه، درې میاشتنۍ خپرونه
۱۴۰۳المریز کال، دویمه ګڼه، وږی، پرله پسې۳۵مه ګڼه

**په دې ګڼه کې لولئ:**

- د بهرنیانو ډولونه
- د جرم ثابتولو وسیلې
- په پښتو معاصر شعر کې له ځورېدنې خوند اخیستنې (سادېزم) څرګونه
- د قتل په تثبیت کې د عدلي طب رول
- په اسلام کې د انفلاسیون کنټرول حل لارې

او داسې نور ...



بسم الله الرحمن الرحيم

# شيخ زايد پوهنتون

# شيخ زايد علمي - څېړنيز ژورنال

د شيخ زايد پوهنتون علمي څېړنيزه درې‌میاشتینۍ خپرونه
( ټولنيز او طبيعي علوم )
د ۱۴۰۳ل (۱۴۴۶ ق) کال دويمه گڼه، وږی ــ پرله‌پسې ۳۵مه گڼه

۳۵

# شیخ زاید پوهنتون

## علمي څېړنو معاونیت

## علمي مجلې آمریت

## علمي مجلې عمومي مدیریت

د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي

علمي مجلې نشراتو مدیر: رحیم الله راحل

متونو سمونې مدیر: نعمت الله ذهین

برېښنالیک: journals@szu.edu.af



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهندوی سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهندوی نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهنمل گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |



پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان

۰۰۹۳۷۷۷۹۱۶۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لهپاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟

- په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري ليندیو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، ليکنه دې د ليکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (**Pashto Nazo**) ، د درى لهپاره (**Bahij Zar**) د عربي لهپاره ) (**Traditional Arabic**) او د انګليسي متن لهپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .
- له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پايله، مناقشه او نتيجه ګيري راوړل شي. په پايله کې دې هره نتيجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- وړانديزونه دې د پايلې، مناقشې او نتيجه ګيرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- د انګليسي (**Abstract**) د ليک سايز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې يې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر يې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګليسي ژبه د ليکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښناليک، د تقريظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان وليکل شي.
- مأخذونه بايد د الفبا په تورو ترتيب، شمېر يې له اتو کم نه وي، د ټولنيزو علومو مأخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبيعي علومو مأخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

### د ټولنیزو علومو برخه


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د بهرنیانو دولونه | پوهنوال محمد شفیق مندوزی | ۱ |
| ۲ | د جرم ثابتولو وسیلې | پوهنوال امان الله ځدراڼ | ۱۳ |
| ۳ | د المعتصم او عُموریه د سوبې پېژندنه او شننه | پوهنوال زرولي صدیقي | ۲۷ |
| ۴ | د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو ودونو د کولو حکمتونه او فلسفه | پوهندوی محمد ولید اسحق‌زی | ۳۹ |
| ۵ | په پښتو معاصر شعر کې له ځورېدنې خوند اخیستنې (سادېزم) څرکونه | پوهندوی ګل رحمن رحماني | ۴۷ |
| ٦ | خرافات، کوډې او له نا پوهۍ سره تړلي نور ناوړه دودونه | پوهندوی محمد ولید اسحق‌زی | ۵۹ |
| ۷ | غربي سیکولر- لیبرال نظریې له اړخه د بیان آزادۍ ته یوه کتنه | پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب | ۷۱ |
| ۸ | د قتل په تثبیت کې د عدلي طب رول | پوهنمل پاڅون میاخېل | ۱۰۳ |
| ۹ | په اسلام کې د انفلاسیون کنټرول حل لارې | پوهنمل رحمت الله منګل | ۱۲۷ |
| ۱۰ | په اسلامي شریعت کې د حدودو د مشروعیت حکمتونه | پوهنمل فخرالدین عزام | ۱۴۱ |
| ۱۱ | د عمدي قتل په مقابل کې صلحه او د هغې احکام | پوهنمل نقیب الله مشفق | ۱۵۷ |
| ۱۲ | د لرغونو اثارو په بیارغونه کې د نویو مېتودونو کارونه | پوهنمل ګل رحمن مشفق | ۱۷۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | د افغانستان په پرمختګ کې د جغرافیایي موقعیت اغېز | پوهنیار نظیرګل صدیقي | ۱۸۷ |
| ۱۴ | د اسلامي شریعت په رڼا کې د ګناهونو د ښېنې لاملونه | پوهنیار محمد اسحاق شهزاد | ۲۰۵ |
| ۱۵ | تاثیر ادبیات بالای جامعه در افغانستان | هدایت الله سلیم | ۲۲۳ |
| د طبیعي علومو برخه | | | |
| ۱٦ | مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول | پوهنمل عبدالرحیم احمدي او پوهنیار عبدالروف خاموش | ۲۳۵ |
| Abstracts in English | | | Page 256 |

# د بهرنیانو ډولونه

پوهنوال محمد شفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.
برېښنالیک: shafiqmandozy@gmail.com

**لنډیز**
د بهرنیانو ډولونه او د هغوی حقوقي وضعیت د نړیوالو خصوصي حقوقو د اساسي موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، چې په اوسني وخت کې د نړیوالو موضوعاتو په سر کې قرار لري؛ نو په دې اساس که څه هم اشخاص د جغرافیایي نظره په معین محل کې ژوند کوي او د دې محل سره مادي او حقوقي اړیکه لري، همدارنګه د سیاسي والي او حقوقي والي له حیثه له دولت سره تړاو لري؛ تر څو د دغه تړاو په موجب دولت د هغوی له منافعو څخه په بهر کې ملاتړ وکړي او په داخل کې هم نوموړي اشخاص له هغو حقوقو څخه برخمن شي، چې دولت ټولو ته په نظر کې نیولي دي. په عمل کې اشخاص د مختلفو عواملو لکه: (سیاسي، تجارتي، اقتصادي، جنګي، تحصیلي، طبیعي حوادث او داسې نورو) له امله بهرنیو هیوادونو ته د پاسپورت او ویزې د لرلو پر اساس ځي، همدارنګه د دولتونو په وسیله د ورود د حق په رسمیت پېژندل، ملي قانون منل او د بیګانه اتباعو خروج په برخه کې الزاموالی را منځته کوي. د بهرنیو اشخاصو دخول او خروج ، په دایمي یا موقتي ډول په بهرني هېواد کې ژوند کول، د دې موجب کېږي چې یاد شوی هیواد د خپلو اتباعو او د نوموړي شخص تر منځ تفکیک وکړي او د دغه ډول اشخاصو په ځینو حقوقو قایل او د بعضو څخه یې محروم کړي، چې په ذکر شوي کتابتوني تحقیقي موضوع کې پرې هر اړخیز بحث شوی دی.

**کلیدي کلمې:** اواره ګان(بې ځایه شوي)، دایمي بهرنیان، مهارب کډوال، سیلانیان، عادي بهرنیان.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد الله رب العالمین والصلوه والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

په اوسني وخت کې به په نړۍ کې داسې هېواد پیدا نه شي، چې د دوی اتباع دې بل کې نه اوسېږي او یا په هغه هېواد کې د نورو هېوادونو اشخاص ونه اوسېږي، یعنې هرڅومره، چې د یوه هېواد متبوع اشخاص د جغرافیایي نقطې له نظره په یوه ټاکلي ځای کې ژوند کوي د هغه ځای سره مادي او حقوقي

رابطه لري. له سیاسي او حقوقي پلوه د دولت سره اړیکه لري او د همدغو اړیکو پر اساس هېوادونه په بهرکې د خپلو وګړو له حقوقوڅخه حمایت کوي او په داخل کې دغه وګړي هم د هغو حقوقو درلودونکي دي، چې یو دولت يې د هغو لهپاره په نظرکې نیسي. په عمل کې لیدل کېږي، چې ډېر اشخاص د اقتصادي، تجارتي، سیاسي، جنګي، تحصیلي، طبیعي او نورو مختلفو پېښو پر اساس خپل اصلي ځای پرېږدي او په نورو هېوادونو کې ژوند غوره کوي.

هغه اشخاص، چې غواړي بهرنیو هېوادونو ته لاړ شي او د اړونده هېوادونو سره سیاسي، حقوقي او معنوي اړیکې ونه لري او په دغو هېوادونو کې په دایمي اومؤقتي ډول ژوند غوره کوي، د دې باعث ګرځي، چې دولتونه يې د خپلو اتباعو څخه تفکیک کړي، چې پر اساس يې د ځینو حقوقو څخه محرومېږي او سره له دې انساني شخصیت پر دغه امر ملزم دی، چې انسان د هغه حقوقو درلودونکی شي، چې د ژوند لهپاره ورته لازم او ضروري وي؛ نو دولتونو دغه عمل ته په پام د بهرنیانو لهپاره حقوق په نظر کې نیسي. د مختلفو عواملو پر اساس د وطن پرېښودل په نورو هېوادونو کې مسافرت او اقامت (استوګنه) غوره کول، د دولتونو په واسطه له ځینو حقوقو څخه د بهرنیانو محرومېدل او هیوادونو ته د تلو او راتلو په اساس د بهرنیانو ویشنه د نړیوالو خصوصي حقوقو د بحث یوه مهمه حقوقي موضوع ده، د دې لهپاره، چې د بهرنیانو ډولونه په ښه توګه وپیژنو؛ نو په دې کتابتوني تحقیقي مقاله کې د بهرنیانو پېژندنه او ډولونو باندې بحث کوو.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنیزې مقالې موخې دا دي، چې لوستونکي به وپوهېږي، چې د بهرنیانو په اړه اوسنۍ پیړۍ د بشري حقوقو د ملاتړ له حیثه ارزښتناکه ده. د شلمې پیړۍ له پیل څخه نیولې بیا تر نن پورې زیات بین المللي اسناد د بشري حقوقو، د بهرنیانو او اقلیتونو د حقوقو دحمایت لهپاره منځته راغلل، پاتې دې نه وي، چې شلمه پیړۍ د دوو نړیوالو جنګونو شاهده وه، چې زیات شمېر انسانان پکې ووژل شول؛ ولې بیا يې هم د بشر حقوقو د پرمختګ مخه ونه نیوله.

په (۲۰ مه) پیړۍ کې د بشر فردي حقوقو پرمختګ وکړ او تکامل ته ورسېدل اود بهرنیانو د حقوقو په اړه زیات قواعد وضع شول. په نړیواله سطحه بشري حقوقو ته زیاته پاملرنه وشوه؛ مختلفې نړیوالې اعلامیې، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي نړیوال تړون او زیات نور تړونونه د سیمې او نړۍ په کچه رامنځته شول، چې د بهرنیانو حقوقو ته پکې اشاره شوې وه. مثلاً: څلورم پروتوکول څلورمه ماده، اووم پروتوکول او لومړۍ ماده، چې په دغو اروپایي پروتوکولونو کې ذکر

شوي دي، چې بې له دلیل څخه د بهرنیانو اخراج ممنوع دی.

همدارنګه د دې کتابتوني مقالې په اساس به لوستونکي په دې وپوهېږي، چې خاصو شرایطو په اساس د بعضو حقوقو څخه محرومیږي، که چېرته مونږ وغواړو چې بهرنی د خصوصي حقوقو څخه محروم کړو؛ نو نوموړی محرومیت داسې مفهوم افاده کوي، چې نوموړي بهرني ته په دې هیواد کې د ژوند کولو اجازه نه ورکول کېږي، ځکه چې په یوه هېواد کې ژوند کول بغیر د خصوصي او خصوصا د شخصي احوالو حقوقو څخه ممکن نه دی.

**د کار مواد او میتود**

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او له هغه مأخذونو او منــابعو څخه پکې استفاده شوي ده، چې په نړیوالــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي.کوشش مې کړی دی، چې موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکي يې په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو دپښتو ژبې ټول ادبیات په نظر کې نیول شوي دي او هم په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوې ده.

څرنګه چې زما د لیکنې موضوع ( د بهرنیانو ډولونه ) دي؛ د موضوع د ښه وضاحت لهپاره به لومړی د بهرنیانو د پېژندنې په هکله اجمالي معلومات او ورپسې به د بهرنیانو ډولونو باندې خپله کتابتوني څېړنیزه لیکنه بشپړه کړم.

**د بهرنیانو پیژندنه**

بهرنی په لغت کې ناپېژنده، ناآشنا او هغه شخص ته ویل کیږي چې د بل هیواد شخص وي، په انګلیسی ژبه کې ورته Aliens او په عربي ژبه کې ورته الاجنبي ویل کیږي (حسن،۱۳۸۳،ص:۳۳).

په اصطلاح کې بهرنی شخص هغه دی، چې د هغه دولت تبعه نه وي یا په هغه شخص باندې اطلاق کیږي، چې د نوموړي دولت تابعیت ونه لري (دراني،۱۳۹۹،ص:۱۲٦).

یا د بین المللي حقوقو په دایرة المعارف کې راغلي دي، چې بهرنی هغه شخص ته ویل کېږي، چې په یوه هېواد کې ژوند کوي؛ خو د دغه هیواد تابعیت ونه لري (بې تابعیته اشخاص) هم بهرني ګڼل کیږي (مندوزی،۱۴۰۲،ص:۱۲٦).

د افغانستان مدني قانون د(۲۰۰۰ مې) مادې په اوله فقره کې بهرني ته بیګانه او په دویمه فقره کې د اجنبي اصطلاح کارولې ده، د حقوقو په ترمینولوژي کې خارجي هغه شخص ته ویل کیږي، چې د هیواد یا دولت او افرادو په وړاندې معین تابعیت ونه لري (ابراهیمي،۱۳۸٦،ص:۳۷۳).

د افغانستان د تابعیت قانون خارجي اصطلاح کاروليږ او داسې صراحت لري: (خارجی هغه شخص ته ویل کېږي چې د افغانستان تابعیت ونلري او یا بې تابعیته وي .

همدارنګه د افغانستان په ادارو کې د خارجي اتباعو د استخدام مقرره په دې اړه داسې صراحت لري: (خارجي هغه شخص ته ویل کېږي، چې د افغانستان تابعیت ونلري).

**د بهرنیانو ډولونه**

بهرنیان په مجموع کې په دوه برخو ویشل شوي دي.

۱: حقیقي اشخاص

۲: حکمي اشخاص

۱ـ حقیقي اشخاص بیا په خپل وار سره په دوولسو ډولونو وېشل شوي دي، چې زمونږ د تحقیق موضوع هم د حقیقي بهرني اشخاصو ډولونه دي او په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

عادي بهرنیان، فراري او مجرم بهرنیان، مهارب(کډوال) بهرنیان، آواره ګان ( بې ځایه شوي)، مهاجرین، سیلانیان، محصلان، سوداګر او پانګه اچوونکي، ژورنالستان، جوینده ګان ( طلب کوونکي)، پناه غوښتونکي او مامور بهرنیان، چې هر یو یې په لاندې ډول مطالعه کوو (دانش پژوه،۱۳۸۶،ص:۱۹۸).

**عادي بهرنیان**

هغه افرادو ته ویل کېږي، چې په معمولي ډول په نورو هېوادونو کې ژوند کوي او یا هېوادونو ته مسافرت کوي. د ډول افرادو حقوقي وضیعت د هېوادونو په داخلي قوانینو کې تصریح کېږي.

عادي بهرنیان په دوه ډوله دی الف ـ عادي مقیم بهرنیان ب ـ مسافر عادي بهرنیان

الف: عادي مقیم بهرنیان: هغه اشخاصو ته ویل کېږي، چې په مؤقت یا دایمي ډول په ټولنیز کار او فعالیت مشغول وي او هلته ژوند کوي، که څه هم اصل دا دی، چې د بهرني شخص د اقامت آزادي شتون لري؛ خو هیوادونه د خپلو سیاسي اجتماعي، فرهنګي او داسې نورو مصالحو په نظر کې نیولو سره یو لړ شرایط ورته وضع کوي. په همدې اساس بهرنیان د دایمي والي او موقت والي له حیثه په دوه ډوله دي، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

د اوږد مهاله استوګنې (دایمي اقامت) بهرنیان: هغه افرادو ته ویل کېږي، چې د دولتونو لخوا هغو افرادو ته د دایمي اقامت ویزه ورکړي چې د هغه هېواد د دایمي اقامت شرایط یې پوره کړي وي. غالباً علمي شخصیتونه او متخصصانو ته دایمي اقامت ورکول کېږي؛ ځکه چې هغوی کولای شي بهرني هېواد ته خدمت وکړي.

د لنډ مهاله (مؤقتي) اقامت: هغه افرادو ته ویل کېږي چې په موقتي شکل د سیاحت او یا تحصیلاتو

له‌پاره بل هېواد ته تللي وي دغه حق په يو لړ شرايطو باندې ولاړ دی، چې د هیوادونو سیاسي مصالحو پورې اړه لري.

ب: مسافر عادي بهرني: هغو اشخاصو ته ويل کېږي، چې د خاصو موخو د رسيدو له‌پاره د يو لنډ وخت له‌پاره بل هیواد ته سفر کوي. معمولاً مسافر اشخاص د نورو بهرنيانو په پرتله له کمو حقوقو څخه برخمن دي. ممکن ديپلوماتان هم مسافرين وي، په هغه صورت کې چې د خاصو سياسي موخو له‌پاره بل هېواد ته په لنډ مهاله سياسي سفر اقدام کوي، ممکن سوداگر وي چې د لنډ وخت له‌پاره بهر ته سفر کوي.

**فراري او مجرم بهرنيان**

مجرم بهرنيان هغه اشخاص دي، چې په یوه هیواد کې د جرم مرتکب گرځيدلي وي، د دې له‌پاره، چې مجازات نه شي يوه بل هیواد ته فرارکوي.

په تېرو زمانو کې دولتونو فراريان د جرم د اجراء پر اساس په سزا رسول او يا يې د حمايې او دفاع وړ نه بلل، په زياتره مواردو کې يې فراريان له خپلو هېوادونو څخه شړل او يا به يې مجنی عليه هيواد ته سپارل، دولتونو د معاهداتو پر اساس په خپلو کې داسې احکام په داخلي قوانينو کې پيشبيني کړل، چې دغو اشخاصو ته پناه ورکول پکې منع پيژندل شوي وه، د حمورابي په پخوانيو قوانينو کې پناه ورکول جرم گڼل شوی و او په خپله پنځلسمه ماده کې يې د فراري غلامانو پناه ورکوونکو ته د اعدام جزا ټاکلې وه. سره له دې په معاصره پېړۍ کې په ځينو دولتونو کې د پناه په مسئله کې د سياسي مجرمينو استثناء ومنل شوه؛ خو د جنايتکارانو او فراري مجرمينو په برخه کې معمولاً د استرداد څخه استفاده کېږي، د دغه اصل پر اساس هغه دولت، چې جرم د هغه په خاوره کې واقع شوی وي د مرتکب د استرداد غوښتنه کوي؛ ځکه متقاضي هيواد د خساراتو محتمل گرځيدلی او له دغه هيواد څخه وړاندې د نورو هيوادونو محاکم ورته د رسيده گۍ صلاحيت نه لري.

نن ورځ هم د دولتونو د اړيکو پر اساس په نورو دولتونوکې فراري مجرمين د پيژندلو وړ دي او د بهرنيانو د حقوقو درلودونکي نه بلل کېږي (مندوزی،۱۴۰۲،ص:۲۱۳، ۲۱۴).

**مهارب(کډوال) بهرنيان**

دا هغه اشخاص دي، چې په اختياري توگه يې خپل هېواد پرېښودلی وي او په بل هېواد کې يې د مختلفو لاملونو(اقتصادي، اجتماعي، فرهنگي...) پر اساس استوگنه انتخاب کړې وي مهارب بهرنيان بلل کېږي (ناصح،۱۳۹۲،ص:۱۴۵).

**اواره ګان (بې ځایه شوي) بهرنیان**

اواره ګان هغه اشخاص دي، چې د جنګ یا طبیعي حوادثو څخه د ژوند د ساتلو په منظور نورو هېوادونو ته کډه شوي وي؛ لکه سیلابونه، زلزلې او داسې نور.......

له پورته تعریف څخه په اخذ سره اواره ګان په دوه برخو ویشل شوي دي، چې عبارت دي له:

۱ـ د جګړې اواره ګان

۲ـ د طبیعي پېښو اواره ګان، چې هر یو یې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیسو.

۱ ـ د جګړې اواره ګان

هغه افراد، چې د جنګي عملیاتو یا د متخاصم دولت د لشکرکشۍ له آمله له هغې خاورې څخه کډه شوي وي، چې مخکې یې پرې ژوند کړی وي، د جګړې آواره ګان بلل کېږي، آواره ګان مجبور دي د هغه مسلحانه داخلي یا بین المللي جګړو پر اساس، چې په هېواد کې یې روانې دي، خپله خاوره ترک کړي، اصولاً آواره ګان د( ۱۹۵۱) او د ( ۱۹۶۷) کال کنوانسیونونو او هغه اضافي پروتوکول، چې په( ۱۹۷۷م) کال مسلحانه جګړو کې د ایسارو قربانیانو د حمایت په منظور تصویب شو، حمایت کېږي او د خاصو حقوقو درولودونکي دي، په هېوادونو کې د جنګي آواره ګانو حقوقو نسبت نورو بهرنیانو ته کم دی له دې سره، چې د بشر دوستانه نړیوالو حقوقو پر اساس په نظرکې نیول شوي دي؛ خو بیا هم د جنګي آواره ګانو حقوق کم دي او په عمل کې له مناسب حقوقي وضعیت څخه برخمن نه دي.

۲ـ طبیعي آواره ګان

طبیعي آواره ګان هغه اشخاص او افراد دي، چې د طبیعي حوادثو له امله نورو هېوادونو ته کډه شوي وي، لکه: زلزله، واورې ښویدنه، سیلابونه او داسې نور.

دا هغه خلک دي، چې د خپل ژوند د ساتلو په خاطر مجبورشوي وي او نورو هېوادونو ته یې کډه کړې وي؛ دولتونو د انساني خواخوږۍ له مخې د حمایت لاندې نیولي او د مؤقت وخت لهپاره یې قبول کړي دي، د طبیعي حوادثو د رفع کېدو څخه وروسته خپلو هېوادونوته ستانه کېږي، کله چې طبیعي حوادث یوه طولاني موده په برکې ونیسي؛ نو د زیات وخت لهپاره په نورو هیوادونو کې میشت او حمایت شوي دي (دانش پژوه، ۱۳۸۶،ص:۲۰۷).

**مهاجرین**

مهاجرین هغه کسانو ته ویل کېږی، چې د سیاسي، نژادي، مذهبي، ټولنیزو او د اوسیدو د ملاحظاتو پر اساس خپل هېواد پرېږدي او بل هغه هېواد کې، چې د اوسیدو اجازه یې اخیستې وي، د اوږده وخت لهپاره د اوسیدلو تصمیم ولري (افضلي، رحیمي،۱۳۹۱،ص:۱۷۷).

په یو عمومي وېش کې کولی شو، چې هېوادونه په ځانګړي ډول د جغرافیوي او د نفوس په اساس په دوو برخو وویشو، چې عبارت دي له: مهاجر منونکي او مهاجر پال هیوادونو څخه، چې په لاندې ډول یې مطالعه کوو.

۱ـ مهاجر منونکي هیوادونه: نوموړي هیوادونه د لویو سیمو (ځمکو) لرونکي دي او وګړي یې نظر سیمې او د هیواد پرمختګ ته کم او بسنه نه کوي او د نورو هېوادونو دکسانو منلو ته اړتیا لري. لکه امریکا، کاناډا او استرالیا، نوموړو هیوادونو د دې هدف د لاسته ته راوړلو په خاطر د مهاجرینو د منلو لهپاره اسانه شرطونه ټاکلي دي او همدارنګه یې خپلو هیوادونو ته د دخول لهپاره اسانه شرایط اینبودلي دي؛ ترڅو زیات مهاجرین ورشي او دا وضعیت به تر هغه دوام کوي، چې مهاجرو ته اړتیا ولري.

۲ـ مهاجر پال (مهاجر پرست) هېوادونه: نوموړي هیوادونه هغه دي، چې د هیواد غړي یې زیات او سیمه یې کمه ده، چې په داسې هیوادونو کې ټولو اشخاصو ته د کار کولو مساعده زمینه وجود نه لري، لکه لبنان، پاکستان او بنګلادیش.

اگر چې ممکن دا ویش نن ورځ د ملاحظې وړ نه وي، ځکه چې د مهاجرو منل د هر هېواد په پرمختګ کې رول لري او د مهاجرو ډولونه لکه د ساده قوې مهاجر او متخصص مهاجر باندې بدلیږي.

د یادولو وړ ده چې د افغانستان د نفوسو د تذکرې نظامنامې د پاسپورت اصولو او د تابعیت د ۱۳۰۲ کال قانون په درېیم فصل او (۹۷ مه) ماده کې د ایران مهاجرینو په اړه ویلي وو، چې ټول ایراني مهاجرین چې افغانستان کې سکونت لري د افغانستان تبعه ګڼل کېږي؛ نو په دې اساس یې د بهرني تبعه کېدلو څخه بیرون کول او افغاني تبعه ګڼل کېدل.

په خاص ډول د سرحدي وګړو په اړه چې په دولتي ځمکو کې د اوړي او ژمنیو د سیمو د ضرورت په اساس ژوند کوي. د افغانستان او ایران ترمنځ منعقده شوې معاهده کې یې حقوق او وجایب تعیین شوي وو، چې د ایران په خاوره کې اوسېدو سره به ایراني تبعه او د افغانستان سیمه کې اوسیدو سره به افغاني تبعه ګڼل کېدل او هغه وګړي چې د یوې سیمې به په بله سیمه کې اوسیدل په همغه معاهده کې توافق شوی وو، چې هغه قبیلې چې له ایران نه افغانستان ته راغلي وې، دافغانستان تبعه ګڼل کېدل؛ نو پدې اساس ایراني مامورینو ته د یادونې پرته، ایران خاورې ته یې د ننوتلو اجازه نه درلوده او دا موضوع د هغو افغاني قبیلو په اړه هم صدق کوي، چې افغانستان نه ایران ته تللي دي.

د یادولو وړ ده چې مخکې وخت کې د مهاجرو د دخول او منلو قواعد د نظامنامې تر عنوان لاندې په ۱۳۰۲ کال د سرطان په (۷ مه) تاریخ د وزیرانو شورا لخوا په تصویب رسیدلي وه او د دې قواعدو په مبناء د مهاجرینو منل اسانه وو او د افغانستان تبعه ګڼل کېدل او په دې نظامنامه کې ځانګړي امتیازونه په

نظر کې نیول شوي وو، لکه د ځمکې د ملکیت امتیاز لرل او د هغوی سره د افغاني تبعه په شان رویه کېدله. البته، د تابعیت پرېښودلو په صورت کې به املاک ترېنه اخیستل کېدل او له هیواد نه به یې هم اخراج کول (افضلي، رحیمي،۱۳۹۷،ص: ۱۵۷، ۱۵۸ ).

**سیلانیان**

د افغانستان د سیلانیانو قانون د لومړی مادې پر اساس سیلاني داسې تعریف شوی دی، چې «سیلاني هغه کس دی، چې په مؤقتي ډول حد اقل د ۲۴ ساعتونو لهپاره د یوه هیواد نه لیدنه کوي، په دې شرط چې په هغه ځای کې په داسې دنده بوخت نه شي، چې عاید ترېنه راوړي». په دې وجه د سیلانیانو د اوسیدو وخت کم دی او نه شي کولی چې په هغه هیواد کې په دنده مشغول شي، پدې علت چې د سیلاني په نوم هغه هیواد کې اوسیږی او سیاحتي ویزې یې اخیستي وي البته کېدای شي بعضو هیوادونو کې د ویزې لغوه کېدو قرار داد شوی وي، چې پدې صورت کې به د ویزې اخیستلو نه معاف وي (مندوزی،۱۴۰۲،ص:۱۶۱).

**محصلان**

کله کله د هیوادو ترمنځ دوه اړخیز یا څو اړخیز قراردادونه کېږی، چې د هغې پر اساس د فرهنګي فعالیتونو لهپاره محصل تبادله کېږی او له دې لارې د خپل هېواد په معرفۍ لاس پورې کوي او خپلې همکاری ته توسعه ورکوي.

محصل هغه څوک دی، چې د علم حصول او له نورو نظامونو څخه د زده کړو بلدتیا او د نویو علمي موضوعاتو لهپاره بل هېواد ته مسافرت کوي. بل هیواد ته د ننوتلو لهپاره باید ویزه واخلي، چې په ځینو هیوادو کې شاید د تحصیلې ویزې لهپاره تحصیلي پاسپورت ورکړل شي او همدارنګه د هیوادونو متقابلې اړیکې د محصلانو په تحصیل کې مؤثرې واقع شي (افضلي، رحیمي،۱۳۹۲،ص:۱۴۱).

په دې مورد کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون په ( ۱۷ مه ) ماده کې داسې صراحت لري، چې «د بهرنیو محصلانو ویزه چې افغانستان ته د ننه کېږي د مخکېنۍ موافقې او متقابله رویې په اساس صورت نیسي».

**سوداګر او پانګه اچوونکي**

د افغانستان د تجارت قانون د ( ۸ مې ) مادې مطابق «تاجر عبارت له هر هغه کس یا شرکت څخه چې د تجارتي اهلیت په لرلو سره په خپل نوم په یوه یا څو سوداګریزو معاملو کې ګډون وکړي او دا خپله دنده وګرځوي، سوداګر شمیرل کېږي». دا کسان د سوداګرۍ او ګټې په نیت همدارنګه د نویو بازارونو

د پېژندنې لهپاره او د خپل تجارتي فعالیت د ساحې د پراختیا په خاطر له یوه هېواد نه بل هېواد ته مسافرت کوي.

یوه بله ډله د اجنبیانو په افغانستان یا نورو هېوادونو کې چې بهرني پانگه اچوونکي دي، هغه هم د ځانگړو قواعدو او مقرراتو تابع دي. له هغه ځایه چې دا کسان د بهرنیو تجارانو د قواعدو تابع دي؛ خو په ځینو مواردو کې د ځانگړو شرایطو لاندې دي.

پانگه اچوونکي هغه کسان دي، چې د دارایی د تملیک لهپاره (چې له هغې جملې څخه سهمونه، بیه لرونکې اوراق او نور) یې له متبوع هېواد څخه بهر وي چې دا دارایی د تولید د وسایلو له جملې څخه وي (مستقیم پانگه اچوونکي) گڼل کېږي، لدې نه بغیر غیر مستقیم پانگه اچوونکي گڼل کېږي، اما د خصوصي پانگې اچونی قانون په اساس د مادي یا غیر مادي پانگې په اچونې سره پرته له مستقیمې یا غیر مستقیمې پانگې اچونې بیان کړی دی او دواړه ډوله یې پانگه اچونې ته شاملېږي.

هیوادونه د خپلو سوداگرو د حمایت او د امینت لهپاره له نورو هیوادونو سره یو اړخیز یا څو اړخیز تړونونه کوي اما باید وواېو تر هغه ځایه چې تجارت په موضوع کې ښایي، تر اوسه د پانگه اچوونکو د امینت د تأمین تړونونه ازموینې پایلې بیرته نه دي ورکړي چې واضح کړل شي، چې څومره دې تړونونو د پانگه اچوونکو امینت ته ارتقا ورکړې ده، په هر حال اجنبي تجاران او پانگه اچوونکي په هیواد کې د بهرنیانو له جملې څخه دي، چې نن ورځ یې د ازادو بازارونو د ساتنې لاندې شمیر زیات کړی دی او هیوادونه د هغه د جذب لهپاره هڅې کوي (افضلي، رحیمي،۱۳۹۲،ص:۱۴۲).

**ژورنالیستان**

ژورنالیستان هم د خبریالی، انځورگری یا مطبوعاتي فعالیتونو په بیلا بیلو برخو کې لکه، فرهنگي، سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او نورو کې د مطبوعاتي ویزو په اخیستلو سره هیوادونو ته د ننه کېږي. د مطبوعاتو قانون هم ژورنالست داسې تعریف کړی دی: چې« ژورنالست هغه مسلکي او حرفوي کس دی، چې د رسنیو له لارې خپریدونکي مواد تهیه او وړاندې کوي» (د رسنیو رسونې قانون ۳ ماده دریم بند). پدې اساس ژورنالیستان هم د اجنبیانو له جملې څخه شمېرل کېږی، چې په بهرني هیواد کې د ځانگړې موضوع په مقصد چې اړونده هیواد ورته اجازه ورکوي اقامت پیلوی (افضلي، رحیمي،۱۳۹۱،ص:۱۴۲).

**جوینده گان (طلب کوونکي)**

جوینده گان یا طلب کوونکي هغه کسان دي، چې تجربه یا تخصص لرونکي وي او یا دا چې ساده کاریگر وي او د معاش حصول لهپاره بل هیواد ته سفر کوي، په واقعیت کې دوی د مزد په مقابل کې دنده کوي، اما په عمومي ډول سره هیوادونه د داسې کسانو راتلو لهپاره سخت شرطونه وضع کوي، په

هر صورت د داسې کسانو مشتغل کېدل د هیوادونو په اقتصادي وضعیت پورې تړلي دي، چې د دخول اجازه هم په دې پورې اړه لري، د بیلګې په توګه، لکه د افغانستان اقتصادي وضعیت دومره ښه نه دی، چې بهرنیو ساده کاریګرو ته دې د دندې لاسته راوړلو لپاره ویزه ورکړل شي، متخصصینو اشخاصو ته د ویزې د ورکړې امکان شتون لري، په دې مورد کې د بهرنیو اتباعو د استخدام قانون د افغانستان په ادارو کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته معرفي کېږي، تر څو چې د کار د جواز صدور بهرنیانو ته ورکړي؛ نو پدې اساس د کار طلب کوونکي بله ډله د پردیو له جملې نه په مقیم هیواد کې ګڼل کېږي (ناصح،۱۳۹۲،ص:۱۹۰).

**پناه غوښتونکي بهرنیان**

پناه اخیستونکي هغو افرادو ته ویل کېږي، چې د سیاسي، نژادي، فرهنګي، مذهبي او ټولنیزو عواملو په اساس په خپل حاکم نظام تحمل ونلري او بل هیواد ته ځان، مال او کورنۍ د ویرې له کبله پناه یوسی. یا په بل عبارت پناه اخیستونکی په هغه انسان باندې اطلاقیږي چې د متبوع دولت د ملاتړ څخه د نه برخمن کېدو په دلیل یې امنیت د خطر سره مخامخ کېږي او د خپل ژوند د دوام لپاره نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري (عبدالله،۱۳۹٦،ص:۱۵۳).

**مامور بهرنیان**

هغه اشخاصو ته ویل کېږي، چې د خپل متبوع هیواد له لوري د خپل ماموریت د تر سره کولو لپاره بل هېواد ته ځي.

مامورین په دوه ډوله دي. الف: سیاسي مامورین ب: غیر سیاسي مامورین

الف: سیاسي مامورین: هغه مامورین دي، چې د خپل متبوع هیواد دیپلوماتیکو امورو لپاره دنده ترسره کوي.

ب: غیر سیاسي مامورین: هغه مامورینو ته ویل کېږي چې د خپل متبوع دولت له لوري پرته د سیاسي دندې څخه د فرهنګي، اقتصادي، او ... دندو لپاره بهر ته لیږل کېږي (مندوزی،۱۴۰۲،ص:۱۵۷).

**۲ـ حکمي اشخاص**

حکمي اشخاص هغه اشخاصو ته ویل کېږي، چې خپله اراده د حقیقي اشخاصو په واسطه تمثیلوي. یا حکمي اشخاص په ټولنه کې د وګړو څخه تشکیلیږي، چې قانون جوړوونکي د هغو وګړو د فعالیتونو لپاره د یوه بېل شخصیت په تشکیل کولو باندې قایل شوي دي او نوموړي حکمي اشخاص یې په دوو ډولونو باندې ویشلي دي.

لومړی، عمومي حکمي اشخاص او دویم، خصوصي حکمي اشخاص چې هر یو یې د مطالعې لاندې نیسو.

## عمومي حکمي اشخاص

عمومي حکمي اشخاص د هغه جملې د حکمي اشخاصو څخه عبارت دي، چې د قانون په واسطه تشکیل شوي وي او عمومي جنبه ولري او دولت د هغې په تأسیس کې د مستقیم او یا د غیرمستقیم عامل په حیث رول لوبوي، څکه دولتونه او هغه سازمانونه چې په دولت پورې اړه ولري، چې دا ډول اشخاص یواځې د قانون په تصویب سره حکمي شخصیت ګڼل کیږي. د بېلګې په توګه: ښاروالی، پوهنتونونه، وزارتونه او دولتي بنسټونه د عامه حقوقو اړوند حکمي شخصیتونه لري، چې د نوموړو اشخاصو په وظیفو او مسئلو کې که په داخل کې د یوه هېواد کې وي او که په بیروني سطحه وي، د قوانینو او معاهداتو په اساس یې مسؤلیتونه روښانه وي او د تعارضي مسئلو لپاره یې حل موجود وي (ناصح،۱۳۹۲،ص:۳۴۱).

## خصوصي حکمي اشخاص

نوموړي حکمي اشخاص هغه وخت رامنځته کیږي، چې څو کسان په ګډه د یوې موخې د لاسته راوړلو لپاره کار وکړي او یو خپلواک او جلا شخصیت را منځته کړي، دا اشخاص هم په خپل نوبت سره په دوه ډوله دي، چې یو یې انجمنونه او بل یې سوداګریز شرکتونه دي، چې انجمنونه معمولاً غیر انتفاعي اړخ لري او شرکتونه انتفاعي اړخ لري (مندوزی،۱۴۰۲،ص:۹۴).

## پایله

د نوموړي کتابتوني څېړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته ورسېدم، چې بهرنیان هغه اشخاصو ته ویل کیږي، چې په داسې هیوادونو کې ژوند کوي، چې د اړونده هیوادونو تابعیت نه لري او (بې تابعیته اشخاص) هم بهرنیان ګڼل کیږي، همدا قسم د بهرنیانو لپاره هر هیواد د خپلو مقتضیاتو او سیاسي مسئلو په اساس هغوی ته د حقوقو په ورکولو باندې قایل دي؛ خو ټول دولتونه د بهرنیانو د حقوقو په رعایت کې یو شان نه دي، څکه چې سیاسي او ټولنیزې غوښتنې د هر مملکت فرق کوي، چې بعضې هیوادونه د بهرنیانو د ننوتلو لپاره په زیاتو تشریفاتو قایل دي، بعضې هیوادونو د دخول لپاره سخت او بعضو یې نرم مقررات وضع کړي دي، په بعضو مسئلو کې دولتونه یوه واحده نظریه لري، مګر د بهرنیانو د حقوقو په مورد کې یعنې د حقوقو په ورکولو کې او یا د حقوقو څخه محروم کول د هغه هیواد داخلي موضوع ده چیرته چې بهرني قرار ولري، ځینې هیوادونه د نفوسو د کموالي او یا د فني اشخاصو ته دې ضرورت په بناء بهرنیانو ته په خاصو امتیازاتو او حقوقو قایل وي، تر څو چې مطلوب اشخاص تشویق شي او هلته د ورتللو او مستقر کېدلو تصمیم ونیسي.

همدارنګه د بهرنیانو ډولونه نورو هیوادو ته د ننوتلو او همدارنګه د حقوقي لحاظه د داخلي او بهرنیو (دوه اړخیزو معاهداتو او کنوانیسونونه) په نظر کې نیولو سره په لومړي قدم کې بهرنیان په دوو لویو برخو حقیقي او حکمي اشخاصو وېشنه او په دویم قدم کې حقیقي اشخاص په دوولسو برخو ویشل شوي

دي، چې ټول مو په د افغانستان د نافده قوانینو او نړیوالو میثاقونو په ضمن کې په اجمالي ډول مطالعه کړل.

**وړاندیزونه**

۱ـ دولتونه ترمنځ قراردادونه او تعاهدات تر سره شي؛ تر څو نورو هیوادونو ته د اشخاصو داخلیدل او بهرکیدلو زمینه برابره شي.

۲ـ د بهرنیانو شخصي مسایلو ته رسیده ګي له حیثه د ملي قانون یعنې د متبوع هېواد قوانینو څخه په بهرنیو هېوادونوکې استفاده وشي.

۳ـ د بهرنیانو لهپاره د لږ تر لږه حقوقو اجرا لازمي وشمېرل شي.

۴ـ هغه نړیوال اصول چې د اسلامي شریعت او داخلي قوانینو سره مغایرت او تناقض ونه لري، ټول هیوادونه یې په حسن نیت سره د بهرنیانو لهپاره په پام کې ونیسي.

**منابع**

ابراهیمی، سید نصرالله.(۱۳۸٦ هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی. (چ.۲). تهران: نشرات سمت

افضلی، عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. (۱۳۹۱هـ ش) حقوق بین الملل خصوصي .(چ.۱). تهران: سمت.

افضلی، عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. (۱۳۹۲هـ ش) حقوق بین الملل خصوصي .(چ.۲). تهران: سمت.

افضلی،عبدالواحد. رحیمی، محمد اسحاق. (۱۳۹۷هـ ش) حقوق بین الملل خصوصي . (چ.۳). تهران: گلها.

دانش پژوه، مصطفی.(۱۳۸٦هـ ش). اسلام و حقوق بین الملل خصوصی. ج.۱(چ.۲). تهران: انتشارات وزارت امور خارجه.

درانی، احمدګل واثق.(۱۳۹۹هـ ش). خصوصي بین المللي حقوق.(چ.۱). افغانستان: یار خپرندویه ټولنه.

عبد الله، نظام الدین. (۱۳۹٦هـ ش). شرح قانون مدنی افغانستان، حقوق بین الملل خصوصی، حقوق بین الملل خصوصی.(چ.۹). افغانستان.کابل: نشرسعید

عمید، حسن.(۱۳۸۳هـ ش).فرهنگ فارسي عمید.(چ.۳۰). تهران: انتشارات امیر کبیر

مندوزی، محمد شفیق.( ۱۴۰۲هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق ۱ او ۲. ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.

ناصح، ولی محمد. (۱۳۹۲هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی. افغانستان.کابل: انتشارات سعید.

ناصح، ولی محمد. (۱۳۹۷هـ ش). حقوق بین الملل خصوصی. افغانستان.کابل: انتشارات سعید.

# د جرم ثابتولو وسیلې

پوهنوال امان الله ځدراڼ، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه.

برېښنالیک: amanullah.zadran@gmail.com

**لنډيز**

په دې لیکنه کې د کتابتوني میتود او روش څخه ګټه اخېستل شوې ده او هڅه شوې ده، چې د جزایي دعوې د تحریک اسبابو او د جزایي دعوې د اثبات اسبابو ترمنځ توپیرونو ستونزو ته حل لاره په ګوته شي. د جزایي دعوی د تحریک وسیلې هغه دي، چې پر بنسټ یې جزایي دعوی تحریک کېږي. د جرم له وقوع وروسته او د هغو دلیلونو په کشف سره، چې په استناد یې کولای شو، چې مظنون تر عدلي تعقیب لاندې ونیسو او کله چې دا وسایل ټول شي، د جرم د وقوع د تثبیت په ضمن کې کولای شو، چې مرتکب شخص ته یې نسبت ورکړو او د دې وسایلو په راټولولو سره کولای شو، چې مرتکب تثبیت او تشخیص کړو.

د اثبات دلایل هغه مجموعه وسیلې دي، چې د یوې دعوی د اثبات لەپاره ګټه ترې پورته کېږي او محکمه کله چې حکم صادروي، مکلفه ده، چې د حکم اسباب په فیصله کې ذکر کړي. له هغه ځایه چې د ذمې برائت اصلي حالت دی؛ نو هر ډول وسیلې یا دلیل د شخص د محکومیت او مجازاتو لەپاره باید ونه کارول شي. د جزایي اجراأتو قانون کې هغه دلایل چې د عدلي تعقیب په ټولو پړاوونو کې پرې استناد کیږي، ۵ ډوله دي، چې د اقرار، شهادت، سندونه، په صف کې په بل مواجه توګه پېژندل او قرینې دي.

د نوموړي موضوع د ښې څېړنې لەپاره مې هم د جزایي دعوی د تحریک وسایل او هم د جرم د اثبات وسایل، څېړلي دي. په دې څېړنه کې دې پایلې ته ورسیدم، چې د جزایي دعوی وسایلو پر بنسټ جزایي دعوی تحریک کېږي او جرم په اثبات نه رسیږي؛ اما د جزایي دعوی د اثبات وسایلو د موجودیت په صورت کې پر مرتکب باندې جرم په اثبات رسېږي.

**کلیدي ټکي:** اثبات، تحریک، جرم، جزایي دعوی، دعوی، وسایل.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و العاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء و المرسلین الذي بعث بالحق فارقا بین الحق و الباطل و علی آله و صحبه و التابعین و علی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.**

د جزایي دعوی تحریک د واکمن شخص لخوا پر متهم باندې د دعوی د پیل کولو او یا د اقامه کولو په معنا دی. جزایي دعوی هغه وخت تحریک کېږي، چې شخص ناشایسته او د قانون خلاف عمل ترسره کړي او قانون هغه اعمال او کړنې جرم ګڼلې وي، چې د جرم د اثبات د لایلو او وسایلو له ټولولو وروسته او پر هغې باندې تحقیق، په هغه صورت کې چې پر مظنون باندې د څارنوال لخوا اتهام وارد شوی وي، په حقیقت کې جزایي دعوی تحریک شوی ده.

د جرم د اثبات ټول دلیلونه د جزایي دعوی د رسیدنې په پړاوونو ( کشف، تحقیق، د دعوی اقامه او محاکماتي پړاوونو ) کې د عملي کیدو او پاملرنې وړ نیول کیږي، لکه څرنګه چې په دې اړه د جزایي اجراأتو د قانون ( ۱۹ مه ) ماده په دویمه فقره کې وایي: « د دغه څپرکي د لیکلو دلیلونو اړوند حکمونه د جزایي دعوی د رسېدنې په ټولو پړاوونو کې د عملي کیدو وړ دي.»

د جزایي دعوی او د جرم د اثبات په پړاوونو کې دا اړینه ده؛ ترڅو د اثبات پورتني دلیلونه مدعي ( څارنوال ) د تحقیق په ترڅ کې وارزوي او د جرم د اثبات د وسیلې په توګه یې محکمې ته اقامه کړي، پرته له دې قاضي نه شي کولای، چې په خپل ګومان او فکر په متهم باندې حکم صادر کړي. په دې اړه د جزایي اجراآتو د قانون د ( ۱۹مې ) مادې څلورمه فقره داسې وایي: « محکمه نشي کولای، چې خپل ګومان او په دلیلونو کې د شبهې د شتون په صورت کې د متهم په الزام حکم وکړي.»

د جرم د اثبات وسایل چې قانون جوړونکي د جزایي اجراأتو د قانون د ( ۱۹ ) مادې په ترڅ کې په ګوته کړي دي، د جرم د اثبات د دلیلونو او وسایلو په توګه د متهم پرضد د څارنوال لخوا د محکمو په وړاندې اقامه کولای شي، که چیرې د محکمو پر وړاندې د اثبات وسایل د قانون له مخې ثابت شي، هغه په خپله پرېکړه کې د خپل حکم سبب ګرځوي، له دې مخې دا باید په ډاګه شي، چې څه ډول وسایل د قانون له مخې د محکمې د حکم سبب ګرځیدای شي.

له بله پلوه قانون ګذار د جرم د اثبات وسایل د جزایي اجراأتو په قانون کې اقرار، شهادت، سندونه، په صف کې پېژندل او قرینې معرفي کړي دي، چې ترتیب یې د کارونې او اهمیت پر اساس دی ؛نو له دې

امله د جزایي دعوی د تحریک او د اثبات وسایلو د څېړنې مهم والی احساسېږي، چې دلته به مونږ د جزایي دعوی د تحریک وسایل وپېژنو او هم ورپسې د جرم د اثبات وسایل مطالعه کړو.

**د څېړنې موخې**

د دې څېړنې موخې دا دي، چې د جزایي دعوی د تحریک او د جزایي دعوی د اثبات وسایل وپېژنو او د دوی ترمنځ توپیرونه وپېژنو؛ ځکه دا هغه وسایل دي، چې پر بنسټ یې جزایي اجراأت پیل کېږي، جزایي دعوی اقامه کېږي او محاکم خپل حکمونه صادروي.

د څېړنو د مخو څخه یوه د موضوع جذابیت دی، او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د جزایي دعوی د تحریک وسایل او د جزایي دعوی د اثبات وسایل خلکو ته معرفي کړم.

**کړنلاره او د کار توکي**

دا کتابتوني څېړنیزه مقاله ده او د هغه مأخذونو او منــابعو څخه استفاده شوي ده، چې په نړیوالـــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کېږي. او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو د پښتو ژبې ټول ادبیات به په نظر کې نیول شوي دي او هم به په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوې ده.
کوشش مې کړی دی هره موثقه مرجع چې د خپلې موضوع د تکمیل په خاطر په لاس راغلې ده، ما ترې په قسم د اقسامو استفاده کړې ده، دا معنا چې خپل انساني نهایي کوشش مې کړی دی؛ ترڅو موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکي یې په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي.

او اوس د جزایي دعوی د تحریک او ورپسې د جرم د اثبات وسایل په لاندې ډول توضیح کوو:

**لومړی- د جزایي دعوی د تحریک اسباب او وسیلې**

تحریک، په حرکت راوستلو ته وایي. د جزایي دعوی د تحریک وسیلې د جرم د ثابتولو مادي وسیلې نه دي؛ اما یوازې دا کړنه جزایي دعوی د عدلي تعقیب د طی مراحلو په منظور تحریک کېږي او د افغانستان د جرمونو د کشف او تحقیق او د تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالۍ د څارنې قانون د دویمې مادې د لومړۍ فقرې پر بنسټ د جزایي دعوی تحریک په لاندې ډول تعریف شوی دی.

د جزایي دعوی تحریک: « هغه تصمیم چې د جرم د نښو نښانو لرونکې پېښې د موجودیت په صورت کې د جزایي دعوې د غور په هکله د واکمنو ارګانو ( څارنوالي، قضاء، او څارندوی ) له خوا د قانون له حکمونو سره سم نیول کېږي»

( د افغانستان د جرمونو د کشف او تحقیق او د تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالي د څارنې قانون، ۱۳۵۸ دویمه ماده، لومړی فقره، ص: ۱ ).

جزایي دعوی هغه وخت تحریک کېږي، چې شخص د قانون خلاف اعمال ترسره کړي او قانون هغه اعمال او کړنې جرم ګڼلی وي. د جزایي دعوی تحریک، د متهم پر وړاندې د واکمن او با صلاحیته شخص لخوا د دعوی د اقامه کولو او پیلولو په معنا ده. د جرم د اثبات د دلایلو د راټولو څخه وروسته او پر هغې باندې تحقیق، په هغه صورت کې چې اتهام د څارنوال لخوا پر مظنون وارد شي، په حقیقت کې جزایي دعوی تحریک شوې ده.

جزایي دعوې د ځینو سببونو په وسیله تحریکېږي، چې د قانون د حکم له مخې د جزایي دعوې د تحریک سببونه محدود او ټاکلي دي، چې د جزایي اجراآتو قانون لاندې اسباب د جزایي دعوی د تحریک په حیث ګڼلي دي:

**۱- مشهود ( ښرګند ) جرم:** کله چې جرم د څارنوال، د قضایي ضبط مامور یا نورو اشخاصو لخوا ولیدل شي، جزایي دعوی تحریک کېږي. د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال جزایي اجراآتو قانون **۸۲** مه ماده د ښرګند جرم په ارتباط وایي:

« الف- مرتکب د جرم د ارتکاب پر مهال یا له ارتکاب څخه لږ وروسته ولیدل شي یا بې ځنډه د خلکو لخوا ونیول شي.

ب- مرتکب د جرم له ارتکاب وروسته وتښتي او بې له ځنډه د مجني علیه، د پولیسو یا خلکو لخوا وپیژندل شي یا باالفعل تعقیب شي.

ج- په هغه مواردو کې چې شخص د واقعې په ځای کې له اسلحې یا داسې وسایلو سره ونیول شي چې موجوده وضع د شخص پر فاعل والي او په ارتکاب شوي جرم کې د نوموړو شیانو پر استعمال دلالت وکړي »(د جزایي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۸۲، ص: ۷۴ ).

**۲- د مجني علیه د خپلوانو او دوستانو له لارې:** ځینې وخت د مجني علیه او د جرم د متضرر کس لخوا کشفي ارګانونو او پولیسانو ته د ځینو دلایلو پر اساس لکه د ټولنې پر عدالت باور نه درلودل، شرم، په سفر تلل، مریضي، د مجني علیه عدم موجودیت، د مجني علیه سره د قتل وېره او داسې نورو دلایلو

پر بنسټ شكايت ونه كړي؛ بلكې دا شكايت د مجني عليه د خپلوانو او دوستانو لخوا وشي ( غلامي، ۱۳۸۵، ص: ۱۳۱ ).

**۳- د متضرر او يا د مجني عليه د شكايت له طريقه:** متضرر يا مجني عليه، هغه شخص دی، چې د جرم د ارتكاب په سبب زيانمن شوی وي؛ نو كله چې يو څوک د جرم د پيښيدولو په نتيجه كې متضرر شي او پوليسانو ته شكايت وكړي او جرم ته د رسيدنې او د خپل ضرر د جبران په خاطر شكايت وكړي؛ نو له دې لارې څخه هم جزايي دعوی په تحريک راځي ( عظيمي، ۱۳۹۹، ص: ۵۷ ).

**۴- د متضرر او يا بل شخص لخوا د ژغورنې او د مرستې غوښتنې له طريقه:** كله چې شخص د جرم د واقع كيدو له خطر او ضرر سره مخامخ كيږي، دا ډول حالتونه رامنځته كيږي مثلاً د كور څښتنويني چې غل يا غله د غلا لپاره د شخص كورته داخل شوي دي او يا دا كسان غواړي چې شخص په قتل ورسوي او يا كوم بل ضرر ورته ورسوي او يا دې ته ورته نورو مواردو كې د خطر سره مخ كيدونكی شخص د دې لپاره چې د خطر سره مخامخ نشي، كشفي ارگانونو ته د تيليفون يا بلې وسيلې له لارې اطلاع وركوي او دا مورد د جزايي دعوی د تحريک سبب او وسيله گڼلی شو ( رسولي، ۱۳۹۷، ص: ۱۰۸ ).

**۵- پوليسو ته د مرتكب تسليم كيدو له لارې:** ځيني وختونه د جرم مرتكب د بعضو دلايلو له مخې لكه د تيښتې لار نه موندنه، د مجازاتو د كميدلو هيله، د خپل جرمي عمل جبران، د ندامت او پښېمانتيا برلاسي او داسې نورو دلايلو پر بنسټ خپل ځان كشفي ارگانونو ته تسليموي.

**٦- د جرم د مرتكب د خبر او اعتراف له لارې:** كله كله پخپله د جرم مرتكب د ځان پر ضد اعتراف كوي او د جرم په ترسره كولو باندې د مجرم اعتراف د جزايي دعوی د تحريک د سببونو له جملې څخه گڼل كيږي ( ايوبي، ۱۳۹٦، ص: ۱۴۸ ).

**۷- د جرم د مرتكب لهخوا ( د نورو تېر ايستلو په منظور ) كشفي ارگانونو ته اطلاع وركولو له طريقه:** په ځينو وختونو كې د جرم مرتكب، د دې لپاره چې خپل جرم پټ كړي او نور تېر باسي او د ځان په اړه د جرم شک لرې كړي؛ نو كشفي ارگانونو ته خبر وركوي او هڅه كوي چې د جرم ارتكاب ته په ځان پورې ارتباط ورنكړي.

**۸- د مرتكب د خپلوانو له لارې:** په ځينو مواردو كې د جرم مرتكب خپلوان او گاونډيان كشفي ارگانونو ته د مرتكب د جرم په هكله اطلاع وركوي يعنې پخپله د جرم مرتكب دا كار نه كوي؛ اما د مرتكب خپلوان د بېلا بېلو

دلایلو له مخې لکه د مرتکب عبرت او تنبیه او د مرتکب له سرغړونو څخه په تنګ کېدل او داسې نورو له امله د مرتکبه جرم په ارتباط کشفي ارګانونه خبر کړي( فاریابي، **۱۳۹۳**، ص: ٦١ ).

**۹- د پولیس د همکارانو له طریقه:** کله کله کیدی شي پولیس د خپلو همکارانو له طریقه د جرم رامنځته کېدو په ارتباط مطلع شي.

**۱۰- د رسمي اداراتو او مراجعو له لارې :** کله کله دننه په یوه اداره کې اختلاس، رشوت او دېته ورته نور جرایم په یوه اداره کې واقع او پېښ شي یعنې د اداري کارمندانو لخوا یې یاد جرایم پېښ شي؛ نو د جرم د رامنځته کېدو په اړه همدا اداره یا د بلې اداري لخوا پولیسانو ته اطلاع ورکړل شي( ستانکزی، ۱۴۰۰، ص: ۷۱ ).

**۱۱- عملاً د پولیسو لخوا د ځینو جرایمو د لیدنو له طریقه:** په ځینو حالاتو کې کله چې پولیس د شپې یا د ورځې لخوا دنده ترسره کوي د وظیفې د اجراء پر مهال پر ځینو جرایمو ور برابریږي، مثلاً له کوم دوکان څخه غلا او یا د دوه یا څو کسانو ترمنځ ضرب او جرح او یا د یو چا په قتل رسول او داسې نور جرایم په خپلو سترګې ویني.

**۱۲- د عامو خلکو له لارې:** کله کله عام خلک هم، چې د هغوی په منطقه کې جرم رامنځته شوی، پولیسو ته اطلاع ورکوي.

**۱۳- د شایعاتو او ګنګوسو له لارې:** په ځینو حالاتو کې ممکن د یو جرم د واقع کیدو په ارتباط د خلکو په منځ کې شایعات او ګنګوسې پیدا شي او پولیس ممکن په دې طریقه د جرم احتمالي پېښیدو په ارتباط خبر شي(منان، ۱۳۹۵، ص: ۴۳ ).

**۱۴- د حق العبد مدعي لخوا د خسارې د جبران غوښتنې له طریقه:** په حق العبدي جرایمو کې کله چې د حق العبد مدعي د زیان د جبران غوښتنه وکړي، جزایي دعوی د همدې مدعي حق العبد د زیان د جبران د غوښتنې په نتیجه کې د خصوصي دعوی په برخه کې رامنځته کیږي.

**۱۵- د اطلاعاتي وسیلو له لارې:** په ځینو حالاتو کې کیدی شي د جرم رامنځته کېدو په ارتباط د اطلاعاتي وسایلو له طریقه خبر نشر شي او له دې طریقه پولیس د جرم د واقع کېدو په ارتباط خبر شي.

**۱٦- د نورو ممکنه طریقو او شپوو له طریقه:** د پورته ذکر شوو لارو او طریقو با وجود، ځیني وختونه کشفي ارګانونه په نورو ممکنه طریقو سره هم د جرم پیښیدو څخه خبرېږي( دانش، ۱۳۹۸، ص: ٦۷ ).

**دویم- د جرم د اثبات وسایل ( دلایل )**

دلایل، د دلیل جمع ده او دلیل په لغت کې نښانه، هدایت ورکوونکي، رهنما، علامت، برهان او دلالت په معنا استعمالېږي او په اصطلاح کې پر هغه وسیله استناد ته وایي، چې د یو امر د واقعیت د اثبات لەپاره کارول کېږي، یا پر هغه امر اطلاق کېږي، چې د دعوی لوري د اثبات یا دفاع لەپاره پرې استناد کوي( ایرج، ۱۳۸۴، ص: ۱٦ ).

د افغانستان د **۱۳۹۳** کال د جزایي اجرآتو قانون **۱۹**مې مادې پر بنسټ د تحقیق څارنوال لەپاره د جزایي دعوې یا جرم د ثبوت دلایل په لاندې ډول دي.

**۱- اقرار:** اقرار د جرم د اثبات لەپاره تر ټولو قوي وسیله ده. اقرار په جزایي او مدني دعوی کې ځانګړی مقام او موقف لري او د جزایي او حقوقي دعواو د اثبات کامل او قاطع اسبابو له جملې څخه ګڼل کېږي. اقرار د جرم د اثبات لەپاره تر ټولو قوي دلیل دی؛ ځکه کله چې یو شخص په خپل رضایت او پرته له هر ډول فشار، اکراه، شکنجې او یا هم د فریب او حیلې څخه لېرې د محکمې پر وړاندې حاضرېږي او د جرم پر ارتکاب باندې اقرار کوي، چې د جرمي پېښې د اثبات لەپاره یو ښه دلیل ګڼل کېږي او د نورو دلایلو او مدارکو په نسبت لکه شهادت، بینه له ډېر اعتبار څخه برخمن دی.

اقرار په لغت کې د خپل ځان پر وړاندې اعتراف، اثبات او د یو حق اذعان ته وایي او په اصطلاح کې هغه اعتراف او اقرار ته وایي، چې د بشپړ رغبت او د عقلي صحت او سلامتیا د موجودیت په صورت کې له مظنون او متهم څخه د واکمنې محکمې په محضر کې اخیستل شوی وي( زماني، **۱۳۹۳**، ص: **۳۳۲** ).

د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون **۳۰**مه ماده د اقرار په ارتباط وایي: « چې په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي، چې په بشپړه خوښه او عقلي روغتیا په حالت کې د باصلاحیته محکمې پر وړاندې صورت موندلی وي»( اساسي قانون، ۱۳۸۲، ماده، ۳۰، ص: ۱۳ ).

**۲- د شاهدانو شهادت**

د شهادت مصدر شهد، یشهد شهاده دی او د ګواهي ورکولو، حضور، معاینه، اقرار او قاطع خبر او ښکاره کېدلو په معنا راغلی دي.

د افغانستان د **۱۳۹۳** هـ ش کال د جزایي اجرآتو قانون د **۴** مادې **۳۲** فقرې پر بنسټ: « هغه ویناوې دي

چې شخص هغه څه چې د بحث وړ پيښې په برخه کې په ليدلو (کتلو) يا اوريدلو سره درک کړي دي، د قضيې د څېړنې په بهير کې د واکمنې محکمې پر وړاندې د سوګند په اداء کولو سره بيان کړي. د ګونګ په هکله ليکنه او اشاره د بيان په حکم کې ده» (د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳، ماده، ۴، فقره، ۳۲، ص: ۱).

**۳- سندونه**

سندونه د سند جمع ده او د نسبت ورکولو، منسوب کولو او د يوه شي پر بل شي باندې تکيه کولو او په هر څه باندې چې اعتماد کيږي په معنا دي. سندونه دوه مفهومه لري، چې عام او خاص مفهومونه دي. د سندونو په عامه مفهوم کې هر هغه څه شامل دي چې د يوې ادعا د اثبات قدرت ولري او يا په بل عبارت د هغې په وړاندې کولو سره د يو امر په سم والي او مقبوليت باندې اعتماد وشي، چې دا که په ليکلي ډول وي او يا هم که هر بل شي وي، او سند په خاص مفهوم هغې ليکنې ته وايي چې د استناد وړ وي، په ځانګړي ډول د ادعا د اثبات او يا دفعې لهپاره. دلته د سندونو څخه موخه هر هغه ليکنې ته وايي چې د شخص الزاميت لهپاره په جنايي قضيو کې کارول کيږي. د بيلګې په ډول کله چې د تزوير يا د ليکنې د جوړولو يا هغه امضاء مطرح وي، چې اصلي شخص پورې مربوط نه وي، يا دا چې تفتيش مسؤلين د دلايلو د راټولو پر مهال داسې اسنادو او مدارکو سره مخامخ کيږي، چې وکولی شي د شخص ګډون په مالي او اقتصادي جرايمو کې وښيي.

سندونه د اثبات دلايلو له ډلې څخه په دريمه مرحله کې قرار لري، د سندونو څخه په ډېرى مواردو کې په مدني دعوى کې ترې ګټه اخيستل کيږي؛ اما له سندونو څخه هم کولای شو چې په جزايي قضيو کې تر يو بريده استفاده وکړو لکه اختلاس، تزوير، مالي اسناد او داسې نورو مواردو کې (علامه، ۱۳۹۸، ص: ۱۰۲).

**۴- په صف کې په بالمواجهه توګه د مظنون پېژندنه**

کله چې د جرم په ارتکاب کې دخيل اشخاص معلوم نه وي، د هغوی د تثبيت لهپاره يوه بله وسيله چې ترې کار اخيستل کيږي مظنونين په يوه صف کې درول کيږي او د جرم څخه متضرر شخص د دوی پر وړاندې تېرېږي د دې لهپاره چې په جرم کې دخيل شخص يا اشخاص د څېرې او نښانې له مخې وپېژندل شي.

د جرم د اثبات بل دليل هغه په صف کې په بالمواجهه توګه د تورن پېژندل دي او دا اجراآت له هغو اجراآتو څخه عبارت دي چې له مخې يې د شاهدانو او مجني عليه له خوا تورن پېژندل کيږي. يعنې مظنونين په صف کې دروي او وروسته متضرر د هغوی په مخکښې تېروي؛ترڅو هغه شخص چې په

ارتکاب کې دخیل وي، شریک وي او یا یې پکښې مرسته کړې وي او متضرر هغه د څېرې او د وجود د نښې نښانې څخه وپېژني؛ نو د تحقیق پلاوی هڅه کوي چې یو شمېر کسان چې د ظاهري شکل او وضعې لکه ږیرې، ونې، عمر او داسې نورو له مخې تر یو حده سره ورته والی ولري، له مظنون یا تورن سره په صف کې یو ځای ودروي. بل مهم ټکې دا دی چې د صف جوړونې په پروسه کې باید متضرر او د مظنون تر منځ پخوانۍ شناخت ونلري او پرته له دې څخه به خپل مؤثریت له لاسه ورکړي( صالحي، ۱۳۹۸، ص: ۱۷۶ ).

په صف کې په بل المواجهه توګه پېژندلو پروسه کې که شخص ته د مظنون او متهم لخوا کوم خطر موجود وي؛ نو شخص ته په داسې ځای کې درول کېږي، چې وکولای شي مقابل لوری یعنې مظنون او متهم کشفي او عدلي کارمندانو ته ورپېژني او مظنون او متهم ونشي کولای، چې شخص ووینې. دا ممکن له مختلفو لارو او طریقو څخه کار واخیستل شي، د بېلګې په ډول ممکن د دوی ترمنځ د رنګه شیشې وي، چې شخص کولای شي مظنون او متهم ووینې او مظنون او متهم ونشي کولای چې شخص ووینې یا په دیوال کې سوری وي او داسې نورې بېلګې؛ نو په دې طریقه د صف جوړونې پروسه ترسره کېږي. د دې لپاره چې دا عملیه قانوني بڼه پیدا کړي باید د مظنون مدافع وکیل شتون ولري، پرته له دې به قانوني بڼه ونلري او صف جوړونې عملیه به د جرم د اثبات په توګه ونه ګڼل شي.

د صف جوړونې په پروسه کې د مظنون او یا تورن د پیژندنې لپاره د لاندې شرطونو شتون اړین دی.

لومړی – د دواړه لوریو ترمنځ یعنې د مظنون یا تورن او د متضرر یا مجني علیه ترمنځ له پخوا څخه شناخت او پیژندګلوي شتون ونلري.

دویم – مدافع وکیل باید د صف جوړونې په پروسه کې وجود ولري او مدافع وکیل په داسې حالت او موقف کې وي، چې وکولای شي، پوښتنه وکړي او اعتراض وکړي.

دریم – توپیري نښې او علایم د شخص لخوا کشفي او یا عدلي ارګانونو ته مخکښې ویل شوي وي او د نوموړي ارګانونو کارمندان هغه ثبت او امضاء کړي وي.

څلورم – باید کوښښ او هڅه وشي، چې نسبتاً ورته او مشابه کسان په یو صف کې ودرول شي(علم ستانکزی، ۱۳۹۳، ص: ۲۰۹ ).

**۵- قرینې**

د علومو په ډګر کې پرمختګ د دې سبب شوی دی، چې سنتي دلایل او مدارک لکه اقرار او شهادت، چې پخوا به د جرم د اثبات لپاره اصلي دلایل ګڼل کیدل، اهمیت یې کم شي.

قراین د قرینې جمع ده، چې په لغت کې هغه علامې ته وایي، چې پر مطلوب شي باندې دلالت وکړي

او په اصطلاح کې له هغې ښکاره چارې او امر څخه عبارت ده، چې د نص، اجتهاد او یا هم د یوې ځانګړې پوهې په اساس په یوې داسې پټې چارې باندې، چې له ښکاره کارونو سره پیوسته او نږدې وي، دلالت وکړي.

یا په بل عبارت له ټولو هغو ښکاره نښانو څخه دي، چې له پټ څیز او چارې سره نږدې وي او پر هغې د لالت وکړي.

قرینې په خپل ذات کې په یوازې ډول د جرم د اثبات لەپاره دلیل کیدی نشي؛ اما دا چې د بل جرمي عنصر سره یو ځای شي د جرم د اثبات وسیله او د جنایي قضیې تکمیلوونکی شي، همدارنګه محکمه نشي کولای په خپل ګمان سره او په دلایلو کې د شبهې د موجودیت په صورت کې د متهم پر الزامیت باندې حکم وکړي (غلامي، ۱۴۰۰، ص: ۳۲۰).

د افغانستان د ۱۳۹۳ هـ ش کال د جزایي اجراآتو قانون د ۱۹ مادې ۵ فقره د قراینو په اړه داسې صراحت لري: «قراین: لاندې مدارک په تخصصي کتنو کې د اهمیت د درجې په پام کې نیولو سره، د مادې ادلې په توګه ګڼل کیږي:

- د مرمیو او کارتوسو د پاسه بالستیکي آثار.
- د ناریه او جارحه وسلو، منفلقه او منفجره موادو آثار.
- د فلزي افزارو او نورو کلکو موادو آثار او علایم.
- د ښیښې آثار او علایم.
- د وینو آثار او علامې.
- د بوټونو (پاپوشو) آثار.
- د لیکنو آثار او علامې.
- د غاښ آثار.
- د ویښته آثار.
- غږیزه او انځوریزه نوارونه (غږونه)، انځوریزه څارنه او همدارنګه نور ټول مدرکونه او اطلاعات، چې له مخفي کشفي ګامونو (اقداماتو) څخه لاسته راغلي وي.
- د لاسونو، ګوتو، د لاسونو او پښو د ورغوو د کرښو یعنې پاپیلاري خطونو آثار.
- الکتریکي، بیولوژیکي او کیمیاوي آثار او علامې.
- د نقلیه وسایطو آثار.
- د مایعاتو، منسوجاتو، لکو، تېزابونو او املاحو آثار.

- نور هغه مواد او آثار، چې د اهل خبره په اند عملاً ثابت شي او د جرم په تثبيت او د هغه د مرتکب په تشخيص کې اغېزمن وي»( د جزايي اجراآتو قانون، ۱۳۹۳، ماده ۱۹، فقره ۵، ص : ۲۵ ).

**پايله**

د دې کتابتوني علمي مقالې په اوږدو کې دې پايلو ته ورسيدو چې:

د جزايي دعوی د تحريک هغه اسباب او وسايل دي، چې پر بنسټ يې جزايي دعوی تحريک کېږي، جزايي دعوی منځته راځي او د بررسۍ لاندې نيول کېږي. د جرم له وقوع وروسته او د هغو دلايلو په کشف سره، چې د دې دلايلو په استناد سره کولای شو، چې مظنون تر عدلي تعقيب لاندې ونيسو او د جرم د وقوع د تثبيت په ضمن کې کولای شو، چې مرتکب شخص ته يې نسبت ورکړو، يعنې نشو کولای، چې د جزايي دعوی د تحريک وسايل د اثبات د وسايلو له جملو څخه وګڼو؛ بلکې دا عمل صرف جزايي دعوی د طی مراحل او د عدلي تعقيب په منظور په حرکت راځي او د جزايي دعوی تحريک بايد هغه اسباب ولري، چې د قانون په وسيله حدود يې مشخص شوي وي.

د جزايي دعوی تحريک د قانون له احکامو سره سم د جزايي دعوی په لاره اچولو په منظور د څارنوال اقدام ته وايي. د جزايي دعوی تحريک، د نوموړي دعوی تحريک، د نوموړي دعوی د څېړنې په هکله د واکمن ارګان تصميم دی او دغه تصميم د يوه قرار په ترڅ کې څرګنديږي.

د جرم اثبات اسباب او دلايل هغه مجموعه وسايل دي، چې د يوې دعوی د اثبات له‌پاره ګټه ترې پورته کېږي. د اثبات وسايل په جزايي دعوی کې د جزايي اجراآتو ډېر مهم بحث جوړوي؛ ځکه محکمه کله چې حکم صادروي، مکلفه ده، چې د حکم اسباب په فيصله کې ذکر کړي؛ نو دليل په هغه صورت کې کولای شي، د اثباتي ارزش ولري، چې د قانون ګذار لخوا د اعتبار وړ سند په حيث منل شوی وي.

له هغه ځايه چې د ذمې برائت اصلي حالت دی؛ نو د هر ډول وسيلې يا دليل د شخص د محکوميت او مجازاتو له‌پاره بايد ونه کارول شي. د جزايي اجراآتو قانون کې هغه دلايل چې د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کې پرې استناد کېږي، ۵ ډوله دي، چې قانون ګذار د جرم د اثبات وسايل د جزايي اجراآتو په قانون کې اقرار، شهادت، سندونه، په صف کې پېژندل او قرينې معرفي کړي دي، چې ترتيب يې د کارونې او اهميت پر اساس دی.

د جرم اثبات مسؤولیت هغه څوک پر غاړه لري، چې پر متهم باندې تور واردوي؛ نو هغه څوک چې غواړي پر متهم باندې جرم اثبات کړي، وسایلو ته اړتیا لري، چې دا د جرم د اثبات وسایلو په نوم یادېږي.

دا چې د انسانانو اصلي حالت غیر مجرمیت منل شوی دی؛ نو دا د متهم دنده نه ده، چې ځان غیر مجرم ثابت کړي؛ بلکې دا د هغه چا کار دی، چې په متهم باندې یې د جرم ادعا کړې ده (یعنې د څارنوال په غاړه دی). څارنوال په محکمه کې یوه اندازه مدارک وړاندې کړي، که چیرې څارنوال د جرم په تړاو قاضي ته قناعت ورنه کړي؛ نو په دې صورت کې باید قاضي متهم خوشی کړي، که چیرې شواهد مساوي وي؛ نو په دې صورت کې قضیه د متهم په ګټه فیصله کېږي.

که څه هم په عدلي او قضایي مراجعو کې په ځانګړي ډول په محاکمو کې د اثبات وړ مدارکو او وسایلو کې د جزایي او مدني موضوعاتو په رابطه ډېر ورته والی او تشابه وجود لري؛ اما جزایي امور د دلایلو ذکر او موجودیت د خاصو ځانګړتیاوو څخه برخمن دي؛ ځکه په داسې مواردو کې عدلي او قضایي ارګانونه مؤظف دي؛ ترڅو د اثبات وسایل او دلایل په داسې ډول ټول کړي، چې حقیقت کشف کړي؛ ترڅو بې ګناه شخص بې موجبه محاکمه او مجازات نشي.

**وړاندیزونه**

دا چې په جزایي امورو کې د مدارکو او دلایلو ټولول او پر متهم باندې د تور واردول د متهم حیثیت، کرامت او شرافت ته صدمه رسوي؛ نو باید کشفي، عدلي او قضایي ارګانونه د دلایلو او مدارکو ټولولو په وخت کې د مدارکو او دلایلو د صحت او عدم صحت په ارتباط ډېر پام وکړي.

د دې امر په تحقق کې چې د جرمي دلایلو او مدارکو په ارزیابۍ کې د ډېر دقت او پام سره ترسره شي، لازمه ده؛ ترڅو له ټولو هغو وسایلو ګټه پورته شي، چې د جرم د کشف لهپاره او د ګټورو وسایلو لهپاره استفاده ترسره شي.

د مدارکو او دلایلو د ټولولو مرجع باید د تحقیق په بشپړو وسایلو مجهز وي، فني او مسلکي اشخاص باید استخدام او په دې برخه ترې کار واخیستل شي.

۱- د دې لهپاره چې محاکم په خپل ګومان او فکر پر متهم باندې حکم صادر نه کړي، څارنوال باید د جرم د اثبات دلیلونه د تحقیق په ترڅ کې و ارزوي او د جرم د اثبات د وسیلې په توګه یې محکمې ته اقامه کړي.

۲- کله چې د جزایي اجراتو قانون تعدیلیږي، زما وړاندیز دا دی چې د اسنادو تعریف ته په کتو سره، د « هغو ته د ورته په شمول » کلمو کارول، ممکن ډېر پراخ او وسیع تعبیر شي او د سؤ استفادې زمینې برابرې شي، چې د قانونګذارۍ د شیوې او د قانون د قطعیت خلاف ده، یعنې قانون باید ډېر قاطع او صریح وي؛ نو هغو ته د ورته کلمو پر ځای، باید د « هر کتابت او لیکنې » کلمې، چې د جرم په اثبات کې مؤثر واقع کیږي، وکارول شي.

۳- د شهادت تعریف ته په کتو سره، چې د شهادت د اداء کولو ځای یوازې محکمه ویل شوې ده؛ اما د جزایي اجراآتو قانون په ۳۳ او ۳۴ مادو کې ویل شوي، چې شهادت له محکمې څخه بهر هم اداء کیدی شي، که چیرې د شهادت په تعریف کې دا کلمې ذکر شي: « که چیرې قانون بل ډول حکم کړی وي »؛ نو دا ستونزه به حل شي.

**مأخذونه**

ایوبي، فضل الرحمن ( ۱۳۹٦ هـ ش ) د جزایي محاکماتو اصول، ( چاپ،۱ ). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
دانش، حفیظ الله ( ۱۳۹۸ هـ ش ) د جزایی محاکماتو اصول. ج،۱. ( چاپ،۱ ). کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
رسولي، اشرف ( ۱۳۹۴ هـ ش ) شرح و توضیح قانون اجراآت جزایي. ( چاپ،۲ ). کابل: انتشارات سعید.
رسولي، اشرف ( ۱۳۹۷ هـ ش ) اصول محاکمات جزایي. ( چاپ، ۱ ). کابل: انتشارات سعید.
زماني، یوسف ( ۱۳۹۳ هـ ش ) د جزایي محاکماتو اصول. ( چاپ،۱ ). ګردیز: علمي خپرندویه ټولنه.
ستانکزی، پرویز ( ۱۴۰۰ هـ ش )اصول محاکمات جزایي. ( چاپ،۱ ). کابل: انتشارات نوی مستقبل.
صالحي، محمد شفیع ( ۱۳۹۸ هـ ش ) اصول اجراآت و محاکمات جزایي. ( چاپ،۱ ). کابل: انتشارات حامد رسالت.
عدلیې وزارت، ( ۱۳۵۸ هـ ش ) د افغانستان د جرمونو د کشف او د تحقیق او د تطبیق پر قانونیت یې د څارنوالې د څارنې قانون. کابل: پر له پسې ګڼه ۴۲۴.
عدلیې وزرات ( ۱۳۸۲ هـ ش )اساسي قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۸۱۸.
عدلیې وزرات ( ۱۳۹۳ هـ ش )د جزایي اجراآتو قانون. کابل: پرله پسې ګڼه ۱۱۳۲.
عظیمي، حسیب الله ( ۱۳۹۹ هـ ش )د جزایي اجراآتو لارښود. ( چاپ،۱ ). جلال آباد: مسلم خپرندویه ټولنه.
علامه، غلام حیدر ( ۱۳۹۸ هـ ش )اصول محاکمات جزایي افغانستان. ( چاپ،۳ ). کابل: دانشګاه ابن سینا.

علم ستانکزی، محمد ظریف (۱۳۹۳هـ ش) د جزايي اجراآتو او د محاکماتو اصول. ( چاپ،۱ ). کابل: حامد رسالت ټولنه.

غلامي، حسین ( ۱۳۸۵ هـ ش) د افغانستان د حقوقو او جزايي عدالت اساسات. ( چاپ،۱ ). خپروندوی، gtz.

غلامي، حمیدالله ( ۱۴۰۰ هـ ش) شرح قانون اجراآت جزايي. ج.۱. ( چاپ،۱ ). کابل: مؤسسه انتشارات مقصودي.

فاريابي، محمد عظیم ( ۱۳۹۳ هـ ش ) نحوه اجراآت اصول محاکمات جزايي. ( چاپ،۱ ). انتشارات سعید.

گلدوزیان، ایرج ( ۱۳۸۴ هـ ش) ادله اثبات دعوا. ( چاپ،۲ ). تهران: نشر میزان.

منان، محمد تواب ( ۱۳۹۵ هـ ش) اصول محاکمات جزايي افغانستان. ( تحریک دعوای جزايي ). ( چاپ،۱ ). کابل: انتشارات بین المللي سرور سعادت.

# د المعتصم او عُموریه د سوبې پېژندنه او شننه

پوهنوال زرولي صدیقي، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزوعلومو پوهنځی، تاریخ څانگه.
برېښنالیک: zarwalisedeqi@gmail.com

**لنډیز**

د ترکیې په سهیل لویدیځ کې د عُموریه ښار، چې په تېر مهال کې د روم اړوند گڼل کېده او په گاونډ کې یې یو شمېر ښارونو موقعیت درلوده لکه (زبطره، ملطیه او سمیساط)، چې په دې ښارونو کې مسلمانان میشت وو او همدغه مسلمانان به وخت ناوخته له رومیانو سره په جنگ کې واقع کېدل، په دې لړ کې د عباسي خلافت پرمهال یوه مُهمه پېښه د عُموریه سوبه ده، چې تاریخونو ترې په مکرره توگه یادونه کړې او دا یادونه، په دې علمي مقاله کې څېړل شوې او تحلیل شوې ده.المعتصم د عباسي خلافت اتم خلیفه دی، د نوموړي خلافت (۲۱۸-۲۲۷هـ. ق) کلونو ترمنځ تېر شوی دی، نوموړي د خپل خلافت پرمهال ځینې کارنامې کړې دي، چې له امله یې، د نوموړي نوم په تاریخ کې ډېر شهرت لري، د بېلگې په توگه یو هم د یوې مسلمانې رومي میرمنې فریاد او چیغې ته د وخت د مسلمانانو د یو خلیفه په توگه رسیدل وو، کله چې د هغې له فریاد څخه خبر شو، چې هغه په خپل فریاد کې د معتصم نوم یاده وي او غوښتنه لري، چې مرستې ته یې ځان ورسوي، نوموړي په دې برخه کې پرته له ځنډه یو ستر لښکر ترتیب کړ او په پوره مېړانه او شهامت یې ځان روم ته ورساوه او د نوموړي په انتقام کې یې د دوی پخوانی پلازمینه عُموریه ړنگه کړه او د روم قیصر توفیل ته یې داسې درس ورکړ، چې تر اوسه د هر تاریخ زرین باب تشکیلوي او مسلمانان یې په یاده کارنامه باندې ویاړي. په دې مقاله کې په دې بحث شوې،که چیرې په اوس مهال کې مسلمانان په خپلو منځونوکې د خپل وحدت، مینې او ایثار تېر بابونه د خپل ژوند لهپاره مثال وگرځوي؟ پرته له شکه به مو تیر برم او شوکت یو پلا بیا د نړۍ په هسک و ځلېږي او بیا به د نړۍ په هر کنج او کنار کې مسلمانان محکوم نه؛ بلکې حاکم او د کفارو له ظلم څخه په بشپړ ډول مصؤن وي او لکه د اوس مهال د فلسطین او غزې مسلمانانو فریادونو او چیغو ته به خپل زړه نه خوري، اسرائیل او نور طاغوتي نظامونه به بیا هیڅکله د دې جرآت و نه لري!، چې په یو مسلمان باندې دې تېری او ظلم وکړي، که مو ترمنځ د نفاق او بدبختۍ دغه اور بل وي؛ نو همېشه به اسلامي نړۍ او ټول مسلمانان د اوسني وضعیت څخه هم لا بدتر حالت ته وگرځي.

**کلیدي کلمې:** المعتصم، روم قیصر، زبطره، عباسي خلافت، ، عُموریه.

**سریزه**

**الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین!**

**قال الله تعالی اعوذ باالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم انما المؤمنون اخواة و عن النعمان بن بشیر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مثل المؤمنین فی توادهم و تراحمهم و تعاطفهم مثل الجسد اذا اشتکی منه عضو تداعی له سائر هم الجسد باالسهر و الحمی (رواه مسلم)**

ژباړه: په حقیقت کې ټول مؤمنان سره ورونه دي او د نعمان بن بشیر څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د مؤمنانو مثال په مینه ورکولو، رحم کولو او په زړه سوي کې یو د بل سره لکه د یو بدن دي، کله چې کومه برخه له دغه په درد شي: نو ټول بدن ورسره ناارامه او په تبه وي.

مسلمانان د خپل تېر تاریخ له مخې د یوې پراخه جغرافیه په درلودلو سره د راشده خلافت، اموي خلافت، عباسي خلافت او بیا په وروستیو کې د عثماني خلافت د مرکزي ادارو لرونکي وو، چې په دا مهال د مسلمانانو د برم او شوکت سیورى د نړۍ په زیاتو هیوادونو باندې لیدل کېده؛ خو د (۱۹۲۴م) وروسته، چې کله په ترکیه کې اتاترک کودتا وکړه او اسلامي خلافت یې ړنګ کړ، په زرګونه عالمان او مسلمانان یې شهیدان کړل او د خلافت په ځای یې یوه سیکولر ترکیه رامنځته کړه، تر ننه پورې د مسلمانانو ترمنځ د سیاسي وحدت او واحد مرکزیت تشه رامنځته شوې، چې د اسلامي نړۍ مسلمانان نن په هر ځای کې د کفري نړۍ له خوا په بېلابېلو نومونو او توطیئو سره تر تهدید لاندې دي.

په دې علمی او تحلیلي مقاله کې د تېر برم او شوکت یوې بېلګې ته اشاره شوې ده، چې د عباسي خلافت په لړۍ کې د المعتصم باالله خلیفه پر مهال د روم په زبطره ښار کې، یوه مسلمانه مېرمن د هغه مهال د قیصر توفیل او د هغه د لښکرو له خوا وزورېده او نوموړې مېرمن د وخت د خلیفه المعتصم په نوم سره چیغه وکړه، چې دا چیغه او فریاد یې د یومسلمان قاصد په توسط تر خلیفه ورسیده، د دې فریاد په اوریدو سره خلیفه یو لاک او دیرش زره مسلحې قواوې چمتو کړې او ځان یې روم ته ورساوه او د یادې مسلماني مېرمن په انتقام کې یې د عُموریه ښار له خاورو سره خاورې کړ.

که څه هم دا ښار د تاریخ په اوږدو کې د خپل ځانګړي جغرافیاوي ارزښت او پیاوړتیا له مخې د رومیانو او مسلمانانو ترمنځ لاس په لاس شوې دی؛ خو دا یو منل شوی حقیقت دی، چې د المعتصم د خلافت پرمهال په پوره مېړانه او زړورتیا سره له رومیانو څخه و نیول شو، هماغه و، چې د روم قیصر سولې ته غاړه کېښوده.

د څېړنې اصلي پوښتنه داده، چې د عُموریه سوبه د کومو عواملو له مخې رامنځته شوه؟

## موخې

### الف: اساسي موخې

۱- د عباسي خلافت پرمهال د اسلامي نړۍ د تیر برم او شوکت پېژندل.
۲- د یو مسلمان امیر د مسؤلیت احساس، چې په یوه لرې پرته سیمه کې د خپلې یوې مسلمانې خور فریاد ته ځان رسوي.
۳- تاریخ ته په کتو د مسلمانانو ترمنځ د یو والي او وحدت پیاوړتیا.

### ب- فرعي موخې

۱- عباسي خلافت کې د خلیفه المعتصم باالله پېژندل.
۲- د المعتصم باالله ځانګړتیاوې او کارنامې.
۳- د عُموریه سوبه او د هغې د سوبې لاملونه تحلیلول.

## کړنلاره او کارتوکي

د دې څېړنې تګلاره کتابتوني ده او د موضوع په تړاو د لومړي لاس سرچینو څخه کار اخېستل شوی دی او ترڅنګ یې تاریخي تحلیل او فعلي وضعیت یو له بل سره پرتله شوې، چې معلومه کړي له هغه مهال سره د اوس لهپاره اسلامي نړۍ په کوم واټن کې قرار لري؟

**المعتصم باالله** (۲۱۸-۲۲۷هـق).

ابو اسحاق محمد ابن هارون المعتصم بالله، د عباسي خلافت په لړۍ کې اتم خلیفه دی، چې د مامُون الرشید وروسته خلافت ته ورسیده او د نوموړي د خلافت پرمهال مسلمانانو اته خورا مُهمې پېښې ترسره کړې دي، د نوموړي د خلافت مهال اته کاله، اته میاشتې او اته ورځې و او نوموړي د خپل خلافت پرمهال اته مُهم او مشهور قصرونه(مانۍ) ودانې کړې دي، همدارنګه نوموړي اته زامن او اته لونې درلودې او تر خلافت وروسته یې ډېره بډایه خزانه پرېښې ده، چې له دې امله په یو شمېر تاریخونو کې د یو شتمن خلیفه په نوم سره یادیږي (خواندمیر،۱۳۸۰،ج دویم،ص،۲٦۴).

د طبقات ناصري لیکوال وایی پورتنی روایت د صوري په روایت سره دی او د نسبي په روایت کې یې نوم ابراهیم ذکر شوی دی (جوزجانی،۱۳۹۱،ص، ۱۳۷).

### په عباسي خلافت کې د خلیفه ټاکنې دود

له هغې ورځې، چې راشده خلافت ختم شو او په ځای اموي او بیا عباسي خلافت ځای ناستی شو، د یو لړ زیاتو ستونزو ترڅنګ یوه ستونزه داوه، چې د ولیعهد په نوم سره به هر خلیفه خپل دوه او یا درې زامن، د عمر، وړتیا او یا هم د خپل شخصي رعبت له مخې، یو پربل پسې د ولیعهد په نوم سره و ټاکل، چې د خلیفه وروسته به واک ته رسېږي؛ خو په دې کې ستونزه دا وه، چې د یو خلیفه تر مړینې وروسته به یو ولیعهد د هغه ځای ناستی شو او یو بل ولیعهد به هم موجود و، بیا به دې خلیفه په ځای د دې، چې د تېر ولیعهد خیال و ساتي، خپل زوی به یې ولیعهد و ټاکه (صدیقي،۱۴۰۱،ص، ۱۴۹).

لکه هارون الرشید، چې امین الرشید خپل ولیعهد و ټاکه په دې شرط، چې متصل به ورپسې مامون ټاکل کېږي او له هغه وروسته به مؤتمن وي، چې دا هم د نوموړي دریم زوی و؛ خو کله چې امین خلافت ته ورسیده، د خپل پلار د وصیت په خلاف یې خپل زوی موسی ولیعهد په توگه وټاکه، چې د مامون د لرې کولو او عزلولو مانا یې درلوده (صدیقي،۱۴۰۰،ص، ۱۹۴).

د عباسي خلافت پرمهال به د نظامي سرتېرو مشرانو او د بغداد قاضیانو د خلیفه سره له نورو خلکو څخه وړاندې خپل بیعت کاوه، ترتیب یې داسې و، چې د لښکر مشر به مخکې راغې او بیا به یې نور سرتېري په نوم سره یادول او هغوی به لوړه کوله او بیا به د وخت وزیر او یا هم د هغه ځای ناستی راغې او پگړۍ به یې د خلیفه په سر باندې کېښوده او چپن به یې ورته و اغوسته او چې کله به دا مراسم تمام شو؛ نو بیا به خلیفه ته یو لړ القاب وړاندې شو او په دې کې به خلیفه یو د خپل ځان لهپاره غوره کړ، د عباسي خلیفه گانو د القابو دا دود په اسلامي تاریخ کې جدید او د هارون الرشید تر مهاله ساده و؛ خو دا القاب د امین، مامون او رشید پرمهال ختم شو او بیا د المعتصم پرمهال د الله (ج) نوم ورسره مل شو لکه المعتصم باالله، الواثق باالله تر وروستي خلیفه المستعصم باالله پورې(راوندي،۱۳۵۴،ج دویم،ص، ۱۵۸).

په عباسي خلافت کې د المعتصم باالله د خلافت دوره د غوړېدا دوره ده؛ ځکه مؤرخینو دا دوره په څلورو دورو وېشلې ده، چې لومړۍ دوره یې له (۱۳۲-۲۳۲هـ ق) ده او دا دوره د عباسي خلافت د قوّت، پراختیا او غوړېدا دوره گڼل کېږي او د المعتصم د خلافت مهال هم په دې سل کلنه دوره کې شامل دی(متولی، بی تا،ص، ۱۰).

خو د نوموړي د مهال ستونزه دا وه، چې دا مهال خلیفه گان په خپلو مزو او چرچو کې بوخت وو، د خپل گاونډ او د غلیم د توطیئو څخه په تمامه مانا سره غافل او نا خبره وو او په دې اړه یې هیڅ توجه او پاملرنه نه درلوده، بل داچې ترکانو ته یې زیاته توجه کوله او د هغوي نفوذ په دربار کې له اندازې زیات وو او له دوي څخه یې ساتونکي او سرتیري هم جوړ کړې وو، چې زیاتې سیمې ورسره وې او المعتصم په دې اړه داسې فکر کاوه، چې په دې سره به خلافت پیاوړی کړي؛ خو مو ضوع ورته برعکس شوه؛ څوک وایي المنتصر-د المعتصم زوی ترکان د نوموړي مرگ ته وهڅول او یا هم ترکانو المنتصر-د پلار مرگ ته وهڅاوه (بیات،۱۳۸۴، ص، ۹۸). په پایله کې نوموړی خلیفه په کال ۲۲۷هجري کې په سامرآی کې مړ شو او پر ځای یې زوی الواثق باالله خلافت ته ورسېده(هدایت،۱۳۷۳، ص، ٦١).

**د المعتصم یو شمېر ځانگړتیاوې**

د نوموړي د یو شمېر ځانگړتیاو په اړه زیاتو مؤرخینو خپل نظرونه ورکړي دي؛ خو مولانا اکبرشاه یې یو څو په دې توگه بیانوي:

۱- د اته د عدد سره یې زیاته مینه وه؛ نو له دې امله د مثمن خلیفه په نوم سره هم یادیږي او څوک وایي، چې زیاتې پیسې او شتمني ترې پاتې شوه؛ نو ځکه د مثمن خلیفه په نوم سره شهرت لري.

۲- د نوموړي پرمهال د ترکانو سیاسي ژوند پیل شو او د خلافت دربار کې یې د پام وړ نفوذ پیدا کړ.
۳- نوموړی د هارون الرشید اتم زوی دی.
۴- په ۱۸۰هجري او یا هم ۱۷۸هجري کې زیږیدلی دی، چې په دواړو نېټو کې د (۸) عدد شتون لري.
۵- په ۲۱۸هجري کې پرتخت کښېناست.
٦- د عباسي خلافت په لړ کې اتم خلیفه دی، همدارنگه اته کاله اته میاشتې او اته ورځې خلافت یې کړی دی، اته کورونه یې جوړ کړل او په اتو سترو جگړو کې یې د پام وړ سوبې ترلاسه کړې.
۷- اته زامن او اته لوڼه یې درلودې او اته څلوېښت کاله عمر یې درلود.
۸- اته پاچاهان یې دربار ته راوستل او خپل اته تنه ستر دُښمنان او مخالفین یې ووژل.
۹- اته لاکه دینار، اته لاکه درهم، اته زره اسونه، اته زره غلامان او اته زره وینځې ترې پاتې شوې او د ربیع الاول میاشتې اته ورځې پاتې وې، چې له دې فانې نړۍ و کوچید (نجیب آبادي،۱۴۲۷هـق،ص،۳۹۰).

د سامُرا(سُرّ من رآی) مانۍ هم د نوموړي پرمهال ودانه شوې ده او دلته به خپله کښېناسته، دا چې تُرکي غلامانو د نوموړي پرمهال زیات نفوذ پیدا کړ او عام خلک د ترکانو له دې وضعیت څخه زیات ناراضه وو، چې المعتصم ته یې هم شکایتونه رسېدل؛ خو نوموړي په دې اړه کوم اقدام نه کاوه (هندوشاه،۱۳۵۷،ص،۱۷٦).

**د عُموریه جغرافیاوي موقعیت**

عُموریه اوس په ترکیې پورې اړوند ده، چې وړاندې د کوچنۍ قسطنطنیې په نوم سره هم یادېده(دینوري،۱۳۷۱، ص، ۴۴۴). دا تاریخي ښار تر ډېر مهاله ناڅرگند و، د یو انگریز سیاح همیلتون له لورې کشف شو او په تاریخ کې دا ځای د مسلمانانو د حملو له وجهې زیات مشهور دی، په لومړي پلا په کال ۴٦هجري قمري کې د عبدالرحمن ابن خالد په توسط و نیول شو او بیا په ۴۹هجري قمري کې یزید و نیوه، کله چې د ختیځ روم امپراتورۍ بېرته ترلاسه کړ؛ نو بیا په ۸۹هجري قمری کې یو پلا بیا د مسلمانانو تر محاصرې لاندې راغی؛ خو په نیولو یې و نه توانیدل، تر دې چې حسن ابن قُحطبه د مهدي د خلافت پر مهال (١٦٢)هجري قمري کې او هارون الرشید په (۱۸۱)هجري قمري کې بیا محاصره کړ، دا چې ښار زیات محکم و، دوی په نیولو بریالي نه شول.

https://wikijoo.ir/index.php/%D8%B9%D9%85%D9%88%D8%B1%DB%8C%D9%87



د عُموریه ښار د هغه مهال ورانې او ویجاړې برخې

**د عُموریه تاریخي سوبه**

په کال ۲۱۳هجري قمري کې د المعتصم د خلافت د مهال یوه مُهمه پېښه، چې زیاتو تاریخونو ترې یادونه کړې ده او د نوموړي خلیفه شهرت یې په اسلامي نړۍ کې زیات کړی دی، هغه دا وه، چې د روم قیصر توفیل د خپل یو لوی نظامي لښکر سره د خپلې پلازمینې څخه د ملطیه په لور له مسلمانانو سره د جنگ کولو په نیت و لاړ او لامل دا و، چې المعتصم خپلې نظامي قواوې د بابک په نیولو پسې استولې وې او بابک له دې موقع څخه استفاده وکړه او توفیل د روم قیصر ته یې ولیکل، چې د المعتصم د نظامي قواوو ټوله توجه زما په لوري ده او که تاسو په روم کې د مسلمانانو اړونده ښارونه او سیمې نیول غواړئ؛ نو دایې ښه فرصت دی او توفیل هم دا مناسبه و گڼله، چې د ځان په گټه له دې موقع څخه گټه واخلي؛ نو د خپل سل زریز لښکر سره د اسلامي ښارونو د نیولو په اراده روان شو او چې کله د مسلمانانو د (زبطره) ښار ته، چې د روم سره نږدې د ملطیه او سمیساط د ښارونو ترمنځ واقع دی ورسیده؛ نو د دې ځای ټول وگړي یې قتل عام کړل او میرمنې او ماشومان یې ورته بندیان کړل، په دې وخت کې یوې میرمنې چیغه کړه او ویې ویل: وا معتصمه!!!




خو رومي يې په مقابل کې، د استهزا په توګه ځواب ورکړ، چې المعتصم ته ووایه، چې په خپل ابلق اس باندې راشي او تا زما څخه خلاصه کړي (تتوي،بي تا، ص،۲۴۷).

مولانا اکبرشاه نجیب آبادي، د روم د قیصر نوم نوفیل ابن میکائیل ذکر کړی دی(نجیب آبادي،۱۴۲۷هـق،ص،۳۸۱). هندوشاه ابن سنجر هم د عُموریه د سوبې پېښه د هماغه مسلمانې میرمن چیغه او فریاد ګڼي او وایي، چې کله المتعصم خبر شو؛ نو فوراً يې وویل: لبیک لبیک، بیا پاڅېده او ويې ویل: الرّحیل الرّحیل(یعنې د سفر تیاری و نیسئ). په همدې لحظه د عراق څخه بهر شو، داسې لښکر يې ترتیب کړ، چې له دې وړاندې يې مثال نه درلوده کله چې له نظامي ترتیباتو فارغ شو؛ نو قاضیان او مشران يې راوغوښتل او خپله شتمني يې په درې برخو ووېشله: یوه برخه يې د ا لله(ج) په لاره کې د مصرف لهپاره، بله برخه يې خپلو اولادونو ته پرېښوده او دریمه برخه يې خپلو خادمانو او غلاماتو ته ورکړه او بیا د روم په لورې روان شو(هندوشاه،۱۳۵۷، ص، ۱۷۴).

تتوي هم ورته نظر لري، چې کله د دغې مسلمانې میرمن غږ او فریاد تر خلیفه ورسیده؛ نو خلیفه سوګند یاد کړ او پرته له ځنډه په روم کې د دغې مسلمانې مېرمن مرستې ته د خپلو یو لاک او دېرش زره سرتېرو سره، چې ټول په ابلق(تور او سپین) اسونو سپاره وو، روم ته ورسیدل او دلته يې پوښتنه وکړه، چې دلته تر ټولو پیاوړی او مستحکم ښار کوم یو دی؟ ورته وویل شول: عُموریه، چې د دوي پخوانی پلازمینه ده، دا ډېر مضبوط او مستحکم ښار دی؛ نو موږي د همدې ښار په لوري حرکت وکړ او دا ښار يې محاصره کړ، د یو سخت جنګ وروسته يې عُموریه ونیوله. ډېر شمېر کې رومیان يې ووژل، یوشمېر يې بندیان کړل او په دې توګه يې د خپلې یوې مسلمانې خور انتقام د روم له قیصر توفیل څخه واخیست(تتوي، بي تا، ص، ۲۴۸-۲۴۹).

په روم کې د کفارو له لاسه، چې کومې مسلمانې خور دا چیغه کړې وه؛ نو رومیانو ورته د استهزا په توګه سره ویلي وو، چې المعتصم ته ووایه، چې په خپل ابلق اس سپور شي او تاته ځان راورسوي!!!؛ خو د دوی د استهزا برعکس الله (ج) المعتصم ورته ورساوه. په دې جنګ کې ابوتمام حبیب ابن اوس الطائي د کتاب الحماسه مصنف او د هغه مهال مشهور شاعر هم د نوموړي سره ملګري وو. نوموړي شاعر په دې اړه یوه ډېره په زړه پورې قصیده ویلې ده، چې د المعتصم له خوا ورته په دې قصیده باندې دېرش زره درهمه انعام ورکړل شو (هندوشاه،۱۳۵۷، ص، ۱۷۵).

| | |
|---|---|
| السیفُ اصدقُ انباءً من الکتبٍ | في حدّه الحدَ بین الجدَ واللعبٍ |
| بیضُ الصفائحٍ لا سود الصحائف في | متونهنَ جلاءُ الشکَ والریب |
| والعلمُ في شُهُب الارماح لامعةً | بین الخمیسین لا في السبعة الشُهب |
| فتحُ الفتوحٍ تعالی ان یحیط به | نظم من الشعرٍ او نثرُ من الخُطب |
| یا یوم وقعة عموریه انصرفت | منک المنی حفَلاً معسولة الحلب |

(ابوتمام، بي تا، ص، ۲).

ژباړه: توره د کتاب تر خبرو ډېره رښتونې ده؛ ځکه چې د هغې تېره والی موږ ته د واقعیت او ټوکو ترمنځ پوله په ګوته کوي (۱)

د تورو د مخونو سپینوالی د کتابونو د متونو د اړونده تورو ټکو ترمنځ شک او شبهه لرې کوي(۲)

بریا د زرګونو لښکرو د اوږدو نېزو په ځلیدونکو شغلو کې ده. د اونۍ د سپینو ورځو په روږو نیولو او شیخۍ کې نشته (۳)

دغه لویه سوبه ډېره پورته ده، چې د شاعرانو په نظمونو او د خطیبانو په خطبو کې دې راخلاصه شي(۴)

ای د عُمورېې د غزا ورځې ستا له امله هغه ډېرې هیلې او ارمانونه ولاړل، چې لکه د شاتو او شیدو خواږه وو (۵)

د مولانا اکبرشاه په حواله المعتصم ته دا هم وویل شو، چې دا د روم د قیصر د زوکړې ځای دی؛ نو المعتصم وویل: چې زبطره زما د زوکړې ځای دی او دا چې رومي قیصر هغه لوټ کړ، زه به یې په ځواب کې د هغه د زېږیدو ځای سره باالمثل عمل وکړم(نجیب آبادي،۱۴۲۷هـق،ص،۳۸۱)

که د اسلامي نړۍ اوسني وضعیت ته وکتل شي، ډېره د تعجب خبره ده، چې نن د یو ملیارد څخه زیات د نړۍ مسلمانان د فلسطین او غزې د مسلمانانو د بې شمېره مېرمنو او کوچنیانو اوازونو او فریادونو باندې خپلې سترګې پټې کړې او غوږونه یې ورباندې کاڼه کړي دي، کوم چې د اسرائیلو د سختو هوایي او ځمکني حملو لاندې دي او هره خور یې د یو معتصم په انتظار ده، چې مرسته یې وکړي او د کفارو له دغه ظلم او وحشت څخه ورته نجات ورکړي. که دریمه هجري پېړۍ کې د روم او اروپا اړونده حاکمانو او مشرانو څخه د یوې مسلمانې خور د فریاد پوښتنه کېده؛ نو نن هغه مسلمانان چېرته دي؟

دا د هغه مسلمانانو د غیرت داستان دی، چې تر اوسه په تاریخ کې ژوندی پاتی دی او تل به همداسې وي، سره له دې، چې نن المعتصم نشته؛ خو د نوموړي له خوا د هغه مهال کفارو ته د عُموریه د ړنګیدو تاریخي درس شتون لري.

المعتصم هغه مهال د عُموریه ښار داسې ړنګ کړ، چې هیڅ اثار یې و نه لیدل شول او د هغې اوسپنیزې دروازې یې د ځان سره عراق ته راوړې. د دارالخلافې په دروازه کې، چې د باب العمامه په نوم یادېده، هلته یې اوېزاندې کړې او نور زیات ښارونه یې هم په دې سوبه کې له رومیانو څخه نیول (هندوشاه،(۱۳۵، ص، ۱۷۴).

د مجمع الانساب لیکوال وایي، کله چې د روم قیصر د خلیفه قهر او غصه ولیده؛ نو د سولې وړاندیز یې ورته وکړ، همدارنګه یې ډېر زیات مال ورکړ او بیا ترې المعتصم واپس شو(شبانکاره ای،۱۳۸۱، ج. ۱، ص، ۳۷۹).

داچې خلیفه المعتصم د عُموریه جنګ ته تر روانیدو وړاندې، خپل میراث ووېشه، مانا دا ده، چې داسې فکر یې نه کاوه، چې بېرته دې ژوندی راشي، ترڅو یې د هغې مسلمانې خور انتقام نه وي اخیستی. د اسلام ننګ په خپل مسلمان ورور او خور باندې تر دې اندازې اړین او لازمي دی، چې له مشر (امیرالمؤمنین) څخه واخله تر یو عادي سرتېري، باید په دې کې کوتاهي او غفلت و نه شي او دا غفلت بیا په قیامت کې خپل رب په وړاندې د منلو ندی؛ ځکه مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به پرې خپله ظلم کوي او نه به یې د بل چا ظلم کولو ته پرېږدي.

په عباسي خلافت کې مامون الرشید او المعتصم باالله د بیزانس امپراتورۍ سره زیات جنګونه کړې دي، د څلورمې او پنځمې هجري پېړیو پرمهال د یوناني امپراتورۍ د پیاوړتیا مهال ګڼل کېده او دا مهال د دې د امپراتورانو لړۍ د مقدونیانو سره وه او متاسفانه،چې د دریمې هجري پېړۍ وروسته نور د مسلمانانو وضعیت په یو دفاعي حالت سره بدل شوی او د خلافت سیاسي وحدت نور د کمزورۍ او ناتوانۍ حالت ته روان و (باسورث،۱۳۸۱، ص، ۴٦).

المعتصم خپل رسالت او د خلافت مسؤلیت ادا کړ او د عُموریه په تاریخي سوبې سره یې روم د مسلمانانو حوصلې لوړې کړې او رومیانو ته یې څرګنده کړه، چې اسلامي خلافت به د خپل هر وګړي پوښتنه کوي او د هغې مرستې ته به خپل ځان رسوي او دا یې ورباندې یو مسلم حق دی او تاسو باید خپل دا فکر له سره و باسئ، چې د روم او عراق ترمنځ ځمکنی واټن دې د دوی ترمنځ د عدم همکارۍ واټن رامنځته کړي.

**پایله**

د عباسي خلافت اتم خلیفه المعتصم باالله د خپل مسؤلیت له مخې په یوه لرې پرته سیمه کې د یوې مسلمانې مېرمن په انتقام کې د خپلو عربو، عجمو او ترکو سرتېرو سره روان شو او په الهي نصرت د سوبې او بریا څښتن وګرځیده او د دُښمن په کور کې یې د هغه پیاوړی ښار او مستحکمه قلعه فتحه کړه. چاچې هر وخت په دین غیرت کړی دی، الله (ج) ورسره خپل نصرت کړی دی. کله چې د مسلمانانو مشرانو په دې برخه کې بې غوري کړې، هغه مقام او موقف ترې تللی دی، همدارنګه د تاریخ په محکمه کې هم محکوم پاتې دي. که چېرې اوسنۍ اسلامي نړۍ د غزې او د فلسطین د مسلمانانو په رابطه همداسې بې طرفه او بې تفاوته پاتې کیږي، الله (ج) به ورته د مرستې او کومک بله بدیله لاره پیدا کړي؛ خو دا وضعیت به پرته له شکه د ټولې اسلامي نړۍ لهپاره یوه ننګونه او تور داغ وي. دا مهال اسلامي نړۍ د امتحان سره مخامخ ده، په دې برخه کې باید هرڅوک د خپل توان او امکاناتو په اندازه د خپلو دغو مسلمانو وروڼو او خویندو سره د خپلې همدردۍ او خواخوږۍ اظهار وکړي. په خپلو منځو کې دې د اتحاد او اتفاق روحیه پیاوړې کړي، د نفاق او کفارو سره د اتحاد څخه دې لاس واخلي. د خپل مسلمان ورور په سر دې د کفارو سره اړیکې نه ټینګوي؛ بلکې د کفارو سره دې خپلې اړیکې پرې کړي، چې په قیامت کې ترې الله (ج) رضا او خوشحاله شي او دا کفار د مسلمانانو څخه هیڅ وخت او هیڅکله نه راضي کیږي. د دوي په غولونکو وعدو دې نه دوکه کیږي؛ بلکې یو اسلامي درایت او بصیرت څخه دې کار واخلي، چې ایمان یې پیاوړی او غښتلی شي.

په دې اړه ټوله اسلامي نړۍ او په ځانګړي ډول عربي نړۍ، چې د فلسطین او غزې چاپېره پراته دي، مسؤلیت لري، چې د خپلو دغو مسلمانانو وروڼو مرستې او کومک ته خپل ځانونه ورسوي او د الهي رضا د حصول په موخه خپل رسالت ادا کړي. که په دې برخه کې غفلت کیږي، کوم چې له ورایه ملموس او څرګند دی؛ نو قیامت کې به ېې ضرور باالضرور پوښتنه کیږي او بیا د هغې پوښتنې ځوابول ګران او د الهي عذاب په مانا سره دی.

په دې اړه لوی او ستر لامل، چې نن اسلامي نړۍ په دې اړه غافله پاتې ده، یو څو لاملونه یې په لاندې توګه ذکر کیږي:

۱- د مسلمانانو ترمنځ د دُنیا محبت زیاتیدل او د مرګ څخه وېره، چې دا موضوع د رسولُ الله صلی الله علیه و سلم په یو مبارک حدیث کې هم ذکر شوې ده.

۲- د امریکې د وېرې او خوف له امله د فلسطین مسلمانانو سره د مرستې کولو څخه ډډه کول.

۳- د مسلمانانو ترمنځ په خپلو کې بې اتفاقي او د مشترک موقف نه درلودل.

۴- عربي نړۍ په عیش او عشرت کې ډوبیدل او د خپل اصلي رسالت څخه ډډه کول.

۵- په ملګرو ملتونو، د حقوق بشر په ادارو او عربي نړۍ باندې د امریکا د سیاست سیوری.

**وړانديزونه**

۱- د افغانستان اسلامي امارت ته وړانديز دی، چې د كور دننه د خپلو هيوادوالو او د اسلامي نړۍ د هر مسلمان د فرياد اورېدو مسؤليت په غاړه لرئ.

۲- اسلامي نړۍ دې خپل منځني مشكلات شاته وغورځوي او د يو واقعي اسلامي نظام د تنفذيز لهپاره دې متحد او متفق شي.

۳- اهل علم او د قلم خاوندانو ته وړانديز دی، چې د كفارو پټې او ښكاره توطئيي بربنډې كړي او د مسلمانانو ترمنځ د وحدت لهپاره كار وكړي.

۴- ملگري ملتونه او د حقوق بشر ادارې دې، په دې اړه خپل انساني او بشري رسالت ادا كړي، د فلسطين ماشومان، د نړۍ د ماشومانو په څېر حقوق لري، د فلسطين مېرمنې د نړۍ د مېرمنو په څېر حقوق لري او همدومره غلفت بس دی، چې يادو نړيوالو ادارو ترسره كړ، نور ياد وضعيت د زغم له دايرې د وتلو په درشل كې دی او ملامتي به يې په هغوی وي، چې اوس يې ننداره كوي؛ خو سبا به بيا همدې ننداري ته په وير كښېني او د نړۍ په گوټ گوټ كې به د دوی وگړي د فلسطين د مسلمانانو د انتقام په موخه تر حملو لاندې راځي.

۵- كه د نړۍ مسلمانان غواړي، چې تېر برم يې يو پلا بيا احيا شي؛ نو يو بل ته دې د واقعي اخوت لاسونه وركړي.

**مأخذونه**

القران الکریم

ابوالحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری.(بې تا). صحیح مسلم، محقق محمد فواد عبدالباقی، بیروت: دارالجیل، رقم الحدیث (۲۵۸۹).

ابوتمام، حبیب ابن اوس الطائی.(بې تا). قصیده فتح عُموریه، بیروت: دارالنشر.

باسورث، کلیفورد ادموند.(۱۳۸۱) . سلسله های اسلامي جدید: راهنمای گاهشماری و تبارشناسی، تهران: مرکز بازشناسی اسلام و ایران.

بیات، عزیزالله.(۱۳۸۴).تاریخ تطبیقي ایران با کشورهای جهان(از ماد تا انقراض سلسله پهلوی)، تهران:امیر کبیر.

تتوي، احمد ا بن نصرالله (بې تا)، تاریخ الفی،[بی جا]

جوزجاني، منهاج سراج.(۱۳۹۱). طبقات ناصري، کابل: بنیاد فرهنگی جهانداری غوری.

خواندمیر، غیاث الدین ابن همام الدین.(۱۳۸۰). حبیب ا لسیر فی اخبارافراد بشر، جلد:۲، تهران: خیام.

دینوري، احمد ابن داود.(۱۳۷۱). اخبارالطول،مترجم: مهدوی دامغانی، محمود، تهران: نشر نی.

راوندي، مرتضی.(۱۳۵۴). تاریخ اجتماعي ایران،جلد۲: تهران امیرکبیر.

شبانکاره ای، محمد ابن علی.(۱۳۸۱). مجمع الانساب، جلد ۱،تهران: امیرکبیر.

صدیقي، زرولي.(۱۴۰۰). افغانستان د منځنیو پېړیو تاریخ لومړی ټوک،کابل: وحیدافغان مطبعه.

صدیقي، زرولي.(۱۴۰۱). نبوي سیرت او اسلامي تاریخ، کابل: مطبعه مسلکي افغان.

متولی، احمدرضا.(بې تا). تاریخ تحلیلی اسلام از ظهور عباسیان تا سقوط بغداد، ایران: دانشگاه پیام نور.

نجیب ابادي، اکبرشاه.(۱۴۲۷هـق). د اسلام تاریخ،جلد ۲،ژباړن: سید فضل مولا لټون، پېښور: پیغام خپرندویه مرکز.

هدایت، رضاقلي ابن محمد هادي.(۱۳۷۳). فهرس التواریخ،تهران: پژوهشگاه علوم انساني و مطالعات فرهنگي.

هندوشاه، ابن سنجر.(۱۳۵۷). تجارب السلف در تواریخ خلفا و وزرای ایشان، تهران: طهوري.

# د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو ودونو د کولو حکمتونه او فلسفه

پوهندوی محمد ولید اسحق زی، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، اسلامي ثقافت څانګه.
برېښنالیک: walid.ishaqzai2008@gmail.com

**لنډیز**

لکه څرنګه چې ښکاره ده، د اسلام مقدس دین د راتلو څخه د مخه هم په عربي ټولنو کې د یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو سره نکاح کول عادت او دود وو، په داسې طریقې سره، چې هېڅ حد ورته نه و ټاکل شوی؛ لیکن د اسلام د څلانده لمر د څرک کېدو سره سم اړوند ټول ناوړه دودونه اصلاح او تنظیم کړای شول، د هر یو مسلمان نارینه شخص لپاره یې د څلورو ښځو سره نکاح کول جایز وګڼل؛ لیکن په دې شرط چې مالي او نفسي توان او قدرت به لري او هم به د خپلو ښځو تر منځ عدل او انصاف کوي، په همدې ترتیب د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو بیبیانو د نکاح کولو د حکمتونو په اړه علماء کرام زیاتوي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اړوند څلورو لویو حکمتونو لکه: تعلیمي حکمت، تشریعي حکمت، ټولنیز حکمت او سیاسي حکمت پر بناء زیات ودونه کړي دي، بې له شکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپل دې اقدام سره حضرت عمر (رضي الله عنه) یې د خپل لومړي خلیفه ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) سره برابر کړ؛ د دوی دواړو له لورګانو سره د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نکاح کول دوی دواړو لپاره تر ټولو لویه بدله او احسان و، پاتې دې نه وي، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو ودونو د کولو څخه موږ ته یو لوی راز او حکمت دا هم څرګندېږي، چې اړوند نکاحونه د مسلمان ملت لپاره د کفارو د ضرر رسولو د کم والي او هم د اسلام مقدس دین ته د لویو او قوي خلکو د داخلیدو باعث شول؛ آن تر دې، چې د اسلام تر ټولو لوی دښمن د اسلام مقدس دین خادم او د ایمان په عظیم ترین نعمت باندې ونازول شو.

**کلیدي کلمې:** حکمت او فلسفه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم)، زیات نکاحونه، عربي ټولنه.

**سریزه**

د زوجاتو زیاتوالی یا ګڼوالی په پخوانیو شریعتونو کې هم موجود و، ځینو انبیاء (علیهم السلام) هم د یوې څخه د زیاتو ښځو سره نکاح ګانې کړې وې، لکه ابراهیم (علیه السلام) یعقوب (علیه السلام)، داود (علیه السلام) او سلیمان (علیه السلام)؛ په دې معنا، چې د اسلام د راتلو څخه مخکې هم په عربي ټولنه کې د یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو سره نکاح کول دود و، په داسې طریقې سره چې هېڅ حد ورته نه وو ټاکل شوی؛ تر دې چې اسلام راغی او د دغه دود اصلاح یې وکړ او د څلورو ښځو څخه زیات والی یې حرام کړ او تر څلورو ښځو پورې نکاح کول یې په داسې شان سره روا وګڼل، چې مالي او نفسي توان او قدرت ولري او د ښځو تر منځ عدل وکړای شي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:

﴿فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا﴾ ( النساء: ۳).

ژباړه: نو کومې (نورې) ښځې چې ستاسې خوښېږي، د هغوی څخه له دوو دوو، دریو دریو، څلورو څلورو سره نکاح وکړئ، لیکن که تاسې سره دا اندېښنه پیدا شي، چې له هغوی سره به عدالت ونه کړای شئ؛ نو یوه ښځه وکړئ، یا له هغو( وینزو) څخه ازدواجي کار واخلئ، چې تاسې ته په لاس درغلې دي ( د هغو مالکان یاست)؛ په دې توګه بیا تاسو له بې عدالتۍ څخه په ښه شان ژغورل کېدای شئ.

**موخې**

**الف: اساسي موخې**

۱- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو ودونو د کولو اړوند حکمت او فلسفې بیانول.

۲- پخوانیو عربي ټولنو کې د یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو سره د نکاح کولو اړوند باطلو دودونو او رواجونو په تړاو وضاحت کول.

۳- د اسلام مقدس دین په راتګ سره د باطلو دودونو د اصلاح کولو اړوند تحقیق او تحلیل.

**فرعي موخې**

۱- په انساني ټولنو کې د نارینه وو په نسبت د ښځو د زیاتیدو اړوند فلسفه او تحلیل.

۲- د زیاتو نکاحونو په پایله کې د نسلونو زیاتیدل او په تړاو یې د اسلامي شریعت غوښتنه.

۳- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زیاتره نکاحونه د کونډو ښځو سره شوي؛ په تړاو یې تفصیلي حکمت او تحلیل.

**کړنلاره او د کار توکي**

څرنګه چې نوموړې مو ضوع کتابتوني بڼه لري، نو په لومړي سرکې مې د هرې مو ضوع د څېړنې په موخه د الله متعال کتاب قرآن عظیم الشان مختلفو تفسیرونو ته رجوع کړې، وروسته مې د بشـریت ستر لاربښـــود حضـــرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) سپیڅلي احادیثو (قولونو، فعلونو او تقریرونو ) ته رجوع کړې، په همدې ترتیب په هغو قوي او مؤثقو روایاتو کې مې هڅه او کوښـــښ کړی، چې د اسلامي نړۍ ټولو حقیقي او منل شویو علماوو ورباندې اتفاق کړی، همدارنګه د موضوع اړوند مې هغه احادیث راخیستي، چې زیاتره راویان یې ثقه، محدثین، صحابه کرام (رضوان الله تعالی) اجمعین دي، د څېړنې په اوږدو کې مې د ځینو فقهي معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته هم مراجعه کړې ده، پاتې دې نه وي، چې د څېړنې په دې لړۍ مې کې د نورو مأخـذونو او مراجعو ترڅنګ د کمپیوټري او نورو

ټولنیزو شبکو او معلوماتو څخه هم ګټه اخیستې ده، چې د دې څېړنې په بشپړولو کې اړین او ضروري ګڼل شوي دي.

د لیکنې په دې برخه کې غواړم، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو ودونو اړوند مسله په تفصیل سره په مستندو دلایلو روښانه کړم.

**د ښځو د ګڼوالي حکمتونه**

د یوې ښځې سره نکاح کول غوره او بهتر دي؛ لیکن اسلامي شریعت د یوې ښځې څخه زیاتو ته هم د ځینو ضرورتونو او حاجتونو پر اساس جواز ورکړی، چې ځینې یې په لنډه توګه ذکر کوو:

۱- د سړیو په نسبت د ښځو زیاتوالی

د سړیو په نسبت ښځې زیاتې دي او د دې زیاتوالي یو علت جنګونه او جګړې هم دي، چې سړي پکې نسبتاً زیات مړه کېږي؛ نو د دې لپاره، چې ښځې په ټولنه کې بې نکاحه پاتې نه شي او د فساد مخنیوی شوی وي، اسلامي شریعت د یو سړي لپاره د یوې ښځې څخه د زیاتو ښځو سره نکاح جایز کړې دی.

۲- کله نا کله مسلمه امت د خپل نسل زیاتوالي ته مجبورېږي؛ تر څو د دښمن پر خلاف جهاد وکړي او یا دا، چې په زراعت او صناعت کې ورسره مرسته وکړي (الزحیلي، (ب.ت) جلد ۹، ص: ٦٦٧٢).

۳- ځینې ښځې په داسې نا علاجه ناروغۍ باندې اخته شي، چې د مېړه د زوجیت ژوند ورسره سخت او ناممکن شي؛ نو په دې حالت کې مېړه مجبور دی، چې خپله ښځه طلاقه کړي او د بلې ښځې سره نکاح وکړي او یا هم د دې ښځې په شتون کې بله ښځه وکړي او دا څرګنده ده، چې د لومړنۍ ښځې په شتون کې د بلې ښځې سره نکاح کول د همدې مریضې ښځې په ګټه ده، ځکه له یوې خوا به یې نفقه او علاج کېږي او له بلې خوا به له مېړه او کور څخه هم نه محرومه کېږي (الطیار، ۱۴۱۳هـ، جلد اول، ص: ۵).

۴- د زیاتو نکاحونو په پایله کې نسل زیاتېږي، همدا د اسلامي شریعت غوښتنه ده او هم پکې د کورنۍ او ټولنې مصلحتونه شتون لري، په تړاو یې انس بن مالك (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وینا داسې نقل کړې ده: ﴿عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾ (الطبراني، ۳٦۰هـ، جلد اول، ص: ۴۱۳).

ژباړه: انس بن مالک (رضي الله عنه) وايي: ما د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه واورېدل، چې ویل یې: د هغه چا سره واده وکړئ، چې مینه کوونکې (تابع) او ښه زېږوونکې وي؛ ځکه چې زه د قیامت په ورځ ستاسو په زیاتوالي باندې فخر کوم.

**د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) د زیاتو نکاحانو حکمتونه**

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مېرمنو د ګڼوالي ډېر حکمتونه دي، چې کولی شو په لاندې ډول يې په څلورو حکمتونو، لکه تعلیمي حکمت، تشریعي حکمت، ټولنیز حکمت او سیاسي حکمت باندې خلاصه کړو:

**لومړی- تعلیمي حکمت**

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مېرمنو د ګڼوالي اساسي حکمت د اسلامي امت د ښځو لپاره د یو څو معلمانو او ښوونکو تربیه کول او روزل وو، ترڅو د اسلامي امت عامو ښځو ته اسلامي احکامات ور وښايي؛ ځکه چې د ټولنې نیمه برخه ښځې تشکیلوي او کوم احکام چې په سړو باندې فرض شوي، په ښځو باندې هم فرض شوي دي؛ ځکه ډېری ښځو به په ځینو شرعي مسایلو کې، چې ښځو پورې اړه لري، لکه حیض، نفاس، جنابت او داسې نورو په هکله د پوښتنې کولو پر وخت حیاء او شرم کولو، پس رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم له پوره حیاء کولو څخه برخمن و، د ښځو اړوند ټولو پوښتنو ته به يې پوره څرګند ځواب نشو ورکولی، حتی په ځینو ځایونو کې به يې په کنايي ډول ځواب ورکاو، چې ډېر ځله به د امت بېبیانې د رسول (صلی الله علیه وسلم) په مطلب او مقصد باندې پوه نه شوې.

﴿تروي السيدة عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْها أن امرأة من الأنصار، سألت النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم َ عن غسلها من المحيض، فعلّمها صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم َ كيف تغتسل، ثمّ قال لها: خذي فرصة ممسّكةً (أي قطعة من القطن بها أثر الطيب) فتطهّري بها، قالت: كيف أتطهر بها؟ قال: تطهّري بها، قالت: كيف يا رسول الله أتطهر بها؟ فقال لها: سبحان الله تطهّري بها! .

قالت السيدة عائشة: فاجتذبتها من يدها، فقلت: ضعيها في مكان كذا وكذا، وتتبعي بها أثر الدم، وصرحت لها بالمكان الذي تضعها فيه﴾ ( بخاري، ۱۹۴هـ ، جلد اول ، ص: ۷۰).

ژباړه: د عایشې (رضي الله عنها) څخه روایت دی، وايي: د انصارو قبیلې یوې ښځې له رسول (صلی الله علیه وسلم) څخه د ښځو له حیض څخه د پاکېدو پر مهال د غسل د څرنګوالي په هکله پوښتنه وکړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغې ته د غسل طریقه ور وښودله او ورته ویې ویل: د مالوچو په یوه اندازه، چې په عطرو (خوشبویي) باندې ککړه شوې وي، ځان پرې پاک کړه؛ ښځې وویل: څه ډول ځان پرې پاک کړم؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وویل: خپل ځان دې په هغې سره پاک کړه، ښځې بیا ورته وویل: اې د الله رسوله! څه ډول په هغې ملوچې باندې زه ځان پاک کړم؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغې ښځې ته وویل: سبحان الله؛ خپل ځان دې په هغې باندې پاک کړه؛ بي بي عایشه (رضي الله عنها) وايي: ما د لاس څخه هغه ښځه ونیوله او ورته مې وویل: چې په فلاني ځای کې هغه مالوچه کېږده او د وینې اثرات پرې پاک کړه.

نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به په داسې ډېرو ځایونو کې له دې څخه چې په څرګنده خبره وکړي، شرم کولو؛ په همدې اساس د انصارو ښځې به په تیاره کې عائشې (رضي الله عنها) ته راتللې؛ ترڅو د دیني احکامو اړوند لکه حیض، نفاس، جنابت او داسې نورو په هکله ورڅخه پوښتنې وکړي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مېرمنې د اسلامي امت بیبیانو لپاره ښې معلمانې او روزونکې وې.

**دویم- تشریعي حکمت**

دا حکمت ډېر څرګند او روښانه دی، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ځینې نکاح ګانې د جاهلیت د زمانې د ځینو ناوړه او بدو عادتونو د له منځه وړلو لپاره وې، چې د هغو په لړ کې د زوی نیونې عادت چې عربانو د اسلام له راتلو څخه مخکې درلوده؛ په داسې توګه چې یو سړي به د بل سړي زوی ته خپل زوی ویل او حقیقي زوی به یې ګاڼه او په ټولو حالاتو لکه میراث، طلاق، نکاح، د خسرګنۍ محرماتو، نکاحي محرماتو او داسې نورو موجودو احکامو کې د نسبي زوی په مرتبه کې و.
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم د عربانو د عادت په شان د حارثه زوی زید یې په زوی ولۍ سره ونیو، چې خلکو به ورته زید بن محمد ویل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپلې ترور لور زینب بنت جحش (رضي الله عنها) زید (رضي الله عنه) ته په نکاح کړه، خو ډېر وخت تېر نه شو، چې د دواړو تر منځ اړیکې خرابې شوې، د هغه حکمت له امله چې الله (جل جلاله) یې اراده کړې وه، پس زید (رضي الله عنه)، زینب (رضي الله عنها) ته طلاق ورکړ او الله متعال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته امر وکړ، چې له زینب (رضي الله عنها) سره نکاح وکړي؛ ترڅو چې د زوی نیونې اړوند بدعت باطل او د تل لپاره یې له منځه یوسي، د اسلام بنسټونه اوچت او د جاهلیت بنسټونه ونړېږي؛ لیکن رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له دې څخه وېرېده، چې منافقان به ناوړه او ګډې وډې خبرې پیل کړي او وایي به، چې محمد (صلی الله علیه وسلم) د خپل زوی د ښځې سره نکاح کړې، په همدې دلیل به یې له زینب (رضي الله عنها) سره نکاح ځنډوله آن تر دې، چې د الله (جل جلاله) له خوا ایتونه پرې نازل شول: ﴿ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴾ (الأحزاب:۳۷).
ژباړه: ته له خلکو څخه وېرېدلې، په داسې حال کښې چې الله رب العزت د دې زیات حقدار دی، چې ته ورڅخه ووېرېږې، بیا کله چې زید (رضي الله عنه) له هغې څخه خپل حاجت پوره کړ؛ نو مونږ هغه (طلاقه شوې مېرمن) تاته په نکاح کړه، ترڅو چې مؤمنانو ته د خپلو په خوله بللو زامنو د مېرمنو په باب څه ستونزه پاتې نشي، کله چې هغوی ترې خپل حاجت پوره کړی وي، پس د الله (جل جلاله) حکم خو عملي شوی دی .

چې په دې ترتیب سره د زوی نېونې حکم، چې د جاهلیت د زمانې تقلیدي او نه پرېښودونکی رواج و؛ باطل او له منځه ولاړ. (صابوني، ۱۳۹۱هـ، جلد دوم، ص: ۱۹۶).

**درېیم- ټولنیز حکمت**

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نکاح گانو ټولنیز حکمت د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د لور عایشې (رضي الله عنها)، د عمر (رضي الله عنه) د لور حفصې (رضي الله عنها) او د قریشو د ځینو ښځو سره د نکاح څخه ښه څرگندېږي، چې په دې سره یې د دوی ټولو زړونه لاسته راوړل او د یو بل سره لکه د رسی په شان وتړل شول.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د بي بي عایشې (رضي الله عنها) چې د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) لور وه، په نکاح کړه، ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر وړاندې تر ټولو عزتمن او د قدر وړ شخص وو، ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) لومړی شخص وو، چې اسلام یې قبول کړ، خپل ځان او مال یې د الله (جل جلاله) د دین سره د مرستې او د هغه څخه د دفاع په لار کې قرباني کړ او ډول ډول تکلیفونه او کړاوونه یې د اسلام مقدس دین په لار کې وگالل.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دنیا کې د ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) لپاره له دې څخه لویه بدله ونه موندله، پرته له دې څخه چې د ده د لور سره په نکاح کولو یې خوشحاله کړ او د دوی تر منځ د زومتوب او خسرگنۍ دوستي او خپلوي ثابته او اړیکه یې نوره هم قوي شي.

همدا ډول رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د عمر (رضي الله عنه) د لور حفصې (رضي الله عنها) سره نکاح وکړه؛ ترڅو د عمر (رض) د سترگو یخوالی شي، حضرت عمر (رضي الله عنه) د اسلام له دین سره په اخلاص لرلو، د دین په لاره کې د سرښندنو او قربانیو په ورکولو کې نومیالی او تر ټولو زړور کس و، هغه څوک و، چې الله (جل جلاله) د ده په اسلام راوړلو سره اسلام او مسلمانانو ته عزت ور په برخه کړ، همدا وو، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دې اقدام سره حضرت عمر (رضي الله عنه) د خپل لومړي خلیفه ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) سره برابر کړ (صابوني،۱۳۹۱هـ، جلد دویم، ص: ۲۳۳).

**څلورم: سیاسي حکمت**

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خلکو د محبت، مینې او هم د قومونو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د ځینو ښځو سره نکاح او واده وکړ، چې دغه کار طبعاً هغوی د ده مرستې او ملاتړ ته راوبلل، د دې مسلې د لا ښه څرگندېدلو لپاره څو بېلگې دلته رانقلوو:

۱- رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د بي بي جویریه (رضي الله عنها) سره، چې د بنو مصطلق د قبیلې د رییس لور وه، نکاح وکړ، جویریه د خپل قوم سره د مسلمانانو په بند کې راغلې وه، نوموړې غوښتل

چې فديه ورکړي او خپل ځان ازاد کړي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته راغله، چې مالي مرسته ترې وغواړي، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وړانديز وکړ، چې که ستا خوښه وي، ټوله فديه به دې زه ورکړم، خو په مقابل کې به ته له ما سره نکاح کوې، جويريې (رضي الله عنها) د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وړانديز قبول کړ او واده يې ورسره وکړ، مسلمانانو وويل: ايا د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قوم او خپلوان به زموږ اسيران وي؟ ټول اسيران يې ازاد کړل، کله چې د بنو مصطلق د قبيلې خلکو د مسلمانانو دا سخاء، ځوانمردي او لوړ اخلاق وليدل؛ ټولو اسلام قبول کړ.

۲- د حيى ابن اخطب له لور صفيه (رضي الله عنها) سره د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نکاح کول هم په همدې شان وه، صفيه (رضي الله عنها) د خيبر په غزا کې د مېړه له وژل کېدو وروسته د مسلمانانو په اسارت (بند) کې ولوېده او د يو مسلمان د غنيمت په برخه کې ورسېدله، د نظر څښتنانو او مشوره کوونکو وويل: دا د بني قريظه د رييس ښځه ده، يوازې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د وينځې توب وړتيا لري، موضوع يې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره د مشورې په توگه شريکه کړه؛ رسول الله (صلى الله عليه وسلم) صفيه (رضي الله عنها) راوغوښتله او هغې ته يې د دوو شيانو ترمنځ اختيار ورکړ، چې يا به يې آزادوي او واده به ورسره کوې او يا به يې آزادوي، چې بېرته خپلې کورنۍ ته لاړه شي، صفيې (رضي الله عنها) د حل لومړنۍ لاره غوره کړه، چې آزاده يې کړي او د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مېرمن شي. چې دا هر څه د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د عظمت، لويۍ، لوړې مرتبې، او ښه چلند له امله تر سره شول، همدا وو، چې صفيې (رضي الله عنها) اسلام راوړو او د صفيې (رضي الله عنها) د اسلام راوړلو له امله يو شمېر نور خلک هم مسلمانان شول.( السجستاني، ۲۷۵هـ، جلد څلورم، ص: ۲۲).

**پايله**

لکه څرنگه چې د اسلام مقدس دين د راتگ څخه د مخه د زياتو ښځو سره ودونه کول دود او رواج وو، حتى ځينو انبياء (عليهم السلام) هم د زياتو ښځو سره ودونه کړي وو، آن تر دې چې اسلام مقدس دين راغلو او دغه دود يې اصلاح کړ او د څلورو ښځو څخه زياتوالی يې حرام کړ، ليکن بيا هم څوک چې د څلورو ښځو ترمنځ عدالت نه شي کولی؛ هغوی لپاره بيا لازمه او ضروري وگڼل شوه، چې د يوې ښځې سره نکاح وکړي؛ ترڅو په يوه اسلامي ټولنه کې بې عدالتي ترسره نه شي؛ دا چې په انساني ټولنو کې د ځينو علتونو پر اساس د نارينه وو په نسبت د ښځو زياتوالی دی، د بيلگې په توگه: جنگونه او جگړې، چې زياتره نارينه پکې مړه کيږي؛ په همدې ترتيب د مسلمه امت د نسلونو د زياتوالي په خاطر ترڅو دښمن مقابل کې جهاد وکړي په همدې ترتيب د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د مېرمنو گڼوالی هم د ډېرو حکمتونو پر اساس و، چې موږ يې هم په خپل دغه علمي بحث کې د اړوند حکمتونو له

جملې څخه په څلورو حکمتونو لکه: تعلیمي حکمت، تشریعي حکمت، ټولنیز حکمت او سیاسي حکمت باندې بسنه کوو.

**وړاندیزونه**

۱- څوک چې د دوو یا زیاتو ښځو ترمنځ عدالت نه شي پلی کولی، نو لازمه او ضروري ده، چې یواځې د یوې ښځې سره نکاح وکړي؛ ترڅو ژوند یې د ګناهونو څخه محفوظه پاتې شي.

۲- د لوستونکو څخه مې دا هیله ده، چې د داسې کورنیو ښځو سره د نکاح اړیکه ټینګه کړي، چې ښکلې، مینه کوونکي او ښې زیږوونکې وي، تر څو نسلونه یې زیات او د تاسو د آخرت د صدقاتو لپاره باعث شي.

۳- وړاندیز کوم، چې تل د پوهو، با علمه او ښوونکو ښځو سره نکاح وکړئ، ترڅو اولادونه مو د سالمې تعلیم او تربیې څخه برخمن وي.

۴- په همدې ترتیب هیله کوم، چې د ښېخې او دوستۍ کولو پر وخت تل د بېګانه ښځو سره نکاح وکړئ، ترڅو اولادونه مو صحتمند، قوي او هوښیار وي.

**اخځلیکونه**

قرآن کریم

البخاري، محمد بن إسماعیل. (ب.ت). الجامع المسند الصحیح المختصر من أمور رسول الله صلی الله علیه وسلم وسننه وأیامه = صحیح البخاري. (ط: ۱). جلدونه: ۹. الناشر: دار طوق النجاة بیروت.

الزُّحَيْلِيّ، وَهْبَة بن مصطفی. (ب.ت) الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ. (ب.ط). جلدونه: ۱۰. الناشر: دار الفکر سوريَّة . دمشق.

السجستاني. سلیمان بن الأشعث. (۲۷۵هـ). سنن أبي داود. (ب.ط). جلدونه: ۴. الناشر: مکتبة العصریة. صیدا- بیروت.

الصابوني، شیخ محمد علي. (۱۳۹۱هـ ). تفسیر آیات الأحکام. (ط: ۳). جلدونه: ۲. الناشر: مکتبة الغزالي دمشق. مؤسسة مناهل العرفان- بیروت.

الصابوني، شیخ محمد علي. (۱۳۹۱هـ ). روائع البیان تفسیر آیات الأحکام. (ط: ۳). ژباړه: مولوي محب الله مخلص. مکتبه فریدیه محله جنګي – پشاور.

الطبراني، سلیمان بن أحمد بن أیوب بن مطیر اللخمي الشامي. ( ۳۶۰هـ). مسند الشامیین. ( ط: ۱). جلدونه: ۴. الناشر: مؤسسة الرسالة بیروت.

الطیار، أبو محمد عبد الله بن محمد بن أحمد.( (۱۴۱۳هـ)). العدل في التعدد بین الزوجات .(ب.ط). الناشر: دار العاصمه شبکة الألوکة.

# په پښتو معاصر شعر کې له ځورېدنې خوند اخیستنې (سادېزم) څرکونه

پوهندوی گل رحمن رحماني، بغلان پوهنتون، ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، پښتو ژبې او ادب څانگه.

برېښنالیک: G.rahman_rahmani@yahoo.com

**لنډیز**

سادېزم که څه هم د ارواپوهنې او رواني علومو اړونده اصطلاح ده، د بل له ځورېدنې د خوند اخیستلو او خوښـې تر لاسـه کولو مانا لري، خو له ادبیاتو سره هم تړاو لري او په پښـتو ادبیاتو، په ځانگړي ډول پښتو معاصر شعر کې یې هم بېلگې زیاتې موندل کېږي. سادېزم د جنسیت له اړخه بیا د ښځینه شاعرانو په شـعر کې پیاوړی دی، ښـځې په رواني لحاظ د نارینه حاکمیت پر وړاندې یو څه عقده‌یي دي او له بله اړخه ځان خوښي هم د هغوی د فطرت یوه برخه ده چې د مقابل لوري د ځورونې له‌پاره خپله ښکلا او سینگار د یوې ځورووونکې وسیلې په توگه کاروي او له ځور څخه یې خوند اخلي، خو که یې ستاینه ونه شي، ناز او ادا یې درک نـــه شي، بیا له مقابل لوري د غچ اخیستلو له‌پاره د هغه په درد ځان ته ارام ورکوي، څکه خو د اروا‌پوهنې او ادبیاتو څېړونکو د یو ډول رواني ناروغۍ نوم هم ورکـــــړی دی. له بلې خوا بیا د سادېزم بله بڼه، چې مـــازوخېزم ورته وایي، په پښتو شعر کې ډېره پیاوړې ده او گڼو نارینه شاعرانو له خپل ځور، درد او ځوړند حالت څخه خوند اخیستی دی. په ولسي۔ شاعرۍ کې بیا تقریبا د دواړو بڼې سره مساوي دي، د رواني او جسـمي سادېزم بېلگې په کې زیاتې موندل کېږي، په مقاله کې پر دربیو ښځینه او دربیو نارینه معاصرو شاعرانو تمرکز شوی دی.

**کلیدي کلمې**: خوند، سادېزم، سایکوپاتي، سادېست، شعر، مازوخېزم، مینه

**سریزه**

بِسْـــمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِیمِ، الحمدلله رب العالمین والصـــلوة والســـلام علی ســـیدالمرســـلین و علی اله و اصحابه اجمعین.

د هرې ټولنې ټولنیز، فکري او اقتصادي چاپېریال پر هنر او پنځونو هم اغېز لري او ورسره د شاعرانو پر فکري لید او هنري سوژو په محتوا او بڼه هم اغېز لری. دا چې شعر او شاعر دواړه د حساسیت او درک په نازک پوښ پوښل شوي دي، دا اغېز ورباندې ژر څرگندېږي. له شک پرته چې په را وروستیو کې بیا د پښتو شعر ددغه دروني حالت او منځپانگې زیاته برخه شکایت، فردي دروني دنیا انځور، ایډیالوژۍ،

د خپل رقيب د ناوړه حالت له غندنې خوند اخيستل او بيا د معشوقې پر وړاندې پر خپله خاکساری، ځور او پرېوتي حالت وياړ و چې په حقيقت کې د سادېزم رنګونه وو.
په دې اساس ويلی شو، د دې فکري ښکارندو له ډلې سادېزم هم يوه داسې اصطلاح ده چې تر ډېره پورې د ارواپوهنې په چاپېريال کې کارېږي او د يوې رواني ناروغۍ نوم ورکړل شوی دی، خو دا چې ارواپوهنه او ادبيات تر ډېره حده ګډې اړيکې او ساحې لري، يا په بله اصطلاح ارواپوهنه او ادبيات دواړه د ټولنې په تفسير او پېژندنه کې په ګډه اساسي ونډه لري؛ نو سادېزم اصطلاح هم د دې وړ وګرځېده چې په ادبياتو کې وڅېړل شي، ځکه چې د ادبياتو او ارواپوهنې د ژورو اړيکو په رڼا کې سادېزم هم يوازې تر ارواپوهنې پورې محدود نه شي پاتې کېدلی. پښتو معاصر شعر د شلمې زېږديزې پېړۍ په پيليزه کې، چې افغانستان د علم او ادب بڼ تازه له انګليسي نيواک څخه د ازادۍ وږمې حس کولې، د سراج الاخبار او نورو تازه پيل شوو خپرونو له چاپ سره، چې په لره او بره پښتونخوا کې د مبارزو فرهنګيانو پر مټ د لوستونکو تر ګوتو رسېدې، پيل شو.
د موضوع د نوعيت په لحاظ يې د روان ژوند بېلابېل اړخونه را ونغاړل، ټولنيز رنګ ورباندې غالب شو، په دې رنګونو کې يو هم د دې شعر د معشوقې څېره وه چې د پخوا په خلاف د پخواني سانسور او ابهام له شالونو يو څه مخ لوڅې شوه او د خپل ښايست غرور يې ښرګند کړ. له بله اړخه د پښتنو د ژوند سيمه له مودو راهيسې د جګړو، درد، محروميتونو او د ناوړه دودونو د زغملو سيمه ده چې انعکاس يې په هر مهال کې را څرګند شوی دی. په دې مقاله کې د سادېزم او مازوخېزم په هېنداره کې د همدې انعکاس او تصوير سپړنه شوې ده چې دواړو ته په معاصرو بېلګو کې کتنه شوې ده.

**موخې**

الف: اساسي موخې

د ادبياتو په درشل کې د سادېرم پېژندنه

په پښتو شعر کې د سادېزم د نوعيت او ورسره د اړيکې څېړل

د شعر، سادېزم او مازوخېزم درې اړخيز تړاو څرګندول

**ب: فرعي موخې**

۱.د ساديستي شاعرانو ځانګړنې موندل

۲. د سادېزم چاپېريال موندل

۳. د پښتو ژبو شاعرانو رواني اړخونه څرګندول

**کړنلاره**

په دې څېړنه کې د څېړنې له تشریحي ـ پرتلیز روش څخه کار اخیستل شوی دی.

**تېرو آثارو ته کتنه**

د څېړنې هره مو ضوع د یوې اړتیا او انگیزې پر بنسټ غوره کېږي او زما د دې هڅې پر مهال هم راسره دا انگیزه موجوده وه، ځکه چې د مو ضوع غوره کولو پر مهال مې په پښتو ژبه او بیا په ځانگړي ډول ادبیاتو کې پلټنه پیل کړه، په دې اړه مې زیات څه ونه موندل، یوازې د پښتو ارواپوهنیزو مقالو په لړ کې ځینې محدودې لیکنې مخې ته راغلې چې له دې ډلې د میوند شینواري یو دوې لنډې لیکنې او نورو وېبپاڼو کې د سادېزم د اصطلاحي شرحې په تړاو د محدودو پراگرافونو په کچه متنونه موجود وو. البته د ادبیاتو او اروپوهنې د تړاو په باب د زیارکښ څېړونکي استاد محمد اکبر کرگر مستقل اثار موجود دي، خو د سادېزم اړوند په کې څه نه و؛ نو ځکه به تر یوې کچې زما دا ادعا بې ځایه نه وي چې دا مقاله په پښتو شعر کې د سادېزم او د سادېزم د یوې بلې بڼې (مازوخېزم) د مطرح کولو لومړنۍ څېړنیزه هڅه وي. ددې اصطلاح پښتو بدیل یوازې په یوه یا منفرده کلمه گران دی، ځینو ورته د بل ځورونه بدیل راوړی چې مناسب نه دی، ځکه چې دلته په اصطلاحي مانا کې د بل له ځورونې ځان ته د ارام او سکون حاصلول مطرح دي، یا لږ تر لږه کله کله داسې ښېرا وي چې له قبلېدو سره یې شخص ارام او هغه عقده وسپړل شي، چې د مقابل یا یوه بل لوري په بد حالت سره مشاهده کېږي، که څه هم د انسانیت او بشري خواخوږۍ له مخې دا مناسبه چاره نه ده او د اسلامي اخلاقو له مخې یو مسلمان باید هېڅ وخت د بل پر ځورېدو خوښ نه شي، خو لکه وړاندې مو چې ورته د ناروغۍ نوم ورکړی، نو ویلی شو چې کله کله په ناروغیو کې د ناروغ دخالت د هغه په لاس کې نه وي او ناروغي خپله بده او د انسان ترحم وړ حالت دی. نامتو ولسي شاعر شفیع الله بابرزی په خپل یوه شعر کې وایي:

په ما راغلې دغه ورځ دې خدای په تا راولي
چې ماشومان دې خــــړ تورخم ته په ژړا راولي
رقیبه ته به په ژړا شـې نن چې مـــــا ژړوې
خدای به زما د وطن پېغلې په خندا راولي
زما په شان دې مېنه ورانه شه په خپل وطن کې
چې در په در دې مساپر کړه په شا راولي

(بابرزی، ۱۳۸۲، ص، ۷)

په پورتنیو بیتونو کې یو تولنیز درد، ښېرا او د ګاونډي هېواد په اړه د شاعر داسې حالت نغښتی دی چې د بدې ورځې په لیدو یې د هغه حالت بېرته ښه والي او تسکین ته را ګرځي، یا په بله اصطلاح هغه حالت ته له راتلو یې خوند اخلي چې په ده تېر شوی دی. د سادېزم په اړه په شوو څېړنو کې راغلي چې یوازې د خوند اخیستلو په موخه نورو ته د کلامي او جسمي زیان رسولو میل او قصد سادېزم بلل کېږي.

هغه څوک چې په دې ناروغۍ مبتلا وي، سادیستیک بلل کېږي، له خپل ځان سره قصدي ناوړه چلند ډېر له خوښۍ ډک ګڼي، حتی د نورو له شکنجه کولو، عذاب، رنځ او پرېښانۍ څخه خوند اخلي. د دې ناروغۍ قربانیان داسې نا اشنا کسان دي چې د عمر، ظاهري بڼې او یا دندې په لحاظ ګډې ځانګړنې لري. د سادېزم هیجان د درد زغملو او ځان قربانولو سره تړلی دی. د بل له سپکاوي او رټنې څخه په هر حالت کې رضایت لري. شاعره موسکا مایار پر دې د مین له در په درد حالت ځکه اخوند اخلي چې دې ته د خندلو ګناه یې کړې ده:

ما تـه دې خـنـدل اوس د خـنـدا ښه یې
داسې در په در او یـک تـنـهـا ښه یې
لاړې قـربـاني د یـوې مـوسـکـا شـولـې
اوس له کلي لرې پـه صحـرا ښه یې

(مایار، ۱۳۸۸، ص، ۷۶)

جنسي سادېزم بیا ډول ډول ګډوډي ده، چې په سبب یې له خپلو قربانیانو څخه د هغوی د وېرولو، وحشت، سپکاوي، زخمي کولو او حتی مرګ څخه د جسني رضایت او قدرت ځواک خپلوي، البته دا په رواني دایره یا خبرو کې وي، په عملي ډګر کې ډېر نه پېښېږي او عملي ډګر یې بیا جنایي چلند او الګوګانې دي چې د قتل انګیزه یا هم له مرګه وروسته د غچ روحیه په کې وي، خو سادېزم او جنایي پېښې یو له بل سره توپیر لري.

دا خلک ولې انتظار د هغه ورځې کوي
چې پاچا مړ وي او وزیر په زولنو تړلی
( مایار، ۱۳۸۸، ص، ۷۲)

ساديست شخص کومې ځانګړنې لري؟ ساديست هغه څوک دی چې د نورو د سپکاوي او ځورولو روحيه لري، نورو تـــه د اوږد مهال لهپاره خپل ظالمانه او سپکوونکی چلند ښکاره کوي، په لوی لاس نورو ته جسمي، جنسي يا رواني درد ورکوي، څو له دې لارې ځواک، تسلط او خوند حاصل کړي.

د ژونـد د سـيـنـد هره څپـه يې پـه هنر مـاتوي
دا يـې جـزا ده چـې لـه مـا سره نـظـر مـاتـوي
زمـا يې څـه کـه لـه دېوالـه کـه لـه غرونو غورځي
زمـا ببـلـتـون روغ لـېـونـی کـړ ځـکـه سر مـاتـوي
(مايار، ۱۳۸۸، ص، ۴۸)

په ساديستي کړنو کې يوه لويه موخــه جنسي تحريک او رضايت دی، خــو کله کله بيا غير جنسي اړخ هم لري، مثلا يو څوک په خپل کاري محل کې ســاديســت وي، ســاديســتي کړنې تر سره کوي، خو له خپل ظلم څخه کوم جنسي رضايت نه حاصلوي. په يوه وېشنه کې ساديستان درې ډلې راغلي دي.

سريالي ياديستان: د مطالعاتو پر بنسټ يو طبيعي فرد له فيزيولوژيکي نظره د ودې مناسبو شرايطو ته په پام سره کېدای شي چې په يوه سريالي ياديست تبديل شي، چې احتمالاً دغه شرايط د عصبي مسير په وده کې د انحراف په خاطر دی. اکثره فلم او سريال جوړونکي يو شــمېر داســې کرکټرونه صــحنې ته راوړي چې ځان ځورونه او نورو ته زيان رسـونه يې عادت وي او له دې تقليد څخه يو ليدونکی هم په عملي ډول دا ځانګړنې خپلوي.

چې پـه مـا ميينـېـدې، ځـه اوس ګـرځـه لـېـونـی
چې پـه ځـان نـه پوهـېـدې، ځـه اوس ګرځـه لېونی
ســودايي راپـســې ګرځـه د هجران د تورو شــپو
پـه ســپـين مخ مې نقـابونـه دي د زلفو د لوګو
نـه شي نـه شي مـا ليـدی، ځـه اوس ګرځـه لېونی
چې پـه ځـان نـه پوهـېـدې، ځـه اوس ګرځـه لېونی
(مايار، ۱۳۸۸، ص، ۷۴)

**تېرېګر سادیست**: دا ډول فرد د روحي درد او رنځ د رامنځته کولو له لارې جسمي او جنسي رضایت ته ځان رسوي. د تاوتریخوالي کچې لوړېدنه معمولاً له پارېدنې او تحریک سره تړاو لــــري. دا ډول افراد فرصــت طلبه دي، غالباً انســان تښــتونه او ناڅاپي بریدونه کوي. خپل تخیلات په ســمبولیکه بڼه یا هم اسارت او شکنجې سره پالي، جنجالي او جرمي کیفیت ور په برخه کوي. په یوه لنډۍ کې راځي:

پــه مــا دې وکــړل پــه تــا وشـــــه
په کور دې راشـــه بې بارانه ســېلابونه
(یوسفي، 1387، ص. ۲۴)

خو په ځینو لنډیو کې بیا د معشوقې مهربانه څېره هم را څرګنده شوې ده، دا چې ښایست یو امتیاز دی، خو کله کله مقابل لوری ځوروي او ښکلې چې دا درک کــــړي او بیا پر معشوق د ترحم لار ونیسي، نو سادیستیک جبران ورته ویلی شو

چې پــه ښـــایســـت مــې خــپــه کــېــږې
نور بـــــه د ځمکې خوب کوم چې ژېړه شمه
(کرګر، ۱۳۹۷، ص. ۶۰)

**انټرنېټي سادېزم:** پــه نننې عصر کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په پراختیا سره خواله شبکو ته هم د دا ډول کســانو لاس‌رســی زیات شــوی دی، دوی په انټرنټ کې خپل ګواښــوونکي، ســپکوونکي او نا اشــنا فعالیتونه خپروي، دوی ټولنیز او اخلاقي معیارونه تر پښــو لاندې کوي، پر توکم، جنســیت، ســیاسي او مذهبي لیدلورو بریدونه کوي. دا نظرونه کله کله مړه شوي افراد او د هغوی کورنۍ مسخره کوي، یا هم قربانیان او د هغوی کورنۍ ګواښــي، موخـــــه یې د وېرې او ډار ایجاد دی او غواړي یو قرباني بیا ځلي وپاروي او سادېست فرد ورڅخه دویم ځلي خوند واخلي.

سادېست شاعر کله کله درد او رنځ پر یو بیرونی کس نه لوروي، په خپل ځان کې د پټ محرک او حتی کله کله خپل زړه له ځور څخه هم خوند اخلي او د مینتوب پېغور ورکوي. د څېړونکي مصطفی سالک په قول چې هر شاعر په خپل فطـــرت کې یو ایډیال همزاد یا همزولی لري او ډېر ځله له همدې همزاد سره، چې ده ځانګړی نوم ورکړی وي، خبرې کوي. هغه د شعر په باب خپل څېړنیز اثر (سیند په سېپۍ) کې لیکي: «د همزاد یا همزولې ښــاپېرۍ په اړه په افســانو کې ډېرې خبرې راغلې دي، په اردو او فارسي

شــاعرۍ کې دغه همزولې ښــاپېرۍ ته همزاد وایي، د هندویزم فعالان هم همزاد تاییدوي او وایي چې همزاد نه ملګري، بلکې داسې به ووایو چې دغه افسـانوي ارزښـت ته یې د تناسـخ رنګ ورکړی دی» (۳٦:٦)

په سادېزم کې هم کله شاعر د همدغه همزاد له درد څخه خوند اخلي. په یوه لنډۍ کې راځي:

زړګـيـه ښـــه یـې چـې کـړېـږې
ښــکلو لـه چـا سره تـر سره کړل لوظونـه
(یوسفي، ۱۳۸۷، ص. ۷۷)

له سادېزم سره یوه بله تړلې اصطلاح سایکوپاتي ده، سادیستي د یوه انسان د ماشومتوب په دروان پورې هم اړه لري او په لویوالي کې راڅرګندېږي، دا ډول انسانان د عمر له ډېرېدو سره سایکوپاتي شخصیت خپلوي، د سایکوپاتي مانا اجتماعي ضد شخصیت لري، یاني داسې یو شخص چې د پښېمانۍ حس ونه لري او دا احساس ورسره نه وي، چې د نورو افرادو انسانیت ته ځواب ورکړي. د دا ډول شخصیت نورې ځانګړنې دا دي چې دروغ وایي، پارول کېږي، پښــېماني نه څرګندوي، له نورو سره د دوســتانه اړیکو په جوړولو کې د شرم او ګناه احساس کوي، د ټولنیزو نورمونو ضد وي، ځانګړنې یې د زنځیري قاتلانو سره ورته والی لري.

پـرېـبرده چـې ګـرځـي در پـه در دا لـېـونـیـان د کـلي
د زلـفـو ول ول کـې مـې زانـګـي عـاشـــقـان د کـلي
چا چې غوښــتل اوس دوی همداســې ځورېدلي ښـــه دي
د مـیـنـې رنـځ کـې دې کـړېـږي ټـول ځـوانـان د کـلي
(مایار، ۱۳۸۸، ص. ۸۸)

له دې مفهوم څخه اوس پــــه جزایي طبي چارو او جنایي ارواپوهنه کې هم په پراخه کچه ګټه اخیستل کېږي، خو د بڼو د تعدد یا زیاتوالي له اړخه ورباندې نېوکې هم شــته دي، ځکه چې دوی ورځنی معمولي ژوند نه لري او هره شــېبه بدلېدونکي وي. هغه شــاعر چې په ماشــومتوب کې یې درد او ځور لیدلی وي، یا د خوښۍ کوم خواږه احساس او تصویر یې په شعور کې ځاله کړې وي، دا کیفیت د هغه د شاعرۍ او هنر په یوه پړاو کې خامخا ځان را څرګندوي، چې یو اړخ یې سادېزم او مازوخېزم وي.

اجمــل پسرلی د جمالیاتو په اړه یوه بحث کې وایي: د ارواپوهنې له مخې دا هم ممکنه ده چې تر پنځه کلنۍ یا حتی تر لس کلنۍ پورې که له یو چا سره یو چاغ یا ډنګر بد چلند کړی وي، بیا ټول عمر ښایي همدغه ډول خلک بد وایسوي، برعکس که چا ښه کړي وي، هغه ټول عمر ښه ورته ښکاره شي. دغه احســاس په ځینو کې د لومړۍ ځوانۍ په وخت کې را ټوکېږي، په تېره بیا که چېرې څوک د چا خوښ شي او هغه تر لاسه نه کړي، نو نور عمـــر ممکن دا کس په همغه ډول ښایست پسې وګرځـــي (پسرلی، ۱۳۹۷، ص. ۲۷).

**مازوخېزم او شعر**

له ســادېزم سره یوه بله تړلې رواني مو ضوع هم د مازوخېزم په نامه يادېږي، چې په عمل کې د ســادېزم یوه بڼه ده، خو د نوعیت په لحاظ بیا توپیر لري، په دې مانا چې مازوخېزم هم د ســادېزم یو بل اړخ دی. یو ســادیســتیک فرد د نورو له ازار او ځورونې څخه خوند اخلي، خو پر مازوخېزم باندې مبتلا کس له هغه عذاب او شکنجې څخه خوند اخلي، چې ځان ته یې ورکوي. شاعر وسیم مومند وایي:

دا ســتا د عشــق په سرو لمبو کې ســوځېدلی ښــه یم
دا ســتـا د مینـې افســـانو کې ځورېـدلی ښـــه یم
دا ســـتـاد ســـترګـو د بـاڼـو د نـیـزو زور چـې نـه و
دا د خـواږه زړګـي پـه ویـنـو لمـبـېـدلـی ښـــه یـم
پـرهـر پـرهـر مـې شـــو بـدن د مـحـبـت پـټـۍ تـه
پـټـۍ ونـه شـــوه زه هـمـداســـې کـړېـدلی ښـــه یـم
(مومند، ۱۴۰۰، ص. ٦٢)

فرویډ مازوخیزم د منفعلانه رنځ په مانا کاروي او ســادېزم د جســماني او رواني رنځ مانا بولي او په دې باور دی چې سادېزم د ښځو ځانګړنه ده، خو په نارینه افرادو کې هم وجود لري. مازوخېزم بیا بل ته له ازار رسولو پر ځای له ځان ازارونې څخه خوند اخیستنه ده.

په پښتو شاعرۍ کې د حمید بابا ډېرې غزلې او د شعرونو نورې بڼې له داسې سوز او ګداز نه ډکې دي، خو دا هغه ترخه دي چې د کړاو او رواني درد په خوا کې یو ډول خوند هم لري. شـــاعر پرې ځانته عذاب ورکوي او یوه مـازوخیســـتي عملیه پر مخ بیایي یـاني ځان تـه لـه خونده ډک عذاب ورکوي. (کرګر، ۱۳۹۷، ص. ٦٢)

د مجازي فضـا ډلې د راپور له مخې، هغه کسـان چې په دې ډول انحراف باندې مبتلا دي، په ډېره لوړه کچه دا تمايل لري چې په کومه وسـيله ځان ته ازار ورکوي او يا په نورو خپل ځان وځوروي. د دا ډول ناروغانو کاميابي له زجر او ازار پرته په بله لاره نه حاصلېږي. مازوخېزم په درې ډوله دی:

**الف: رواني مازوخېزم**

رواني مازوخېزم داسې رواني حالت دی چې د خلکو په عادي ژوند کې هم ليدل کېږي. ځينې افراد په ژوند کې ځان له هر لحاظه د خپل محبوب فرد مخې ته وړاندې کوي او هر ډول هغه ځور چې له مقابل لوري ورباندې عملي کېږي؛ زغمي يې بلکې په خوښـې يې زغمي. که چېرته د دوی اړيکې له پولې واوړي، د ارباب او غلام بڼه پيدا کړي او له دواړو خواوو څخه يو يې په هغه کچه چې غلام د خپل خان اطاعت او متابعت کوي، په بنده وار ډول د مقابل لوري غوښـتنې منې. که چېرته څوک په داسې حالت کې وي، نو ويلی شو چې په رواني مازوخېزم مبتلا شوی دی. ولسي شاعر بابرزی وايي:

غمونه ښـه دي خوشـحالی سره مې نه لګېږي
په شـاړو ګرځم ابادۍ سره مې نه لګېږي
د لېونو مې دا شـکېدلي ګرېوانونه خوښ دي
خلکو د ښـکلو د يارۍ سره مې نه لګېږي
(بابرزی، ۱۳۸۲، ص. ۱۱۱)

په رواني مازوخېزم اخته کس تر هغو پورې نا ارامه وي، څو پورې يې چې له مقابل لوريې بدې خبرې او ښـکنځل نه وي اورېدلي يا يې سـپکاوی نه وي شـوی. ګڼې ځوانې او تحصـيل کړې يا ځواکمنې ښځې چې له ډېرو ناوړه نارينه‌وو سره واده کوي، په رواني مازوخېزم مبتلا دي.

**ب: احساساتي مازوخېزم**

پر مازوخېزم ځينې اخته کسان چې معمولا ناپوه او نالوستي دي، د خپل انحراف له ښکاره کېدو څخه ډډه کوي او خپل درون ته پناه وړي. دا افراد کوښـښ کوي چې د مازوخېزم د بېلابېلو صـحنو په کارلو سره خپل غير عادي تمايلات د فکر او خيال له لارې څرګند کړي. دا ډول کسـان احسـاسـاتي مازوخېستان بلل کېږي. د زهرکدې شاعر سعيد شينواری وايي:

زیـارت یـې کـړمـه نـجـونـې را روانـې دي قـاضي
پـه دار مـې کـړه زمـا مـعـامـلـې ورانـې دي قـاضي
تـعـمیـل د حـکـم ســمـه ده کـوم کـلـی پرېـدم خـو
دا څـه راپســې شـــاتــه ژړاګـانــې دي قـاضي
(سالک، ۱۳۹٦، ص. ۳۲)

**ج: فیززیولوژیک مازوخېزم**

دا د مازوخېزم تر ټولو واقعي او غښتلې بڼه ده، داسې یو حالت دی چې انسان اړباسي، څو د درد او رنځ له احسـاس څخه خوند واخلي او خپل بدن په ډېره خوښـۍ سره د درد، رنځ او عذاب په ګوتو ورکړي. پر دې مازوخېزم مبتلایان تر نورو دوو بڼو زیات دي، له ځینو بدن ځورونو لکه شـکنجه، د څرمې او غوښې څېرولو او یا هم د خپل بدن له سولو څخه خوند اخلي او دا چې د درملنې لپاره یې بیا اقدام نه کوي، په همدې سبب کله کله له مرګ سره مخامخ کېږي.

خوږ اشـنـا ټوپک ته لاس کړه نښـه ونیسـه په ما
دې وطن کې نور څه نشـتـه تـه بـه مـا ولې زه تـا
سـتا به سـترګه څه پخه شي، زما سـترې ژوند به ختم
پـه ماشـه دې ګوتې کېږده ګرانـه مـا نـه کړې خطا
تـه زمـا پـه زړه وار وکـه زه بـه سـتـا پـه زړګي ډزې
سـترګې پټې کړه جانانـه زړه بـه نـه سـیزو پـه چا
(بابرزی، ۱۳۸۲، ص. ۵۵)

په دې کې شک نشته چې د پښتو شاعرۍ پر یوه زیاته برخه د ناهیلۍ سیورۍ پروت دی چې یو لامل یې هم د پښتنو د هستوګنې سیمې نا ارامي، ټولنیز ناسم وضعیت، کولتوري محدودیتونه، ناسم دودونه او نورې ناخـــوالې دي، همدا چاره ددې لامل شـول چې په شـعر او هنر کې یې هم سـادېسـتیک او مازوخیسـتي اړخونه د وخت په تېرېدو پیاوړي شي. تر کومه پورې چې د پښـتو معاصر شـعر کې د سادېزم د څرکونو یا بېلګو خبره کېږي؛ نو دا تر ډېره پورې د کره کتنې له لیدلوري د یوې ادبي ښایست په توګه مطرح کېدلی شي، حال دا چې په ارواپوهنه کې بیا ناروغي ده، په سـیاسي اړخ کې هم رېښـې لري چې جنایي رنګ خپلوي، په همدې ډول مازوخېزم بیا له ارواپوهنیز نظره د ادیب پر عقده ولاړه

ستونزه ده چې په ځان ازارونه تفسيرېدای شي او کوم شاعران چې د سادېزم پر ځای د مازوخېزم دنيا کې ځورېږي، تر لومړيو دا غوره والی لري چې د بل ځورنې په ځای ځان ځورونې ته ارزښت ورکوي، په دوی کې د قربانۍ او زغم حس پياوړی وي. په دې اړه راغلې بېلگو کې هم د قوت او ژور اغېز دا ټکی ونډلی شو.

**وړانديزونه**

۱- هر شاعر رسالت لري چې ټولنې او وگـــړو ته هيله ورکړي، ناهيلي گناه ده او ټولنه له خپلو ارمانونو شاته کوي، بايد تل د هيلو استازی وی.

۲- خلک شاعر ته د لارښوود او ښايستونو د استازي په سترگه گوري، اړينه ده چې شاعر د درد سپړنې پر ځای د ټکور، ژوند ښـکلي کولو او له ژوند سره د خلکو د تړاو پياوړي کولو لپاره په شـعر کې پام وکړي.

**پايله**

سادېزم يا د بل له ازارونې خوند اخيستل په اوسني پښتو شعر کې دخيله موضوع ده، د پښتو ادب تاريخ د نورو دورو په شعرونو کې يې يې هم بېلگې شته دي، خو د مازوخېزم په پرتله کمې دي، دا د پښتنو له هغه طبعيت سره نغښتی ارزښت دی چې په خپل ځان يې بد لورېږي، زغمې يې، خو نه غواړي نورو ته زيان ورسـوي، بد ورپسې ووايي، په بده ورځ يې خوښـي څرگنده کړي، ښـايي دا پښتو متل هم ددې ارزښـت يو انځور وي چې وايي «مېږه مړ کړه مېړانه يې مه وژنه»، البته کله چې د شـعر خبره راځي بيا نو د شـاعر په فردي دنيا کې ځينې شـېبې داسې دي چې د يوه حسـاس زړه او فطرت انځورگري په کې حتمي ده. په همدې اساس په ولسي-شاعرۍ، ځوانه شاعرۍ په ځانگړي ډول د ښځينه شاعرانو په شعر کې د سـادېزم بېلگې زياتې دي، خو د نارينه شـاعرانو په شـعر کې بيا د مازوخېزم اړخ پياوړی دی، دا ځکه چې پښـتون نارينه که هر څنگه وي بيا هم يوازې په ځان کې سـوځي او ځان ته د خپل برخليک سـزا ورکوي. د نظمي ژارونو له اړخه بيا لومړی غزل ددې دواړو محوررونو روښـانه هنداره ده، اورډه سـپين شـعرونه او نظمونه په دويم قدم کې دي چې د مقالې د اوږد والي په سـبب يې بېلگې رانه وړل شوې.

## مأخذونه

بابرزی، شفیع الله. (۱۳۸۲ لمریز). د خېمې سیوري ته. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

پسرلی، اجمل. (۱۳۹۷لمریز). ښکلا د خوشحال پــه غــزل کې. کابل: علومو اکاډمي او کابل پوهنتون ـ ادبیاتو پوهنځی.

سالک، مصطفی. (۱۳۹۶لمریز). سیند په سېپي کې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

شینواری، سعید. (۱۳۹۸لمریز). زهرکده. جلال اباد: میهن خپرندویه ټولنه.

کرګر، اکبر. (۱۳۹۷ لمریز). پښتو شعر او تېر ارمان. جلال اباد: هاشمي خپرندویه ټولنه.

مایار، موسکا.(۱۳۸۸ لمریز). لفظونه انځورنه. (غورچاڼ، د همت په زیار) جلال اباد: شـهباز خپرندویه ټولنه.

مومند، وسیم. (۱۴۰۰لمریز). واورینه. بغلان: بغلان ادبي بهیر.

یوسفي، همایون. (۱۳۸۷لمریز). لنډۍ او ژوند. پېښور: خیبر کتاب پلورنځی.

# خرافات، کوډې او له نا پوهی سره تړلي نور ناوړه دودونه

پوهندوی محمد ولید اسحق‌زی، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، اسلامي ثقافت څانگه.
برېښنالیک: walid.ishaqzai2008@gmail.com

**لنډیز**

څرنگه چې زما د څېړنې مو ضوع ډېره پراخه ده؛ نو په دې ترتیب غواړم؛ هغه څه چې د خرافاتو، کوډو او داسې نورو ناوړه دودونو په اړه اړین او مهم دي، په اړه یې معلومات وړاندې کړم.

لومړی - له شک پرته چې کوډې (سحر) د هغه پټو او بدو چارو څخه دي، چې له پخوا څخه په انساني ټولنو کې موجود وو، ساحرانو به د فساد له‌پاره په ټولنو کې د سحر او جادو څخه کار اخیستو، حتی په اسلامي ټولنو کې به یې هم د مختلفو لاملونو له کبله د کوډو او جادو څخه کار اخیسته.

دویم - ناپوهي او جهالت: ځینې مسلمانان د ناپوهی له امله کوډو او جادو ته مخه کوي؛ ځکه دوی گمان کوي، چې سحر په دین کې هېڅ ډول زیان او کمی نه رامنځته کوي.

دریم - د مال لاسته راوړل: ځینو فاسدو انسانانو سحر او جادو د عوامو او کمزورو خلکو څخه د مال د لاس ته راوړلو په خاطر حرفه او کسب گرځولی دی.

څلورم ــ دا چې قرآن کریم او نبوي سنت د عقایدو په باب کې د توحید په عقیده باندې ډېر سخت تأکید کوي او د الله (جل جلاله) د ذات سره د هر ډول شرک څخه د ځان ساتلو کلک امر کوي، لکه څرنگه چې الله رب العزت هم په قرآن عظیم الشان کې داسې فرمایلي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (النساء: ٤٨).

ژباړه: له شک پرته الله تعالی نه بښي دا خبره چې د هغه سره دې شرک وکړل شي او ښښنه کوي د دې نه پرته (د نورو گناهونو) چې چاته وغواړي.

پنځم ــ په همدې ترتیب کوډې (جادو) هم د الهي توحید سره منافي او خلاف یو شیطاني علم دی، چې په قرآن کریم، مبارکو احادیثو او د فقهاؤ په کتابونو کې ترې سخته منع راغلې ده او حتی چې الله رب العزت د کوډو (سحر) علم ته کفر ویلي دي.

**کلیدي کلمې:** جادو، حوادث او واقعات، سحر، شیطاني وسوسې، غافل انسانان.

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدالمرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین وبعد: قال الله تعالی، أعوذ بالله من الشیطن الرجیم، بِسْمِ اَللهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ: ﴿كَذَلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ﴾ (الذاریات: ۵۲).

سحر یوه اړینه موضوع ده، چې له ډېر پخوا څخه د ټولنو مختلف ډول خلک په دې خطرناک عمل کې مشغول او دغه عمل ترسره کوي. د دغه عمل اجراء کول ځان له‌پاره حلال او جائز گڼي او په مختلفو طریقو سره د جادو (سحر) دغه ناوړه عمل سرته رسوي، چې بیا په پایله کې د خپل تر سره شوي کار او

عمل پر اساس د خلکو او قومونو ترمنځ دښمني، بغض، عداوت او لرې والی راولي او دغه مظلوم او بې خبره خلک د کفر او شرک په لویه تباهۍ او ګمراهۍ کې واچوي؛ لیکن په حقیقت کې کوډې یو حرام عمل دی، چې الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې په بهترینو نصوصو سره بدي بیان کړې وه او دغه نقطه یې ثابته کړې، چې څوک دغه حرام او ناروا کار او عمل تر سره کوي او وربانديې عقیده کوي، هغوی کافران او د شیطانانو ملګري دي او په آخرت کې به د هغوی ډېر بد ځای وي.

**موخې**

۱- د سحر او جادو چې یوه ناوړه ټولنیزه پدیده ده، حقیقي زیانونه پېژندل

۲ ــ په مسلمانه ټولنه کې ډېری غافل او عاجز مسلمانان د ساحرانو او جادوګرانو له‌خوا دردول کېږي؛ د دوی له شومو موخو څخه خلک ژغورل او د دغه کړنو پر وړاندې د عامه پوهاوي کچه لوړول

۳- ساحران او جادوګران په خپلو شیطاني خبرو او کارونو سره خلک په تعجب کې اچوي، د دوی د مکر او چلونو اړوند تحقیق او تحلیل کول په تړاو یې عامو خلکو ته وضاحت ورکول

۴- د ساحر او جادوګر بده او ناوړه څېره ټولنې ته کما حقه ورپېژندل

**کړنلاره او د کار توکي**

دغه یوه کتابتوني مقاله ده؛ نو په پیل کې مې د هرې مو ضوع د څېړنې په موخه د الله تعالی سپېڅلي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده؛ وروسته مې د بشـریت ستر لارښـود حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) په سپېڅلو روایاتو کې د اساس لټون کړی دی، په همدې ترتیب د څېړنې په اوږدو کې مې د فقهاوو مسـتندو، معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته هم مراجعه کړې ده. پاتې دې نه وي، چې د څېړنې د نورو مأخذونو او مراجعو تر څنګ د کمپیوټري کتابتون او نورو ټولنیزو شـبکو او معلوماتو څخه هم ګټه اخیستې ده، چې د دې څېړنې په بشپړولو کې اړین او ضروري وو.

د لیکنې په دې برخه کې ټولنیز و ضعیت او موجوده حالاتو ته په کتو غواړم، چې نوموړې مو ضوع په تفصیل سره په مستندو دلایلو روښانه کړم.

وړاندې له دې چې په اصـل مو ضوع باندې رڼا واچوم، غواړم چې د سـحر لغوي او اصـطلاحي معنا وڅېړم.

**الف ــ د سحر لغوي پېژندنه:** سحر چې جمع یې أسحار او سحور راځي، د "س" په کسرې او د "ح" په سکون سره مصدر د سحر یا سحر په فتحه د عین سره ذکر شوې (أزهري، ۱۲۰۵هــ، ج ۱۱ ، ص: ۵۱۴).

پس د موضوع سره سم به یې په لاندې توګه یادونه وکړو.

۱- كُلُّ مَا لَطُف مأْخَذُه ودَقَّ (أزهري، ۱۲۰۵هـ، ج ۱۱ ، ص: ۵۱۴).

ژباړه: د هر هغه څه چې بنسټ یې نرم او دقیق وي.

**ب - د سحر اصطلاحي تعریف**

د سحر کلمه قرآنکریم کې په ډېرو ځایونو کې راغلې ده او په مختلفو معناګانو باندې یې اطلاق کیږي، لکه څرنګه چې امام راغب اصــفهاني (رحمة الله علیه) په خپل کتاب مفردات الفاظ القرآن کې ویلې دي.

دهوکه او خیالات، چې هېڅ حقیقت ونه لري، لکه هر هغه څه چې ساحران او جادوګران یې د خلکو د ســترګو پټولو په خاطر کوي او یا د خپل لاس د ســپکوالي یا چالاکی سره کوي او یا هم په مختلفو چالاکو او هوښــیارو خبرو سره اوریدونکي (ســامعین) ځانته جلبوي؛ لکه دغه قول د الله تعالی چې فرمايي:

﴿سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ﴾ (الأعراف: ١١٦).

ژباړه: نو جـــادو یې وکړ د خلکو په سترګو او وویرول دوی دا خلک او راتله وکړه دوی په جادو لویې سره.

**د سحر په تعریف کې د علماوو اختلاف او لامل یې**

هر کله چې موږ تفاسیرو، أحادیثو او د عقیدې کتابونو او داسې نورو ته رجوع کوو، بیا نو موږ د کوډو (ســحر) لهپاره مختلف تعریفات لاس ته راوړو او هر عالم د خپل مذهب پر اســاس د ســحر په باره کې اختلاف نظر لري.

ځینې علماء په دې عقیده دي، چې سحر حقیقت لري، ځینې بیا په دې عقیده دي، چې سحر یواځې یو چل او دوکه ده، هېڅ حقیقت نــه لري، ځینې نور بیا په دې عقیده دي، چې سحر یو د عادت څخه خلاف امر دی او ځینې نور بیا د دې قول برعکس دي.

دلته مختصراً د سحـر لهپاره د علماوو وړاندې شویو تعریفونو ته راځو:

**۱ـ د بدر الدین العیني (رحمة الله علیه) تعریف**

( أَمر خارق لِلْعَادَة صادر عَن نفس شريرة لَا يتَعَذَّر معارضته) (عیني، ۸۵۵هـ، ج۱ ، ص: ۱۹۱).

ژباړه: سحر د یوه خـــارق العاده امر څخه عبارت دی، چې د یو شریر نفس څخه صادریږي او مقابله ورسره هېڅ ډول نقص او زیان نه رسوي. ذکر شوی تعریف جمهورو علماوو غوره ګڼلی دی.

**۲ – د امام رازي (رحمة الله علیه) تعریف**

( كل أَمْرٍ يَخْفَى سَبَبُهُ وَيُتَخَيَّلُ عَلَى غَيْرِ حَقِيقَتِهِ وَيَجْرِي مَجْرَى التَّمْوِيهِ وَالْخِدَاعِ) (رازي، ۶۰۶هــ، ج۳ ، ص: ۶۱۹ ).

ژباړه: هر هغه أمر چې سبب یې خفي او پټ وي یا داسې خیال وي، چې حقیقت یې تغیر کړی وي او د مکر او فریب پر ځای باندې جاري کیږي.

**د کوډو تاریخ ته لنډه کتنه**

ډېرو علماوو چې د کوډو د تاریخ په اړه څېړنې او پلټنې کړې دي، باور لري چې د کوډو تاریخ د انسان د پیدایښت سره تړاو لري او استدلال یې هماغه تصویرونه او لیکنې دي، چې د انسانانو څخه په لرغونو قبرونو او کنډوالو کې پیدا شوي دي. خو موږ یوازې دغه دلایلو باندې باور نه‌کوو؛ ځکه په دغه دلایلو کې شک او تردید موجود دی. د انسان تاریخچه چې پنځه زره کاله وړاندې سره تړاو لري، حالاً کې چې زموږ معلومات د هغه په اړه ډېر لږ دي، له دې امله موږ پرې تکیه نه‌شو کولای.

د پورتني واقعیت تأیید په هکله الله تعالی فرمایلي دي: ﴿كَذَلِكَ مَا أَتَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا قَالُوا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُونٌ﴾ (الذاریات: ۵۲).

ژباړه: همداسې ده؛ له دوی څخه مخکې کـوم رسول نه دی راغلی؛ مگر هغوی به ورته ویل: چې دا ساحر او لېونی دی.

د قرآن عظیم الشان دغه آیت شریف په عموم کې بیانوي، چې ټولو ملتونو خپلو پیغمبرانو سره ظالمانه عمل تر سره کړی او هغوی ته یې سـاحران او لیونیان ویلي دي او له دې څخه معلومېږي، چې ټولو ملتونو سحر پېژانده.

اوس راځو هغه خلکو ته، چې د ناپوهۍ او جهالت پر اساس د ځینو نورو ناوړه دودونو څخه گټه اخلي؛ د بېلگې په توگه یې په مختصر ډول څېړو:

۱ ـــــ یو د هغه پخوانیو امتونو څخه چې د سـحر او جادو کارونه یې کول او په دې عمل باندې گمراه شوي وو، هغه د بابل اوسېدونکي خلک وو، الله تعالی یې په تړاو داسې فرمایلي دي:

﴿وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ﴾ (البقرة: ۱۰۲).

ژباړه: لیکن شیطانان کافران شوي وو، حال دا چې ښوده به یې خلکو ته سحر او (متابعت به یې کاوه) د هغه شي چې نازل کـړی شـوی و، په دوو فرشـتو؛ په (ښـار د) بابل کې، چې (نومونه یې) هاروت او ماروت دي.

د بابل ښار په عراق کې و، له بله اړخه دغه ښار د علم یوه زانگو وه، چې د سحر او فلکیاتو علوم پکې ډېر مشـهور وو؛ مشـهور تاریخ لیکونکی (هیرودتس) هم د هغه وخت بابل په ښـکلا سره سـتایي او د ښکلا ښار یې بللی دی (یاقوت الحموي، ٦٢٦هـ، ج۱ ، ص: ۳۱۱).

أبوبکر جصاص (رحمة الله علیه) وایي: د بابل خلک په اصل کې صابیان وو، چې د اووه سیارو عبادت به یې کولو او دغه سـیارې به یې خپل خدایان گڼل؛ دوی اعتقاد درلود، چې په نړۍ کې ټول حوادث د دوی د خدایانو په واسطه سرته رسېږي.

د بیلگې په توگه: کله به چې دوی کې یو څوک د خیر او اصلاح اراده کوله، نو مشتري سیارې ته به یې په یو ډول فاسـد عمل په اجراء سره د عبادت څرگندونه کوله. کله به چې یې د جگړې، دښـمنۍ، مرگ او داسې نورو اراده کوله نو زحل سـیارې ته به یې پناه وړله او کله به چې تندر اور سـوزیدل او طاعون

مرض غوښت؛ بیا به یې د حیواناتو د سر په پرې کولو سره مریخ سیارې ته پناه وړله (جصاص، ۳۷۰هـ ، ج۱، ص:۴۵-۴۴ ).

**۲ ـ په ایرانیانو کې د سحر او داسې نورو په اړه ځینې ناوړه دودونه**

**مؤرخین وایي:**

رستم چې د ایرانیانو لوی مشـر او یو فال کتونکی (فال گیر) و، تل به یې ستورو ته کتل، هر وخت به یې د مسلمانانو د پیدا کېدو او د هغوی د کامیابۍ په هکله اختر پېژندونکیو ستورو باندې تکیه کوله، له دې امله همدا امر یو د هغه دلایلو څخه و، چې له عمله یې د قادسیې جگړه د مسـلمانانو سره ځلور میاشتې وځنډوله.

مؤرخین زیاتوي، چې د کسری بیرغ چې نوم یې (درفش کاویاني) و؛ کله چې د قادسیې په جگـړه کې رستم مړ او ایرانیان د ناکامۍ سره مخ شول. بیا دا بیرغ ټوټه ټوټه شو او ایرانیانو دا عقیده درلوده، چې د ژوند په اوږدو کې ټولې بریاوې د همدغه بیرغ پر اساس وې.

لېکن هر کله چې مسـلمانان د الله تعالی د دین او د حق پرچم سره راغلل، بیا نو د هغوی سـحر او جادو باطل کړای شـو او د کفر او گمراهۍ بیرغ پر ځمکه پرېوت، په همدې ترتیب سـحر او جادو د ایرانیانو هېڅ مشکل ته د حل لاره پیدا نه کړه (محمد، (ب.ت)، ج۱، ص: ۱۱).

**۳ ـ په مصریانو کې د سحر او داسې نورو په اړه ځینې ناوړه دودونه**

پخوانیو مصریـانو د انسـان بدن په مختلفو برخو وېشـلی و او په دې عقیده وو، چې د انسـان هره برخه د یو ځانگړي الله د اغېز لاندې قرار لري، همدارنگه میاشـتو او ورځو ته یې ځانگړی جدول ترتیب کړی و، لکه: د دوی په وینا چې (هاتور) د میاشـتې په نولسـمه نېټه کې د نیل د رودخانې څخه تېریدل جایز نه دي او بل باور یې دا و؛ که ماشـوم د (بابه) په میاشـت کې وزېږول شي؛ نو پـــه وژلو به محکوم وي (العمري، (ب.ت)، ج۵، ص: ٦۴).

سـاحرانو به مخکې له سـحر څخه نهو ورځو پورې په یو جلا ځای کې خلوت کولو، همدارنگه په دغه موده کې به یې خپلې جامې او ځای پاک سـاتل او ځانگړي غذاگانې به یې خوړلې، په دې ترتیب کله به چې دغه نهه ورځې پای ته ورسېدې؛ خپلې ژبې به یې په یو ډول موادو چې (نترون) نومېده ومینځلې او په خپلو ژبو به یې په یو ډول شـین رنگ باندې وړوکی وزر (پر) رسـم کړ، چې د دوی په گمان دغه تصویر د رښتیا او حقیقت بیانوونکی و (محمد، (ب.ت)، جلد اول، ص: ۱۹).

**۴ ـ په هندوانو کې د سحر او داسې نورو په اړه ځینې ناوړه دودونه**

په هند کې دین او سـحر مخلوط او گډ و؛ دا نه یوازې د دې لهپاره چې د هغه شـیطان څخه مخنیوی وکړي، چې انسـان د شـهواتو لورې ته راکاږي؛ بلکې په خدایانو باندې د تسـلط لهپاره هم و (العمري، (ب.ت)، ج۵ ، ٦۵).

ډېری خلک د ځینو غیبي کړنو څخه خبر وو او کولای یې شـول، کوم شر چې د شـیطانانو او مارانو په وجود کې پټ و، د هغې سره مبارزه وکړي، هندوان په دې بانـــدې باوري وو، چې ستوري په انسانانو

باندې ډېر زیات اغېز لري؛ د هند جادوگران او نجومیان مدعیان وو، چې دوی پــه غیب باندې پوهېږي او د لږو پیســو په مقابل کې هندي ســاحرانو پر دې هم باور درلود، چې دوی کولی شي شــیطانان پر دښمنانو مسلط کړي.

د لیکنې په دې برخه کې د مو ضوع اړوند ډېر زیات صــحیح روایات شــتون لري؛ لیکن ځینې نبوي احادیث مختصراً ذکر کوو:

۱- عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم قال«**اجتنبوا السـبع الموبقات قالوا يا رســول الله ! وماهن ؟ قال الشــرك بالله، والســحر، وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق، وأكل الربا، وأكل مال اليتيم، والتولي يوم الزحف، وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات** » ( بخاري، ۱۹۶هـ، ج۵ ، ص:۳۹۳ ).

ژباړه: د ابوهریرة (ر ضی الله عنه) څخه روایت دی، چې رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) وفرمایل: د اووه تباه کوونکو شیانو څخه ځانونه وساتئ، صحابه کرامو عرض وکړو؛ اې د الله تعالی رسوله هغه اووه شیان څه دي؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل: د الله تعالی سره شرک کول، سحر، د نفس وژل، چې الله تعالی حرام گرځولی؛ لیکن په حقه سود خوړل، د یتیم مال خوړل، په جگړه کې د کفارو څخه تېښته کول او هم په پاکو او غافلو مؤمنانو ښځو باندې تهمت لگول.

۲- روى مسـلم عن بعض أزواج النبي صلى الله عليه وسـلم أن النبي صـلى الله عليه وسـلم - قال: « **مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً** » (النيسابوري، ۲۶۱هـ ، ج۴، ص: ۱۷۵۱ ).

ژباړه: امام مسلم د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ځینو بیبیانو څخه روایت کوي: څوک چې کاهن یا نجومي ته ځي او هغه څه چې کاهن یې ووایي هغه ومني، نو بیا یې تر څلوېښتو ورځو او شپو پورې لمونځ نه قبلېږي.

۳ - وعن أبي موسى قال: قال رسـول الله صـلي الله عليه وسـلم: **ثَلَاثَةٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: مُدْمِنُ خَمْرٍ، وَقَاطِعُ رَحِمٍ** (ابن حنبل، ۲۴۱هـ ، ج ۳۲، ص:۳۹۹ ).

ژباړه: د ابو موسـی (ر ضی الله عنه) څخه روایت دی، چې رسـول الله (صـلی الله علیه وسـلم) فرمایلي دي: درې کســان به جنت ته نه داخلېږي؛ څوک چې د شرابو عادتي وي او څوک چې د قرابت رشــته ختمه کړي او بل هغه څوک چې په جادو او سحر باندې یقین کوي.

۴- وجاء في الحديث: «**عن النبى صلى الله عليه وسلم أن حَدّ السَّاحِرِ ضَرْبَةٌ بِالسَّيْفِ**» (جصاص، ۳۷۰هـــ ، ج ۱ ، ص: ٦٦ ).

ژباړه: په حدیث شریف کې راغلي دي، چې نبي (صـلی الله علیه وسـلم) فرمایلي دي: په تحقیق سره د ساحر حد او جزاء په تورې سره د هغه سر وهل دي.

**د کوډو (سحر) د حقيقت او اغېز په اړه د علماوو اختلاف**

لکه څرنگه چې په لومړي سر کې د کوډو(سحر) د تعريف په اړه د علماوو اختلاف او اقوال ذکر شول او هر يو يې د خپل فهم پر اساس د سحر په اړه خپل نظر او رأيه وړاندې کړې ده، په تحقيق سره أبو حيان (رحمة الله عليه) په خپل تفسير(البحرالمحيط) کې د سحر د حقيقت په اړه په اووه اقوالو کې د علماوو اختلاف ذکر کړی دی.

لومړی- د يوه شي په اصل او حقيقت کې تقليب يا تغير راوستل او هم د انسانانو صورتونو ته تغيير ورکول، چې دا د معجزاتو او کراماتو سره ورته دي.

دويم- دا يو فريب (مکر) دی او داسې چل دی، چې هېڅ حقيقت نه لري.

درېيم –دا په مختلفو حيلو او چلونو سره يو ډول د سترگو نيول (بندول) دي.

څلورم –دا يو ډول پېريانو ته خدمت کول دي.

پنځم- ځينې اجسام مرکب او جمع کېږي، چې بيا وروسته سوځول کېږي او د هغوی څخه بيا رنگ اخيستل کېږي؛ همدارنگه بيا هغوی باندې مختلف نومونه اېښودل کېږي؛ بالاخره د کوډو (سحر) او جادو په سلسله کې چې څومره د دوی اړتيا وي استفاده ور څخه کوي.

شپږم- دا يو ډول طلسمات دي.

اووم –دا د مختلفو کفري کلماتو او الفاظو څخه مخلوط او مرکب دي (اندلسي، ۷۴۵هـ ،ج۱، ص: ۵۲۵)

او قرافي (رحمة الله عليه) په خپل کتاب الفروق کې لس (۱۰) حقائق ذکر کړي دي او داسې حکايت يې کړی، چې سحر همدغه لسو شيانو سره ملتبس (مخلوط) دی ( قرافي، ج۴، ص: ۱۳۷).

**د سحر او کرامت تر منځ توپير**

د کرامت او سحر ترمنځ توپير د دريو لوريو څخه اساس نيسي.

۱- په نفس امر کې د کرامت او سحر ترمنځ توپير دی، کرامت يو خارق العاده امر دی او سحر يو عادي امر دی، چې خپلو څښتنانو (فاعلينو) ته معروف دی.

۲- د دواړو په مصدر کې توپير دی؛ د کرامت مصدر د الله تعالی له لورې اکرام او اعزاز دی او د سحر مصدر شيطان دی.

۳- په دې توپير کې يو څه تفصيل کوو! هغه دا چې: سحر او کرامت کې د خلکو (اولياوو او جادوگرانو) د احوالو په اعتبار توپير لري، کرامت د اولياء الله په لاس باندې څرگندېږي او سحر د اولياء الشيطان په لاس څرگندېږي. دلته د اولياءالله او اولياء الشيطان په منځ کې ځينې توپيرونه موجود دي، شيخ الاسلام ابن تيميه (رحمة الله عليه) په دې باره کې د (الفرقان بين اولياء الرحمن و اولياء الشياطين) په نوم کتاب کې ليکلي دي، څوک چې اراده لري، چې په دې باره کې په زياتو مسايلو باندې پوه شي بيا دې ذکر شوي کتاب ته رجوع وکړي ( تفتازاني، (۷۲۲هـ)، ج۴، ص:۲۰۴ ).

**د کوډو (سحر) احکام**

جمهورو علماوو دې خبرې ته ترجیح ورکړې ده، چې له شــک پرته د ســحر زده کړه او بیا نورو ته یې ښودل حرام دي.

جمهور علماء په دې نظر دي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سحر او جادو د هلاک کوونکو او تباه کوونکو اعمالو څخه شمېرلی دی او هم یې په لویو ګناهونو کې شمارلی؛ په همدې ترتیب د سحر عمل یې د الله جل جلاله سره د شرک نه وروسته په دوهم قطار کې ذکر کړی دی.

دغه مسئله ښکاره ده، چې د سحرعمل کله کله شرک ته نږدې کیږي؛ په همدې اساس یې د سحر زده کړه او نوروته ښودل یې حرام دي.

اوس یو سوال ته راځو، چې آیا د سحر زده کړه په مطلقه توګه حرامه ده ؟ امام ابن حجر هیتمي المکي (رحمة الله علیه) په (الاِعلام بقواطع الاِسلام ) کې ویلي دي:

چې زیاتره علماء په دې عقیده دي، چې د سحر زده کړه په خلکو کې د فتنې او زیان رسولو پر اساس مطلقاً حرامه ده.

لیکن ځینې علماء بیا په ځینو حالاتو کې استثناء کړې؛ لکه څرنګه چې ابن حجر عسقلاني (رحمة الله علیه) په فتح الباري کې ذکر کړي، چې په تحقیق سره ځینې علماء د سحر زده کړې تــــه له دوو امرونو څخه جواز ورکړی:

لومړی: ددې لەپاره چې د کفر او غیر کفر ترمنځ توپیر وشي.

دوهم: دې لەپاره چې ســحر او جادو وربانديې لرې (اِزاله) کړي؛ پــــه دې معنا چې د مســحور شــوي شخص څخه سحر او داسې نور لرې کړي ( هیتمي، ۹۷۴هـ، ج ۱، ص: ۳۹۱ ).

ابن حجر (رحمة الله علیه) بیا د خپل قول څخه وروســته وایي: په لومړي ډول کې هیڅ ممانعت نشــته؛ مګر شــخص به وربانديې عقیده نه کوي؛ هرکله چې د یو شــخص عقیده د یو شي په پیژندلو کې سالمه پاتې شي بیا د نومــــوړي شــخص د منع مســتلزم نه ګرځي، لکه څرنګه چې یو څوک د بت پرســتانو د عبادت کیفیت بانـــــدې ځان پوه او خبر کړي؛ ځکه د کیفیت پیژندل دا د ســاحر د عمل کولو خلاف عمل دی، چې دا جائز دي؛ لیکن د دویم ډول زده کړه او تعلیم د کفر د ډولونو څخه یوه ډول دی، چې د دې ډول زده کـــــړه په هېڅ مهال کې جائز نه ده؛ لیکن که چیرې یوازې د زده کړې او د نورو د پیژند ګلوۍ لەپاره وي بیا جائزدی.

**د ځینې نورو وروستیو علماوو نظرونه**

دلته د علماوو مختلف ډول نظریـات وجود لري، ځینې وایي: چې کفر دی، ځینې نور بیـا وایي: چې مکروه دی، په همدې ترتیب ځینې بیا په وجوب او فرض کفایه باندې قول کوي او ځینې نور بیا په تفصــیل سره بیانوونکي دي، هر یو یې د خلکو د حالاتو او د ســحر د ډولونو سره ســم بیانوونکي دي، چې موږ به یې د لیکنې په دې برخه کې اړوند نظریات په تفصیل سره وڅیړو.

**الف: په کفر سره قول**

ځيني علماوو داسې ويلي: چې د سحر زده کړه او نوروته يې ښودل مطلقاً کفر دی؛ برابره خبره ده، چې زده کوونکی يې عمل ورباندې کوي او که نه؛ په تړاو يې ذکر شوي آيت شريف باندې دليل نيسي، چې الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ﴾. (البقرة: ۱۰۲)

ژباړه: ليکن شيطانان کافران شوي وو، حال دا چې ښوده به يې خلکو ته سحر او (متابعت به يې کاوه) د هغه شي چې نازل کړی شوی وو په دوو فرشتو په ښار د بابل کښې، چې نومونه يې هاروت او ماروت دي او نه به ښوده دوی دواړو هيچا ته تر هغه پورې چې دوی دواړو به ويل: بيشکه هم دا خبره ده، چې موږه د الله تعالی له لوري ازموينه (ازمايښت) يو.

**ب : په کراهت سره قول**

ځيني علماء په دې نظر دي، چې د سحر زده کړه او نورو ته يې ښودل مکروه دي، دغه قول امام نووي (رحمة الله عليه) په خپل کتاب رو ضة الطالبين کې ذکر کړی او هم امام آلوسي (رحمة الله عليه) په خپل تفسير روح المعاني کې ذکر کړی دی ( آلوسي، ۱۲۷۰هـ، جلد ۱، ص: ۳۳۸).

**ج : په اباحت سره قول**

د ځينو علماوو رأيه او نظر دا دی، چې د سحر زده کړه او بيا نورو ته يې ښوونه دواړه مباح عمل دی دوی وايي: چې د سحرعلم قبيح او بد علم نه دی او نه هم په خپل ذات کې ورڅخه منع او نهې شوې ده؛ له شک پرته چې علم په خپل ذات کې شريف دی. ( آلوسي، ۱۲۷۰هـ، جلد ۱، ص: ۳۳۸).

لکه الله تعالی په ارشاد کې فرمايي: ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾. (الزمر: ۹)

ژباړه: ووايه ( اې محمد صلی الله عليه وسلم) آيا برابر دي هغه کسان چې پوهيږي ( او خاوندان د علم دي) او هغه کسان چې نه پوهيږي (جاهلان وي) (بلکې برابر نه دي).

**د - په وجوب او فرض کفايه سره قول**

ځيني علماء په دې نظر دي، چې د سحر زده کړه او نورو ته يې ښوونه واجب او فرض کفايه ده او دوی دلته په فقهي قاعده باندې استدلال په دې ترتيب کوي، چې ( ما لا يتم الواجب الاّ به فهو واجب ) کله واجب نه پوره کيږي؛ مگر په يو ځيز سره؛ نو هغه ځيز هم واجبيږي؛ د بيلگې په توگه: هر کله چې يو څوک د سحرعلم زده کړی نه وي؛ څرنگه به نوموړی شخص د معجزې او سحر ترمنځ تميز او توپير وکړای شي؛ پس په معجزعمل باندې پوهېدل اوعلم لرل پخپله واجب دي او هغه څه چې موقوف په واجبو باندې وي؛ هغه هم واجب وي؛ دلته غوښتنه او اقتضاء د دې کوي، چې د سحر علم زده کړه واجب ده.

همدارنگه دوی وايي: چې د سحر د علم زده کړه په قاضي باندې واجب ده؛ ترڅو قاضي پوه شي، چې کوم ډول سحر باندې ساحر بايد قتل شي او د هغه پر اساس د قصاص په وجوب کې قاضي بايد فتوی

ورکړي, دغه قول ته امام فخرالدين رازي (رحمة الله عليه) تګ کړی دی. ( آلوسي، ۱۲۷۰هــ، جلد ۱، ص: ۳۳۸).

**هـ - په تفصيل سره قول**

ځینې نورو علماوو سحر د هغه انواعو سره سم چې اشخاص يې زده کوي، یا قصد ( اراده ) يې کوي او بیا په پایله کې د هغې زيـــان انسانانو سره ملحق کيږي، کومو علماوو څخه چې دې رأيې او نظرته تګ کړی دی؛ د هغـوی له جملې څخه د ذخيرة الناظر د کتاب مؤلف هم دی، لکه څرنګه چې ابن عابدين (رحمة الله عليه) په خپله حاشـيه کې نقل کړي، چې د ذخيرة الناظر د کتاب د صـاحب په اند د ســحر زده کړه په هغه وخت کې فرض ده، چې په دارالحرب کې د ســاحر رد يعنى مقابله وکړای شي؛ لیکن کله چې په سـحر او جادو سره د خاوند او ښـځې ترمنځ فراق ( لرې والی ) راوستلی شي؛ اړوند زده کړه بیا حرامه ده او په هغه وخت کې چې د خاوند او ښځې ترمنځ مینه او يووالی راوستلی شي بیا جائز دی. (ابن عابدين، ۱۲۵۲هـ، ج ۱ ، ص: ۴۴).

أبوحيان اندلســـي (رحمة الله عليه) پخپل تفسير البحرالمحيط کې فرمايلي: په تحقيق سره د سحر بيان (خبرو) که چیرې د دې ســـحر په زده کړه کې اراده دا وي، چې د خلکو په زړونو کې الفت او محبت راوســـتل شي، بیا په دې ترتیب د دغه ســـحر زده کول حلال او جائز دي او که چیرې موخه ورڅخه د حق پټوالی وي بیـــا د دې ډول سحـــر زده کړه ناجائز او هم عمــــل کول وربانديې ناجائز دي (اندلسي، ۷۴۵هـ، ج ۱ ، ص: ۵۲٦).

**ترجيح او د ځینو په اقوالو باندې رد**

د اقوالو او دلايلو د وړاندې کولو څخه دا څرګندیږي، چې د جمهورو علماوو رأيه او نظر راجح دی.

جمهور علماء وايي: چې د ســحر زده کړه او نورو ته يې ښـودل (تعليم) دواړه حرام دي او دغه حرمت يې د اصل په حکم کې شمارلی دی ( النووي، ٦٧٦هـ، ج ۹، ص: ۳۴٦).

**پايله**

د دغې مقالې په پایله (خاتمه) کې چې کومو پايلو ته ورسيدم، غواړم، چې هغه اجمالاً ذکر کړم:

۱ـــ سحر يو غريب او نا آشنا کار دی، چې د خارق العاده سره مشابه دی، چې په دې ډول اعمالو لکه قول، عمل او اعتقاد پر اساس شيطانانو ته نږدې والی ترلاسه کيږي.

۲ـ د سحر د رامنځته کیدو ډېر اوږد تاريخ وجود لري، چې تر دې مهاله پورې د هغې بدې اغيزې شتون لري.

۳ـ کوم سحر چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې شوی وو، د هغې اغيزه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په نبوت کې هيڅ ډول زيان نه وو واقع کړی او نه هم د شريعت په تبليغ کې يې ورته خنډ واقع کړی وو؛ بلکې د هغې سحر اغيزه يوازې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ظاهري جسم باندې شوی وو؛ لکه يوه عامه مريضي چې انسان ته ورسيږي.

۴ـ ښکاره ده، چې ساحر د پیریانو سره هم اړیکه او نسبت لري؛ پیریان او شیطانان د سحر لهپاره اصلي اساس او بنیاد تشکیلوي؛ په همدې ترتیب هر څومره چې ساحر د پیریانو او شیطانانو په عبادت کې اوچتوالی او زیاتوالی وکړي، په هماغه څېر سره د ده په سحر کې اوچتوالی او زیاتوالی راځي.

۵- د سحر د حکم په اړه جمهور علماء په دې نظر دي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سحر د هلاک کوونکو او لویو ګناهونو په مینځ کې شمارلی؛ په همدې ترتیب د سحر عمل د الله متعال سره د شرک څخه وروسته په دوهم قطار کې ذکر کړی دی.

**وړاندیزونه**

۱- لکه څرنګه، چې ساحران د ټولنې مفسدین خلک دي؛ نو باید په هر زمان او مکان کې له اړوندو اشخاصو څخه ځانونه وساتل شي.

۲- هغه خلک چې د سحر او جادو کړنې تر سره کوي او بیا اړوند کړنې ځان لهپاره مباح او جائز ګڼي هغوی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اقوالو پر اساس کافران کیږي، پس هر مسلمان لهپاره پکار دي، چې دې ډول اعمالو ترسره کولو څخه ځانونه وساتي.

۳- دا چې د سحر او جادو درملنه ناممکن نه ده؛ بلکې د دغې ستونزو څخه د خلاصون ډېر زیات آیتونه د قرآن عظیم الشان داسې دي، چې د سحر او جادو د لرې کولو لهپاره انتهایي اړین او ګټور دي؛ نو د ټولو مؤمنانو لهپاره پکار دي، چې تل د خپلو امراضو او ستونزو پر وخت قرآن عظیم الشان ته رجوع وکړي.

۴- لکه څرنګه چې ښکاره ده؛ چې د سحر او جادو پر اساس په ټولنه کې د شریفو او کمزورو خلکو ترمنځ کینه او دوښمنی پیدا کیږي؛ نو د دولتې چارواکو څخه مو هیله دا ده، چې د اړوند ستونزو او مشکلاتو په مخنیوي کې شپه او ورځ عملي اجراأت ترسره کړي.

۵- د ګران هېواد د امر بالمعروف او نهی عن المنکر، حج او اوقاف او عدلیې ریاســتونو څخه مو هیله داده، چې تل د یادې مو ضوع په تړاو مختلف ډول د پوهاوي ورکشــاپونه ترتیب او تنظیم کړي؛ ترڅو عام خلک هم اګاه او پوهه شي.

**اخځلیکونه**

قرآن کریم.

ابن تیمیة، تقي الدین أبو العباس أحمد بن عبد الحلیم. (۷۲۸هـ). الفرقان بین أولیاء الرحمن وأولیاء الشیطان.(ب.ط). الناشر: مکتبة دار البیان، دمشق.

ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشیباني. (۲۴۱هـ). مسند الإمام أحمد بن حنبل. (ط:۱). الناشر: مؤسسة الرسالة.

ابن عابدین، محمد أمین بن عمر بن عبد العزیز. (۱۲۵۲هـ). حاشیة ردالمحتارعلی الدرالمختار. (ط:۲). جلدونه. ٦. الناشر: دار الفکر-بیروت.

ابن كثير، اسمعيل بن عمر. (۷۷۴هـ). تفسيرالقرآن العظيم. (ط: ۲). جلدونه ۸. الناشر: دار طيبة للنشر و التوزيع.

أزهري، محمد بن أحمد بن حاتم. (۱۲۰۵هـ)، تاج العروس فى جوهر القاموس. طبعة مطبعه سجل العرب القاهرة تحقيق عبدالكريم الغرباوي.

أندلسي، أبو حيان محمد بن يوسف.( ۷۴۵هـ). البحر المحيط في التفسير. (ط: ۱۴۲۰ ه). الناشر: دار الفكر – بيروت.

آلوسي، شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني. (۱۲۷۰هـ). روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني.( ط .۱). جلدونه. الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.

بخاري، محمد بن اسماعيل. ( ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. (ط: ۱). جلدونه ۹. الناشر: دار طوق النجاة.

تفتازاني، مسعود بن عمر بن عبدالرحمن الشهير بسعدالدين. (۷۲۲ هـ). شرح المقاصد. (ب.ت). الناشر: عالم الكتب.

جصاص، أحمد بن علي أبوبكر. (۳۷۰هـ). أحكام القرآن. (ط. ۱۴۰۵هـ). تحقيق محمد الصادق قمحاوي. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

رازي، فخرالدين بن الخطيب.( ۶۰۶هـ). التفسير الكبير (مفاتيح الغيب). (ب.ط). الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

عمري، وليد بن بليهش. السيرة النبوية في دائرة المعارف. (ب.ط). الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف بالمدينة المنوره.

عيني، بدرالدين أبو محمد محمود بن أحمد(۸۵۵هـ). عمدة القارى شرح صحيح البخاري، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

قرافي، أبو العباس شهاب الدين أحمد بن إدريس. (۶۸۴هـ). الفروق. (ب.ط). جلدونه.۴. الناشر: عالم الكتب.

محمد، محمد جعفر. (ب.ت). السحر. (ب.ط).

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. .( ۶۷۶هـ). روضة الطالبين وعمدة المفتين.( ط.۳). جلدونه. ۱۲. الناشر: المكتب الاِسلامية بيروت.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري.( ۲۶۱هـ). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم. (ب.ط). الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

هيتمي، شهاب الدين، احمد بن محمد بن علي بن حجر. ( ۹۷۴هـ). الاِعلام بقواطع الاِسلام. (ط. ۱). جلد ۱. الناشر: دار التقوى سوريا.

ياقوت، شهاب الدين أبوعبدالله ياقوت بن عبد الله.( ۶۲۶هـ). معجم البلدان. (ط.۲). الناشر: دار صادر بيروت.

# غربي سیکولر- لیبرال نظریې له اړخه د بیان آزادۍ ته یوه کتنه

پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب، شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، ژورنالیزم څانګه.

برېښنالیک: javid.shakib@gmail.com

**لنډیز**

د بیان او نظر آزادي د بشر له اساسي حقوقو څخه ګڼل کېږي. د اسلام مقدس دین انسان ته د بیان د آزادۍ حق ورکړی دی، په معاصر عصر کې د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو نړیوالې اعلامیې په ۱۹مه ماده کې د بیان آزادۍ د حق ملاتړ شوی دی. د یوې نړیوالې ادارې له لوري د بیان د حق د ملاتړ سره سره، توتالیتر او مستبد نظامونه د بیان او نظر آزادۍ پر وړاندې یوه ننګونه ده. که څه هم غربي ټولنه د سیکیولر ـ لېبرالېزم نظریې له لیدلوري د بیان او رسنیو آزادۍ حق ته ځان ژمن ګڼي؛ خو د دوی په بې طرفي او عدم تبعیض نقد موجود دی. د دې لیکنې هدف دا دی، چې معلومه کړي آیا غربي سکیولر لیبرالستان واقعاً بې‌طرفه او له تبعیض پرته د خلکو نظرونه وړاندې کوي یا هم د غرب د بیان د آزادۍ دعوه کاذبه او له تعصب او تبعیض څخه ډکه ده. لیکوال د غربي لېبرالېزم د بیان د آزادۍ د بې طرفي او عدم تبعیض د معلومولو په موخه په یویشتمې پېړۍ کې دوې نړیوالې قضیې: د " ترهګرۍ پر وړاندې جګړه" او بله د اسرائیلو لهٔ خوا د فلسطینیانو نسل وژنه؛ تر مطالعې لاندې نیولې دي، په دې اړوند یې کتابونه، علمي مقالې او د دواړو قضایاوو په هکله د رسنیو پوښښ تحلیل کړی دی. د "ترهګرۍ پر وړاندې جګړې " او د اسرائیلو لهٔ خوا د فلسطینیانو د نسل وژنو قضیو کې د غربي نړۍ د رسنیو دوه مخې چلند څخه ښکاري چې غربي لیبرالې رسنۍ نه یوازې د بیان آزادۍ ملاتړي نه شي بلل کیدای؛ بلکه د غرب په ملاتړ د اسلام او مسلمان پر وړاندې د تبعیض، عدم بې طرفي له کبله دوی د بیان د آزادۍ پر وړاندې د مستبد او توتالیتر نظامونو په څېر ننګونې دي.

**کلیدي کلمې**: بیان آزادي، بشري حقوق، تبعیض، د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه، لیبرالېزم.

**سریزه**

بسـم الله والحمد لله والصـلواة والسـلام علی رسـول الله وبعد: قال تعالی اعوذ باالله من الشـیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم: الرَّحْمَنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿٢﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾ (الآیات)

نطق او بیان د انسان یو له هغو ځانګړنو څخه دی، چې رب العالمین پرې انسان له نورو مخلوقاتو څخه متفاوت کړی دی. د بیان آزادۍ بیا یو داسې اصل دی چې په اساس یې نه یوازې د فرد بلکه د ټولنې د آزادۍ کچه معلومیږي. د اســلام مقدس دین څوارلس ســوه کاله مخکې بشرــیت ته د ټولنیزو علیا ښـیګڼو په چوکاټ کې د بیان آزادۍ د حق ورکړې او د هر انسـان د دې حق ملاتړ یې کړی دی؛ حال دا چې په غربي نړۍ کې د بیان او نظر آزادۍ مو ضوع د کانت، جان لاک، روسـو، اسـپینوزا لهٔ خوا په اولسمي پیړۍ کې د لیبرالېزم د روایت او لید لوري په اساس په یو ډول تبعیضي بڼې راڅرګنده شوې ده.

غربي نړۍ نه یوازې پر غرب بلکه پر نورې هغې نړۍ چې د اسـتعمار او اسـتثمار له وخت څخه دوی پرې فکري او فزیکي نفوذ درلودل، د لیبرالېزم نظریې پر اســاس د لیبرال د لیدلوري له اړخه د بیان د آزادۍ نوی طرز ته وده ورکړه. غربي نظر پردازانو ( Theorists) داســې نظریات وړاندې کړل چې پر مټ یې ظاهراً د بیان او د خلکو نظرونه باید پرته له غچ اخیســتنې، ســانســور، ویرې او بندیزونو څخه آزاد وي. غرب د بیان د آزادۍ حق خپل ابتکار ګڼي او دوی وایي چې د بیان آزادۍ د اوولسمي پیړۍ د جان اسـتورت میل او نورو لیبرالیستانو نوښت دی؛ حال دا چې اسلامي تمدن د دوی څخه مخکې د خلکو د بیان او فکر آزادۍ ته د مسلمانانو د ارزښتونو په نظر کې نیولو سره ژمنه پاتې شوې ده. له ۱۹۴۵ م کال څخـــه راوروسته د دویمې نړیوالې جګړې ګټونکي پر نړۍ حاکم ځواکونه شـول، دوی ملګرو ملتونو تر سرلیک لاندې سـازمان رامنځته کړ، بیا یې په اصـطلاح د بشرـي حقونو په نړیواله اعلامیه او د ملګرو ملتونو د بشرـي حقونو په نړیوالو قوانینو کې د بیان آزادۍ د بشـــــر د یوه اسـاسي حق په توګه وړاندې کړل. له شـــلمې پیړۍ څخه تر ننه پورې د غرب د لیبرال نظریې له لید لوري څخه د بیان د آزادۍ د کچې اندازه کیږي، غربي نړۍ د خپلو شــاخصــونو او مقیاســونو له انده د بیان آزادي ارزوي. غرب ته د نورو تمدنونو د بیان د آزادۍ شاخصونه او مقیاسونه د منلو وړ نه دي.

غرب د دریېمې نړۍ ډېری هېوادونـــه دې ته قانع کړل، چې د بیان آزادي یوازې د غربي لیبرال نظریې له لیـــد لوري وګوري. د غربي تمدن برلاسـی د دې لامل شـو، چې دا هېوادونه، د بیان آزادي د غربي شاخصونو په نظر کې نیولو سره د خپلو هېوادونو په اساسي قوانینو کې د بیان د آزادۍ حقوق تصویب

کړي. اوس پوښتنه دا ده، چې آيا د غرب د بيان د آزادۍ ليبراله نظريه لکه څرنګه چې غربي نړۍ ورته نړيوال يا Universal وايي بې طرفه، عادله او له تبعيض څخه پاکــــه ده؟ د دې پوښـتنې د ځواب په موخه ليکوال د غربي ليبرالې نړۍ د بيان آزادۍ ادعا په دوه نړيوالو قضــيو، چې يوه د 9/11 څخه وروسته د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه او بله د 2023 کال د اکتوبر د اوومې نېټې څخه وروسته د اسرائيلو لۀ خــــوا د فلسـطين د نسـل وژنې قضـيه ده، پکې د غربي نړۍ د ليبرال نظر له ليد لوري څخه د بيان آزادي مطالعه شـوې ده. ليکوال په دې مقاله کې هڅه کوي تر څو معلومه کړي، چې آيا د غرب د بيان آزادۍ روايت واقعاً نړيوال او بې طرفه دی او يا هم د غربي لېبرالېزم د بيان د آزادۍ دعوا کاذبه ده او لا هم د دوی د ليد لوري څخه د بيان په آزادۍ کې د نورو تمدنونو سره تبعيض شــتون لري او ورته په سپک او ذليل نظر کتل کيږي.

**موخه**

د دې مقالې هدف دا دی، تر څو د عملي شواهدو پــه وړاندې کولو سره لوستونکو ته وښودل شي چې ولې اوسـنی غربي لېبرالېزم تمدن د بيان د آزادۍ دعوا کاذبه، له نژادي، مذهبي او سـمتي تعصب څخه ډکه او غير عادلانه ده. همدارنګه په دې ليکنه کې بله هڅه دا شــوې، چې ليکوال څرګنده کړي، چې څنګه د غرب دلېبرالېزم تمدن په نړيواله کچه په نړۍ کې د سياسي بحرانونو په وخت کې د بيان آزادۍ اصول يواړخيز او له تعصب څخه ډک منعکس کوي. همدارنګه د دې مقالې بل هدف دا دی، چې په مستنده توګه لوستونکو ته وښودله شي، چې څنګه غربي رسنۍ د بيان آزادۍ او رسنيو د واقعي آزدۍ پر ځای د بيان آزادۍ ته غربي غير عادل روايت ورکولوسره وړاندې کوي.

**اهميت**

په شلمه پيړۍ کې د استعمار، سړه جګړه او بيا له ۲۰۰۱ کال راوروسته په اصطلاح د ترهګري د جګړې پر وړاندې د مبارزې تر عنوان لاندې غرب د خپلو رســنيو په ذريعه نورې نړۍ د بيان او آزادۍ حق سلب کړی او خورا په منظم او سيستماتيکه بڼه، له خپلو روايتونو او ارزښـتونو څخه پرته بل هر روايت او ارزښت د بيان د آزادۍ ضد تلقي کوي او هم د خپلو رسنيو په مټ منظم فکري جنګ پر مخ بيايي. په ډېر تاسف سره چې تقريباً ټول اسلامي هېوادونه، نه يوازې د غرب د رسـنيز يرغل پر وړاندې عاجز پاته دي بلکه ډېری خو د غربي رســنيز تيري څخه مســتقيم او يا غير مســتقيم متاثره هم دي. ځکه نو ليکوال دا اړينـه وګڼله چې علمي بحث وشي تر څو د غرب د بيـان د آزادۍ روايـت وننګول شي او ځوان نسـل له دې خبر شي چې غرب څنګه د بيـــــان آزادۍ تر سرليک لاندې د ځوان کهول ذهنونه مسخه کوي.

**کړنلاره او کارتوکي**

په دې مقاله کې لیکوال د څېړنې د کیفي میتود څخه استفاده کړې ده. لیکوال دوه نړیوالو قضیو ؛ د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه او د اسرائیلو لهٔ خوا د فلسطینیانو نسل وژنې قضیو کې غربي سکیولر لیبرال نظریې له انده د بیان آزادۍ ته کتنه کړې ده. اړوند معلومات یې د کتابونو، علمي مقالو او نړیوالو رسنیو څخه ترلاسه کړي او د بیان اوسني نړیوال و ضعیت یې د رسنیو د مشاهدې او پرتلې په بنې تحلیل کړي او بیا یې په تشریحي Descriptive بڼې وړاندې کړې، د غربي رسنیو د بیان د آزادۍ روان وضعیت یې په توضیحي Explanatory بڼې تحلیل او تجزیه کړي دی او نوې فرضیې او نظریې یې وړاندې کړي دي. د سمینار د څېړنې روش استنباطي (استنتاجي) یا inductive دی.

**د بیان د آزادۍ تاریخچه**

مخکې له دې چې په دوو قضیو کې د غرب د بیان د آزادۍ و ضعیت ته کتنه وکړو، ښهٔ به وي چې لومړی د بیان د آزادۍ په تاریخچې یو څه تم شو. انسان له خپلو هم نوعو سره اړیکو ټینګولو ته اړتیا لري، ځکه انسان یو ټولنیز مخلوق دی ارتباط ټینګول د انسانانو فطري علاقه او ټولنیز ضرورت دی. انسان له نورو انسانانو سره محاورې له لارې کولای شي خپلې انفرادي او ټولنیزې ګټې تضمین کړي. انسانانو ته رب العالمین د نطق صلاحیت ورکړی دی؛ نو ځکه دوی ډېری وخت نورو ته خپل پیام د خبرواترو په ذریعې لیږدوي. همدارنګه د نورو خبرې هم اورې، فکر پرې کوي او وروسته دواړه اړخه یو مشترک توافق ته رسیږي. خو که یو انسان د بل خبرې په اجباري ډول محدودې کړي نو مشترک توافق رامنځته کیدل ستونزمن کیږي. له نورو سره خبرې کول او د نورو خبرې اوریدل د بشري ټولنې اخلاقي مسؤولیت او د مقابل حق دی. د قوانینو رامنځته کیدو سره د همدې حق ساتنه کیږي؛ خو د وینا او بیان حق مطلق نه دی د بشر په هر تمدن کې ځینې ارزښتونه او ګټې شته چې د بیان او وینا آزادۍ محدودیت پرې توجیه کیدای شي، نو ځکه ویلي شو، چې د بیان د آزادۍ حق مطلق نه دی.

موږ ویلی شو، چې په آزاده توګه د خپل زړه خبره وړاندې کول د انساني ټولنې یو اساسي حق دی. په فلسفي ادب کې دې حق ته بېلابېل اصطلاحات استعمالیږي لکه د بیان آزادي Freedom of Speech د نظر آزادي Freedom of Expression د مکالمې آزادي Freedom of Communication چې دا ټولې کلمې د یوه هدف لپاره کارول کیږي. د بیان آزادي یوازې د وینا تر آزادۍ پورې نه شي محدوده کیدای. رسامي، نقاشي، نڅا او د بېلابېلو سمبولونو او نښو کارول هم د دې آزادۍ په چوکاټ کې راتلی شي (Howard, 2024).

د بيان او خبرو آزادي د آدم عليه السلام له پيدا ينښت سره په انساني ټولنه کې موجود وو؛ مستند معلومات څرګندوي، چې پخوانيو يونانيانو د ډيموکراټيک اصول په توګه د بيان آزادۍ ته لاره هواره کړه. په لرغوني يونان کې د " parrhesia د بيان آزادي، په آزاده توګه وينا او يا په ښکاره ډول خبرې کولو ته کارول کيده. دا اصطلاح د لومړي ځل لپاره په يوناني ادب کې د پنځمې پيړۍ په پای کې راڅرګنده شوه. د کلاسيک دورې په جريان کې، پارريسيا د اتن د ډيموکراسۍ بنسټيزه برخه شوه. مشرانو، فيلسوفانو، ډرامه ليکونکيو او عام اتنيان په آزاده توګه د سياست او مذهب په اړه به بحث کاوه، آن په ځينو ترتيباتو کې په حکومت نيوکه کول هم آزاد وو (History.com Editors, 2023).

لهٔ لرغوني يونان څخه وروسته بيا ډېرى وخت د نړۍ په بېلابېلو سيمو کې حاکمو نظامونو د نظام د بقاء او اشرافي طبقې د خونديتوب په موخه، د خلکو د بيان آزادي، فردي آزادي، د ملکيت آزادي حتی د ژوند حق محدوده ګرزولې وو. د اسلام مقدس دين له ظهور سره هغه وخت چې ټوله نړۍ په ظلمت کې پرته وه، اسلام خلکو ته په هره برخه کې خپلواکي او آزدي ورکړه. د نړۍ يوه ستره برخه له دې نعمت څخه مستفيده شوه؛ خو د شمالي اروپا بيا د اسلام د آزادۍ له نعمت څخه ډېره کمه ګټه پورته کړای شوه، ځکه د اسلامي تمدن د عروج په وخت کې، اروپا تر رنسانس پورې په تياره کې پاتې شوه. غربي نړۍ بيا د رنسانس او ويستفاليا تړون وروسته د بيان د آزادۍ له اصطلاح سره آشنا شوه. دلته به په خلاصه توګه په اسلامي او غربي تمدنونو کې د بيان د آزادۍ په تاريخي بهير لنډه رڼا واچوو:

**په اسلامي تمدن کې د بيان آزادي**

الله سبحانه و تعالی په خپلو مخلوقاتو کې يوازې انسان ته د خبرو کولو توانايي او طاقت ورکړی دی. الله سبحانه و تعالی د قرآن کريم په سورة الرحمن کې فرمايلي دي: الرَّحْمَنُ ﴿١﴾ عَلَّمَ الْقُرْآنَ ﴿٢﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ ﴿٣﴾ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾ ژباړه:(( الرحمان (مهربان خدای)، د دې قرآن ښوونه کړې ده، همغه انسان پيدا کړی دی، او ده ته يې غږېدل ور زده کړل.) په اسلام کې انسان ته د بيان زده کوونکی الله سبحانه و تعالی دی او دا کار د يوه مقصد لپاره ترسره شوی، هغه مقصد دا دی، چې انسان پرې استدلال وکړي او کله چې نور استدلال کوي دی يې واوري.

د زمبابوې يو مشهور ديني عالم مفتي اسماعيل منک استدلال کوي، چې د قرآن کريم مکي آيتونو د لنډوالي دليل له نورو دلايلو سربيره يو دا هم دی، چې د مکې قريشو ته د دعوت په وخت کې به کله چې قرآن تلاوت شو؛ نو دوی به فوراً په غوږونو کې کوتې کيښودې. خو دا چې ايتونه ډېر لنډ وو، نو د غوږ د پټېدو څخه مخکې به سم دلاسه يو آيت حتمي د قريشو غوږونو ته ننوتی وو. دا چې د الله

سـبحانـــــه و تعالی د بیان فصـاحت او د بیان منځپانګه ډېره لوړه وه، د الله سـبحانه و تعالی کلام په فصاحت، لوړوالی او محتوی د انسانانو د کلام سره د پرتلې وړ نه وو، نو ځکه د الله سبحانه و تعالی د کلام هغه کوچنۍ برخه به چې د قریشـو مشرکینو غوږ ته ورسـیده نو دا چې قریشـیان پر فصیح او له محتوی ډک کلام ښــه پوهیدل نو دې یوه آیت به په دوی کې د تفکر زمینه برابره کړه او د اســلام حقانیت ته به ذهناً تسلیم شول.

همدارنګه په قرآن الکریم کې د توحید په برخه کې الله سبحانه و تعالی له خپلو بنده ګانو سره استدلال کوي، انســان د حق منلو ته د بیان په مټ قانع کوي. نو ځکه د اســلام اهداف چې عبارت دی له: د انســان د نفس، مال، دین، نسـل او عقل حفاظت څخه، د بیان په مټ ترویج شـول نه د زور او فشـار پر مټ. اســلام کې حاکم، پادشــاه، امیر او واکمن په ځمکه کې د الله سـبحانه و تعالی د احکامو تطبیق کوونکی دی، ځکه د یوه دولت حاکم یوازې د الهي قوانیو، ارزښـتونو او اصـولو تطبیق کوونکي وي. په اسـلام کې حاکمان په قوانینو کې تصرف کوونکی نــــه دي. په اسلام کې د سرکش ظالم حاکم او پادشـاه پر وړاندې د حق بیان ته سـتر او افضـل جهاد ویل شـوی دی؛ حال دا چې غیر اسـلامي ملتونه خپل حاکمان او مذهبي مشرــان د الهي په توګه مني. د هغوی پر وړاندې اســتدلال او دلیل ویل ورته ناسم عمل ښکاري. کاتولیکه کلیسا لا هم د دوی مذهبي مشر پاپ معصوم infallible ګڼي. عیسویان عقیده لري،چې پاپ غلطي نــــه کوي؛ نو ځکه د دوی په اند پرې نقد ناسـم دی (Hergenröther, 2024).

بل پلو د اسـلام مقدس دین خلک د بنده له برده ګي خلاصـول غواړي. یو ځل یو صـحابي چې ربعي بن عامر نومیده کســـرا ته د قاصد په توګه واستول شو. ربعي بن عامر هغه کســـرا ته چې فارسیانو الهه ګڼله سپینې او تیزې خبرې وکړې. هغه کســـرا ته د اسلام مقصد په لنډو الفاظو داسې بیان کړ: "الله سبحانه و تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم، د دې لپاره مبعوث کړی دی، چې خلک د بنده له بنده ګي څخه د الله سـبحانــــه و تعالی بنده‌ګي ته راواړوي، د دنیا له تنګیو څخه یې وباسـې او د آخرت وسعت او پراخۍ خواته یې دعوت کړي، د نړی د مختلفو مذهبو د ظلم او زیاتی څخه یې خلاص او د اسلام د عدل او انصاف خواته یې دعوت کړې." (Kathīr, 401 C.E.)

نو ځکه په اسلام د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته د بادشاه، امیر او مذهبي مشر لپاره معصـومتوب یا infallibility اصـل نشـته، په اسـلام کې دا اصـل دی چې ( لا طاعة لمخلوق في

معصية الخالق). په اسلام کې د پادشاه، امير، ولسمشـر، صدراعظم او ... هغه امر چې له حق سره په ټکر کې وي نـــه منل کيږي. په اسـلام کې ظالم زعيم پر وړاندې د حق وينا ته جهاد ويل شـوی دی. ځکه ليکوال د ځينو هغو کسانو استدلال، چې د مسلمانانو په پادشاه او زعيم بايد نقد ونه شي، ردوي. ځکه دا نظر د اسلامي اصولو سره په ټکر کې دی. څه موده مخکې د تاجکستان ولسمشـــر امام علي رحمان پر وړانديز د تاجکسـتان پارلمان پر حجاب او د اخترونو پر لمانځنې بنديزونه ولګول، آيا دا مناسـبه ده، چې د تاجکســتان مسـلمان ملت د امام علي رحمان دا حکم ومني، چې د قرآن له نص سره په ښـکاره ټکر کې دی؟ (Aytekin, 2024).

پــــه دنيوي هغو امورو کې چې رسـول الله صـلی الله و عليه و سـلم باندې به وحې نه وه نازله شـوې، اصحابو کرامو د الله د رسول د نظر پر وړاندې بل نظر له اسـتدلال سره وړاندې کړی دی. داسې به هم کيدل چې اصحابو به د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د نوې نظر او طرحې په وړاندې کولو کې استدلال کاوهٔ نو د الله سبحانه و تعالی رسول به د دوی نظر ته پر خپل نظر ترجيح ورکوله.

د اسلام مقدس دين د خپريدو علت هم بيان او وينا ده. ټاموس ارنولډ مشهور مؤرخ د اسلام په هکله د غربي مستشرقينو هغه نظريات چې ګويا اسلام د تورې په ذريعې نشر شوی دی، په خپل کتاب

(The Spread of Islam in the world: a history of peaceful preaching) کې رد کړی دی. هغه اسـتدلال کړی دی، چې اسـلام د بيان او منځپانګه کې د غنا له کبله خپور شـوی دی. ټاموس ارنولډ د خپل اسـتدلال لپاره قــــوي او نه رد کيدونکي مثالونه راوړي دي. هغه اســتدلال کوي پر هند زر کاله مســلمانانو حکومت کړی؛ خو بيا هم د هند اکثره اوسـيدونکي هندوان دي؛ نو که چېرته مســلمانانو په زور پر خلکو اسلام منلی وای؛ نو اوس به په هند کې هيڅ هندو نه وو. همدارنګه په عربې هېوادونو کې له تيرو څوارلس ســوه کلونو څخه د مســلمانانو حکومت دی؛ خو اوس هم په دې هېوادونو کې په ميليونونه عيسويان شتون لري او ژوند کوي. همدارنګه د اسلامي نړۍ تر ټولو پر نفوسه هېواد ماليزيا ته هېڅ اسلامي لښکر نه دی تللی؛ نو ځکه د اسلام د مقدس دين د خپريدو علت بيان او خبرې دي، نه توره او زور (Arnold, 2001).

همدارنګه څېړنو په اثبات رسـولې چې نن ســبا اکثره اســلامي هېوادونه د ليبرال ډيموکراسي تر تاثير لاندې دي او په نړۍ کې فقط يو څو د ګوتو په شمير اسلامي هيوادونه دي چې د الله سبحانه و تعالی حـــدود پکې تطبيقېږي. غرب د همدې معدودو هېوادونو په خلاف ډېر تبليغات هم کوي؛ خو سربېره

پر همدغو کرکجنو تبلیغاتو بیا هم نورې نړۍ تر څنګ د دوی په خپلو غربي هیوادونو کې د نورو دینونو په پرتله اسلام په ډېرې چټکۍ د خپریدو په حال کې دی. تحقیقات ښیي چې په ۲۰۵۰ کال کې به د مسلمانانو نفوذ د نړۍ ۳۰ فیصدو ته ورسیږي او په ۲۱۰۰ کې به اسلام د ټولو دینونو څخه حتی عیسویت څخه هم مخکښ وي (Fardila et al., 2020)؛ نو هغه دین چې وسله یې بیان دی هغه به څنګه د بیان د آزادۍ د حق مخالفت وکړي؟ البته د یادونې وړ ده، چې د اسلام مقدس دین د خپلو پنځه سترو اهدافو، ټولنیز نظم او عدل او اخلاقیاتو د ساتنې په موخه د بیان آزادي محدوده کوي، مګر اسلام هیڅکله هم د مستبد نظامونو په څېر انسانان د نظر او بیان له حق څخه نه محروموي.

## غربي تمدن کې د بیان آزادي

په اروپا کې له شپاړسمې پېړۍ څخه مخکې د بیان آزادي تر ځار او مستقیم سانسور لاندې وه. د اروپا ډېری فیلسوفان او حتی مشهور ساینس پوهان لکه جیوردانو برونو، مایکل سرویتوس، هایپاتیا، ارشمیدس او داسې نور... د ساینسي او علمي فکر د درلودو له کبله د کلیسا لهٔ خوا، وځورول شول، ژوندي وسوځول شول یا په قتل ورسیدل (Hajdu, 2007).

په اروپا کې د کاتولیک او پروتستان ترمنځ دیرش کاله مذهبي جګړې (۱۶۱۸- ۱۶۴۸) وشوې چې بالاخره د ویستفالیا د سولې د تړون په پایله کې پای ته ورسیدې. د ویستفالیا د سولې د تړون سره سم په اروپا کې د مذهب او بیان آزادۍ ته زمینه برابره شوه. په بریتانیه کې مذهبي آزادۍ د فردي آزادۍ په بڼې په ۱۶۸۹ کال کې راڅرګنده شوه. له دې سره په غرب کې بیان آزادۍ په هکله د غربیانو نظریاتو ټولنې ته لاره پیدا کړه. د بیان د آزادۍ او ټولنیزو اصلاحاتو لپاره مشهور مفکرین لکه جان ملټن (۱۶۰۸ څخه ۱۶۷۴)، جان لاک (۱۷۰۴-۱۶۳۲ ) او جان سټورټ میل نظریاتو وده وکړه.

د امریکا په متحده ایالاتو کې ټاموس جیفرسن Thomas Jefferson د بیان د آزادۍ مخکښې څهرې په توګه راڅرګند شو. هغه د انسان پر فکر د نه محدودیت ( The illimitable Freedom of the human mind) نظریې ملاتړی وو. هغه د امریکا د متحده ایالاتو د خپلواکۍ اعلامیه ولیکله. د یادونې وړ ده، چې ځینې علماء ټاموس جیفرسن د اسلام څخه متأثره ګڼي، ځکه ده له ځان سره د قرآن نسخه درلوده او قرآن الکریم یې لوستل (Spellberg, 2014). د امریکامتحده ایالاتو د خپلواکۍ څخه وروسته د امریکامتحده ایالاتو د اساسي قانون لومړۍ مادې کې د بیان آزادۍ څخه ملاتړ ځای پر ځای شو.

معاصرې نړۍ نويو نړيوالو رامنځته شويو سازمانونو کې د آزادۍ نظريې پراختيا وموندله. د بشر د حقوقو نړيوالې اعلامیې په ۱۹ مه ماده کې د بيان د آزادۍ د هر انسان بنسټيزو حقوقو څخه يو حق وګڼل شو. د بشـري حقوقو نړيوالې اعلاميې ۱۹ ماده کې راغلـــې دي: "هر څوک د فکر او د خپلې مفکورې د څرګندولو آزادي لري، په دې حق کې د مفکـــورې آزادي هم شـامله ده. چې د سرحدونو په پام کې نيولو پرتـه معلومـات او مفکورې پـه هره وســيله چې وي پيـدا، ترلاســه او خپرې کړي." (United Nations. General Assembly, 1949)

اوس ډېرى هېوادونه په خپلو اســاسي قوانينو کې د بيان د آزادۍ څخه د ملاتړ مادې ځاى پرځاى کړې دي. غربي نړۍ اوس يوازې ځان د بيان او نظر آزادۍ مخکښ ګڼي او نوره نړۍ بالخصـــوص چين، روسيه او اسلامي نړۍ په دې تورنوي، چې په دې هېوادونو کې د بيان آزادۍ تر مستقيم سانسور لاندې ده. د همدې مقصـــد لپاره په نړيواله کچه غربي نړۍ کې ســترې اداري شـــتون لري، چې دوى ډېرى دريېمې نړۍ هېوادونو کې هم اســتازي او ســازمانونه لري. دوى د نړۍ په سـطحه د غربي يا لېبرالېزم له ليد لوري څخه د بيان آزادۍ لپاره ځانګړې ليبرال معيارونه لري. تاسو د ستاټستيا له لوري لاندې نقشه کې د ښــه، مناســب، خراب او ډېر خراب هېوادونو طبقه بندې کتلې شـئ، چې غربي ليبرال ســازمانونو ترتيب کړې دى. په دې نقشه کې يوازې غربي نړۍ هېوادونو ته رسنيو آزادۍ کې ښه ويل شوي دي.




اوس پوښـــتنه دا ده، چې رښـــتيا هم په غربي نړۍ کې يوازې غرب او د لېبرالېزم نظريې څخه متأثره هېوادونو کې د بيان آزادي شتون لري؟ يا هم موږ يوازې د لېبرالېستانو او لېبرالېزم له ليد لوري د بيان

آزادۍ ته آزادي ویلی شـــو؟ کله چې غربي لیبرالیزم خپله د بیان او فکر آزادي نقض کوي آیا په دې برخه کې د غرب توجیه سمه ده؟ د همدې پوښتنو د ځواب لپاره لیکوال د مقالې په راتلونکې برخه کې هڅه کړې ده، چې په نړیواله کچه د بیان د آزادۍ پر وړاندې ننګونې تر بحث لاندې ونیسي . د مستبد نظامونو ترڅنګ د نړۍ په کچه دوه سترو نړیوالو قضیو د "ترهګرۍ پر وړاندې جګړه" او د فلسطین د نســـل وژنې قضـــیه کې د لیبرالیزم له لید لوري د بیان د آزادۍ مطالعه هم شـــوې ده، چې تعصـــب او طرفداري له امله خپله د لیبرالیزم نظریه د بیان د آزادۍ پر وړاندې یو ســـتر ګواښ دی. د مقالې په راتلونکې برخه کې به د بیان د آزادۍ پر وړاندې ګواښـــونه په نښـــه شي؛ خو تر هغو مخکې د بیان د آزادۍ پر حدودو بحث کیږي.

### د بیان د آزادۍ حدود

د بیان او نظر آزادي هیڅکله هم نامحدوده او مطلقه نه ده، بلکې نظر ټولنو، رسم او رواجونو او بېلابېلو ټولنیزو دیني او فرهنګي ارزښـــتونو ته خپل حدود لري. تهمت، وقاحت، توهین کول، فحاشي، فتنه انګیزي، اغتشاش او اشوب جوړول، د خلکو تحریک، کرکه اچوونکي خبرې، د هېواد او افرادو رازونه او سري معلومات افشا کول، د کاپي حق نه مراعتول، پټ تړونونه او شخصي حریم تر پښو لاندې کول، د یوه چا وقار او حیثت پایمالول، عامه نظم او امنیت ګواښل، کفري خبرې کول، مقدساتو ته توهین، په دروغو شـــاهدي ورکول، د عهد نقض کول او دې ته ورته نور ډېر شـــیان دي، چې په اکثره هېوادونو د غرب په شـمول د بیان آزادۍ کې نه راځي؛ نو ځکه نړۍ کې د بیان آزادي حدود لري. د ملګرو ملتونو د سازمان په اساس تعصب، تبعیض، عداوت او د تاوتریخوالي پارول د بیان د آزادۍ حق کې نه راځي، هغې ته د کرکې خبرې (hate speech) وایي، چې داسې کار ترسره کول جرم ګڼل کیږي (Strossen, 2021).

### د بیان آزادۍ پر وړاندې ننګونې

#### مستبد نظامونه

د بیان د آزادۍ پر وړاندې په نـــــړۍ کې یوه ســتره ننګونه د ســیاسي نظامونو جوړښــت دی، قیمومیتي ډیموکراسي، کې رسنۍ او عمومي افکار تر محدودې اندازې پورې آزادي لري؛ حال دا چې عصریت پلوۍ اولیګارشي نظامونه چیرته چې مخفي سازمانونه ډېر ځواکمـن دي،مخالف ګوندونه ملي ضد ګڼل کیږي د بیان آزادۍ امکان ډېر کم وي. توتالیتر اولیګارشي ســـیاسي نظام بیا د بیان د آزادۍ پر وړاندې تر ټولو ســتره ننګونه ګڼل کیږي، ځکه دا ډول نظامونه (پولیســو دولت) وي. نظام د جبر له ډېرو طریقو

ځخه کار اخلي، تر څو امنیت او نظم وســاتي، په دې ډول نظامونو کې د بیان آزادي او عمومي افکار کوم ځای نه لري، خلک له هغو حقوقو څخه برخمن دي، چې واکمنې طبقې یې ورته ټاکي (عالم، ۱۳۷۸).

په اوسنۍ نړۍ کې ځینې داسې هېوادونه هم موجود دي، چې حتی په ټولنیزو رسنیو کې د یوه انتقادي پوسټ له کبله اشخاصو ته د اعدام سزا ورکړل شوې ده. په ۲۰۱۸ کال کې د سعودي عربستان یو منتقد خبریال قاشقچي د ژورنالیستیکي فعالیتونو له کبله د سعودي عربستان د اوسني ولیعهد محمد بن سلمان تر سرپرستۍ لاندې په ترکیه کې د سعودي په قنسلگرۍ کې داسې ووژل شو، چې د بدن آثار یې هم له منځه یوووړل شول (Rugman, 2024).

په نړیواله کچه د خبریال قاشــقچي وژنه ځکه ډېره وغندل شــوه، چې ښــاغلي قاشــقچي د ســعودي ترڅنگ د امریکامتحده ایالاتو تابعیت هم درلود؛ خو گڼ شـمیر سعودي علماء چې په زندانونو کې د بیان د آزادۍ له حق څخه محروم او د بیان او نظر د وړاندې کولو په جرم په ســعودي او نورو توتالیتر نظامونو په زندانونو کې د کړاوونو او تکلیفونو سخت ژوند تیروي.

**غربي سیکولر لیبرالېزم**

که څه هم غربي ســیکولر لیبرالیســتان ځانونه د بیان او د نظر د آزادۍ اتلان گڼي، خو دا د دوی یوه تیروتنه ده. په اصل کې په نړۍ کې د بیان د آزادۍ پر وړاندې دویم ستر گواښ غربي سیکولر لېبرالېزم او پر رســنیو د دوی حاکمیت دی. غربي لېبرالېزم که څه هم په ظاهره ځانونه د بیان د آزادۍ، ډیموکراسي او بشـــــري حقوقو مدافعین او مؤسسین گڼي او معرفي کوي، خو په اصل کې پر نړیوالو رسنیو د دوی د برلاسۍ له کبله دوی حقایق مسخه کوي. دوی د نړۍ په هرې لویې او وړې مسئلې کې حق او عدالت هغه څه ته وایې چې د لېبرالېزم د نظریې او لیدلوري له عینکو سم وبرېښي.

د سیکولر ـ لېبرالېزم نظریه پردازان لکه د امریکا د ژورنالیستانو د ټولنې مشر والتـر لیپمین داسې نظـــر لري، چې په ډیموکراتیکه ټولنه کې، ځانگړې ځیرک او هوښـــیار خلک په عامه گټو پوهیږي او درک کولای یې شي او نور لار ورکه رمه گڼي. سیکیولرــ لېبرالېزم کې د عامو خلکو یعني د ټولنې د اکثریت رول یوازې تر کتونکو پورې محدود وي. مشـهور سـیاسي عالم هارولډ لسـویل دغه نظر چې خلک د خپلو گټو غوره ټاکونکي او تصـمیم نیونکي دي، بې دلیه منطق یا Dogmatism بولي. په لیبرال ټولنو

کې د دې خلکو د کنترول لپاره د پروپاګنډا بېلابېلې تګلارې کارول کيږي حال دا چې په استبدادي دولتونو کې بيا د خلکو د کنترول لپاره کوتک نيول کيږي او هر هغه کس چې د نظام پولې ماتوي پر سر يې وهي، غرب له ډيموکراسي څخه برداشت او انګيرنه دا ده، چې عام خلک بايد د چارو له سمون څخه لرې وساتل شي، د معلوماتو د ترلاسه کولو وسيلې بايد تنګې وي او په جدي ډول وڅارل شي .(Chomsky, 2011)

د نوام چامسکي د رسنيو د کنټرول د نظريې په اساس غربي لېبرالېزم په اصل کې په نړۍ کې د بيان او د فکر د آزادۍ پر وړاندې يوه ستره ننګونه ده. غرب ته يوازې هغه خبره آزاده او بې طرفه ده، چې د غربي لېبرالېزم له ليدلوري سره سمون وخوري. د دې لپاره چې دا خبره واضح شي، چې څنګه غرب او د دوی رسنۍ په اصل کې د بيان د واقعي آزادۍ مخالف او صحيح معلومات تر هغه مسخه کوي تر څو يې چې د غربي سيکيولر ـ لېبرالېزم پر رنګ نه وي ککړې کړې، ليکوال په يوويشتمه پيړۍ کې دوه قضيو کې د غربي رسنيو دوه اړخيز چلند د نمونې په توګه وړاندې کوي، چې لومړۍ قضيه د ترهګرۍ پر وړاندې جګړه او دويمه په فلسطين کې د اسرائيلو لهٔ خوا د نسل وژنې قضيه ده.

### د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې قضيه کې د بيان آزادۍ

مخکې له دې چې د ۲۰۰۱ کال د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې تر سرليک لاندې د بيان د آزادۍ پر مسائلو بحث ولرو، ښه به دا وي، چې په دې پوه شو چې څنګه د دويمې نړيوالې جګړې وروسته د غربي نړۍ ستر دښمن او بد کس پخوانی شوروي اتحاد وو؟ د غرب د بيان د آزادۍ د بې طرفي اصل په نظر کې نيولو پرته د عامه ذهنونو کنټرولولو په موخه يې د Creel Commission د ماهي جال په نامه ادره رامنځته کړه، بيا ورپسې ـ د کمونېزم پر وړاندې يې د Red Scare له پروپاګند څخه استفاده وکړه. د سړې جګړې وروسته کله چې د امريکا متحده ايالاتو په مشرۍ غربي بلاک د ځواکمن او يو نړيوال قوت په توګه ميدان ته راغی نو لومړی يې منځني ختيځ ته خپل قوتونه انتقال کړل، د عراق وخت ولسمشر ـ صدام حسين يې د نړۍ لپاره د رسنيو په مټ ستر خطر وباله. د صدام حسين او د هغه لهٔ خوا د ډله ييزو وسلو WMD جوړول يې د رسنيو په مټ د نړۍ لپاره سترګواښ منعکس کړ؛ حال دا چې غربي رسنيو هيڅ کله هم د امريکامتحده ايالاتو لهٔ خوا جوړ شوي په زرګونو هستوي او هايدروجني بمونه د نړۍ د امنيت لپاره ګواښ نه دي ګڼلي.

عراق دوه ځلې د دوه دروغو او پروپاګندا پر بنیاد د غربي لیبرالېســتانو لهٔ خوا تر یرغل لاندې راغی. د عراق او کویټ تر منځ ستونزه د امریکامتحده ایالاتو داسې منعکسه کړه، چې د صدام حسین عراقي ځواکونه کویټ کې روغتونونو ته ننوتې او له روغتونونو څخه یې نوي زیږیدلي ماشــومان ایســتلي تر څو مړه شي (knightlely, 2001). د بېنسنې نړیوال سازمان بیا دې دروغو ته مشـــروعیت او رسمیت ورکولو لپاره یو بل پــه دروغو رپوټ چمتو کړ، چې په هغه کې یې په دروغو د عراقي سرتیرو لهٔ خوا د نوي زیږیدلو ماشومانو د وژنې شمېر هم جعلي(۳۰۰) وښود (Amnesty International, 1990).

د دروغو شاهدۍ لپاره یې په امریکا کې د کویټ د سفیر لور ناهیره د امریکا کانګرس ته وغږوله. هغې په داسې حالت کې چې خپل هویت یې پټ ساتلی و، رسنیو تــــه په دروغو د عراقي سرتېرو جعل جرمونه وړاندې کړل تر څو په امریکا او نورې نړۍ کې عامه ذهنیت دې ته چمتو شي، چې د امریکا پر مشرۍ ائتلاف پر عراق پوځي یرغل وکړي. د ماشومانو د وژنې جعلي قضیې څخه هم هدف دا وو، چې د عامه ذهنیت د تسـخیر وروسـته بیا امریکا اجازه تر لاسـه کړي تر څو د عرق پر وړاندې جګړې کې خپلو وحشتونه توجیه کړي.

د خلیج له لومړۍ جګړې وروســته تر ۲۰۰۳ کال د خلیج د دویمې جګړې تر وخت پورې، عراق تر سختو اقتصادي بندیزونو لاندې و، عراقیانو د علاج لپاره له بهر څخه حتی ډیسپرین ګولی هم نه شوای واردولای، په عراق بازارونو کې د ماشومانو لپاره شیدو شتون نه درلود. چې د دې بندیزونو په پایله کې نیم میلیون عراقي ماشومان مړه شول. کله چې په ۱۹۹۶ کال کې د نیم میلیون ماشومانو د مرګ پوښتنه یوې خبریالې لیسلي سټال د وخت د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرې میډیلین البرایټ څخه وکړه، چې آیا اقتصادي بندیزونو د دې ارزښت درلود چې ۵۰۰۰۰۰ پنځه سوه زره ماشومان مړه شي چې دا شمېره د هیروشیما د اتوم بم د استعمال له کبله د مـــړو څخه هم ډېر دی؟ میرمن البریټ ځواب دا و، چې سخت انتخاب وو، خو د عراقي ماشومانو مړینې د دې ارزښت درلود.

د لېبرالېزم نظریې ولاړ د یوه هېواد د بهرنیو چارو وزیرې صدام حسین ته د سزا ورکولو په موخه پنځه سوه زره ماشومانو قتل عادي خبره وګڼله. کله چې په ۲۰۲۲ کال کې میرمن میډیلین البرایټ مړه شوه نو د جنازې په مراسمو کې یې د امریکا پخـــواني ولسمشر بیل کلنټن وویل چې مېرمن البرایټ د آزادۍ، ډیموکراسي او بشري حقونو لپاره یوه پــه زړه پورې ځــواک و. هغه څوک چې د سیاسي هدف لپاره د پنځه سوه زره ماشومانو مړینه توجیه کوي د غربي لیبرال نظریې پر اساس د بشـري حقوقو لپاره ځواک

ګڼي. د امریکا اوســـني ولســـشـــمر جوبایډن بیا میرمن البرایټ د نیکي، شرافت او آزادۍ لپاره ځواک وګڼله.(Twaij, 2022) له دې څخه معلومیږي، چې غرب ته د خپل استعماري پالیسیو د تطبیق لپاره نه یوازې عراقي ماشومانو ژوند ارزښت نـــه درلود بلکه د هغوی قاتلین او د قتل ملاتړي د دوی د لیبرال نظریې په اساس د بشـــري حقونو لپاره یو پیاوړی ځواک دی. په حین حال کې همدې غرب د کویټ د ماشومانو د جعل قتل له کبله بیا پر عراق برید ته مشروعیت ورکولو هڅه هم کوله.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پر یوولسمه پر اتو بجو او ۴۶ دقیقو لومړی یوه مسافروړونکې الوتکه په نیویارک ښار کې له یوې ستري ودانۍ سره وجنګیده. پر نهه بجې او درې دقیقې دویمه الوتکه وجنګېده، چې ورسره یې ســـترې ودانۍ ړنګې او تقریباً درې زره کســـان پکې ووژل شـــول. له دې بریدونو وروســـته سملاسي د امریکا متحده ایالاتو د هغه وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش د القاعدې ډله د دې بریدونو مسؤله وګڼله. دا چې د القاعدې مشـــر په افغانستان کې و، نو ځکه یې د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې اعلان سره سم یې لومړی د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۷ مه نیټه پر افغانستان برید وکړ، بیا وروسته په ۲۰۰۳ کال کې عراق د امریکا تر یرغل لاندې راغی (Kean & Hamilton, 2004).

د امریکامتحده ایالاتو کې د ســـپتمبر د ۱۱مې نیټې په پایله کې ۲۹۹۷ کســـان په شـــمول د ۱۹ ترهګر ووژل شـول؛ خو امریکا د ترهګري تر عنوان لاندې جګـــړې کې د برون پوهنتون د څېړنې په اسـاس تقریباً څلورنیم میلیون مسـلمانان ووژل او ۳۷ میلیونـــه نور خلک یې هجرت ته اړ کړل. تاسـو لاندې ګراف کې د ســـپتمبر د ۱۱ مې نیټې په پیښـــه کې د امریکایي وکړو او د ترهګرۍ د جګړې تر سرلیک لاندې جګړې په پایله کې وژل شوو او بې ځایه شویو مسلمانانو مقایسه کولای شئ (Lyn, 2023).




| | اسلامي نړۍ | امريکامتحده اياﻻت |
|---|---|---|
| مړه | 4500000 | 2997 |
| بې ځايه شوي | 37000000 | 0 |

د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې تر سرليک لاندې غربي ليبراليستانو د خپلو رسنيو په مټ د مسلمان خبره او غږ خاموش کړی دی. غربي ليبرال رسنيو نړيوالو ته داسې روايت وړاندې کړی، چې کواکې د امريکامتحده اياﻻتو پــه مشرۍ غربي نړۍ د ترهګرۍ قرباني ده. حــال دا چې امريکامتحده اياﻻتو د کور دننه د خلکو سره د وسلو شتون د ترهګرۍ څخه په ځلونو ستر ګواښ دی. څکه له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د ترهګرۍ بريدونو کې يوازې ۳۳۸۰ تنه امريکايان وژل شوي حال دا چې په همدې موده کې ۴۰۶۴۹۶ امريکايان د خپلو وسلو په ذريعه وژل شوي دي (Bower, 2015).

د امريکا متحده اياﻻت او متحدينو يې، د دوی په اصـطلاح د ترهګرو پر وړاندې د فزيکي جګړې ترڅنګ رسنيزه او مطبوعاتي جګړه هم پيل کړه. که څه هم غربي ليبراليستان د بيان آزادي او انساني کرامت له مخې، د محکمې له حکم څخه ترمخه يو څوک مجرم نــه بولي او داسې نور نړيوال منل شوي اصول خپل ابتکار او غرب ورته ژمن ګڼي؛ خو حقيقت کې د مسلمانانو پر وړاندې له دې اصل څخه استفاده ونه شوه . د غرب ټولو رسنيو د بيان د آزادۍ د اصولو خلاف اسلامي بنسټونه او اسلامي خوځښتونه ترهګر معرفي کړل. د امريکا متحده اياﻻتو او د سيکولر ـــ ليبراليزم متحدينو يې د نړيوالو حقوقو سره په مغايرت کې د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه په سوونو مسلمانان د القاعدې او طالبانو سره د همکارۍ په نامه ونيول او د بګرام او ګوانتانامو زندان کې يې واچول، هغوی تـــه د بيان او ځان څخه د دفاع او د مدافع وکيل نيولو حق شتون نه دلود.

غربي رسنیو عامو خلکو ته مسلمان ترهګر معرفي کول او ترهګري یې د مسلمان لهٔ خوا جوړ شوی ستر ګواښ باله. په دې برخه کې له حد څخه زیاته مبالغه وشوه او اوس هم روانه ده. غربي رسنیو د اسلام او مسلمان لهٔ خوا د ترهګري ګواښ دومره ستر کړی چې ډېره برخه پر همدې موضوع راڅرخي؛ حـــال دا چې حقیقت داسې نه دی. تاسو لاندې د نیویارک ټایمز له خوا د ترهګری اړوند مسائلو پوښـــښ د ۲۰۱۶ کال سروې وګورئ، نیویارک ټایمز د خپلو خبرونو ۳٦.٦ او ګارډین ۳۳ فیصـــده ترهګري تر خبرې پوښښ لاندې نیولې ده؛ حال دا چې د ترهګري بریدونو له کبله د مرګ ژوبلې کچه دومره لــږه ده چې بلکل پـــه فیصده کې نشي راتلی. حال دا چې هغه نور مسائل چې اصل کې د مرګ باعث ګرځي ډېر کم، تر خبرې پوښښ لاندې نیول کیږي (Ritchie, 2019).




منبع: (Ritchie, 2019)

همدارنګه غرب له خپلې سینما څخه هم د مسلمانانو پر وړاندې د عامه ذهنیت منفي لورې ته د سوق کولو پروسه پر مخ بوتلله. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر له ۱۱ مې نېټې څخه راوروسته هالیوډ سینما په سلګونو داسې هنري فلمونه جوړ کړل، چې مسلمان، لمونځ ادا کوونکی، ږیره لرونکی او حجاب اغوستونکې

مسلمانه ميرمن بد خلک او ترهګر معرفي کيږي. د اسلامي بشري حقوقو کميسيون د څېړنې په اساس غربي فلمونه مسلمانان، وحشي، ترهګر او تاوتريخوالی پارونکي وړاندې کوي، چې دا عمل د مسلمانانو بشري حقوق تر پښو لاندې کوي او د دوی همدې کړنې ( په دروغو او ناحقه مسلمان بد تمثيل کول) په غرب کې د مسلمانانو پر ژوند منفي تاثيرات اچولي دي (Law, 2019).

له ۲۰۱۸ کال څخه تر ۲۰۲۰ مه پورې د Centre for Media Monitoring لهٔ خوا د مسلمانانو او اسلام په اړه د ۱۰٬۰۰۰ څخه زياتو مقالو او نشراتي کليپونو تحليل څخه وروسته معلومه کړای شوه، چې: د انګليستان تقريباً ۶۰ فيصده معلومات د مسلمانانو په اړه منفي ډول منعکسوي. ۳۷ فيصده رسنۍ د اسلام او مسلمان په وړاندې دير زيات له تعصب او اړخ نيونې څخه استفاده کړې ده. له هرو دريو رسنيو څخه يوې رسنۍ د مسلمان او اسلام په هکله ناسم معلومات وړاندې کړې او ترهګري د رسنيو عمومي موضوع وه (MCB, 2020).

همدارنګه د الاباما پوهنتون يوه څېړنه ښيي، چې مسلمان ته منسوب بريدونه په اوسط ډول په رسنيو کې ۱۰۵ سرليکونه ترلاسه کوي، حال دا چې د غير مسلمان له لوري بريدونه يوازې تر ۱۵ پورې د غربي ليبرال رسنيو سرټکې جوړيږي(Chalabi & editor, 2018).

د ترهګرۍ په بهانه له افغانستان څخه وروسته د امريکامتحده اياﻻتو عراق هم اشغال کړ. د عراق اشغال د درې سترو دروغو په اساس ترسره شو. لومړی دروغ دا وو، چې د عراق د وخت ولسمشر-صدام حسين له القاعدې سره اړيکې لري، چې دا دروغ ثابت شو صدام حسين د بعث ګوند مشر-چې يو ناسيوناليستي ګوند دی، هيڅکله يې هم له مذهبي ګوندونو سره ښې اړيکې ندې درلودلې. دويمه ادعا دا وه، چې عراق د ډليزو وژنو وسلې لري، چې هغه هم دروغ ثابت شو. ډيوډ کې David Kay د عراقي سروې ګروپ ISG Iraqi Survey Group مشر-د ۲۰۰۴ زيږديز کال د جنورۍ په ۲۹ مه د امريکا د سنا مجلس ته وويل: "موږ تقريباً ټول په غلطه وو هيڅ ثبوت ونه موندل شو، چې عراق دې د ډليزو وژنو فعاله وسلې ولري." (Marsi, 2023).

د عراق د اشغال لپاره د بوش او ټوني بلير بله بهانه دا وه، چې دوی غواړي عراق آزاد کړي او هلته ډيموکراسي او بيان آزادۍ ته زمينه برابره شي. دا ادعا هم څکه غلطه ثابته شوه. چې امريکا د خپلې دغې ادعا ، چې ګواکې عراق کې د بيان آزادۍ ته وده ورکوي؛ برعکس، نه يوازې ملکي ژورناليستان

ووژل د رسـنیو دفترونه يې هم هدف وګرځول او د جولین اسـانژ په څېر بې طرفه مشـهور اسـترالیايي ژورنالیسـت په دې جرم تر تعقیب لانــــدې ونیو او بیا يې لسګونه کاله زنداني کړ، چې هغه د امریکا جنګي جرم افشاء او د ژورنالیستانو د قتل ویډیو يې د ویکي لیکس له لارې نشر کړه.

د عراق له اشغال سره امریکایانو په زرهاوو بې ګناه مسلمانان شهیدان کړل. په زرګونه نور عراقیان يې د بغداد په ابوغریب زندان کې داسې په وحشت سره شکنجه او بې حرمته کړل، چې د بشـر په تاریخ کې يې سـارى نه درلود. د یادونې وړ ده، چې بی حرمته شـوي او شـکنجه شـوي عراقیانو ویډیوګاني او تصویرونه هم خپله امریکايي سرتیرو نشـــر کړل. سره صلیب د رپوټ په اساس په دې زندانیانو کې له ۷۰ څخه تر 90 فیصده زندانیان بې ګناه عام ملکیان ول، چې په غلطي سره نیول شوي وو.

د امریکا له لوري په اصـطلاح نوې ډیموکراسي په اسـاس په عراق کې داسـې سـیسـتم جوړ شـو، چې ریاست جمهوري دې کردانو ته ورکړل شي، صدراعظمي دې شعیه عرب ته او د پارلمان مشري دې د سـني عربو برخه وګرځول شي چې د امریکا لهٔ خوا دې تحمیل شـوى ډیموکراسي د عراق په ټول سیستم کې تبعیض رامنځته کړ، ټولنیز نظم يې له منځه یووړ (Soussi, 2024). منځني ختیځ او شمالي افریقا د چاټم هاوس معاون صنم وکیل د وینا په اساس د عراق اشغال د نړیوال قوانینو ښکاره نقص وو.

لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړله، غرب د ترهګري پر وړاندې د جګړې تر نامه څلور نیم میلیونه انسانان ووژل او ۳۷ میلیونه نور يې له خپل اصلي وطن څخه مهاجرت ته اړ کړل. واقعیت دا دی، چې د امریکا په مشــــرۍ غربي لیبرال نړۍ مسلمانانو ته دومره لویه فزیکي ضربه ورسوله؛ خو غرب اوس هم ځان د نړۍ په کچه د بیان د آزادۍ ملاتړي ګڼي. هغه یوازیني اسـترالیايي ژورنالیسـت (جولین اسـانژ) چې دا جرئت وکړ، چې په عراق او افغانستان کې د امریکا د جنګي جنایاتو پټ خبـرونه نشـر کړي. د همدې ژورنالیستیکي فعالیت له کبله کلونه کلونه پــــه زندان کې په ډېر بد و ضعیت کې تېر کړل. نوره غربي نړۍ لا هم د غرب د وژنو او مخربو مداخلو ملاتړ کوي. له دې کبله ویلی شو، چې غربي لیبرالېزم د ترهګرۍ پر وړاندې په اصطلاح جګړه کې د مسلمان د بیان او فکر آزادي تر پښو لاندې کړې ده.

## د فلسطینیانو د نسل وژنې قضیه کې د بیان آزادي

د لومړۍ نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو سره سم انګلسـتان، فرانسـې او صـیهونیېزم د خپل یوه اوږد مهاله پلان په اســاس عثماني ترکانو ته له ماتې ورکولو وروســته د عثماني ســلطنت شــېرازه ســوه کلن

حاکميت يې په فلسطين کې پای ته ورساوه. د ترک په دې ماتې کې د ځينو عربانو ناپوهی، غفلت او د ځينو نورو د خيانت شامل نقش درلود. همدارنګه په دې کې شک نشته چې د عثماني سلطنت په ماتې کې تر ټولو ډېر، خپله د عثماني سلطنت مسؤلين ملامت ول، د دوی تيروتنې د دې لامل شوې چې د عراق، سوريې ، لبنان او فلسطين څخه ترکان د شړل کيدو سره په منځني ختيځ کې يو ډول د قدرت تشه رامنځته شي. ټوله سيمه د سايکس او بيکوټ د طرحې په اساس د فرانسي-او انګليستان مستعمرې وګرځول شي. له دې سره سم د برطانيې د وخت صدراعظم بالفر په ۱۹۱۷ کال کې په يوې اعلاميې کې فلسطين کې يهودو ته د دولت د جوړيدو طرحه وړاندې کړه. چې وروسته د همدې طرحې په اساس يهودي مهاجر له اروپا څخه فلسطين ته وليږدول شول او د فلسطين په ځمکه کې د يهودو فيصدي آهسته، آهسته لوړه شوه (Stein, 1961).

د غربي استعمار په مرسته بالاخره د ۱۹۴۷ کال د نومبر په ۲۹ نيټه د فلسطين د خاورې په هکله طرح د ملګرو ملتونو سازمان لهٔ خوا چې تازه د دويمي نړيوالي جګړې د ګټونکو لهٔ خوا جوړ شوې وو د پريکړې په موخه وړاندې شوه. د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې د ۱۸۱ پريکړه ليک UN General Assembly 181 Resolution په اساس فلسطين خاوره د يهود او عربو لپاره په دوه دولتونو وويشل شوه. يورشلم يې بين المللي زون وګرځاوه. ملګرو ملتونو فلسطين ته مهاجر شوو يهودانو ته په داسې حال کې له پنځوسو فيصدو څخه ډېره ( ۵۶ فيصده خاوره ) ورکړه، چې دوی لا هم د فلسطين درې ۳٪ فيصده څخه لږ نفوس تشکيلاوه او يوازې د فلسطين ۷ فيصده خاوره يې په اختيار کې وه. له همدې نيټې څخه د فلسطين د خلکو د بدبختی ورځ چې دوی النکبه ورته وايي پيل شوه چې تر نن ورځې پورې دوام لري. اسرائيلی ليکوال ايلن پاپې وايي د غرب د ليبرال نظريې په اساس جوړ شوي ملګرو ملتونو د اسرائيلو لهٔ خوا د فلسطينيانو د ځمکې غصب او د فلسطينيانو نسل وژنې ته يو ډول مشروعيت او جواز ورکړ (Pappe, 2007).

له ۱۹۴۷ کال څخه تر نن ورځې پورې غربي نړۍ د اسرايلو په نوم جوړ شوي هېواد نظامي، مادي معنوي او اخلاقي ملاتړ کوي. په غرب کې د امريکامتحده ايالات هغه هېواد دی، چې تر ټولو دير له اسرائيلو سره نظامي او مادي مرستې کوي. اسرائيلو تر اوسه پورې د امريکامتحده ايالاتو څخه درې سوه او لس ۳۱۰ ميليارده ډالره مرسته ترلاسه کړې ده (Merrow & Masters, 2024).

همدارنګه د ملګرو ملتونو په امنیت شـورا کې د امریکامتحده ایالاتو په ټولیز ډول تر ۴۶ ځله د اسرائیلو په اړه پریکړه لیکونه ویټو کړي دي، چې په هغوی کې د لبنان پر جنوبې سـیمو د اسرائیلو برید او د اسرائیلو لهٔ خوا د سوریې د ګولان د لوړو څوکو د الحاق او ځینې نور موضوعات شامل دي. همدرانګه د امریکامتحده ایالات بیا هغه هېواد دی، چې د فلسطین د یوه دولت په توګه د جوړیدو مخالف دی او تل یې د فلســطین د دولت د جوړیدو فیصــلې ویټو کړې دي. (Asrar, 2023) د برون د پوهنتون په اساس یوازې دتیر۲۰۲۳ کال د اکتور د ۷ مې نیټې څخه وروسته د امریکامتحده ایالاتو له اسرائیلو سره د ۱۷.۹ میلیارده ډالر نظامي مرستې کړې دي (Brown University, 2024).

د نړۍ ۹۵ فیصده وګړي، د دې ملاتړي دي چې د فلسطین لپاره دې یو مستقل هېواد وي؛ خو یوازې ۵ فیصــده وګړي، چې په هغه کې د امریکامتحده ایالات او اسرائیل او ځینې ډېر واړه هېوادونه راځي، د دې فیصــلې مخالف دي، حال دا چې امریکایي ډیموکراسي د اکثریت پر اصــولو بناء ده. (Norton, 2024)

کله چې د اسرائیلو د منافع او د فلسطین د خلکو د حقوقو مسئله مطرح شي نو دوی، د اسرائیلو ملاتړي دي. غرب د اسرائیـل پر وړاندې د بیان د آزادۍ او د حقـایقو د اوریدو زغم نه لري، ځکه نو د اکثره غربي لیبرال رســنیو هدف دا وي، چې خبرې روایت په داســې بڼې وړاندې کړي، چې اسرائیل حق په جانب وښــیې او فلســطینیان ترهګر له تمدن څخه لرې او ملامت منعکس کړي. په اصــل کې د غرب تقریباً ټولې رسنۍ دې ته وقف شوې دي، چې څرنګه د فلسطینیانو د بیان د آزادۍ حق سلب او څنګه د اسرائیل د ځان د دفاع روایت ته مشروعیت ورکړي او فرضاً فلسطین او یا کوم بل اسلامي او یا غربي هېواد کې که څوک د اسرائیـل اپـارتیـت رژیم بـانـدې نقـد وکړي، نو دوی یې بیا فوراً د – Anti Semitic یعني د یهودو او ســامي په هکله د منفي ذهنیت لرونکي باندې یې متهم کوي. حال دا چې په اسرائیلو کې یهود بلکل سامي نژاد خلک نه دي، ټول اروپایان دي. عرب سامي نژاد لري. همدارنګه د فلسطینیانو د عدالت او حق غوښتنې مبارزې د تورن کولو بل نوم ترهګري ده.

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر د میاشــتې په اوومه نیټه حماس د فلســطین په هغې برخې برید وکړ، چې اسرائیلو اشــغال کړې دي. د بریدونو په پایله کې د اسرائیلو تر دولس ســوه پورې نظامي او ملکي وګړي ووژل شول او تر دوه سوه پورې یرغمل شول. د دې بریدونو په ځواب کې اسرائیلو پر غزې له هوا، ځمکې او ســمندر څخه د توغندیو باران پیل کړ، چې له تیر یوه کاله څخه اسرائیلو پر غزې د نســل وژنې جګړه

جارې ساتلې، د دې جګړې په غبرګون کې له امريکا څخه نيولې تر اروپا پورې د غربي نړۍ هر زعيم بار بار پر اسرائيلو د حماس د بريد غندنه خو يې کړې ده. خو د اسرائيلو د نسل وژنې د غندنې پرځای يې تل ويلي، چې اسرائيل د ځان د دفاع حق لري. يعنې اسرائيل حق لري، چې په غزه کې نسل وژنې ته دوام ورکړي؛ کله به هم چا د غربي ليبرال هېوادونو له ولسمشرانو دا اوريدلي وي، چې فلسطينيان، لبنانيان، عراقيان، افغانان او... هم د يرغلګرو پر وړاندې د ځان د دفاع حق لري. همدې ته د غربي نړۍ دوه مخيز Western – Double standard وايي او همدا دوه مخي د دوی د بيان په آزادۍ او د دوی په رسنيو کې هم ځرګنديږي.

د ۲۰۲۲ کال د فبروري مياشتې څخه روسيې پر اوکرين يرغل وکړ، همدارنګه د تېر ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له مياشتې څخه اسرائيلو پر غـــزې بريد پيل کړ، ليکوال لاندې د غزې، اسرائيل او اوکراين د جګړې تلفاتو يو چارټ کې چمتو کړی، هلته يې ښودلي دي، چې په غزې کې ۴۱٦۱۵ کسان شهيدان شوي دي، چې په دوی کې تقريباً پنځوس فيصده يې ماشومان دي. د اکسفام د يوې څېړنې موندنې ښيي چې په تېرو دوو لسيزو کې د بلې هرې جګړې د مساوي مودې په پرتله په تېر کال يوه کاله کې په غزه کې د اسراييلي پوځيانو له خـــوا تر ټولو ډېرې ښځې او ماشومان يې شهيدان کړي دي (Oxfam, 2024b).

حال دا چې په اسرائيلو کې يوازې دولس سوه مړه او تر پنځه زره پورې ټپيان شوي دي او اکراين کې د درې کلنې جګړې له امله تقريباً مړينه نهه زره کسانو ته رسيږي. د غرب رسنۍ د اوکراين موضوع ته ډېر پوښښ ورکوي ځکه د اوکرين مخالفين روسان دي، چې غرب ورسره تاريخي دښمني لري. همدارنګه اوکرين او غزې جګړې په داسې انداز وړاندې کيدې، چې مخاطب ته دا تلقين کړي چې مظلوم غزه او فلسطين نه بلکه اسرائيل او اوکراين دي.




د اوکراین، اسرائیل او فلسطین اړوند د هر خبر په پوښښ کې د کمیت، کیفیت او محتوی له پلوه ستر توپیر شتون لـري په هر خبر کې په ښکاره د اوکرین او اسرائیلو اړخ نیول کیږي. همدارنګه له فلسطین د سم صحیح او بې طرفه خبر د خپریدو اجازه هم نشته. الجزیرې خبریالان د خبریالي لپاره د اسرائیلو او فلســطین څخه منع . الجزیره د اسرائیلو د پارلمان لخوا ترهګره رســنۍ وګڼل شــوه. د غزې په یو کلن جنګ کې د دویمې او حتی د ویتنام د جګړې نه هم ډېر ۱۷۷ ژورنالیستان ووژل شوي دي.




د ۲۰۱۴ کال د جولای له ۸ مه بیا د اګســټ د میاشــتې تر ۲۷ مې پورې د امریکا د رســنیو د څار په اســاس د امریکا په متحده ایالاتو کې د غزې د محاصرې په هکله رســنیوکې یوازې ۷۷۹ ځله رسـنۍ

غبرېدلي وې، حال دا چې د حماس د راکټي بريدونو په اړه چې هېڅ تلفات يې هم نـــه درلودل ۶۹۰۴ ځله رسنيو ګزارشونه وړاندې کړي وو.




پر فلسطينيانو باندې د اسرائيلو لهٔ خوا يرغل د دوی د وطن د اشغال او نسل وژنې ته غربي ليبرال نړی د اسرائيلو د ځان د دفاع حق تر عنوان لاندې مشروعيت ورکوي. همدارنګه غرب د يرغلګرو په وړاندې دريدونکی هر فلسطيني خوځښــت ترهګر ګڼي. پر خلکو د همدې روايت د منلو په موخه نهم امريکايي اسرائيلي ډيالوګ کې په زرګونه د رســنيو ماهرين سره راټول شــول او د Hasbara Israel's public Image: Problems and Remedies تر سرليك لاندې ناستې کې يې پريکړه وکړه، چې د پروپاګند په ذريعه بايد د اسرائيلو په اړه د خلکو ذهنونو کې بدلون راولو.

غربي ليبرالي رسنۍ همدا کار کوي د اسرائيلو په ګټه روايت ته انعکاس ورکوي تر څو د عامو خلکو ذهنيتونو ته بدلون ورکړي. د لنسټ Lancet د يوې څېړنې د موندنې په اساس غزه کې د اسرائيلو لهٔ خوا هر مستقيم مرګ له ځان سره څلور غير مستقيم مړينې رانغاړي يعنې که جګړه د ۲۰۲۴ کال د جون په مياشت کې دريدلی هم وای بيا هم د غزې د شهيدانو شمير يو لک او شپږ اتيا زره ۱۸۶۰۰۰ يعنې د غزې د ۲.۳ ميليون نفوس شاوخوا ۸ سلنو ته رسېدل (Khatib et al., 2024).

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر لـه ۷ مې نيټې څخه اسرائيلو د ملګرو ملتونو دومره غړي وژلي چې د ملګرو ملتونو له جوړېښــت څخه راوروســته په يوې جګړې او بحران کې هم د دې ســازمان دومره غړي نه وو وژل شـوي. د دې جنګي جرمونو د افشـاء کولو په موخه غربي ليبراله ميډيا بحث نه کوي؛ خو کله چې د ملګرو ملتونو يوې غړې فرانســيســکا الباني د اډولف هټلر او د اسرائيلو د لومړي وزير بنيامين نتنياهو ترمنځ موازي عکس پوســټ کړ، غربي ليبرال رســنيو ته د خبر يوه مهمه ســوژه شـوه. په ملګرو ملتونو

کې د امریکا متحده ایالاتو سفیرې لینډا توماس – ګرین فیلډ هم وویل چې میرمن الباني ملګرو ملتونو کې په دنده بوختې ځوکۍ ته مناسبه نه ده. (times of Israel, 2024)

افغانستان کې پښتو او دري بي بې سي هم د اسرائیلو په ګټه خبرونو محتوی کې بـــدلون راولي او د غربي نړۍ همدا اجنډا پر مخ بیایي. تاسو په بې بې سي پښتو کې لاندې خبرې متن وګورئ:




بي بي سي پښـــتو، خبر ته د اسرائیلو په ګټه روایت چمتو کړی دی. په اصـــل کې ملګري ملتونه، اکسـفام، غزه کې روغتونونه او په سـلګونه خیریه اداري وایي چې په غزه کې برق نه شـته، پاکې اوبه نشـته، د ښـځو او ماشـومانو زرګونه جسـدونه د خاورو او ړنګو تعمیرونو لاندې پراته دي او یو بشـري ناورین روان دی. (Oxfam, 2024) دلته بې بې سي د دې ټولو ادارو رپوټونه او موندنې چې شـواهدو سره ترتیب شـوي دي، نه دي اخیسـتې، یوازې د جنګي مجرم اسرائیل د دروغ نظر یې په سرلیک کې را اخیستی ((اسرائیل پر حماس تور لګوي چې تیل یې غزه کې ذخیره کړي دي.)) اوس پوښـتنه دا ده چې ولې د اسرائیلو نظر اخیسـتل شـوی دی، حال دا چې اسرائیل د نړیوالو په اند د جګړې برخه او د جنګي جرم ترسره کوونکی دی. بی بې سي د دې لپاره خبر ته دا ډول روایـت ورکړی، چې د عامو خلکو ذهنونو کې د اسرائیلو د (اسبورا) کنفرانس په اساس بدلون راولي. د اسرائیلو جنګي جرمونو ته

برائت ورکړی او عامه اذهان یو بل لور ته سوق کړي، عامه ذهنیت ته دا ورپېچکاري کړي چې اسرائیل خو د دې لپاره غزې ته د تیل او خوړو اجازه نه ورکوي چې هلته ذخیرې شته. همدارنګه د i24News هم په ۲۰۲۳ کال اکتوبر کې خپور کړ، چې کواکې حماس څلویښت ماشومانو سرونه پرې کړې دي. دا خبر په ټولنیزو رسنیو کې خپرېدو وروسته په اثبات ورسید، چې دروغ او جعل وو.

تر ډېره غربي لیبراله نړۍ د فلسطین د قضیې په اړه د خلکو ذهنونو ته د ناسم روایت د تلقین په برخه کې بریالۍ شوې هم دي. د سي ان CNN د یوې سروې په اساس ۵۷ فیصده امریکایان په دې باوري دي، چې پر غزه د اسرائیلو اعمال د توجیه وړ دي، حال دا چې یوازې ۳۴ فیصده کسانو باور درلود، چې په غزه کې د اسرائیلو اعمال د توجیه وړ نه دي (Agiesta, 2023).




غرب کې هغه طبقه خلک چې لا هم د غربي رسنیو د پروپاګند تر تاثیر لاندې نه راځي د هغوی د بیان د آزادۍ حق بیا په نورو بېلابېلو ډولونو خاموشه کیږي. ځینو ته توطئې جوړیږي له دندو کوښه کیږي، ځینې نور د anti – Semitism د یهود پر وړاندې د کرکې فکر درلودلو په تور، تورنیږي او ځینې نور بیا ترهګر یا له ترهګرو سره د همکارۍ په تور تر تعقیب لاندې نیول کیږي.

جرمني یو له هغو غربي هېوادنو څخه دی، چې ځان په افغانستان کې د بیان د آزادۍ ملاتړ ګڼي، ګڼ شمېر افغان ژورنالیستان او د ژورنالېزم د پوهنځي استادانو ته یې په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د نوي نظام رامنځته کیدو سره سم پناه ورکړه، چې کواکې په افغانستان کې د دوی د بیان د آزادۍ حق

خوندي نه دی. خو په عین حال کې جرمني دویم لوی هېواد دی، چې اسرائیلو ته د فلسطین د نسل وژنې لپاره وسلې صادروي. جرمني په ۲۰۲۳ کال کې د اسرائیلو د اړتیا ۳۰ فیصده وسلې دې هېواد ته صادرې کړې دي. جرمني په دې هېواد کې د هغو یهودانو (Jews Voice for Peace) چې د فلسطین د خلکو د دفاع او غزه کې د نسل وژنې د ودریدو په حق کې مظاهرې کوي په نښه کوي او ځپي.

جرمني کې د غزې د نسل وژنې پر وړاندې پرمظاهرو بندیزونه دی. د جرمني پوهنتون هغه استادان او ادري کارمندان چې غزه کې د نسل وژنې غندنه کوي او د اوربند غوښتونکي دي تر نظارت لاندې نیول کیږي او له دندو شړل کیږي.جرمني په افغانستان کې ځان د بیان د آزادۍ حق ته ژمن ګڼي، خو د دې هیواد د اطلاعاتو او کلتور وزیره آغلې کلوډیا روت بیا دومره د بیان آزادۍ حق نه لري، چې د یوه فلم ننداري ته چکچې وکړي. وزیره د دې لپاره له خپلې دندې څخه استعفاء ته اړ کړای شوه چې د یوه فلسطیني فلم جوړونکي او یوه اسرائیلي فلم جوړونکي هغه مشترک فلم ته چې د اردن د غاړې په لویدیځ کې د اسرائلو لهٔ خوا پر ورانۍ باندې یې جوړ کړې وو، چک چکې کړې وې. (Tsimitakis, 2024) فلسطینیان له اسرائیلو سره د جګړې په ویډیوګانو کې کله چې د اسرائیلي ټانکونه په نښه کوي نو یو سور سرچپه مثلث ډوله شکل نښه پرې راولې. جرمني پارلمان له اسرائیلو سره د خواخوږۍ له کبله همدغه سور معکوس مثلث کارول په جرمني کې منع اعلان کړ. (Gregson, 2024)

د امریکامتحده ایالات، چې ځان په نړۍ کې د بیان د آزادۍ ملاتړۍ معرفي کوي او په ۱۹۹۰ لسیزې کې یې په منځني ختیځ کې د الجزیرې خبري چینل د پرانیستي ملاتړ وکړ، اوس یې د غزې په نسل وژنه کې قطر ته ویلي چې د غزې د نسل وژنې په نشراتو کې دې خبرې پوښښ محدود کړي. (Tait, 2023) که څه هم د امریکامتحده ایالات ځان د لیبرال ډیموکراسي، د بیان د آزادي مخکښ ګڼي؛ او د دې هیواد په اساسي قانون کې اوله ماده یې د بیان د آزدۍ په ملاتړ لیکل شوې ده ؛ مګر دوی بیا په خپل لاس د بیان آزادي زندۍ کړې ده، دوی د غزې د ملاتړ له کبله په سلګونو محصلان او استادان بندیان او په لسګونه نور یې له دندو وشړل (Fernández, 2024).

همدارنګه د جان اپکن پوهنتون یوه تحقیق په اثبات رسولې وه، چې ۹۷.۵ فیصده د اسرائیلو اوسني اوسیدونکو DNA د پخواني عبري خلکو د DNA د عبري وګړو سره تطابق نه لري. د امریکامتحده

ايالاتو دا ساينسي ـ او علمي حقيقت د اسرائلو د منافعو لپاره نه شو زغملی . نو د جان اپکن پوهنتون دا تحقيق له خپلې ويبپاڼې څخه حذف کړ (Venton, 2013).

فرانسه هم همداسې د اسرائيلو د منافعو لپاره د بيان آزادي تهديدوي. په فلسطين کې د نسل وژنې د درېـــدو لپاره د آواز پورته کول جرم، ګڼل کيږي. حتی هغه يوه فرانسوی نرسې (ايمان معارفي) چې غزې ته سفر کړې وو او د غزې په يوه روغتون کې د خپلو تجربو په اړه يې په ملي شورا کې شاهدي ورکړې وه، د همدې شاهدۍ او حقايقو ويلو د بيان په جرم په خپل کور کې ونيول شوه او د پوليسو په توقيف کې ده (Yigit, 2024).

**پايله**

پاسنيو شواهدو وښودله چې د بيان آزادي د انسان د اساسي حقوقو څخه يو حق دی، چې د اسلام مقدس دين يې ملاتړ کړی دی. همدارنګه دا هم ثابته شوه، چې هغه نظريات چې غرب يې د درېيمې نړۍ هېوادونو عامه افکارو ته تلقين کول غواړي د غربي ليبرال نظرياتو زيږنده او نيمګړی ده . د غرب د بيان د آزادۍ ليبراله نظريه نه نړيواله Universal ده، نه بې طرفه او او نه هم عادلانه ده . غربي ليبرال نظريه د تعصب او د اسلامي نړۍ پر وړاندې د يو ډول ژور تبعيض څخه ډکه ده.

غربي نړۍ د پنځلسمې پيړۍ له نيمايي څخه د شلمي پيړۍ پورې د آبادۍ او پرمختګ تر کاذب عنوان لاندې هېوادونه استعمار او منابع يې استثمار کړل. همدارنګه د خلکو د بيان او نظر آزادۍ يې محدوده کړه. په شلمه پيړۍ کې بيا امريکا د کمونيزم پر وړاندې تبليغات د کمونيزم تر زوال جاري وساتل. بيا د کمونيزم د سقوط وروسته پر نړۍ د يوه بې سيال قدرت په توګه راڅرګند شو. د غربي نړۍ تر مشرۍ لاندې د امريکامتحده ايالاتو لومړی پر عراق بيا پر افغانستان د يوې کاذبې ادعا په مټ تيری وکړ.

همدارنګه په ۲۱ مې پيړۍ کې هم د بيان آزادي او بې طرفه نظرياتو د خاموشه کولو لړۍ د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې نيټې څخه وروسته په اصطلاح د ترهګري پر وړاندې جګړې سره پيل شوه. غرب د ترهګري پر وړاندې د جګړې تر سرليک لاندې، نه يوازې مسلمانان د فزيکي تاوتريخوالي لاندې ونيول، بلکه د دوی غږ يې هم د خپلو رسنيو په مټ چوپ کړ. امريکامتحده ايالاتو تر مشرۍ لاندې ائتلاف د نړيوالو قوانينو او ټولو انساني اصولو خلاف د ترهګرۍ پر وړاندې د جګړې تر چتر لاندې بشري حقوق نقض کړل. په ميليونونه عام خلک يې ووژل او بې شمير نور يې د جرم د اثبات پرته کلونه

د زندان د تورو تمبو شاته واچول. حقايقو افشاء کوونکي ژورناليستانو څخه یې ځينې ووژل، ځينې يې زنداني کړل او ځينې نور يې ورټل. د بيان د آزادۍ حق څخه د استفادې په جرم تر ټولو مشهوره قضيه د جولين اسانژ مسئله ده، چې يوازې د حقايقو د افشاء کولو له کبله يې کلونه کلونه يې بند تېر کړ.

د 2023 کال د اکتوبر د اومې نيټې څخه وروسته د اسرائيلو لهٔ خوا د فلسطين د خلکو د نسل وژنې قضيه پيل او د مسلمانانو پر وړاندې يې جبر او ظلم لړۍ چټکه کړه، په يوه کال کې يې دوه څلويښت زره مسلمانان ووژل او سل زره نور يې ټپيان کړل. د وړې غزې لس فيصده ژورناليستان چې د نړۍ په هېڅ جګړه کې نه دي وژل شوي، اسرائيلي يرغلګرو يوازې د بيان د آزادۍ د حق څخه د استفادې په جرم ووژل. خو شواهدو وښودله چې غربي ليبرال سيکولر ميډيا دا ټول جنايات له داسي ليدلوري وړاندې کوي، چې هلته هر جنګي جنايت او وژني ته غربي ليبرال رسنۍ د اسرائيلو د ځان د دفاع د حق نوم ورکوي. حال دا چې د خپلواکي لپاره مبارزه کوونکي فلسطينيان بيا غربي رسنۍ ترهګر يادوي. دې مقاله کې ذکر شويو شواهدو څخه دې پايلې ته رسيږو، چې نه يوازې د غرب له خوا ايجاد شوې د بيان د ازادۍ نظريه عادلانه، بې طرفه او له تعصب څخه پاکه نه ده، بلکه د غربي نړۍ رسنۍ په اصل کې د توتاليتر او مستبد نظامونو په څېر د بيان او د نظر د آزادۍ پر وړاندې يوه ننګونه ده.

**وړانديزونه**

۱. نظامونه بالخصـوص اسـلامي نظام بايد د خلکو او رسـنيو د بيان او د نظر آزادۍ حق محدود نه کړي، خلکو ته بايد موقع ورکړل شي، چې خپلې مشروع غوښـتنې له نظام سره په آزاد ډول شريکې کړي او هم پر چارواکو سالم نقد بايد جرم ونه ګڼل شي.
۲. رسـنۍ او خلک بايد د بيان او نظر د وړاندې کولو په وخت کې، د بيان او نظر د آزادۍ اسـلامي، کلتوري، امنيتي او اخلاقي حدود وپيژني او د حدودو خلاف عمل ترسره نه کړي.
۳. د کره معلوماتو د ترلاسـه کولو لپاره د رسـنيو څخه خبرونه بايد په انتقادي طرز ولوسـتل شي، د معلوماتو د ترلاسـه کولو منبع بايد د تل لپاره يوه نه وي. له يوې منبعې اخېسـتل شـوي معلومات نورو منابعو کې هم بايد بررسي شي.
۴. په هېواد کې بايد آزادې رسـنۍ ډېرې شي، د ژورناليزم په پوهنځيو او انسـتيټوټونو کې رسـنيز خدعې بايد محصلانو ته تدريس شي.

## مأخذونه

Agiesta, J. (2023). CNN Poll: Americans are deeply sympathetic toward Israelis and see their military response to Hamas attacks as justified | CNN Politics. CNN. https://edition.cnn.com/2023/10/15/politics/cnn-poll-israel-hamas-war-americans/index.html

Amnesty International. (1990). Iraq/occupied Kuwait: Human Rights Violations Since 2 August. Amnesty International.

Arnold, T. W. (2001). The Spread of Islam in the World: A history of peaceful preaching.

Asrar, S. (2023). How the US has used its veto power at the UN in support of Israel. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/news/2023/10/26/how-the-us-has-used-its-veto-power-at-the-un-in-support-of-israel

Aytekin, A. B. (2024). Tajikistan's hijab ban latest in decades-long religious freedom violations. TRTWorld. https://www.trtworld.com/magazine/tajikistans-hijab-ban-latest-in-decades-long-religious-freedom-violations-18178902

Bower, J. J., Eve. (2015). American deaths in terrorism vs. Gun violence in one graph. CNN. https://www.cnn.com/2015/10/02/us/oregon-shooting-terrorism-gun-violence/index.html

Brown University. (2024). United States Spending on Israel's Military Operations and Related U.S. Operations in the Region, October 7, 2023-September 30, 2024 | Costs of War. The Costs of War. https://watson.brown.edu/costsofwar/papers/2024/USspendingIsrael

Chalabi, M., & editor, M. C. U. data. (2018, July 20). Terror attacks by Muslims receive 357% more press attention, study finds. The Guardian. https://www.theguardian.com/us-news/2018/jul/20/muslim-terror-attacks-press-coverage-study

Chomsky, N. (2011). Media control: The spectacular achievements of propaganda. Seven Stories Press.

Fardila, U. A., Imamah, F. M., & Dewi, I. S. (2020). Why Islam is the world fastest growing religious group despite of terrorism issues? An initial research of terrorism issues and Islam awareness. JARES (Journal of Academic Research and Sciences), 5(1), 1–13.

Fernández, B. (2024). US Gaza protests: Calling the cops on free speech | Israel-Palestine conflict | Al Jazeera. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/opinions/2024/5/2/us-gaza-protests-calling-the-cops-on-free-speech

Gregson, J. (2024). Red triangle symbol: Germany debating a ban – DW – 08/04/2024. https://www.dw.com/en/germany-debates-banning-red-triangle-symbol-linked-to-hamas/a-69840776

Hajdu, S. I. (2007). Persecution of Noted Physicians and Medical Scientists. Annals of Clinical & Laboratory Science, 37(3), 295–297.

Hergenröther, J. (2024). Papal infallibility. Britannica. https://www.britannica.com/topic/papal-infallibility

History.com Editors. (2023, July 27). Freedom of Speech - Origins, First Amendment & Limits. HISTORY. https://www.history.com/topics/united-states-constitution/freedom-of-speech

Howard, J. W. (2024). Freedom of Speech. In E. N. Zalta & U. Nodelman (Eds.), The Stanford Encyclopedia of Philosophy (Spring 2024). Metaphysics Research Lab, Stanford University. https://plato.stanford.edu/archives/spr2024/entries/freedom-speech/

Kathīr, I. (401 C.E.). البداية والنهاية.

Kean, T., & Hamilton, L. (2004). The 9/11 commission report: Final report of the national commission on terrorist attacks upon the United States (Vol. 3). Government Printing Office.

Khatib, R., McKee, M., & Yusuf, S. (2024). Counting the dead in Gaza: Difficult but essential. The Lancet, 404(10449), 237–238.

knightlely, P. (2001, October 4). The disinformation campaign. The Guardian. https://www.theguardian.com/education/2001/oct/04/socialsciences.highereducation

Law, T. (2019, May 29). Muslims in the Media: Bias in the News: Reporting Terrorism. Ethical Journalism Network. https://ethicaljournalismnetwork.org/bias-news-reporting-terrorism

Lyn, D. (2023). More than 4.5M people have died from wars since 9/11: Brown University study. https://www.aa.com.tr/en/world/more-than-45m-people-have-died-from-wars-since-9-11-brown-university-study/2899065

Marsi, F. (2023). How the US and UK tried to justify the invasion of Iraq | The Iraq War: 20 years on News | Al Jazeera. Aljazeera. https://www.aljazeera.com/news/2023/3/19/examining-justifications-us-invasion-iraq

MCB. (2020). "British Media's Coverage of Muslims and Islam (2018-2020)." https://mcb.org.uk/initiatives/media-monitoring/

Merrow, W., & Masters, J. (2024). U.S. Aid to Israel in Four Charts | Council on Foreign Relations. https://www.cfr.org/article/us-aid-israel-four-charts

Norton, B. (2024, May 11). USA & Israel defy world in vote to make Palestine full UN member. Geopolitical Economy Report. https://geopoliticaleconomy.com/2024/05/11/us-israel-vote-palestine-un-member/

Oxfam. (2024, July 18). Oxfam GB | Israel using water as weapon of war as Gaza supply plummets by 94%, creating deadly health catastrophe—Oxfam. Oxfam GB. https://www.oxfam.org.uk/media/press-releases/israel-using-water-as-weapon-of-war-as-gaza-supply-plummets-by-94-creating-deadly-health-catastrophe-oxfam/

Pappe, I. (2007). The ethnic cleansing of Palestine. Simon and Schuster.

Ritchie, H. (2019, June 18). Does the news reflect what we die from? World Economic Forum. https://www.weforum.org/agenda/2019/06/does-the-news-reflect-what-we-die-from/

Rugman, J. (2024, August 19). Mohammed bin Salman: Spies and diplomats reveal inside story of di Saudi crown prince. BBC News Pidgin. https://www.bbc.com/pidgin/articles/clywlz77wx2o

Soussi, A. (2024). The Abu Ghraib abuse scandal 20 years on: What redress for victims? Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/news/2024/4/27/the-abu-ghraib-abuse-scandal-20-years-on-what-redress-for-victims

Spellberg, D. (2014). Thomas Jefferson's Qur'an: Islam and the founders. Vintage.

Stein, L. (1961). The Balfour Declaration. Simon and Schuster New York.

Strossen, N. (2021). United nations free speech standards as the global benchmark for online platforms' hate speech policies. Mich. St. Int'l L. Rev., 29, 307.

Tait, R. (2023). US asks Qatar to 'turn down the volume' of Al Jazeera news coverage | Al Jazeera | The Guardian. https://www.theguardian.com/media/2023/oct/27/us-asks-qatar-to-turn-down-the-volume-of-al-jazeera-news-coverage

times of Israel. (2024). US envoy says Albanese 'not fit' for position as UN expert after post comparing Netanyahu to Hitler. https://www.timesofisrael.com/liveblog_entry/us-envoy-says-albanese-not-fit-for-position-as-un-expert-after-post-comparing-netanyahu-to-hitler/

Tsimitakis, M. (2024). Germany's crackdown on criticism of Israel betrays European values | Opinions | Al Jazeera. Alemarahenglish. https://www.aljazeera.com/opinions/2024/4/30/germanys-crackdown-on-criticism-of-israel-betrays-european-values

Twaij, A. (2022). Let's remember Madeleine Albright for who she really was. Al Jazeera. https://www.aljazeera.com/opinions/2022/3/25/lets-remember-madeleine-albright-as-who-she-really-was

United Nations. General Assembly. (1949). Universal declaration of human rights (Vol. 3381). Department of State, United States of America.

Venton, D. (2013). Highlight: Out of Khazaria—Evidence for "Jewish Genome" Lacking. Genome Biology and Evolution, 5(1), 75–76.

Yigit, S. (2024, September 5). Arrest of French nurse who spent 2 weeks in Gaza draws backlash. Europe. https://www.aa.com.tr/en/europe/arrest-of-french-nurse-who-spent-2-weeks-in-gaza-draws-backlash/3322698

عالم,ع. (۱۳۷۸). بنیاد های علم سیاست. نشر نی.

# د قتل په تثبیت کې د عدلي طب رول

پوهنمل پاڅون میاخېل د شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، د حقوق څانګې.
برېښنالیک: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**لنډیز**

د حقوقو او طب له نظره په سمه توګه د قتل د لاملونو تشخیصول او تثبیتول ډېر مهم ګڼل کیږي. قتل کله طبیعي او کله جرمي وي، چې دواړه حالتونه یې د عدلي طب په واسطه ثابتېدلای شي؛ البته دا په خپل ذات کې یوه ستونزمنه چاره هم ده، په ځانګړې توګه هغه مهال چې شهود او د اثبات کافي دلایل او نښې شتون ونه لري. په دې لیکنه کې په همدې بحث شوی دی، چې د قتل په تثبیت کې د عدلي طب رول څومره اغېزمن دی. بناً ویلای شو، چې قتل عموماً په پنځه ډوله دی: عمدي قتل، شبه عمدي قتل، خطاء قتل، خطاء جاري مجري قتل، په سبب سره قتل. د قتل په پېښه کې عدلي طب د پېښې له ځای څخه په ډېر غور عیني شواهد راټولوي او سربېره پر دې د زهرو تر پېژندنې او د بدن د مایعاتو او انساجو تر تحلیل او تجزیې وروسته دې پایلې ته رسیږي، چې دا طبیعي مړینه ده، که عمدي قتل. له بله پلوه دغه معلومات د قانون پلي کوونکو لهپاره هم ډېر ارزښتمن دي، هغوی د دغو معلوماتو پر بنسټ کولای شي، چې مظنونین تثبیت کړي او هغه پېښې چې په قتل باندې منجر شوي، یو په یو وپېژني، ترڅو بالاخره په دې توګه عدالت ټینګ شي. دغه ټولیزې کړنې دا تضمینوي، چې آن په ډېر غور او دقت ترسره شوي جرایم هم تثبیت شي او دا ډاډ ورکوي، چې هېڅ جرم پټ پاتې نه شي.

**کلیدي کلمې:** د قتل مرحلې، د قتل علایم، د قتل د وخت تعین، د جسد تفسخ، عدلي طب.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمد الله رب العالمین و العاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء و المرسلین الذي بعث بالحق فارقا بین الحق و الباطل و علی آله و صحبه و التابعین و علی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.**

د مرګ پدیده کېدای شي طبیعي وي او یا هم غیرطبیعي. مړینه کېدای شي طبیعي وي، لکه د مرض له امله مړینه او یا هم شاید غیر طبیعي وي، لکه د قصدي قتل په اساس مړینه. د مړینې د دغو دوو ډولونو له یو بل سره تفکیکول یوه ستونزمنه مسئله ده، دغه راز کله چې دا تفکیک شي، چې مړینه غیرطبیعي ده، بیا د قضایي او عدلي غوښتنې له مخې دا باید واضح شي، چې دا قتل څه وخت او په کومو جزیاتو ترسره شوی دی. دا ټولې مسئلې معلومول د عدلي طب په غاړه دي، نو دلته د پوره روښانتیا په موخه د قتل په تثبیت کې د عدلي طب رول تر بحث لاندې نیسو.

بل خوا د یوه جنایي مامور لهپاره آن د ضرب او جرحې اندازه چې په قتل منجر شوې هم نه وي، معلومول د اهمیت وړ ده. په دې خاطر چې جرحه او ضرب په څومره شدت سره ترسره شوې او کله ترسره شوې. عدلي طب په دغو دواړو حالتونو کې هم د مرګ په حالت کې او هم د ضرب او جرحې په حالت کې دا دنده پر غاړه لري، ترڅو له شته موادو او امکاناتو څخه په استفاده او د مختلفو میتودونو څخه په کاراخېستو دا معلومه کړي، چې دا رامنځته شوې مړینه طبیعي ده، که غیر طبیعي. کله او په کومو جزیاتو سره رامنځته شوی ده لنډه دا چې د مړینې په تشخیص کې په عدلي طب کې په مختلفو کارېدونکو امکاناتو او میتودونو پوه شو. دا چې په دغو مواردو پوهېدل ډېر اړین دي، نو موږ هم په دغې څېړنیزه مقاله کې پورته ذکر شوي موضوعات څېړلي دي.

## د څېړنې موخې

۱: د دې څېړنې لومړۍ موخه په دې پوهېدل دي، چې کومه مړینه طبیعي ده؟ او کومه مړینه غیرطبیعي؟ دا د عدلي طب له لوري په اسانۍ سره تثبیتېږي.

۲: د دې څېړنې بله موخه د عدلي او قضایي ارګانونو کارمندانو په دې پوهېدل دي، چې د جنایي قضیې د څېړنې په تکمیلولو کې له عدلي طب څخه په کومو لارو معلومات تر لاسه کړي؟

۳: بله موخه دا ده، د مړینې په تشخیص کې د عدلي طب د مختلفو کارېدونکو امکاناتو او میتودونو په اړه په دې باید پوه شو، چې عدلي طب له کوم ډول کارېدونکو امکاناتو او مېتودونو څخه استفاده کوي.

۴: بله موخه دا ده، که چېرې په یوه ساحه کې د ضرب او جرحې پېښه رامنځته شي او د قتل سبب وګرځي، نو د عدلي او قضایي ارګانونو له لوري څرنګه او په کوم ډول تثبیتېدلای شي او ذکر شوی ضرب او جرحه څه وخت او په کومه نېټه ترسره شوې.

## د څېړنې اهمیت

د قتل په تثبیت کې د عدلي طب د رول څېړل په لومړي قدم کې له جنایي او قضایي مسؤولینو سره دا مرسته کوي، ترڅو د طبیعي او غیرطبیعي قتل تر منځ تفکیک وکړي، کله چې دا تفکیک رامنځته شي، چې مړینه غیر طبیعي ده، دا په خپل ذات کې کشف دی، چې له یوه اړخه د محکمو لهخوا د حکم د صدور پر مهال قضایي ارګانونو ته ډاډ ترلاسه کېږي او له بله طرفه هغه جرایم چې د قتل لامل ګرځي، پرته له دې چې مبهم پاتې شي، له ټولو جزیاتو سره راڅرګندیږي.

**د ليکنې کړنلاره**

د غه څېړنه کتابتوني ده او د څېړنې او وضاحت له پاره له بېلابېلو علمي کتابونو، علمي ليکنو، په واقعيتونو او حقايقو ولاړو منابعو، نوو علمي رسالو او څه نا څه انټرنيټي ويبپاڼو څخه استفاده شوې ده او د ليکنې ټول اصول او اساسات پکې مرعات شوي دي.

**لومړی مبحث: د قتل تعريف، حرمت او ډولونه**

**لومړی مطلب: د قتل تعريف**

قتل يوه عربي کلمه ده، قتل يې ماضي ـ يقتل يې مضارع او قتلا يې مصدر دی، چې په عربي ژبه کې وژلو ته وايي.

قتله ـ قاتلون او قتال يې جمع راځي.

او اصطلاحاً: (**هو الفعل المزهق للنفس او المیمت**) يعنې قتل د نفس له‌پاره داسې يو فعل دی، چې هغې سره ژوند له منځه ځي (د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ص.۳۴).

البته دا د قتل عام تعريف او پېژندنه ده او د هغه د ډولونو په نظرکې نيولو سره به د هر ډول تعريفونه هم ذکر شي.

**دويم مطلب: د قتل نهي (منعه) او حرمت**

په قرآنکريم او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په سنتو کې د قتل جرم د سرته رسولو د نهې او حرمت په اړه ډېر نصوص شته، چې موږ يې په لاندې څو آيتونو او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په احاديثو کې حراموالی اثباتوو.

د اسلام دين د انسان د وينې ساتنې ته په دې خاطر چې په ناحقه توی نه شي، جدي پاملرنه کړې ده، الله (جل جلاله) د مائدې سورت کې فرمايي:

(مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ) (سورت المائده: آيت ۳۲) ژباړه: په دې وجه موږ بني اسرائيلو ته دا حکم ورکړی و، چې چا يو نفس د بل نفس د بدلې نه بغير يا د ځمکې په مخ د فساد کولو نه بغير وواژه، نوګويا هغه ټول بني آدم وواژه او چا چې د يو نفس ژوند بچ کړ، نوګويا هغه د ټولو خلکو ژوند بچ کړ او زموږ پيغمبرانو دوی ته څرګندې نښې راوړي، سره له دې بيا هم په دوی کې ډېر خلک د ځمکې په مخ زياتی کوي (د افغانستان د سترو علماؤو يوه ډله، ۱۴۱۴، ج۱، ص.۶۳۰).

له متأخرينو علماؤو څخه يو کس د پورتني آيت په رڼا کې وايي:

د پورتني آیت معنا داسې ده، چې د یو کس په بدل کې قاتل د دې لهپاره وژل کېږي، چې ګواکې ټول خلک یې وژلي او د هغه چا په اړه چې قاتل ښښي، داسې فکر کېږي، چې ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي.

حقیقت دا دی، چې قاتل د ژوند پر حق چې د ټولو خلکو حق دی، برید کړی، نو په همدې خاطر څوک چې یو کس ووژني، له دې سره انډول دی، لکه ټول خلک یې چې وژلي وي.

(قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُم مِّنْ إمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ) (سورت الانعام: آیت ۳۲) ژباړه: (اې پیغمبره) دوی ته ووایه، چې راځئ، زه تاسو ته اوروم، چې الله ج تاسو ته څه څه حرام کړي دي، دا چې له الله تعالی سره هېڅ شی مه شریکوئ، له مور او پلار سره ښه سلوک ساتئ، خپل اولاد د مفلسۍ له لاسه مه وژنئ، موږ تاسو ته هم او دوی ته هم روزي ور کوو او د بې شرمۍ خبرو ته مه نږدې کېږئ، که څرګندې وي او که پټې او یو نفس چې الله تعالی حرام کړی وي، برناحقه مه وژنئ، دا هغه خبرې دي، چې الله تعالی تاسو ته د دې تأکید کړی دی، شاید چې د عقل نه کار واخلئ (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ص.۸۲۹).

د خپلو ماشومانو وژل هم اسلام په کلکه غندي او هغه ډېره لویه ګناه بولي. لکه څرنګه چې د اسراء سورت په ۳۱ آیت کې هم د اولاد وژل حرام ګڼل شوي دي، په آیت کې ورته داسې اشاره کېږي: (وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا)(سورت الاسراء: آیت ۳۱) ژباړه: او خپل اولاد د غریبۍ له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم ـ بېشکه د دوی وژل ډېر غټ جرم دی(حسن، ۱۳۸۹، ص.۱۶۲۱).

له پورته آیت څخه نه یوازې د تولد شوو ماشومانو د وژلو حرمت ښکاري؛ بلکې د سقط جنین حراموالی هم ترینه ښکاره کېږي.

همدا راز الله (جل جلاله) فرمايي: (وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا. يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا. إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا). (سورت الفرقان: آیت ۶۸) ژباړه: او دا هغه خلک دي، چې له الله تعالی سره بل څوک معبود نه بولي او د کوم نفس وژل چې الله تعالی حرام کړي دي، هغه نه وژني؛ مګر په حقه او هغوی زنا نه کوي او څوک چې داسې وکړي؛ نو د ګناه سزا به بیامومي، د قیامت په ورځ به د هغه عذاب زیاتېږي او هغه به په کې همېشه خوار ذلیله پروت وي؛ مګر څوک

چې توبه وباسي او ایمان راوړي او د نیکۍ کارونه کوي؛ نو داسې خلکو ته به الله تعالی د بدۍ پرځای نیکي ورکړي او الله تعالی ښبونکی او مهربانه دی (حسن، ۱۳۸۹، ص. ۶۸ـ ۷۰)

همدارنگه په سورت تکویرکې الله تعالی داسې فرمایي: (وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ).(سورت التکویر: آیت ۸) ژباړه: او کله چې د ژوندۍ ښخې شوې جنکۍ څخه پوښتنه وشي، چې په کومې گناه وژل شوې ده.

الله (جل جلاله) به د قیامت په ورځ له ټولو نه وړاندې د قتل فیصله کوي، همدارنگه تر شرک وروسته له قتل څخه بله لویه گناه نشته (د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله، ۱۴۱۴، ج ۱، ص. ۱۶۵۲).

ځینې هغه کسان چې په جنگونوکې د مسلمانانو په وړاندې جنگیږي، نه یوازې دا چې وروسته له راتگ څخه په افتخار وایي: (ما دوه یا درې کسه د مقابل لوري ووژل ...)؛ بلکې هغوی نورو هغو خلکو ته بد او رد وایي، چې د مسلمانانو پر وړاندې جنگ نه کوي، همداراز هغوی ته ضعیفان اوکم جرأته خلک وایي، د مسلمانانو وژلو ته مېړانه وایي (السید، ۱۳۷۴، ص. ۴۲).

ابو داود او ضیاء په المختار کې له عبادة بن صامت څخه روایت کړی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي: (من قتل مؤمناً غتبط بقتله لم یقبل الله منه صرفاً ولا عدلاً). ژباړه: څوک چې یو مسلمان ووژني او د هغه په وژلو خوشحاله شي، الله (جل جلاله) د هغه نفلي او فرضي عبادتونه نه قبلوي (سید، ۱۳۷۴، ص. ۱۰).

همدارنگه په صحیحینو (مسلم او بخاري) کې راغلي: (ما من نفس یقتل نفساً ظلماً الا کان علی ابن ادم الاول کفل منها لانه اول من سن القتل). ژباړه: هرڅوک چې یو کس په ظلم سره ووژني، دگناهونو څه برخه یې د آدم (علیه السلام) لومړني زوی (قابیل) ته رسیږي، ځکه چې هغه لومړنی کس دی، چې د قتل بنسټ یې کېښود (سید، ۱۳۷۴، ص. ۴۳).

ترمذي په صحیح حدیث کې له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کړی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: (لو ان اهل السماء والارض اشترکوا في دم مؤمن لکبهم الله عزوجل فی النار). ژباړه: که چېرې د آسمان او ځمکې ټول موجودات د یو مسلمان د وینې په تویولو کې گډون وکړي، الله (جل جلاله) هغوی ټول په جهنم کې اچوي (سید، ۱۳۷۴، ص. ۴۱).

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: زه د الله (جل جلاله) د استازي په توگه شاهدي ورکوم، چې د هغه مسلمان انسان وینه تویول چې د خدای (جل جلاله) په وحدانیت ایمان لري، روا نه

ده؛ مګر په دريو (۳) مواردو کې، چې هغه دا دي: هغه زناکاره انسان چې واده يې کړی وي، د قاتل قصاص او هغه څوک چې دين او د مسلمانانو جماعت پرېږدي.

همدارنګه حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: له اوو (۷) ورک کوونکو ګناهونو څخه ډډه وکړئ، چې له هغو څخه يو د انسان ناحقه وژل دي (شريفی، ۱۳۸۸، ص.۴۷۱).

ابن الاحمر په خپل مسند کې د نبي کريم (صلی الله علیه وسلم) ارشاد داسې نقل کړی دی: (د الله (جل جلاله) په وړاندې د ټولې دنيا هلاکېدل د قتل نه سپک دي (شلتوت، ۱۳۸۲، ص.۴).

امام بيهقي له ابن عمر (رضي الله عنه) څخه روايت کوي، چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د مسلمان د قتل د حراموالي په اړه داسې ويلي: (**من عان على دم امرى ومسلم بشطر كلمة كتب بين عينيه يوم القيامة: آيس من رحمة الله**). ژباړه: که چا د مؤمن په قتل کې د نيمې کلمې معاونت هم وکړ، نو د الله (جل جلاله) په حضور کې به د قيامت په ورځ داسې حاضرېږي، چې د هغه د سترګو په منځ کې به ليکلي وي: (آيس من رحمة الله)، يعنې د الله (جل جلاله) له رحمت نه نا اميده (علمي، ۱۳۹۸، ص.۱۹۵).

حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د هغه سوال په ځواب کې چې کومه ګناه له نورو ګناهونو څخه درنه ده؟ داسې وويل: دا چې له هغه څښتن تعالی سره شريک پيدا کړي، چې ته يې پيداکړی يې، وويل شول: بيا کومه ګناه؟ ويې فرمايل: دا چې خپل ماشوم د فقر له ډاره ووژنې، بيا وپوښتل شو: چې بله کومه ګناه؟ ويې فرمايل: دا چې د خپل ګاونډي له ښځې سره زنا وکړې (تايت، ۱۳۸۸، ص.۲۸).

په کتاب خطابه کې د حضرت سفيان بن عينيه نه منقول دي، چې نيمه کلمه دا ده، چې ووايې: (اق اى اقتل). ژباړه: ووهه ... او ووژنه. په خطابه کتاب کې د نبي کريم (صلی الله علیه وسلم) ارشاد رانقل دی: مؤمن همېشه د نېکو اعمالو ترسره کوونکی او ملا يې سپکه وي، څو پورې چې د ناحقه قتل مرتکب نه شي، کله چې د ناحقه قتل مرتکب شي؛ نو د هغه ملا درنده شي. علامه خطابي فرمايي: چې د (بلح) مطلب درنېدل دي. امام مالک (رحمة الله عليه) فرمايي: څوک چې د الله (جل جلاله) حضور کې په داسې حال کې حاضر شي، چې د مسلمان په قتل کې نه وي شريک شوی، نو د هغه ملا به سپکه وي. د خطابي نه علاوه بل کتاب کې داسې راغلي، چې نبي کريم (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي: کوم کس چې د قيامت په ورځ په داسې حالت کې حاضر شي، چې شرک يې نه وي کړی او د يو مسلمان ناحقه وژنه يې نه وي کړې، نو د هغه دا حق دی، چې الله (جل جلاله) هغه وبښي (شلتوت، ۱۳۸۲، ص.۵).

امام بخاري (رحمة الله عليه) د نبي کريم (صلی الله علیه وسلم) فرمان نقلوي، چې مؤمن مسلسل په نيکو اعمالوکې ډوب وي، څو پورې چې ناحقه قتل ونه کړي(شلتوت، ۱۳۸۲، ص.۴).

همداراز حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي: هرکله چې دوه مسلمانان په توره د يو بل په قتل پسې شي، قاتل او مقتول دواړه جهنميان دي، وويل شول، چې يا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! د قاتل په جهنمي کېدو کې کوم شک نشته؛ مگر د مقتول گناه څه ده؟ هغه (صلی الله علیه وسلم) وويل: هغه (مقتول) هم د خپل حريف د قتلولو حرص نيولی و. همداراز په بل حديث کې له حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه داسې روايت شوی: له ما څخه وروسته کفر ته مه گرځئ، ترڅو ځينې د ځينو نورو سر پرې کړي. په بل حديث کې ابن بريده له خپل پلار څخه روايت کوي، چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: د يو مؤمن وژل د لوی څښتن تعالی په وړاندې د ټولې دنيا له نابودۍ څخه زيات دي. عقبه بن مالک له حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه روايت کوي، چې هغه (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: الله (جل جلاله) د مؤمن د قاتل له بخښلو څخه ډډه کوي او دا جمله يې درې (۳) ځلې په تکراري ډول وويله (تايب، ۱۳۸۸، ص.۲۹).

له حضرت عمر (رضی الله عنه) څخه روايت شوی، چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي: هر څوک چې معاهد (تړون کوونکی) ووژني، د جنت بوی د هغه دماغ ته نه رسېږي، حال دا چې د جنت بوی د څلوېښتو کلونو فاصلې سره هم دماغ ته رسېږي. حضرت ابوهريره (رضي الله عنه) وايي: حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمايل: خبر اوسئ! هر څوک چې يو معاهد (تړون کوونکی) چې د خداي (جل جلاله) او د هغه د پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) په پناه کې دی، په قتل ورسوي، د الله (جل جلاله) تړون سره يې خيانت کړی دی، حتی تر دې چې د جنت بوی د هغه دماغ ته نه رسېږي، حال دا چې د جنت بوی د څلوېښتو کلونو په واټن هم دماغو ته رسېږي. معاويه (رضی الله عنه) وايي، له حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه مې واورېدل، چې ويې فرمايل: ممکنه ده، چې الله (جل جلاله) هره گناه وبخښي؛ مگر يوازې هغه کس چې د کفر په حالت کې مړ شوی وي او هغه څوک چې مسلمان يې په قصدي توگه وژلی وي. نه بخښل کېږي(تايب، ۱۳۸۸، ص.۳۰).

له دې هم ډېر بد هغه څوک دی، چې په يوازېتوب سره يو مسلمان ته ضرر نه شي رسولای؛ خو د هغه د وژلو لپاره يو بل کس ساتي، ترڅو د هغه په واسطه هغه مسلمان له منځه يوسي او يا دا چې د مسلمانانو په يوې ډلې داسې شاهدي ورکړي، چې د هغه د دروغو شهادت ورکولو په نتيجه کې هغه ټول بېگناه په دار وځړول شي (تايب، ۱۳۸۸، ص.۳۰).

ژوند د هـر چا حق دی، نو يو انسان ته نه ده پکار، ترڅو د خپل ژوند د ژغورلو لپاره بل بېگناه انسان له منځه يوسي. په دې اړه دا فقهي قاعده هم د تطبيق وړ ده: الاضطرار لايبطل حق الغير (اضطرار او مجبوريت د بل چا حق نه شي تلف کولای) (عزام، ۱۳۷۵، ص.۱۲۰).

**دریېیم مطلب: د قتل ډولونه**

حنفي فقهاؤو د قتل جرم (ناجایز قتل) په پنځو ډولونو وېشلی دی: عمد، شبه عمد، خطاء، د خطا جاري مجري او په سبب سره قتل، چې د هر یوه پېژندنې نه صرف نظر کوو، یوازې او یوازې په دې ځای کې ترې نه یادونه کفایت کوي (ذهبي،۱۳۷۹، ص. ۳۴).

**دویم مبحث: د عدلي طب پېژندنه**

څرنگه چې قتل د مختلفو عواملو له کبله واقع کېږي، نو پکار ده، چې د قتل د عواملو د پلټونکې او څېړونکې مرجع عدلي طب په اړه معلومات وړاندې شي. د عدلي طب له لوري دا معلومات پلټل کېږي، قتل د کومو عواملو له کبله واقع شوی؟ د قتل د جرم فاعل څوک دی؟ او د جرم لامل څه دی؟ دا هغه موضوعات دي، چې باید پرې پوه شو.

**لومړی مطلب: د عدلي طب تعریف**

عدلي طب له هغه علم څخه عبارت دی، چې د طب علم د جنایي او حقوقي مسایلو او د بشر د مدني او اجتماعي حالاتو د ستونزو د حل لەپاره استعمالوي. یا په بل عبارت عدلي طب د ټولنې د حقوقي، اجتماعي او قضایي کارونو لەپاره کارول کېږي. د دغو مشکلاتو حل له دې څخه عبارت دی، که چېرې په هغو مسایلو کې کومه صدمه یا جسمي او روحي نقصان موجود وي، نو د دغو مسایلو د حل لەپاره عدلي طب ته ضرورت پېښېږي (الله یار، ۱۳۸٦،ص.۳).

**دویم مطلب: د عدلي طب اهمیت**

عدلي طب یوازینی مستقله شعبه ده، چې د دې منظور لەپاره ایجاد شوې، ترڅو په ټولنه کې د جرایمو کچه راټیټه شي او مجرم ته سزا ورکړل شی. د عدلي طب د علم په واسطه کولای شو، د قتل لامل، اسباب، وسایل، او داسې نور جرمي شیان معلوم کړو. د عدلي طب د ډاکټر وظیفه د مختلفو جزایي مسایلو له روښانولو څخه عبارت ده، په هغه صورت کې چې اسناد، جسمي او طبي شواهد موجود وي او د تجزیې او تحلیل قابل وي (الله یار،۱۳۸٦ ،ص.۳).

**دریېیم مطلب: د عدلي طب تاریخچه**

د عدلي طب د گراف لوړوالی او ارتفاع په نړۍ کې یو اوږد سیر لري. عدلي طب په خپل اوږد عمر کې ډېر تحولات گاللي، د هر وخت او زمان د غوښتنو او اجتماعي پرمختگونو پر اساس یې د طبي، حقوقي او اجتماعي مسایلو په حل او فصل کې ونډه اخیستې ده. له میلاد څخه (3000-4000) کاله مخکې هغه لومړنۍ لیکنې چې په لاس راغلي دي، په هغو کې د حقوقو او طب اړیکه ښودل شوې ده. (2500) کاله

مخکې له میلاد څخه له ځینې اثارو او لیکنو څخه معلومېږي، چې د عدلي طب په باره کې ځینې مقررات موجود دي.

په (۱۹۰۲م) کال چې د فرانسویانو له خوا ځینې کیندنې اجرا شوې دي، د ډبرې یوه لوحه ورته په لاس ورغلې ده، چې اوس هم د (Louves) په موزیم کې موجوده ده. د دې لوحې په یوې خوا کې د پاچا عکس دی، په بل اړخ کې یې د هیمورابي د زماني قانون موجود دی. (۳۵۵-۴۶۰) کلونه مخکې له میلاد څخه د طب پلار هیموکرات د زخمونو د وضاحت، د ناڅاپي قتلونو، د طبابت د اخلاقو، تسمم، د جنین د سقط او داسې نورو په باره کې یا داښتونه خپاره کړي وو. په ۴۴ ق.م کال کې د روم قیصر (Juluis) په قتل ورسېد، د هغه جسد یې محکمې ته واستوه او له طبیب څخه یې غوښتنه وکړه، ترڅو د خلکو په عام محضر کې د نوموړي جسد معاینه کړي. د ۲۳-۷۹ میلادي کلونو په منځ کې یو مؤلف چې Elder نومېده، د اول ځل لهپاره د جنین د تشکل او د ناڅاپي قتلونو او ځان وژنې په باره کې مضمونونه ولیکل. په فرانسه کې د عدلي طب ارتقا او پرمختګ له یوولسم قرن څخه راپېلخوا شروع شوی. په جرمني کې په ۱۵۰۷ کال یو مکمل قانون منځته راغی، چې په دې قانون کې د عدلی طب حقوق روښانه او معلوم وو (عالمي،۱۳۹۸، ص.۵).

**دریم مبحث: د قتل په پېژندنه کې د عدلي طب رول**

د دې لهپاره چې په موضوع باندې پوه شو، لازمه مو وګڼله، چې په لاندې عنوانونو باندې بحث وکړو.

**لومړی مطلب: قتل(Death) د عدلي طب له نظره**

قتل د ژوند د پرمختګ او فزیکي فعالیتونو له مخې په مختلفو عبارتونو تعریفېږي، چې هر تعریف په خپل ذات کې مهم دی.

۱. د قلب درېدنه د مرګ په نامه یادېږي.
۲. د قلب، نفس، حسیت او تحریک توقف د مرګ په نامه یادېږي.
۳. له جسم څخه د روح جلا کېدو ته مرګ وایي.
۴. په ټولو حجراتو کې مرګ دفعتاً منځته نه راځي؛ بلکې په تدریجي ډول منځته راځي او په لومړۍ مرحله کې له حیاتي مرکزونو څخه شروع کېږي، بیا د عضویت نورو برخو ته رسېږي او له یوې حجرې څخه بلې حجرې ته ځي.

**Dr. Bernard** د زړه له عملیاتو څخه وروسته قتل په لاندې ډول تعریف کړ: مرګ د درې سیستمونو (دوراني، تنفسي او عصبي سیستمونو) له دوامداره او عادي توقف څخه عبارت دی.

**دویم مطلب: د قتل مرحلې**

قتل مختلفې مرحلې لري، د ښه وضاحت په موخه یې هره مرحله په جلا جلا عنوانونو کې تر شننې لاندې نیسو.

**لومړی : د کلینیکي قتل مرحله (Somatic Death)**

دغه مرحله د زړه او تنفسي سیستمونو له دریدنې پیل او تقریباً (5-4) دقیقې دوام کوي، که چېرې جدي اهتمامات ونه نیول شي، نو (Brain death) (دماغي قتل) منځته راځي، چې بلاخره په بیولوژیکي قتل چې د(Indecular Death) په نامه هم یادیږي، ختمیږي. دا مرحله د ( Systemic ) قتل په نامه هم یادیږي. دې پړاو کې د وجود د مهمو سیستمونو فعالیت لکه دوراني سیستم، تنفسي سیستم، حسیت او تحریکیت توقف کوي او له منځه ځي؛ خو ځینې اعضاء د لنډې مودې لهپاره فعالیت ساتي. ځینې نور حالات دي، چې قتل تمثیل کوي او وروسته له تداوۍ دوراني، تنفسي او عصبي سیستمونه بیا په فعالیت پیل کوي، چې دې ته کاذب قتل (Pseudo Death) وایي، لکه الکول په (Acute Alcoholic intoxication) حالت کې (hysteric) (بې سده) حالت، چې په دې حالاتو کې تنفسي، دوراني او عصبي سیستمونه خپل فعالیت له لاسه ورکوي او که چېرې ژر تر ژره تر تداوۍ لاندې ونیول شي، د مرگ په حال کې شخص بېرته خپل نورمال ژوند ته ادامه ورکوي (الله یار، ۱۳۸۶، ص.۱۸).

**دویم: بیولوژیکي قتل (Molecular Death)**

دا قتل د (Cell death) په نوم یادیږي، دا له هغې مرحلې څخه عبارت ده، چې ټول حجرات د اکسیجن د نه رسېدو له کبله تخریبیږي او په عضویت کې د ژوند لهپاره هېڅ فعالیت موجود نه وي. حقیقي مرگ د وجود په ټولو حجراتو کې یوځای منځته راځي، یعنې ټول حجرات یوځایي نه مړه کیږي؛ بلکې په تدریج سره له حساسو حجراتو څخه شروع کیږي، چې په هغو کې د وینې او اکسیجن کموالی راپیدا کیږي او په ترتیب سره مقاومو حجرو ته رسیږي(الله یار، ۱۳۸۶، ص.۱۷).

**دریيم: د قتل علایم**

دا چې قتل مختلف علایم لري، نو د ښه وضاحت په موخه هر ډول نښې په جلا جلا عنوانونو کې تر څېړنې لاندې نیسو.

**الف ـ د مرگ یقیني نښې confirmed sign**

۱) **Heart Activity in ECG (negative)** (د زړه فعالیت د زړه گراف کې)

۲) **Brain Activity in ECG (negative)** (د دماغ فعالیت په دماغي گراف کې)

۳) **Lucidity mortis** (د مړي لکې رامنځته کېدل)

۴) rigor mortis (د مړي شخوالی رامنځته کیدل).

۵) Algor mortis ( coldness of the body and internal temp) (د بدن د خپل حرارت تکمیلېدل).

٦) (Dryness mortis) (د جسد وچوالی)

۷) Petrification (Decomposition) (په جسد کې د تفسخ رامنځته کېدل) (ورستیدل)

**ب ـ د مرگ غیریقیني نښې (non confirmed sign)**

۱) No **pulse** (نبض نه حس کېږي)

۲) **No heart rate** (د زړه ضربان ستاتسکوپ سره نه اورېدل کېږي)

۳) **No respiration even by statoscope** (د تنفس نشتوالی)

۴) **Pupile dilate** (د سترگو د حدقې توسع)

۵) **Muscle relaxation** (د عضلاتو رخاوت یعنې سستوالی)

٦) **Pale skin** (په پوستکي کې خسافت)

۷) **Eyes to one side** (د سترگو درېدل یو اړخ ته)

۸) **No sensation and motion** (د حسیت او تحریکیت نه موجودیت)

**څلورم مبحث: د عدلي طب له نظره د قتل تصنیف**

په عمومي صورت کې قتل په دوه کټگوریو وېشل شوی دی

**لومړی: ډول**

**دویم: جنس**

**لومړی مطلب: د قتل ډولونه**

ټول قتلونه د اسبابو د مشخصاتو له نظره په دوه ډوله دي.

**لومړی: غیرجبري مړینه**

چې فزیالوژیکه یا پتالوژیکه منشاء ولري.

**دویم: جبري مړینه**

د خارجي عواملو تر تاثیر لاندې رامنځته کېږي، چې د رامنځته کېدو عوامل یې یو له بله متفاوت وي.

**دویم مطلب: د قتل جنس**

ټول جبري قتلونه د رامنځته کېدو له نظره په درې جنسونو وېشل شوي دي.

**لومړی: قتل Homicide (وژل)**

چې په قصدي توګه د یو شخص (قاتل) له لوري بل شخص (مقتول) وژل کېږي.

**دویم: Suicide (ځان وژنه)**

په قصدي توګه د یو شخص له خوا په خپل ځان رامنځته کېږي (یعنې د خپل نفس وژل دي).

**درېیم: Accident (تصادف)**

په تصادفي ډول رامنځته کېږي(الله یار، ۱۳۸٦، ص.۱۲).

**پنځم مبحث: تر قتل وروسته د جسد تغیرات (Death modification after death)**

د یو شخص د مړینې تصدیقول د مړینې د هغو علایمو او تغیراتو په واسطه کېږي، چې مخکې مو ورڅخه یادونه وکړه او دغه تغیرات په درې ګروپونو وېشل شوي.

الف ـ د قتل ناڅاپي تغیرات

ب ـ د قتل لومړني تغیرات

ج ـ د قتل وروستني تغیرات

چې په لاندې ډول هر یو تشریح کوو

**الف: د جسد ناڅاپي او ژر بدلونونه Death recent changes**

د قلبي وعایي، تنفسي او عصبي سیستمونو له منځه تلل، چې د ځینو طبي ټستونو او مانورو په واسطه تشبېږي.

**ب: د جسد لومړني بدلونونه Primary changes**

د جسد له سپرېدو، د مړینې لکو، د جسد شخوالي، د جسدو د وچوالي او د(**Autdysis**) څخه عبارت دي.

**ج: د جسد وروستي بدلونونه (Late Modification of the body )**

د جسد له تخریبي پروسو او همدارنګه د جسد د ساتنې او تحفظي پروسو څخه عبارت دي.

لومړی مطلب: د جسد ناڅاپي او ژر بدلونونه (**Death recent changes**)

د وینې د دوران، تنفس، دماغي او عصبي سیستمونو د فعالیتونو له تام او دایمي توقف څخه عبارت دي (عزام، ۱۳۷۵، ص.۷).

**لومړی: د وینې د دوران توقف**

کله چې قتل صورت نیسي، د زړه حرکات درېږي او په نتیجه کې د وینې دوران توقف کوي، د زړه د درېدلو او د دوران

**پر توقف د پوهېدلو لهپاره لاندې معاینات موجود دي.**

**۱:** cafillary filling test (**پر نوکانو باندې فشار راوړل**).

که د وینې دوران موجود نه وي، هېڅ تغیر په کې نه لیدل کېږي؛ اما که دوران موجود وي، د نوکانو رنګ د فشار په واسطه سپین معلومېږي او کوم وخت چې فشار لرې شي، نو د نوک قاعده ګلابي رنګ غوره کوي.

**۲: د جګ حرارت تطبیق په پوستکي باندې**

که جوش اوبه پر پوستکي وشیندل شي، که چېرې دوران موجود وي، د پیدا شوې تڼاکې شاوخوا سوروالی پیدا کېږي او که چېرې جریان شتون ونه لري، بیا دا سوروالی نه پیدا کېږي.

**۳: د نبض حس کول**

د (**femoral**) (فخذي)، ثباتي (**carotid**)، کغبری (**Radial ) Cubital, Popliteal** ) شریانونو نبضان نه حس کېږي، په هغه صورت کې چې جریان موجود نه وي.

**دویم: د تنفسي سیستم د توقف تشخیص**

**د دې لهپاره چې پوه شو، ایا تنفس موجود دی او که څنګه؟ لاندې ټسټونه اجرا کېږي.**

۱. د هېندارې ټسټ (mirror test): یوه پاکه هېنداره یا ښیښه د مشکوک د جسد خولې یا پزې ته نژدې د یوې دقیقې لهپاره نیول کېږي، که تنفس موجود وي، د ښیښې یا هېندارې سطحه مکدره کېږي.

۲. د بڼکې ټسټ: یوه پسته بڼکه او یا نرم نری تار د مشکوک جسد خولې یا پزې ته نژدې نیول کېږي، که تنفس موجود وي، پسته بڼکه او یا نرم تار حرکت کوي.

۳. Winslow test: یو سپک لوښی دې چې له پاکو اوبو څخه ډک وي، د جسد په صدر باندې کېښودل شي او یوه وړانګه چې انعکاس یې په دېوال او یا چت ښکاره شي، پر اوبو واردوو او پر دېوال باندې د انعکاس نور کتل کېږي، که نوموړی نور ورپېږي او یا وخوځېږي، نو تنفس موجود دی او که تنفس موجود نه وي، نو منعکسه نور ځای په ځای ولاړ وي.

**دریم: د دماغي فعالیتونو توقف**

تر مړینې وروسته دماغي فعالیتونه توقف کوي، حسیت او تحریک له منځه ځي او مړی د مختلفو میخانیکي او غیر میخانیکي کنجهاتو په مقابل کې ځواب نه وایي. نو د دې لهپاره چې د عدلي طب ډاکټر په دماغي فعالیتونو په ښکاره ډول پوه شي، لاندې ټستونه باید اجرا شي.

۱. د سترګو د قرینې ټسټ (Corneal test)

که یو شی له قرینې سره په تماس کې کړو او حسیت موجود وي، اجعان سره ټولېږي، که عصبي سیستم فلج وي، حسیت موجود نه وي، دا عکس العمل نه لیدل کېږي.

۲. د وخذې ټسټ (Stimulation test) (تنبیه کول، چوخول)

که د یوه څوکه لرونکي فلز په واسطه د مشکوک جسد په حساسه عضوه لکه مخ یا تناسلي ناحیه کې وخذه اجرا یا چوخ کړل شي، که ژوندی وي او د عصبي سیستم فعالیت نورمال وي، عضوه ټکان خوري او عکس العمل ښکاره کوي.

۳. د ماغي فعالیتونو معاینه Electroencephalography E.E.G

تر ټولو مهم ټسټ دی، چې د دې معاینې په واسطه دماغي فعالیتونه د ګراف په واسطه معلومېږي او که دماغي فعالیت موجود نه وي، ګراف یو مستقیم خط رسمېږي(شهزاد،۲۰۱۱ ، ص.۱۴۰ـ ۱۴۴).

**دویم مطلب: د مړي لومړني بدلونونه Primary death changes**

له قتل څخه دوه یا څو ساعته وروسته په جسد کې یو شمیر تغیرات منځته راځي، چې نښې او نښانې یې په لاندې ډول دي.

**لومړی: په سترګو کې (changes in eyes)**

قرینه خپله روښنایي او ځلا له لاسه ورکوي او د یوې خیرنې ښیښې په ډول ښکاري. تقریباً د ۱ نه تر ۴ ساعتونو پورې د وړانګې او دوا په مقابل کې عکس العمل له منځه ځي، د سترګو د ګاټو فشار کمېږي 15 mmhg نه 5 mmhg ته.

د سترګو په (Fundus copy) کې د (Retina) او غیر تحزیب او وینې وړې وړې پارچې او د وینې غوټې لیدل کېږي. که سترګې خلاصې پاتې وي، د وچېدو اثار یې چې د مثلثي لکو شکل لري، لیدل کېږي، چې دغه لکې د Larcher په نامه یادېږي او د غرغرې په واقعاتو کې خاص اهمیت لري، ځکه چې که شخص ژوندی راځوړند شوی وي، دغه حادثه بیا د اهمیت وړ وي (کوشان، ۱۳۹۸، ص.۱۲۸).

**دویم : عضلاتو کې**

له قتل څخه وروسته ټول عضلات خپل مقاومت له لاسه ورکوي او دغه حالت د ( primary Flaccidity) لومړني شخوالي په نامه یادېږي، حتی د مقعد او مثانې معصرې هم سستېږي، چې په نتیجه کې غایطه مواد او تشې متیازې خپله خارجېږي، له ( ۲ـ۴) ساعتونو وروسته په ټولو عضلاتو کې شخوالی منځته راځي، چې په اول پړاو کې له مخ څخه شروع کېږي او په ترتیب سره د ټول وجود عضلاتو شخوالی منځته راځي.

**درېیم : د پوستکي تغیرات**

له قتل څخه وروسته له محیط څخه وینه د جسد مرکزي برخې ته درېناژ کېږي، نو پوستکی خاسف او سپین ښکاري.

**څلورم : د مړی وچوالی**

د دې وچوالي علت د وجود له سطحې څخه د رطوبت تبخیرېدل دي، چې په لومړي پړاو کې د وجود د هغې برخې رطوبت چې د ژوند په دوره کې لمده او مرطوبه وي، تر قتل وروسته وچېږي، لکه شونډې، ژبه، د پزې څوکه، قرینه او منظمه او باندني تناسلي غړي.

**پنځم: د جسد سړېدل (Algor mortis)**

په 1850م کال د (Dawlor) له خوا د لومړي ځل لپاره دا مطالعه ترسره شوه او واضحه یې کړه، چې تر قتل وروسته بدن ورو ورو خپل سطحي او بیا دنننی حرارت له لاسه ورکوي، یعنې د بیولوژیکي قتل تر رامنځته کېدو وروسته د حرارت جوړولو سیستم فعالیت له منځه ځي او د وجود حرارت ښکته کېږي، له بلې خوا د محیط د حرارت درجه هم ورسره ملګرې کېږي او په دې ترتیب جسد خپل حرارت له لاسه ورکوي، چې په دې ترتیب لاسونه له یوه ساعت څخه وروسته، مخ له ۳ ساعتونو او د بدن داخلي برخې له (۲۰) ساعتونو وروسته په سریع او بطي شکل په سړېدو پیل کوي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کېږي.

۱ـ که قتل د انتاني ناروغیو له کبله منځته راغلی وي، جسد خپل حرارت په ځنډ سره له لاسه ورکوي او که د قتل په وخت کې د شخص د حرارت درجه ښکته وي، جسد خپل حرارت ژر له لاسه ورکوي.

۲ـ لباس او د مړي پټول: که شخص تر قتل مخکې پنډ لباس او داسې نور شیان اغوستي وي او یا له قتله وروسته د کوم شي په واسطه پټ شوی وي، په ځنډ سره خپل حرارت له لاسه ورکوي؛ برعکس لوڅ جسدونه خپل حرارت ژر له لاسه ورکوي.

۳ـ هغه محیط چې مړی پکې پروت وي: مړی په ګرم محیط او ګرمه هوا کې ورو ورو او په ځنډ سره خپل حرارت له لاسه ورکوي؛ برعکس په سوړ محیط او یخ موسم کې حرارت ژر له لاسه ورکوي، همدارنګه په روانو اوبو کې نظر ولاړو اوبو ته جسد ژر سړېږي.

۴ـ د چاغو اشخاصو جسدونه په ځنډ او د ډنګرو اشحاصو جسدونه ژر سړېږي، د عدلي طب له مخې د جسد سړېدل دوه اهمیته لري.

( ۱ ) د سړېدو په واسطه په تفریبي ډول د قتل وخت تخمینېږي.

( ۲ ) د قتل له یقیني نښو څخه ده.

د سړېدو په واسطه په تقریبي ډول د مرګ وخت تعینولای شو، چې فورمول یې دا دی:

$98{,}4\text{-}T^{(f)}/1\text{-}5=$ له قتل څخه وروسته د ساعتونو شمېر

T= د حرارت درجه (فارنهایت)، چې له جسد څخه لاسته راځي: $\frac{98{,}4-t(f)}{1{,}5}$ (عالمي، ۱۳۹۸، ص.۲۲ـ ۲۴).

1,5 هغه ثابت عدد دی، چې په اوسط ډول په هر ساعت کې د حرارت درجه ضایع کېږي. Late ) Modification of the body)

**شپږم: Autolysis (د انساجو او حجراتو تخریب او لایزکېدل)**

دا عمل د یو تعداد پروټولایټیکو انزایمونو تر تاثیر لاندې صورت نیسي، چې له قتل څخه وروسته د عضویت دفاعي میکانیزمونه له منځه ځي او دغه  انزایمونه ازادېږي، د حجرې په ساختمان باندې هایډرولایټیک تاثیر اچوي، چې لومړی هسته او وروسته سایټوپلازم تخریبوي. د (Autolysis) شدت د انزایمونو په مقدار پورې اړه لري (Late Modification of the body) (شلتوب، ۱۳۸۲، ص.۲ـ ۳).

**درېیم مطلب: د قتل وروستي بدلونونه**

له قتل څخه وروسته له (۲۴-۴۸) ساعتونو پورې په جسد کې یو نوعه تخریبات او بدلونونه منځته راځي او دا تخریبات میاشتې یا کلونه په بر کې نیسي، ترڅو چې جسد بېخي له منځه لاړ شي. دا تخریبات په دوه ډوله دي:

۱ـ تفسخ (Petrification or ( Decomposition

۲ـ د جسد غیرعادي تحولات.

**لومړی: تفسخ (خوسا کېدلل یا ورستېدل) (Petrification)**

له قتل څخه وروسته د عضویت د انزایمونو او باکتریاوو د فعالیت له کبله د جسد په کیمیاوي او فزیکي ماهیت کې بدلونونه منځته راځي، چې د تفسخ په نوم یادېږي او جسد نرم او lyse کېږي. تفسخ معمولاً له ۲۴ یا ۴۸ ساعتونو څخه وروسته په نورمال حالت کې د (c ° ۴۰-۳۰) حرارت د رطوبت او کافي اندازې هوا تر تاثیر لاندې شروع کېږي. مختلف عوامل د تفسخ سرعت او رامنځته کېدل سریع یا بطي کوي، لاندې عوامل د تفسخ عملیه سریع کوي.

۱ ـ هغه اشخاص چې د انتاني امراضو له کبله مړه شوي وي.

۲ ـ په اوړي کې نظر ژمي ته تفسخ ژر رامنځته کېږي.

۳ ـ هغه مړي چې په نمناکو او مرطوبو برخو کې پراته وي.

۴ ـ ناپاکه اوبو کې ژر او پاکو اوبو کې په ځنډ تفسخ صورت نیسي.

۵ ـ که له اوبو څخه وېستل شوی وي، یا دا چې په تازه هوا کې پروت وي، ژر تفسخ کوي.

د طب عالمان داسې وایي: هغه مړي چې په ازاده هوا کې پراته وي، نظر هغو مړو ته چې په اوبو کې وي او هغه مړي چې په اوبو کې وي، نظر هغو مړو ته چې دفن شوي وي، ژر تفسخ کوي. د (Casper) په نامه یو عالم یوه فریضه چې د ده په نامه (Casper Dictum) یادېږي، وړاندې کړې او داسې یې وویل: که د یو متوسط شخص جسد یوه هفته ازاده هوا کې او یا دوه هفتې په اوبو کې او یا دوه میاشتې په ځمکه کې دفن شي، په دې درې حالاتو کې په عین درجه تفسخ وړاندې ځي(شریفی، ۱۳۸۸، ص.۲۳).

**دویم: په جسد کې غیرعادي تغیرات**

ځینې وخت جسد په کلاسیک ډول تفسخ نه کوي؛ بلکي ځینې داسې تغیرات پکې لیدل کېږي، چې له تصبن (Adipocar)یا صابوني کېدو او بل له (Mummification) یا موماییي کېدو څخه عبارت دي.

**الف: تصبن Saponification د جسد صابوني کېدل**

د جسد د پوستکي د پاسه ځینې سپین زېړ رنګه مواد چې د ګریسو یا واسلین په شان دي او د هوړې په شان توند بوی لري، کیمیاوي ساختمان یې شحمي اسیدونه دي، راپیدا کېږي.

کوم شرایط چې د (Saponification) له تشکل سره مرسته کوي، هغه دا دي:

۱ـ په تحت الجلد کې د شحمي منبع کافي مقدار، ۲ـ د مړي شاوخوا کې د رطوبت او لمده بل زیاتوالی، ۳ـ د ټیټ حرارت او هوا جریان کموالی.

د عدلی طب له نظره یې اهمیت: ۱ـ د هویت د تثبیت لهپاره، ۲ـ د صدماتو د تثبیت لهپاره، ۳ـ د مړینې د احتمالي علت د وخت تعین، ۴ـ د جسد د ساتلو پروسه.

**ب: مومیایي کېدل (وچوالی)( Mummification )**

د عربي له مومیا کلمې څخه اخیستل شوی دی، چې معنا یې وچوالی دی، د جسد مومیایي کېدل په طبیعي توګه هغه وخت صورت نیسي، چې مړی په داسې محیط کې شتون ولري، چې رطوبت کم او د هوا جریان په کافي اندازه وي او حرارت هم زیات وي، چې په دې ډول د جسد اوبه وچېږي (وزن یې لس چنده دی) او څرمن مانند منظره ځانته نیسي او کلکېږي. د پوستکي رنګ نور نصواري وي او مومیایي کېږي او د جسد اناتومیک ساختمان په خپل حال محفوظ پاتې کېږي. لوی سبب یې د هویت په تشخیص کې ډېره مرسته کوي او دا عملیه له ۳ میاشتو څخه تر یو کال پورې وخت نیسي(کوشان، ۱۳۹۸، ص.۱۲۳).

**شپږم مبحث: د قتل د وخت تعینول**

د عدلي طب یوه موضوع د قتل د وخت ټاکل دي، د قتل د وخت د تعینولو لپاره کولای شو، چې د قتل له وروستیو تحولاتو څخه استفاده وکړو.

**لومړی مطلب: د قتل وخت ټاکلو کې د جسد د وروستیو تحولاتو ونډه**

**لومړی: د جسد یخوالی**

۱ـ که د Axillary (تخرګ) ناحیه کې د حرارت درجه نورمال وي، (۲-۴) ساعته به پرې تېر شوي وي.

۲ـ که مړی په مکمل ډول یخ شوی وي، (۶-۸) ساعته به پرې تېر شوي وي.

۳ـ که د مړي داخلي حرارت محفوظ وي، (۲۴) ساعته به پرې تېر شوي وي.

**دویم: د قتل لکې (خاپونه)**

۱ـ د قتل د لکو رامنځته کېدل، (۲-۴) ساعته به پرې تېر شوي وي.

۲ـ د ګوتې د فشار په واسطه د لکو مکمل له منځه تلل، تقریباً تر ۱۲ ساعتونو پورې وي.

۳ـ د ګوتې د فشار په واسطه د لکو خاسف کېدل او بېرته پیداکېدل، (۱۲-۲۴) ساعتونو پورې وي.

۴ـ د ګوتې د فشار په واسطه د لکو ثابت پاتې کېدل او هیڅ تغیر نه کول، نو ۲۴ ساعته به پرې تېر شوي وي(محجور، ۱۳۹۶، ص.۴۵).

**درېیم: د مړي کلکېدنه (شخوالی)**

۱ـ د مړي د شخوالي رامنځته کېدل، (۲-۴) ساعته به پرې تېر شوي وي.

۲ـ که مړی په مکمل ډول شخ شوی وي، تقریباً (۲۴) ساعته به پرې تېر شوي وي.

۳ـ د شخوالي ثابت پاتې کیدل، تقریباً ۴۸ ساعتو پورې.

۴ـ د شخوالي له منځه تلل، د درېیمې ورځې له پیل څخه.

**څلورم: تفسخ (Petrification)**

۱ـ د ګېډې په ښکتنی برخه کې د شین رنګه لکې پیدا کېدل د اوړي په موسم کې، (۲۴-۴۰) ساعته وروسته له مړینې څخه(محجور، ۱۳۹٦، ص.۴٦).

۲ـ د تفسخي امفزیما پیدا کېدل د اوړي په موسم کې (د مړینې په درېیمه شپه).

۳ـ د تفسخي امفزیما اعظمي کېدل (شدت) وروسته له پنځمې ورځې څخه.

۴ـ د تفسخ پولونو رامنځته کېدل، تقریباً دوه هفتې وروسته له مړینې څخه.

۵ـ د مړي نرمېدل، تقریباً څلور هفتې وروسته له قتل څخه.

٦ـ په ډېرې اسانۍ سره د سر له پوستکي څخه د وېښتانو جلا کېدل، درې هفتې وروسته له مړینې څخه.

۷ـ د پزې او نهایاتو د هډوکو لوڅوالی، تقریباً دوه کاله وروسته له مړینې څخه.

۸ ـ د ټولو هډوکو لوڅېدل ( اسکلیټ کېدل)، تقریباً درې کاله وروسته له مړینې څخه.

۹ـ د اسکلیټ د مفاصلو له منځه تلل، تقریباً پنځه کاله وروسته له مړینې څخه.

**پنځم: د مړي مومیایي کېدنه**

۱ـ د کاهلانو د مومیایي کېدو پیل، (۲-۳) میاشتې.

۲ـ د کاهلانو مکمل مومیایي کېدل، (٦-۱۲) میاشتې.

۳ـ د کوچنیانو مکمل مومیایي کېدل، (٦-۳) میاشتې.

**شپږم: د مړي صابوني کېدنه**

۱ـ د کاهلانو د صابوني کېدو پیل، (۲-۳) میاشتې.

۲ـ د کاهلانو مکمل صابوني کېدل، تقریباً وروسته له یو کال څخه.

۳ـ د کوچنیانو مکمل صابوني کېدل، ٦ میاشتې(محجور،۱۳۹٦ ، ص.۴۷).

**همدارنګه د ویبر د جدول له مخې هم کولای شو، چې د مړینې احتمالي وخت وټاکو، لکه:**

① که مړی تود، پوست او د مړینې لکې ونه لري، تقریباً (٦-۳) ساعته به پرې تیر شوي وي.

② که مړی نیمه تود، د مړینې لکې او کلکېدنه رامنځته شوې وي، په دې شرط چې لکې د ګوتې د فشار په واسطه له منځه لاړې شي، نو (٦-۱۲) ساعته به پرې تېر شوي وي.

③ که مړی سوړ شوی وي، د مړي کلکېدنه مکمله شوې وي او هم د قتل لکې د ګوتې د فشار په واسطه له منځه لاړې نه شي، د دې ترڅنګ د مړي تفسخ پیل نه وي کړی، (۲۴-۴۰) ساعتونه به پرې تیر شوي وي.

④ که د مړي کلکېدنه له منځه تللې وي، د ګېډې په ښکتنۍ برخه کې شين رنګه لکې رامنځته شوې وي، نو له (۴۰) ساعتونو زياته موده به پرې تېره شوې وي.

اوس مهال د عدلي طب په اکثرو مجهزو مراکزو کې د مړينې د وخت تعينول د لابراتواري معايناتو له مخې کېږي، په دې ډول چې د وجود د حجروي تغيراتو او انزايمونو له مخې نسبتاً په دقيق ډول د مړينې وخت تعينېږي. له دغو معايناتو څخه ځينې په لاندې ډول دي.

۱ـ مايکروسکوپيک معاينات.

۲ـ د معدې د محتوی معاينات(عزام، ۱۳۷۵، ص.۴۸).

**اووم مبحث: د جسد فزيکي معاينات**

په دې بحث کې د جسد بېروني حالات تر څېړنې لاندې نيسو.

**لومړی مطلب: د جسد خارجي معاينه**

د جسد له ظاهري منظرې څخه شروع کېږي، کېدای شي جسد د کاليو يا کفن په واسطه پوښل شوی وي، يا دا چې لوڅ وي، که د لباس په واسطه پوښل شوی وي، نو د لباس ټول خصوصيات يې لکه: تخريبات، سوځېدنه، لکې (د وينې، تشو متيازو، ډکو بولو، رنګونه، د کانګو محتوی يا خاوره او داسې نور) بايد په نظر کې ونيول شي او د لزوم په صورت کې نمونه واخيستل شي، بيا مربوطه شعباتو ته ولېږل شي. په هغه صورت کې چې جسد کالي ولري، ټول کالي يې بايد ووېستل شي (نوم، رنګ او د ټوکر جنسيت يې بايد تشريح شي).

د ټوکر او لباس اهميت يې په لاندې حالاتو کې ډېر ضروري او مهم دی.

۱ـ د تفسخي جسدونو، اسکليټ شوو جسدونو او ټوټه شوو جسدونو په پېژندنه کې او د مړي صدماتو او جروحاتو ته د پاملرنې له مخې جامې ډېرې مهمې دي.

۲ـ په ناريه جروحاتو کې چې فير له ډېر نږدې څخه شوی وي، ډېر مهم دي.

۳ـ يو تعداد بيولوژيکي مشخصات لکه جنس، قد، سن او نور د معيارونو له مخې واضح کېدلای شي او له هر څه نه مخکې دې مقعدي حرارت د ترماميتر په واسطه تعين شي، ترڅو د قتل وخت په تقريبي توګه معلوم شي. وروسته دې د جسد په سطحه کې لکې، د عضلاتو سستوالی يا شخوالی معاينه شي، د جسد بنيه وليدل شي د اتلتيک (Picnic) بنه لري. همداسې دې صدمات او د هغو خصوصيتونه، سوء تشکلات، پخوانۍ عملياتي او غيرعملياتي ندبې، (Tattoo) ، خدايي خالونه (Nevus) وکتل شي، چې موجود دي او کنه؟ او جسد دې له سر څخه د پښې تر تلې پورې په ډېر ځير معاينه شي.

**دويم مطلب: د جسد داخلي معاينه**

دا هغه وخت اجرا کېږي، چې جسد (Autopsy) شي؛ اما مخکې له (Autopsy ) څخه دې له قضايي يا جنايي مقاماتو يا د مړي له خپلوانو څخه تحريري موافقه واخيستل شي.

**لومړی: Autopsy**

د مړي د داخلي امشاوو د معاينې لهپاره د مړي له څېرې کولو څخه عبارت دی او يا هم دا يو علي تحقيق دی، چې تر بيولوژيکي مړينې وروسته د مړينې علت، وخت، د هويت تثبيت او نورو اختصاصي خصوصياتو لهپاره په مړي اجراء کيږی (حسن،۱۳۸۹ ، ص.۸۸).

**د اتوپسي (Autopsy ) شرايط:**

1. د اټوپسي مجهز اطاق او ځای.
2. د اټوپسي ټول مکمل تجهيزات.
3. د لابراتوار مسلکي کارکوونکي.
4. له مقاماتو څخه د تحريري اجازې اخيستل او د پېښې د ځای د مشاهدې کاپي بايد موجود وي او هم د اقاربو موافقه.

اټوپسي بايد له مړينې څخه ۱۲ ساعته وروسته اجرا شي، په ځينو حالاتو کې د علمي او عملي معايناتو لهپاره له ۳۲ ساعتونو مخکې هم اجرا کيدای شي؛ خو په هېڅ صورت له مړينې څخه نيم ساعت مخکې چې د مړينې يقيني علايم معلوم شوي نه وي، اټوپسي جواز نه لري.

**درېيم مطلب: لابراتواري معاينات**

دا معاينات په دوو برخو وېشل کېږي.

**لومړی: طبي معاينات**

طبي معاينات په دوو برخو وېشل کېږي.

1. پتالوژيکي معاينات (د ناروغيو د علت معلومېدو معاينات).
2. Toxicologic examination (تسممي معاينات).

**دويم: علمي غيرطبي معاينات**

علمي غيرطبي معاينات په دوو برخو وېشل کېږي.

1. د گوتو د نښو معاينات (Finger print)، د پښو د پل معاينات.
2. د هغو نښو او علايمو معاينات، چې د جسد په پوستکي کې ليدل کېږي.

③ د پڅو صناربه آلاتو نښې چې په جسد کې لیدل کیږي.
④ د هغو جروحو او تخریشاتو معاینه چې د جارحه آلاتو له کبله منځته راغلي وي.
⑤ د الیافو، تارونو او د ویښتانو معاینه چې د جسد په لاسونو یا نورو ځایونو کې په ازاد ډول موجود وي.
⑥ د لرګي پارچې، فلزي پارچې، د ښیښه‌یي او پلاستیکي پارچو معاینات.
⑦ د هغو ختو، شګو او معدني موادو معاینه چې د مړي په کالیو او جرابو کې پیدا شي.
⑧ همداسې تراش شوی رنګ چې د مړي په جسم یا کالیو کې موجود وي او د جسد په څنګ کې که کوم تحریري خط موجود وي، هر اړخیزې معاینې ته باید ولېږل شي (کوشان، ۱۳۹۸، ص.۸۹).

**پایله**

لکه څرنګه چې په لیکنه کې پرې بحث وشو، د قتل په تثبیت کې عدلي طب مهم رول لري. جرمي حادثې د فاعل د څیرکتیا له امله ډېری وخت د عدلي اورګانونو له څېړنې پرته پاتې کیږي؛ خو که چېرته دولت او کشفي منابع څیرکې او امکانات ولري، نو هېڅ جرمي حادثه نه شي کیدای، چې له کشف او څېړنې پرته پاتې شي.
عدلي طب یو له هغو وسایلو او علومو څخه دی، چې د جرمونو په کشف او په ځانګړي ډول د قتل په تثبیت کې ثابت رول لري. ډېرځلې قتل د جرم د فاعل د څیرکتیا له امله طبیعي ښودل کیږي؛ خو دا عدلي طب دی، چې له طبیعي پرنسیپ سره د جرمي قتل توپیر کوي او کله چې عدلي طب دا نظر څرګند کړي، له همدې ځایه جرم کشف او تر کشف وروسته عدلي مراجع د هغې په رسیده‌ګی پیل کوي، بیا د عدلي طب د همدې نظر په اساس یو مجرم چې په خپل عمل یې د ټولنې نظم له منځه وړی دی، د عدالت منګولو ته راکش کیږي او په نهایت کې هغه حقوقي معقوله وجیبه تطبیق کیږي، چې وایي: هېڅ مجرم باید له مجازاتو پاتې نه شي او هېڅ بېګناه شخص ته باید جزا ورنه کړل شي.
بناءً دې لیکنې موږ ته دا جوته کړه، چې د قتل په تثبیت کې د عدلي طب له وسایلو څخه ډېره استفاده کیږي او د دې وسایلو په وسیله مجرم ډېر په اسانۍ سره موندل کیږي، هېڅ مجرم بې له مجازاتو نه پاتې کیږي او هېڅ بېګناه شخص نه مجازات کیږي، چې دا خپله د عدلي طب رول روښانه کوي.

**وړاندیزونه**

د قتل په تثبيت کې د عدلي طب رول واضح شو، دا چې په بهتره ډول د جرايمو کچه راټيټه او د مجرمينو مخه ونيول شي، د دې ليکنې په پای کې لاندې وړانديزونه اړين دي.

۱ ـ په هر ولايت کې د طب عدلي آمريت ته بايد پوره امکانات او تخنيکي وسايل په واک کې ورکړل شي.

۲ ـ اړينه ده، چې د مسلکي پرسونل د ظرفيت لوړولو لهپاره پام وړ گامونه پورته شي، وخت په وخت ورته ټريننگ، ورکشاپونه، سمينارونه برابر شي.

۳ـ وخت او حالاتو سره د پرسونل د عيارساتلو لهپاره بايد لايق او پوه اشخاص د لا زياتو مسلکي زدهکړو لهپاره خارجي هيوادونو ته وليږل شي، ترڅو تر راستنېدو وروسته نور پرسونل هم په نړيوال معيار وروزي.

۴ ـ ډېره مهمه او د توجو وړ خبره دا ده، چې په دې ساحه کې بايد د هر ډول فساد مخه ونيول شي، ترڅو عدالت په ډېر ښه او موثر ډول تطبيق شي او د ولس باور هم متضرر نه شي.

۵ ـ د عامو خلکو د ذهنيت جوړولو لهپاره بايد د عامه پوهاوي په چوکاټ کې د راډيو، تلويزون او نورو ټولنيزو وسايلو له لارې داسې برنامې ترتيب شي، ترڅو د جرم تر واقع کيدو وروسته خلک د جرم د محل او په خصوصي توگه د قتل په صورت کې د مقتول له جسد څخه د اثارو او علايمو د له منځه وړلو باعث نه شي.

**مأخذونه**

القرآن

تایب، برکت الله. (کال ۱۳۸۸ هـ ش). فقهي قواعد. لکچر نوټ، د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځی. ننګرهار. افغانستان.

حسن، محمد الدین. (۱۳۸۹هـ ش). تعلیم القرآن. نشر: تاج کتابخانه. قصه خوانی. پاکستان.

د افغانستان د سترو علماؤو یوه ډله. (۱۴۱۴هـ ق). کابلی تفسیر. جلد ۱. د حرمینو شریفینو د خادم پادشاه فهد د قران کریم د طباعت له‌پاره.

ذهبي، امام شمس الدین. (۱۳۷۹ هـ ش). الکبائر یا ګناهان کبیره. نشر: خیبر خپرندویه ټولنه. کابل. افغانستان.

سید، سابق. (۱۳۷۴هـ ش). فقه السنه. ژباړه: محمد موسی. نشر: نهمت. کابل. افغانستان.

شریفی، سید مراد. (۱۳۸۸هـ ش). د کابل پوهنتون د قضأ مجله. نشر: د کابل پوهنتون. کابل. افغانستان.

شلتوت، محمود. (۱۳۸۲هـ ش). اسلام آئین زنده گي. نشر: فروشگاه مرکزی خیابان. تهران.

عالمي، احسان الله. (۱۳۹۸هـ ش). عدلي طب. نشر: مومند خپرندویه ټولنه. ننګرهار. افغانستان.

عزام، عبدالله. (۱۳۷۵هـ ش). تارشی جریمه قتل مسلمانان، ژباړه: عبدالاحد. نشر: مکتب الخدمات. بیروت.

کوشان، محمد هارون. (۱۳۹۸هـ ش). عمومیات طب عدلي. نشر: استقلال خپرندویه ټولنه. کابل. افغانستان.

الله یار، محمد ظاهر. (۱۳۸۶هـ ش). عدلي طب. ژباړه: عمران الله ظفرزی. نشر: مومند خپرندویه ټولنه. ننګرهار. افغانستان.

محجور، احمدسیار. (۱۳۹۶هـ ش). کارشناسی عدلی. نشر: مستقبل خپرندویه ټولنه. کابل. افغانستان.

Shahzad, Raja Gul. (2011).Forensic Medicine and Toxicolgy. The Friends Publisher.

# په اسلام کې د انفلاسیون کنټرول حل لارې

پوهنمل رحمت الله منگل، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي اوبانکي څانگه.
برېښنالیک: rahmatmangal86@gmail.com

**لنډیز**

ټولې هغه پالیسۍ، چې د اسلام سره په ټکر کې نه وي په اسلامي شریعت کې روا گڼل شوي؛ نو د یو با ثباته اقتصاد لرلو لپاره انفلاسیون په اقتصاد کې یوه ډېره مهمه موضوع ده. د دې څېړنې موخه همدا ده، چې انفلاسیون څه مانا او حل لار یې څه ده؟ د انفلاسیون رامنځته کېدو عوامل څه دي؟ او همدا شان انفلاسیون اقتصاد ته گټور دی یا زیان اړوونکی؟ عوامل یې څه دي؟ او حللاره یې څه ده؟ موږ دلته په دې څېړنه کې همدغه پوښتنو ته ځواب ویلی او همدې موخې ته د رسېدو لپاره مو کیفي څېړنه تر سره کړه. کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کیږي لکه، چاپي اثار، وېبسایټونه، انلاین ډېټابېسونه، د ادارو پالیسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه، تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. دغه میتود (Document analysis) ځکه کارول کېږي، چې په دې میتود کې دغه مختلف منابع وڅېړل شي؛ تر څو زموږ د اړتیا وړ مواد تر لاسه کړو. څېړونکو د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی؛ تر څو له نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. د دې څېړنې په پایله کې موږ د موخې مطابق هغه ټول لاملونه روښانه کړي، چې له امله یې انفلاسیون رامنځته کیږي او هغه اکثره لارې مو پیدا کړې، چې مختلفو اقتصاد پوهانو د انفلاسیون رامنځته کېدو او حل لارو لپاره یې را پېژندلې. دغه څېړنه کولی شي، د عامو خلکو، سوداگرو او دولتي پالیسي جوړوونکو سره مرسته وکړي، تر څو د انفلاسیون رامنځ ته کېدو عواملو باندې پوه شي، تر څو عام خلک وپوهېږي، چې انفلاسیون ولې رامنځ ته کېږي، سوداگرو او دولتي مربوطه سکتورونو سره مرسته کوي تر څو له کومو هېوادونو سره سوداگري تر سره کړي چې څو سوداگر او ملت زیانمن نه شي.

**کلیدي ټکي**: انفلاسیون، انفلاسیون ډولونه، انفلاسیون عوامل، اسلام کې یې حل لارې، ډیفلاسیون،

### سریزه

کله کله موږ فکر کوو، چې د غربیانو نظریات ټول ناسم دي؛ خو داسې نه ده، ځکه د صنعت، ټکنالوژۍ او په ټوله کې عصري علومو کې ډېری کشفیات او نوښتونه د نا مسلمو کسانو دي او اکثره اجناسو او خدماتو څخه موږ ګټه پورته کوو ځکه علماؤو روا ګڼلي. دلته په دې څېړنه کې همدې اړخ ته یوه کتنه شوې. د پولي سیاست وسایل اصلا د انفلاسیون په کنټرول کې عمده رول لوبوي او اکثره وسایل، چې اسلامي بانکي نظام کې ترې ګټه پورته کیږي په غیر اسلامي هېوادونو کې هم له همدغو پالیسیو څخه ګټه لا په خوا پورته شوې ده. د بېلګې په توګه نقده ذخایر، قانوني ذخایر او د دې تر څنګ یوه تر ټولو مهمه وسیله ، چې د دربیمې نړۍ هېوادونه زیاته ګټه ترې پورته کوي، هغه د ډالرو د لیلام له لارې د پیسو عرضې او تقاضا په بېلانس کې ساتل دي. د ډالرو لیلام او په وسیله یې د پیسو د زیاتې عرضې کنټرول څخه په افغانستان کې اوس هم ګټه پورته کیږي او یوازینۍ وسیله ده. د دې تر څنګ انفلاسیون پېژندنه د عامو خلکو، پانګه اچوونکو، خارجي پانګې او پالیسیو جوړونکو لهپاره اړینه موضوع ده، چې باید خبر وي تر څو پانګوال مالومات ولري، چې کوم ځای کې پانګونه وکړي، د خارجي پانګې د جذب له پاره ډېر زیات مهم فکتور دی او د پالیسیو جوړوونکو لهپاره ځکه مهمه ده، چې تر څو د هېواد د با ثباته اقتصاد لهپاره لازم تدابیر ونیسي او مناسبې پرېکړې تر سره کړي؛ تر څو اقتصاد د بې ثباتۍ څخه و ژغورل شي. انفلاسیون اکثره په وروسته پاتې هېوادونو کې رامنځ ته کېږي، چې اصلي علتونه یې د انفلاسیون څخه د خلکو بې خبره اوسېدل او د پالیسیو جوړوونکو سم نه پوهېدل دي. چې له دې امله نور هم زیانمن کېږي دا ستونزه باید حل شي او په دې اړه باید څېړنې تر سره شي، چې لاملونه او حل لارې ئې څه دي؛ نو موږ دلته همدې ته ځواب وایو.

### د څېړنې موخې

- انفلاسیون د اقتصادي ثبات لهپاره یو لوی خطر دی باید و پېژندل شي.
- د انفلاسیون کنټرول لهپاره د اسلامي لارو پېژندل؛ تر څو زموږ ټولنه د اسلام له معاصرو اقداماتو با خبره اوسي.

### مېتودولوژي

په دې مقاله کې د کیفي څېړنې مېتود څخه ګټه اخستل شوې او ډېټا د مختلفو انګلیسي، دري او پښتو کتابونو او همدا شان له نړیوالو معتبرو انګلیسي مقالو څخه پکې استفاده شوې او د ټاکل شویو اهدافو مطابق، چې پورته ذکر شوي ځای پرځای شوې. دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده. کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه  د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د

(document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کيږي، لکه: چاپي اثار، وېبسايټونه، انلاين ډېټابيسونه، د ادارو پاليسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه؛ تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لهپاره تيار کړي. دغه ميتود(Document analysis) ځکه کارول کيږي، چې په دې ميتود کې دغه مختلف منابع و څېړل شي، تر څو زموږ د اړتيا وړ مواد تر لاسه کړي ( Baki & Uthman, 2017, P. 250-271).

همدارنگه Abdul-Baki and Uthman (2017) and Sutrisno and Haron (2020) په نومونو څېړونکو د دې ډول څېړنو لهپاره (content analysis) ميتود استعمال کړی تر څو له نورو مخکينيو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. لکه څرنگه، چې په دې څېړنه کې موږ هم له مخکينيو څېړنو او کتابونو څخه استفاده کوو او د دې تر څنگ موږ دلته په دې څېړنه کې (document analysis) په اساس کيفي ميتود څخه گټه پورته کوو تر څو د خپلو موخو مطابق ډېټا را ټوله او په سيستماتيک ډول ئې ځای پر ځای کړو (Sutrisno & Haron, 2020, p. 1243-1250).

**انفلاسيون**

انفلاسيون هغه پروسه ده، چې په هغې کې د قيمتونو عمومي سطحه په جاري ډول لوړيږي او په هغې سره په جاري ډول پيسې خپل ارزښت د لاسه ورکوي (Nasir,2004, p. 510).

او يا د (گارډنير اکلي ) په وينا : انفلاسيون په عمومي سطحه د قيمتونو په دوامداره توگه لوړوالي څخه عبارت دی . دلته د يادولو وړ خبره دا ده، چې د عمومي سطحې نه مراد د ټولو اشياوو او خدماتو په قيمتونو کې زياتوالی نه دی کېدای شي د انفلاسيون په دوران کې هم د ځينو اجناسو په قيمتونو کې نسبي ثبات موجود وي او د څو نورو قيمتونه ښکته روان وي او انفلاسيون دا مانا هم نه لري، چې د اجناسو قيمتونه دې په منظم ډول برابر پر مخ روان وي انفلاسيون په عمومي سطحه د قيمتونو د مسلسل پورته تگ څخه عبارت دی (Simeon, 2014, p. 1-32).

کله، چې تاسې د انفلاسيون نرخ په هکله له خپلو راډيوگانو څخه اورئ، د مثال په توگه: د مياشتني انفلاسيون يو سلنه ده (په کال کې ۱۲%) دا يوازې د دې مانا ورکوي، چې د بيو کچه په هغه مياشت کې يوې سلنې ته زياتوالی موندلی دی او دا کېدای شي موقتي وي يا دايمي؛ خو که چېرې د انفلاسيون نرخ د يوې دوامداره مودې لهپاره لوړ پاتې شي په همدې توگه فريدمن وايي؛ چې د بيو په کچه کې صعودي نوسانات يوه پولي پديده ده، يوازې په هغه صورت کې، چې دا پروسه دوامداره وي، کله، چې انفلاسيون

د ګړندي او دوامداره زیاتوالي په توګه د بیو په کچه تعریف شي په دې صورت کې زیاتره پول پلوه یا کینزي پلوه اقتصاد پوهان به د فریډمن له دې نظریې سره موافق وي، چې کولی شو پیسې د انفلاسیون عامل وګڼو (شعیبي، ۱۳۹۵، ص ۱۵۲).

**ډیفلاسیون**

ډیفلاسیون په ملي اقتصاد کې یو له هغو ستونزو څخه دی، چې د توکو تولید او په بازار کې د محصولاتو او اقتصادي اموالو او پیسو د انډول سره نېغ په نېغه اړیکې لري. څومره، چې په ټولنه کې اقتصادي مناسبات، د پیسو دوران او د توکو د تولید پروسه پېچلې کیږي یا د هغو پر وړاندې بیلا بیلې پالیسی غوره کیږي، د ډیفلاسیون ستونزه منځته راځي (شینواری، ۱۳۹۲، ص ۷۴).
ډیفلاسیون د قیمت په عمومي سطحه کې یو ټیټوالی دی. ښایي یو لوستونکی په سطحي توګه فکر وکړي، چې ډیفلاسیون یوازې د انفلاسیون برعکس دی؛ داسې به ښکاري؛ خو په حقیقت کې انفلاسیون یو کاملاً بیل اقتصادي حالت او ډیفلاسیون ځانګړی حالت دی (Stephen, 2012, p. 413).

**د انفلاسیون ډولونه**

**1- تقاضا کش کوونکی انفلاسیون**

که چېرې د عرضې لوړېدل د تقاضا سره مساوي نه وي؛ نو د غه په عموم کې د قیمتونو د لوړېدو سبب ګرځي، چې دغه حالت ته تقاضا کش کوونکی انفلاسیون وایي. یا په ساده ډول دغه انفلاسیون هغه مهال رامنځته کېږي کله چې د شیانو تقاضا او خدمات د عرضې څخه لوړ شي او دا ډول انفلاسیون ته د مجموعي تقاضا انفلاسیون هم وایي. موثره تقاضا شیانو ته دلاندې فکتورونو په اساس رامنځته کېږي. د پیسو په عرضه کې زیاتوالی، د حکومت له لوري شیانو ته د تقاضا زیاتېدل، د تولید د مختلفو فکتورونو د عوایدو زیاتیدل، یا په لنډ ډول بې حده زیاته د پیسو عرضه د انفلاسیون حالت منځته راوړي. تقاضا کش کوونکی انفلاسیون د وسایلو کمښت او کارګرانو په کمښت سره هم مشخص کېدای شي (کوټوال، ۱۳۹۴، ص ۶۰ ـ ۶۱).

د مجموعي تقاضا د پورته کېدو وسایل: د پولي علم پوهان، لکه فریډمن او د هغه پیروان په دې عقیده دي، چې انفلاسیون همیشه او په هر ځای کې یوه پولي پېښه ده، د دوی په عقیده کله چې مرکزي بانک په یوه اقتصاد کې د تقاضا څخه زیاتې پیسې چاپ او خپرې کړي؛ نو ځینې شیانو ته تقاضا، (لکه سون توکو ته) زیاتیږي. د پولي اقتصاد کورنۍ عقیده لري کله چې د پیسو عرضه د هغو پیسو څخه علاوه، چې خلک او تصدۍ یې د ځان سره ساتي، زیاتې شي نو ورسره په مجموعي تقاضا کې هم زیاتوالی

رامنځته کوي او دغه اجناس او خدمات د افراطي تقاضا د مصارفو د زیاتوالي سبب ګرځي. او دغه د مصارفو زیاتوالی قیمتونه پورته خوا ته کشوي.

J.M.Keynes او د هغه همکاران تقاضا کش کوونکی انفلاسیون یا د تقاضا په واسطه رامنځته شوی انفلاسیون یو پولي پیښه نه بولي؛ د دوی په وینا کیدای شي یو یا د یوه څخه ډېر فکتورونه د مجموعي تقاضا زیاتوالي ته لار هواره کړي د مثال په ډول داخلي مستهلکین کېدای شي زیات اجناس او خدمات خریداري کړي، سبب یې په شتمنۍ کې ډېروالی؛ همدارنګه کاروبارونه د زیاتې ګټې او سود د نرخ د کموالي له امله زیاته پانګه اچونه کوي، د خارجي تقاضا زیاتوالی د داخلي اجناسو د مجموعي تقاضا په واسطه رامنځ ته شوی (نوشیر سروري، ۱۳۹۴، ص ۱۲۳ـ۱۲۵).

**2- د مصارفو څخه راټوکېدونکی انفلاسیون**

دغه انفلاسیون هغه مهال رامنځته کېږي، چې کله زیاتېدونکي لګښت د تولیداتو عمومي قیمتونو څخه لوړ وي، د مصارفو څخه راټوکېدونکی انفلاسیون همدارنګه هغه مهال منځته راځي چې کله د یوه هیواد اقتصاد د استخدام اخیري حالت ته رسېدلی وي، په دې حالت کې بیا هم قیمتونه پورته کېږي. سره د دې، چې د شیانو عرضه ډېره هم وي. همدارنګه د دغه انفلاسیون په پایله کې د مزد مصارف لوړیږي او د هغې سره موازي تولیدات زیاتوالی نه مومي. او د وارداتي اجناسو قیمتونه هم لوړېږي، په خارج کې د پیسو بې اعتباره کېدل د دې انفلاسیون د لاملونو څخه ګڼل کېږي. دغه ډول انفلاسیون له لاندې لاملونو څخه رامنځته کیږي: په مزد کې زیاتوالی، د ګټې زیاتوالی، د خامو موادو قیمتونو کې زیاتوالی، مالیاتو لوړ والی او د وارداتي اجناسو قیمتونو لوړوالی (شعیبي، ۱۳۹۴، ص ۳۵).

**3- د ګټې څخه را پیداشوی انفلاسیون**

دغه انفلاسیون په حقیقت کې(Cost Push Inflation) په کټګورۍ کې راتلی شي، کله چې تولیدوونکي او خرڅوونکي د انحصار له امله ګټه لوړوي، کیدای شي د ( Profit Induced Inflation) سبب وګرځي.

**4- بودیجوي انفلاسیون**

اکثره وختونه کله چې د حکومت په بودیجه کې کسر رامنځته شي، په دې معنی چې عواید ئې د لګښتونو په پرتله کم شي؛ نو په دې صورت کې حکومت د بودیجې د کسر پوره کولو لپاره نوي بانک نوټونه چاپوي، چې په دې سره تقاضا زیاتیږي او د انفلاسیون د رامنځته کېدو لامل ګرځي. په دې ځای کې پرته له دې چې د شیانو تولید زیات شي؛ بلکې په عمومي ډول قیمتونه پورته کېږي.

**5- پولي انفلاسیون**

Milton Friedman په دې عقیده دی، چې دا ډول انفلاسیون یوازې د پیسو د تېزې عرضې له امله راپیدا کېږي، بل هیڅ لامل نه لري.

**6- څو اړخیز انفلاسیون** (Multi Casual Inflation): دغه انفلاسیون یو شمیر لاملونه لري، چې اړین یې دادي: د پیسو په عرضه کې زیاتوالی، د مزد بې حده زیاته تقاضا، د شیانو بې حده زیاته تقاضا، د شیانو کمښت او داسې نور. د انفلاسیون یو لامل د انفلاسیون نه شي کیدای، چې په بل کال به هم د دې لامل په وجه انفلاسیون منځته راغلی وي. څرنګه، چې انفلاسیون بیلا بیل لاملونه؛ لري نو د دې له‌پاره د پالیسیو بیلا بیل ډولونو ته اړتیا ده، چې د انفلاسیون سره ورباندې مبارزه وکړی شي (Nasir, 2004, p. 65).

**۷- وارداتي انفلا سیون**

دغه انفلاسیون هغه انفلاسیون دی، چې د وارداتو تابع وي، کله چې هم د وارداتو په قیمتونو کې زیاتوالی راځي؛ نو په واردوونکي هېواد کې د انفلاسیون د راتلو او یا زیاتېدو لامل ګرځي. دغه انفلاسیون هغه مهال په یوه هېواد کې شتون ښائي چې کله یو هېواد تر زیاتې اندازې په بل هېواد تکیه ولري، چې کله په صادروونکي هېواد کې انفلاسیون رامنځته کیږي؛ نو په واردوونکي هېواد کې هم انفلاسیون رامنځته کېږي، چې دغه انفلاسیون په اصل کې د یوه هېواد څخه بل هېواد ته لیږدول کیږي او یو ښه مثال یې افغانستان دی، چې د وارداتو زیاته تکیه یې په پاکستان، چین، ایران او په منځنۍ اسیا ده؛ نو کله چې په پورته هېوادونو کې انفلاسیون راځي، مالیات لوړېږي او یا بل ډول تغیر راځي؛ نو په افغانستان مستقیم اغېز کوي.

**۸- د بنسټیزو پروژو له امله انفلاسیون**

په لنډ ډول داسې ویلی شو، چې دغه انفلاسیون هغه مهال رامنځته کېږي، چې کله هم یو هېواد په پراخ ډول بنسټیزې پروژې په کار واچوي، چې په پایله کې د خلکو عواید په ډېرې تیزۍ سره لوړېږي او هم مهاله د دې سره بیې هم لوړوالی پیدا کوي.

**۹- د تولیداتو له امله انفلاسیون**

په دې معنی، چې کله د تولید د عواملو قیمتونه لوړ شي؛ نو د اجناسو قیمتونه هم ورسره لوړېږي، دلته درې لاملونه په نښه کوو: 1 : مزد او معاش 2: د سرمایې ګټه 3: پیش بیني. دغه درې واړه عوامل د شرایطو مطابق کولی شي، چې د انفلا سیون د رامنځته کېدو لامل شي (سید مسعود، ۱۳۹۳، ص ۵۸ـ ۵۹).

**د ورکړو له امله انفلاسیون**

د پرداخت (ورکړو ) له لارې انفلاسیون، چې کله خلک زیات تادیات وکړي، دلته د خلکو مصارف زیاتیږي، همدارنګه دلته زیاتې پیسې د خلکو او دولت له لوري بازار ته عرضه کیږي، د پیسو ارزښت کمیږي او د انفلاسیون د رامنځته کېدو لامل ګرځي .

**۱۰- د کنټرول د درجې په اساس انفلاسیون**

**دا ډول انفلاسیون په دوه ډوله دی:**

1- **آزاد انفلاسیون**

په دې انفلاسیون کې د قیمتونو د لوړېدو سطحه د کنټرول څخه وځي.Milton Friedman دغه انفلاسیون په دې ډول تشریح کوي: دا انفلاسیون هغه پروسه ده، چې په هغې کې قیمتونه پرېښودل کیږي، چې لوړ شي او حکومتی ارګانونو او دې ته ورته ادارو له خوا نه کنټرول کیږي.

2- **بند انفلاسیون**

په دې ډول انفلاسیون کې حکومت هڅه کوي، چې قیمتونه کنټرول کړي. حکومت نه پرېږدي، چې قیمتونه لوړ شي (Nasir, 2004, p. 64_65).

**د انفلاسیون کنټرول غیر اسلامي حل لارې**

د همدغو غیر اسلامي لارو څخه، چې د اسلام سره په ټکر کې نه وي موږ په اسلامي نظام کې هم ترې ګټه پورته کولی شو، لکه: مالي اقدام کې، چې مالیات، مرستې، مصارفو کنټرول او غیر سودي پورونه پکې شامل دي.

پولي سیاست تعریف: د پیسو پالیسي هغه پالیسي ده، چې د یوه هېواد مرکزي بانک په وسیله مخکې وړل کیږي، تر څو د پیسو عرضه او کرېډیټ ورباندې کنټرول کړي (Shahid, 2012, p. 263).

لکه مخکې مو هم ذکر کړه، چې خلک څه ډول د قیمتونو د کنټرول په اړه فکر کوي او له حکومته غوښتنه کوي چې هغه غوښتنې غیر مسلکي دي او هغه غوره لارې نه دي او امکان هم نه لري، چې قیمتونه دې هغسې کنټرول کړي؛ نو اقتصاد پوهان لاندې مختلفې لارې، چې د مرکزي بانک له لوري په لاره اچول کیږي اسلامي او دودیزې لارې دي.

**۱- مالي اقدام**

مالي اقدام د کینزي انقلاب څخه وروسته اهمیت پیدا کړ، موږ باید په دې پوه شو، چې مالي پالیسي د حکومت د لګښتونو او مالیاتو سره سروکار لري. د دې لهپاره، چې انفلاسیون کنټرول کړی شي، نو حکومت باید غیر انکشافي لګښتونه کم کړي، لکه دانتقالاتو مصارف او په ضمن کې د خیر ښیګڼې تادیات باید کم کړی شي، چې دا په خپله د لګښتونو کمښت او د تقاضا د کموالي سبب ګرځي، په

خاصو مالیاتو کې زیاتوالی د عمومي مالیاتو د بهتروالي لامل ګرځي، چې د هغې په نتیجه کې یو شمېر شیان له خلکو حکومت ته انتقال مومي او په دې سره استهلاکي لګښتونه کموالی کوي؛ خو ډېر سخت پابند مالي اقدامات به د قیمتونو د ډېر تېزوالي مخنیوی وکړي، په هغه صورت کې، چې حکومت غیر تولیدي مخارج کم کړي.

**۲- پیسو اقدام**

اکثره وخت د پیسو پالیسي مرکزي بانک سره تړلې وي، نو ټول هغه اقدامات، چې د مرکزي بانک له لورې پورته کېږي د پیسو د عرضې لهپاره پولي پالیسي بلل کېږي. هر کله چې مرکزي بانک د سود نرخ زیات کړي په دې صورت کې قرض ورکول ګرانیږي، چې دغه عمل د قرض ورکړې د کمښت سبب ګرځي او ملي عواید تر تاثیر لاندې راولي او د قیمتونو د کچې د ټیټوالي باعث کېږي. که چېرې مرکزي بانک ارزښتمنې پاڼې خرڅوي، او د تجارتي بانکونو د زېرمو کچه زیاتوي او یا تجارتي بانکونو ته کرېډیټ ورکوي، په دې صورت کې د پیسو عرضه په یوه هېواد کې کموالی پیدا کوي. سره له دې بیا هم باید د قیمتونو په کچه او عمومي تقاضا باندې کنټرول صورت ونیسي.

**۳- ساختماني اقدام**

دغه ټول اقدامات به یا خو مجموعي عرضه زیاته کړي یا به عمومي تقاضا کمه کړي او په لاندې ډول ښودل کېږي.

**۱- په زراعتي او صنعتي لګښتونو کې زیاتوالی**

کوم بدلون، چې د یوه هیواد په زراعتي سکتور کې راځي د هغې له امله به د نوموړي هېواد تولیدات د غنمو، وریجو او پنبې د زیاتوالي لامل وګرځي. هر کله، چې د یوه هېواد زراعت د مېکانیزه کولو په مورد ګامونه پورته کړی شي، یعنې ښه تخمونه استعمال شي او همدارنګه د زراعت د مارکېټنګ مشکلات حل شي او همدارنګه د صنعتي کېدو لهپاره ښه ستراتیژي په کار واچول شي، د کورنیو صنایعو څخه حمایت وکړی شي، که چېرې پانګه اچوونکي داسې ماشین ګیري هیواد ته راوړي، چې د خامو موادو اسانتیاوې لمنځه یوسي، په داسې حالتونو کې د صنعتې تولیداتو ډېرښت منځته راځي، کله چې زراعتي او صنعتي تولیداتو کې زیاتوالی راځي هغه اضافه شوې تقاضا به پرته له دې، چې قیمتونه پورته شي پوره شوې وي (Heilperin, 2012, p. 160_161).

**د انفلاسیون د کنټرول اسلامي لارې**

**۱- د سود منع کول**

په اوسني اقتصادي سیستم کې سود د انفلاسیون یو اړین لامل دی، کله چې صنعتکار په لوړ سود باندې قرض واخلي د دې قرض سره له سوده د واپس کولو په منظور د خپلو تولیداتو نرخ اوچتوي، څرنګه چې په اسلام کې سود حرام دی او بې سوده اسلامي بانکونه شته، چې تولیدونکي ته د مضاربت او مشارکت په بنیاد پانګه ورکړي، نو ځکه د انفلاسیون د دغه عامل مخنیوی کیږي .

**۲- د زینتي اجناسو منع**

کله چې د شیانو عرضه له تقاضا څخه زیاته شي انفلاسیون منځته راځي، اسلام وسط دین دی او بې فایدې مصارف (اصراف) پکې منع دی. نو دولت ته په کار ده، هغه اجناس، چې انسان ورته اړتیا نه لري د انفلاسیون له امله منع کړي تر څو انفلاسیون راکم کړی شي.

**۳- احتکار او انحصار له منځه وړل**

احتکار یا د صنعتکار او یا د تولیدوونکو له خوا د نرخ د اوچتولو په خاطر د اړتیا وړ شیان پټول؛ تر څوهمدا اجناس په لوړ نرخ خرڅ کړي، دا د اسلام له نظره جواز نه لري، همدا راز اسلام دا هم منع کوي، چې تولیدونکي د نرخ لوړولو لهپاره (cartel) اتفاق یا اتحاد وکړي، چې ټول به په یوه معین لوړ قیمت شیان پلوري، حکومت باید د دې مخنیوی وکړي؛ تر څو قیمتونه بېرته خپل حالت ته راشي.

**۴- د قرض حسنه د نسبت کمول**

په اسلامي اقتصادي سیستم کې بانک بې سوده دی او بانک د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنیاد ولاړ دی او له خلکو څخه پیسې د ګټې او تاوان د شریکولو پر بنا اخلي او نورو مراجعینو ته یې هم په همدغه بنیاد د مشارکت او مضاربت په ډول ورکوي .

د دې تر څنګ بانک د خپلې بودیجې یوه برخه د قرض حسنه په ډول مراجعینو ته ورکوي، یعنې بې له سوده قرض د انفلاسیون په وخت کې شاید د صنعتکارو له خوا د قرض حسنه غوښتنه زیاته شي، ځکه دوی غواړي ډېره پانګونه وکړي او توکی په لوړه بیه خرڅ کړي په دې وخت کې مرکزي بانک کولی شي نورو بانکونو ته وواییې، چې د قرض حسنه نسبت کم کړي او په دې سره په معاشره کې د پیسو د عرضې اندازه کمېدای شي او د قیمتونو او یا د انفلاسیون د زیاتېدو مخنیوی کېږي.

**۵- قانوني زېرمې**

دا په اسلامي بانک کې د نورو بانکونو په څېر کېږي، يعنې هر بانک قانوناً بايد د خپلو ټولو پيسو څخه يوه ټاکلي فيصدي مرکزي بانک ته د امانت په ډول وسپاري، مرکزي بانک د انفلاسيون په وخت کې دغه د پشتوانې نسبت زياتولی شي، چې په دې سره د بانکونو سره کمې پيسې پاتې کېږي او ډېرې پيسې نشي عرضه کولی او په دې سره انفلاسيون کمېدای شي.

**۶- د ازاد بازار عمليات**

په معاصر بانکي سيستم کې مرکزي بانک ((په آزاد مارکيټ کې د دولتي اسنادو( Government Securities) د پلورلو او اخيستلو په وسيله عرضه کنټرولولی شي )) مطلب دا، چې حکومت خلکو ته د يوه ټاکلي وخت لەپاره اسناد ورکوي او په بدل کې پيسې ترې راټولوي او کله، چې وخت پوره شي بيا خلک دغه اسناد بېرته حکومت ته ورکوي او حکومت د دوی پيسې سره له ګټې بېرته دوی ته سپاري، اسلامي مرکزي بانک هم په دغه څېر دولتي اسناد ( Government Securities) او سکوک (اسلامي بانډ ) مارکېټ ته وړاندې کوي؛ خو دغه ټول به له سود څخه پاک وي؛ نو په دې ډول هم انفلاسيون کنټروليدی شي.

**۷- د نقده ذخايرو نسبت**

په اسلامي بانکونو کې هم د نورو بانکونو په څېر هر بانک مکلف دی، چې د ورسپارل شويو پيسو يو نسبت په نقده توګه له ځان سره وساتي؛ تر څو د مراجعينو ورځنۍ تقاضا پوره کړی شي، ځينې مهال بانکونه له ځانه سره کمې نقدې پيسې ساتي او کله داسې هم پېښيږي، چې بانک ټولې پيسې په کار اچولې وي او د مراجعينو کوم، چې له بانک څخه خپلې پيسې وباسي د دوی لەپاره د بانک سره هېڅ روپۍ نه وي، نو بانک په خپله د دې لەپاره قرض اخلي، د انفلاسيون په وخت کې مرکزي بانک د نقدو پيسو د ذخيرې نسبت زياتولی شي او په دې سره د پيسو عرضه کمېږي؛ ځکه بانکونه مجبوريږي، چې ډېرې پيسې له ځانه سره وساتي او ډېره قرضه نشي ورکولی او دا د انفلاسيون په کموالي کې مرسته کوي (احمدزی، ۱۳۸۸، ص ۵۲ـ).

**موندنې**

- لکه څرنګه، چې موږ پورته خپلې موخې ذکر کړې او موږ په لومړۍ موخه کې ويلي وو، چې (انفلاسيون د اقتصادي ثبات لەپاره يو لوی خطر دی او بايد و پېژندل شي) نو همدې موخې ته په کتو موږ ويلی شو، لکه څرنګه، چې خلک انفلاسيون نه پېژني او د قيمتونو لوړوالی پېژني نو لومړی بايد د انفلاسيون له اصطلاح سره بلد شي، د هغه ډولونه و پېژني او دولت ملامت نه کړي.

نو خلک غواړي، چې یوازې قیمتونه کم کړی شي او دوی فکر کوي، چې دولت څه ډول و غواړي په هماغه کچه قیمتونه کمولی شي او موږ دې موخې ته د رسېدو لهپاره مسلکي او قانع کوونکې لارې باید خلکو ته ور وپېژنو خلک په دې قانع کړو، چې دولت په جبري ډول هر وخت نه شي کولی، چې قیمتونه ټیټ یا لوړ کړي؛ ځکه دلته پلورونکي هم ډېر زیات زیان مومي او دولت به د پلورونکو له مقاومت سره مخ شي، چې دا په خپل ذات کې یوه ستره ستونزه ده او تولید ورسره کمېدای شي؛ نو دې موخې ته په کتو موږ په دې څېړنه کې مسلکي او قانع کوونکې حل لارې ور و پېژندې. زموږ دویمه موخه (د انفلاسیون کنټرول اسلامي لارو پېژندل تر څو زموږ ټولنه د اسلام له معاصرو اقداماتو با خبره اوسي) او دا، چې زموږ ټولنه مذهبي ده؛ نو د دوی د لا قانع کولو لهپاره موږ په دې څېړنه کې داسې اسلامي لارې هم ورته په ګوته کړې، چې ښايي، اسلام هم قیمت ته ځانګړی اهمیت ورکړی او قیمت یې تر هغه عرضې او تقاضا قانون ته پرېښودلی! تر څو، چې ټولنې ته زیان و نه رسوي. د دویمې موخې مطابق موږ هغه علتونه په ګوته کړي، چې د هغې له امله قیمتونه لوړیږي. که چېرې د خلکو خبرو ته فکر وکړو نو د دې موخې مطابق که و ګورو خلکو به ویل، چې د خوست په شمول هغه ولایتونه، چې هلته پخوا کلداره وه دوی فکرکاوه، چې د افغانۍ ترویج دا هر څه رامنځته کړل؛ خو داسې نه وه، موږ د دې لاملونو په څرګندولو سره دوی ته دا وښوده، چې اصلي لاملونه دا دي نه د افغانیو ترویج؛ تر څو د خلکو نفرت له افغانیو سره رامنځته نه شي. لکه څرنګه، چې موږ عملا د افغانیو د ترویج په وخت کې ولیدل، چې دولت له کومې ځانګړې پالیسۍ او مېکانیزم څخه استفاده و نه کړه! تر څو افغانۍ په سمه توګه رایجې کړي او قیمتونه کنټرول کړي او بل دا، چې هغه وخت د قیمتونو د لوړوالي یوازینی علت افغانۍ نه وې؛ بلکې وارداتي انفلاسیون یو لوی لامل ؤ نو دولت د مالوماتو د کموالي له امله خلک قانع نه کړل؛ خو په دې څېړنه کې موږ دغه موخه هم په ښه شکل تر لاسه کړه. همدارنګه بله موخه، چې د انفلاسیون د مختلفو ډولونو پېژندنه ده هم په ښه شان واضح شوې ده او د دې تر څنګ د دې په مطالعې سره موږ پوهېدلی شو، چې افغانستان کې کوم ډول انفلاسیون موجود دی، د قیمتونو لوړوالي علت د افغانیو ترویج نه بلکې، وارداتي انفلاسیون، د ګټې زیاتوالي له امله، غلطې پالیسۍ، دولت د بودیجې ناسمه کارونه، ګمرکونو کې فساد، ګمرکونو کې د سم سیستم نه موجودیت، کرونا، د دولت بودیجې کسر، د لارو بندښت او نور هغه لاملونه وو، چې قیمتونه یې لوړ کړل.

نو موږ پوه شوو، چې د انفلاسیون اصلي علتونه څه دي، خلک څه فکر کوي، او د دولت کوم فرایض دي، چې د انفلاسیون په وخت کې تر سره کړي؛ تر څو اقتصاد له ناورین سره مخ نه شي. څکه لکه څرنګه، چې موږ په پېژندنه کې ذکر کړل، چې قیمت کې بدلون د اقتصادي بدلونونو سبب ګرځي او یو ناوړه اقتصادي حالت رامنځته کولی شي او د دې حل لارو په پېژندلو سره موږ کولی شو د قیمتونو د لوړوالي علتونه وپېژنو او دولت د همدغو حل لارو او علتونو ته په کتو خپلې پالیسۍ برابرې کړي.

**مناقشه او پایله**

انفلاسیون نن سبا د نړۍ په کچه یوه ډېره د بحث وړ او جدي موضوع ده، په ځانګړي ډول افغانستان کې، چې په هر لحاظ یې خلک وروسته پاتې دي نو په همدې اساس د سواد کچه یې هم ډېره ټیټه ده او اقتصادي علومو په اړه د خلکو پوهه خورا کمه ده. خلک هر وخت له دولته غواړي، چې قیمتونه کنټرول کړي، خو د کنټرول حل لارې او د هغوی لاملونه هغه څه دي، چې خلک پرې نه پوهیږي، چې په پایله کې خلک په دولت نیوکه کوي. نو د دې په خاطر چې دغه ستونزه حل شوې وي، لمړی باید د انفلاسیون علتونه وه پېژندل شي، چې څه لامل دی، چې قیمتونه لوړ شوي. هغه لاملونه، چې د هغې له امله قیمتونه لوړیږي، پورته ښودل شوي، لکه: وارداتي انفلاسیون، وارداتي انفلاسیون په هغو هېوادونو کې وي، چې هغوی زیاته تکیه په وارداتو باندې وي، لکه افغانستان. که موږ اوسمهال و ګورو نو د افغانستان ۹۵ سلنه واردات دي او پنځه سلنه صادرات او همدغه صادراتو اکثره توکي سبزیجات او مېوې دي او دغه ۹۵ سلنه واردات اکثره د ایران او پاکستان له هېوادونو تر سره کیږي او موږ وینو، چې په پاکستان او ایران کې انفلاسیون (د قیمتونو لوړېدل او پیسو ارزښت کمېدل) په دغو هېوادونو کې ډېر زیات دی، نو همدا لامل دی، چې په افغانستان کې هم قیمتونه لوړیږي. نو دلته د حل لار دا ده، چې باید بدیله لار پیدا شي، تر څو دغه ستونزه حل شي او بدیله لار دا ده، چې افغانستان باید د دغو هېوادونو سره راکړه ورکړه د امکان تر حده راکمه کړي خو له دې مخکې اړینه ده، چې داسې هېواد پیدا کړي، چې د دې هېوادونو بدیل وي. د قیمتونو لوړوالي یوازینی علت دا نه دی، په افغانستان باندې په اقتصادي او نورو برخو کې کم باور هم دی، همدغه کم باور او د با ثباته پالیسیو نه شتون هم کولی شي، د نورو هېوادونو سره په سم ډول قراردادونه و نه شي او صادرات او واردات زیانمن کړي، چې له امله یې قیمتونه لوړېدای شي او لکه څرنګه انفلاسیون پېژندنه اړینه ده، تر څو خلک پوه شي، چې قیمتونه د انفلاسیون له امله لوړیږي؛ نو همدې موخې ته په کتو موږ ویلی شو، لکه څرنګه، چې خلک یوازې غواړي قیمتونه کم کړی شي او دوی فکر کوي، چې دولت څه ډول وغواړي په هماغه کچه قیمتونه کمولی شي او موږ دې موخې ته د رسېدو لهپاره مسلکي او قانع کوونکې لارې باید خلکو ته وروپېژنو خلک په دې قانع

کړو، چې دولت په جبري ډول هر وخت نه شي کولی، چې قیمتونه ټیټ یا لوړ کړي؛ ځکه دلته پلورونکي هم ډېر زیات زیان مومي او دولت به د پلورونکو له مقاومت سره مخ شي، چې دا په خپل ذات کې یوه ستره ستونزه ده او تولید ورسره کمېدی شي؛ نو دې موخې ته په کتو موږ په دې څېړنه کې مسلکي او قانع کوونکې حل لارې ور و پېژندې او دا، چې زموږ ټولنه مذهبي ده؛ نو د دوی د لا قانع کولو لەپاره موږ په دې څېړنه کې داسې اسلامي لارې هم ورته په ګوته کړې، چې ښائې اسلام هم قیمت ته ځانګړې اهمیت ورکړی او قیمت یې تر هغه عرضې او تقاضا قانون ته پرېښودلی تر څو، چې ټولنې ته زیان و نه رسوي. د دویمې موخې مطابق موږ هغه علتونه په ګوته کړي، چې د هغې له امله قیمتونه لوړېږي. که چېرې د خلکو خبرو ته فکر و کړو؛ نو د دې موخې مطابق که و ګورو خلکو به ویل، چې د خوست په شمول هغه ولایتونه، چې هلته پخوا کلداره وه دوی فکرکولو، چې افغانۍ ترویج دا هر څه رامنځته کړل خو داسې نه وه موږ د دې علتونو په څرګندولو سره دوی ته دا وښوده، چې اصلي لاملونه ئې دا دي نه د افغانیو ترویج؛ تر څو د خلکو نفرت له افغانیو سره رامنځته نه شي. لکه څرنګه، چې موږ عملا د افغانیو د ترویج پر مهال کې ولیدل، چې دولت له کومې ځانګړې پالیسۍ او مېکانیزم څخه استفاده و نه کړه؛ تر څو افغانۍ په سمه توګه رایجې کړي او قیمتونه کنټرول کړي او بل دا، چې هغه مهال د قیمتونو د لوړوالي یوازینۍ علت افغانۍ نه وې! بلکې وارداتي انفلاسیون یو لوی لامل ؤ، نو دولت د مالوماتو د کموالي له امله خلک قانع نه کړل؛ خو په دې څېړنه کې موږ دغه موخه هم په ښه شکل تر لاسه کړه. همدارنګه بله موخه، چې د انفلاسیون د مختلفو ډولونو پېژندنه ده هم په ښه شان واضح شوې ده او د دې تر څنګ د دې په مطالعې سره موږ پوهېدلی شو، چې افغانستان کې کوم ډول انفلاسیون موجود دی، د قیمتونو لوړوالي علت د افغانیو ترویج نه بلکې، وارداتي انفلاسیون، د ګټې زیاتوالي له امله، غلطې پالیسۍ، دولت د بودیجې ناسمه کارونه، ګمرکونو کې فساد، ګمرکونو کې د سم سیستم نه موجودیت، کرونا، دولت بدیجې کسر، د لارو بندښت او نور هغه لاملونه وو، چې قیمتونه یې لوړ کړل.

نو موږ پوه شوو، چې د قیمتونو د لوړوالي اصلي لاملونه څه دي خلک څه فکر کوي او د دولت کوم فرایض دي، چې د قیمتونو د لوړوالي په وخت کې تر سره کړي؛ تر څو اقتصاد له ناورین سره مخ نه شي؛ ځکه لکه څرنګه، چې موږ په پېژندنه کې ذکر کړل، چې قیمت کې بدلون د اقتصادي بدلونونو سبب ګرځي او یو ناوړه اقتصادي حالت رامنځته کولی شي او د دې حل لارو په پېژندلو سره موږ کولی شو د قیمتونو د لوړوالي علتونه وپېژنو او دولت همدغو حل لارو او علتونو ته په کتو خپلې پالیسۍ برابرې کړي.

**وړاندیزونه**

- دولت باید د انفلاسیون د کنټرول پر مهال کې کوټلي ګامونه پورته کړي، کنه اقتصاد به نور هم په ښکته روان شي.

- حکومت باید اقتصادي حالت ته په کتو خپلې پالیسی تغیر کړي او په خپلو پالیسیو له سره غور وکړي.
- د دې له پاره، چې قیمتونه لوړ نه شي دولت ته په کار ده؛ تر څو ګمرکاتو کې شفافیت رامنځته کړي؛ تر څو د غیرې مستقیمو مالیاتو له امله قیمتونه نور لوړ نه شي.

**مأخذونه**

احمدزی، زاحدي. (۱۳۸۸ ل). تجارت د اسلام په اقتصادي نظام کې. جلال اباد: نوښت کتاب پلورنځی.

سید مسعود.(۱۳۹۳ ل). پول و کریدیت. کابل: انتشارات لاجورد.

شعیبي، احمد جاوید.(۱۳۹۴ ل). ارزیابي سیاستهای پولي در افغانستان. کابل: انتشارات فرهنګ.

شعیبي، احمد جاوید، ژباړل: کوستر ویم. (۱۳۹۵). اقتصاد پولی. کابل: انتشارات حامد رسالت.

شینواری، عبیدالله.(۱۳۹۲ ل)هـ ش.پول وکریدت.جلال اباد: موسسه نشراتي مومند.

کوټوال، نصیر.(۱۳۹۴ ل)، اقتصادي درسونه. کابل: اکسوس کتاب پلورنځی

منګل، رحمت الله.(۱۴۰۰ ل). د پیسو اقتصاد، لمړی چاپ، مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل، افغانستان.

نوشیرسروري، مطیع الله.(۱۳۹۴ ل). مال او پیسې. کابل: اکسوس کتابتون.

Abdul-Baki, Z., & Uthman, A. B. (2017). Exploring the “social failures” of Islamic banks: a historical dialectics analysis. *Journal of Islamic Accounting and Business Research*.

Alagidede, P., Simeon, C., & Adu, G. (2014). A regional analysis of inflation dynamics in Ghana. *International Growth Centre, Working Paper*, 1-32.

Cecchetti Stephen G.(2012). Money Banking and Financial Markets (2nd ed).

Heilperin, Michael.A. (2012). International Monetary Economics. Geneva: Longman, Green and Co.Ltd.

Nasir,M.Saeed.(2004). Money Banking & Finance. Aminpur Bazar,Faisalabad:Kitab Markaz.

Shahid, A. Hamid. (2012). Monetary Economics and Public Finance. Urdu Bazar, Lahore:Ilmi Kitab Khana.

Sutrisno., & Haron, R. (2020). Increasing the role of zakat institutions in poverty reduction through productive zakat programs in Indonesia. *Humanities & Social Sciences Reviews*.

# په اسلامي شریعت کې د حدودو د مشروعیت حکمتونه

پوهنمل فخرالدین عزام، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، اسلامي ثقافت څانګه.
برېښنالیک: Fakhruddin.izam123@gmail.com

**لنډیز**

حدود له هغو تعین شوو جزاګانو څخه عبارت دي، چې د الله جل جلاله د حق له امله واجب شوي وي، لکه: د زنا حد، شرابو حد، غلا حد، قذف حد، قطاع الطریق (لارې شکوونکي) حد او د ردت (له دین څخه اوښتونکي) حد، چې په اسلامي شریعت کې د دې جرمونو له پاره جزاګانې مشخصې او تعین شوې دي، چې تغیر او تبدیل نه مني. په دې موضوع کې د حد پېژندنه، مشروعیت او حکمتونه یې خلکو ته د دې لهپاره په ډاګه شوي دي؛ تر څو ځانونه ترې وساتي او ټولنه کې امن، ثبات، عدالت او سوکالي رامنځته شي. څرنګه چې دغه یوه کتابتوني څېړنه ده؛ نو پر دې اساس هڅه شوې، چې معلومات لومړي قدم کې له قرآن کریم، ورپسې له نبوي سنتو څخه تر لاسه شي. همدا راز د فقهې مستندو او د اعتبار وړ مأخذونو څخه پکې استفاده شوې ده، د هرې وینا نسبت خپل ویونکي ته شوی دی، د قرآن کریم د ایاتونو ژباړې له پاره د کابلي تفسیر څخه ګټه اخیستل شوې ده. د حدودو مشروعیت د اسلامي شریعت د پنځه ګونو ضروریاتو ساتنه او حفاظت کوي او د جنایتکار، مجنی علیه او عامې ټولنې لهپاره الهي رحمت او پیرزوینه ده. که حدود په صحیح توګه نافذ شي، ټولنه کې به امن او ثبات قایم او خلک به په حیاء او عزت کې ډاډمن، سوکاله او له خوشحالیو ډک ژوند ولري.

**کلیدي کلمې:** اصلاح، جنایتکار، حد، حکمتونه، مشروعیت، منع.

**سریزه**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين، أما بعد:

د حدودو مشروعیت کومه نوې موضوع نه ده؛ بلکې د نن څخه ۱۴۴۵ کاله مخکې ټاکل شوې او تعین کړای شوې جزاګانې دي، چې مشروعیت یې په قرآن کریم او نبوي سنتو سره ثابت دی او په اړه یې د فقهې کتابونو کې فقهاوو بشپړ معلومات او اړوند احکام ذکر کړي دي، په همدې توګه معاصرو علماوو هم وربانديې مستقل کتابونه او رسالې لیکلې دي؛ خو د حدودو د حکمتونو په اړه مستقلې لیکنې نشته؛ بلکې ځینو کتابونو کې په تیت وپرک ډول تر سترګو کېږي؛ بله دا چې بې دینه خلک وخت پر وخت کوښښ کوي، چې ځینې کمزوري مسلمانان چې د اسلام مقدس دین په اړه یې پوهه کمه ده، په مختلفو بهانو او توطئو سره د اسلام مقدس دین د ځینو احکاماتو په اړه شکمن کړي او ذهنونه یې ورخراب کړي او ځینې یې د حدودو په اړه غلط تبلیغات کوي؛ نو ما وغوښتل چې په پښتو ژبه د حدودو د مشروعیت حکمتونه راجمع او ترتیب کړم؛ تر څو څرګنده شي، چې ټولنه کې د حدودو پلي کولو ته اړتیا ده او په تطبیق سره یې شته ناخوالې له منځه تللی شي.

**موخې**

د حد پېژندل

د حدودو مشروعیت څخه د خلکو اګاه کول

د حدودو د مشروعیت حکمتونه په ډاګه کول

**کړنلاره او د کار توکي**

څرنګه چې دغه یوه کتابتوني څېړنه ده؛ نو پر دې اساس مې هڅه کړې، چې معلومات لومړي قدم کې په قرآن کریم کې پیداکړم، وروسته مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده؛ لومړی مې کوښښ کړی چې حدیث په صحیحینو ( صحیح البخاري او صحیح مسلم ) کې پیدا کړم، که کوم حدیث په صحیحینو کې شتون ونه لري؛ نو بیا مې د سنتو له نورو اصلي مصادرو څخه رانقل کړی دی، همدا راز د فقهې مستندو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مې مراجعه کړې ده، د هرې وینا نسبت مې خپل ویونکي ته کړی دی، د قرآن کریم د ایاتونو ژباړې له پاره مې د کابلي تفسیر څخه ګټه اخیستې ده.

**د حدودو لغوي پېژندنه**

حدود د حد جمع ده، حد د دوو شیانو ترمنځ جداوالي ته ویل کېږي؛ د دې له پاره چې د یو بل سره ګډ نشي یا د دې لهپاره چې په یو بل تېری ونه کړي، همدارنګه د هر شي انتهاء ته حد ویل کېږي او اصل د حد منع او د دوو شیانو تر منځ جدایي ته ویل کېږي (ابن منظور، ۱۴۱۴هـ ق، ج۳، ص. ۱۴۰).

د دروازې ساتونکي ته له دې امله حداد ویل کېږي، چې خلک له داخلېدو څخه منع کوي او ټاکلې شوي شرعي حدود هم خلک د اړوندو جرایمو له ارتکاب څخه منع کوي (فیومي، د چاپ کال نه لري، ج ۱، ص. ۱۲۴).

**د حد اصطلاحي پېژندنه**

علماء په اصطلاح کې حد داسې تعریفوي: (عِبَارَةٌ عَنْ عُقُوبَةٍ مُقَدَّرَةٍ وَاجِبَةٍ حَقًّا لِلَّهِ تَعَالَى) (کاساني، ۱۴۰۶ هـ ق، ج۷، ص. ۳۳).

ژباړه: حد له هغې تعین شوې جزا څخه عبارت دی، چې د الله جل جلاله د حق له امله واجب شوې وي.

په پورته تعریف کې له حد څخه تعزیرات او قصاص خارجېږي؛ ځکه چې تعزیرات اندازه کړای شوې جزاګانې نه دي؛ بلکې کله په وهلو سره وي، کله په بند او کله هم په نورو طریقو سره او قصاص که څه هم چې ټاکل شوې جزا ده؛ خو هغه د بنده د حق له امله واجب دی تر دې چې عفوه او صلحه هم په کې کېدلی شي.

حد ته ځکه حد ویل کېږي، چې دا محدود (حد ورکړل شوی شخص) له دغه عمل څخه منع کوي او نور اشخاص یې هم په لیدلو سره ترې منع کېږي، ځکه چې لیدونکي فکر کوي، که چېرې دغه جنایت تر سره کړي؛ نو همدا ډول جزا به ورکول کېږي؛ نو پر دې اساس د جنایت تر سره کولو څخه منع کېږي (کاساني، ۱۴۰٦ هـ ق، جلد۷، ص. ۳۳).

**د حدودو مشروعیت**

د حدودو مشروعیت له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه ثابت دی:

**له قرآن کریم څخه د حدودو مشروعیت**

په قرآن کریم کې ډېر ایاتونه موجود دي، چې د حدودو په مشروعیت باندې دلالت کوي، د زنا حد په اړه الله عزوجل فرمایلي دي: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ (قرآن کریم، النور، آیت: ۲).

ژباړه: هغه ښځه چې زنا یې کړې وي او هغه سړی چې زنا یې کړې وي پس تاسو (ای قاضیانو او حاکمانو) هر یو له دغو دواړو سل دُرې ووهئ.

د حد قذف په اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً﴾ (قرانکریم، النور، آیت: ۴).

ژباړه: او هغه کسان چې ولي محصنې ښځې (یا محصن سړی، چې د زنا نسبت ورته وکړي) بیا رانه ولي (د قاضي مخ ته) څلور تنه شاهدان پس تاسو (ای حاکمانو) دغه (قاذفان که اصیلان وي) اتیا دُرې ووهئ.

د قطاع الطرق ( حد الحرابة) په اړه یې فرمایلي دي: ﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ (۳۳) إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ (قرآن کریم، المائدة، آیت: ۳۳-۳۴).

ژباړه: بېشکه هم دا خبره ده، چې جزا د هغو کسانو چې دوی له (دوستانو) د الله او د رسول د ده سره جنګ کوي او دوی په زمکه کې له پاره د فساد (او بد امنۍ غورځولو) کوښښ کوي، چې دوی ووژلی شي یا دې په دار کړل شي یا دې د دوی لاسونه او پښې ردوبدل (ښی لاس او چپه پښه یا چپ لاس او ښۍ پښه) پرې کړل شي یا دې له زمکې څخه وشړلی شي (په حبس سره یا له هغه ځایه بل لرې ځای

ته) دا (ذکر شوې جزا) په دنیا کې دغو (غلو) ته رسوايي ده او دغو (غلو لهپاره) په آخرت کې ډېر لوی عذاب دی. مګر هغه کسان چې توبه وباسي مخکې له دې چې تاسې پر هغوی قادر شئ؛ نو په دې پوه شئ، چې بېشکه الله جل جلاله ښه مغفرت کوونکی ډېر رحم والا دی.

د غلا په اړه یې فرمایلي دي: ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (قرآن کریم، المائدة، آیت: ۳۸).

ژباړه: او تاسې د غله (سړي) او غلې (ښځې) لاسونه پرې کړئ، د هغه عمل د جزا لهپاره چې دې دواړو کړی دی د الله جل جلاله له جانبه د تنبیه لهپاره او الله جل جلاله ډېر قوي دی (غالب د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

**له نبوي سنتو څخه د حدودو د مشروعیت ثبوت:**

ګڼ نبوي سنت د حدودو په مشروعیت باندې دلالت کوي، چې یو څو یې دلته د بېلګې په توګه رانقلوو:

۱- (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُمَا قَالَا: إِنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَعْرَابِ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنْشُدُكَ اللهَ إِلَّا قَضَيْتَ لِي بِكِتَابِ اللهِ، فَقَالَ الْخَصْمُ الْآخَرُ: وَهُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ نَعَمْ، فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ وَأْذَنْ لِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُلْ»، قَالَ: إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هَذَا، فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ، وَإِنِّي أُخْبِرْتُ أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ، فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَوَلِيدَةٍ، فَسَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ، فَأَخْبَرُونِي أَنَّمَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ، وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَأَنَّ عَلَى امْرَأَةِ هَذَا الرَّجْمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللهِ، الْوَلِيدَةُ وَالْغَنَمُ رَدٌّ، وَعَلَى ابْنِكَ جَلْدُ مِائَةٍ، وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَاغْدُ يَا أُنَيْسُ إِلَى امْرَأَةِ هَذَا، فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا»، قَالَ: فَغَدَا عَلَيْهَا، فَاعْتَرَفَتْ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَتْ) (نیسابوري، چاپ کال نه لري، جلد۳، ص. ۱۳۲۴).

ژباړه: د ابو هریره او زید بن خالد الجهني رضی الله عنهما څخه روایت دی، دواړو ویلي دي: یو بانډه چي سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ویې ویل: ای د الله تعالی رسوله! په الله تعالی درته قسم درکوم چې د الله په کتاب به راته پرېکړه کوې، مقابل لوري چې له ده څخه پوه و وویل: هو، موږ ته د الله تعالی په کتاب فیصله وکړه او ماته اجازه راکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: وایه! هغه وویل: زما زوی له ده سره مزدور و، د ده له مېرمن سره یې زنا وکړه، زه خبر شوم چې په زوی مې رجم دی؛ نو سل مېږې او یوه وینځه مې د هغه له لوري ورته ورکړل، بیا مې له علماوو څخه وپوښتل، هغوی خبر راکړ چې زما پر زوی سل دُرې او یو کال جلا وطني ده او د ده پر ښځه رجم دی؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: زما دې پر هغه ذات قسم وي، چې زما روح د هغه په لاس کې دی، چې زه به خامخا ستاسو ترمنځ د الله په کتاب سره فیصله کوم: هغه دا چې وینځه او مېږې به تا ته

واپس کېږي او ستا په زوی سل دُرې او یو کال جلا وطني ده، ای انیسه! د ده ښځې ته سبا وختي ورشه که اعتراف یې وکړ رجم یې کړه، راوي وایي چې (انیس) د سبا پر مهال ورغی او هغې په خپلو کړنو اقرار وکړ؛ نو رسول الله پرې د (رجم) امر وکړ او رجم کړلی شوه.

۲- (عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: " لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي، قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ، وَتَلَا الْقُرْآنَ، فَلَمَّا نَزَلَ أَمَرَ بِرَجُلَيْنِ وَامْرَأَةٍ، فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ"). (ابن ماجة، چاپ کال نه لري، ج ۲، ص. ۸۵۷).

ژباړه: د عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی هغې ویلي دي: کله چې زما د پاک لمنی په اړه ایاتونه نازل شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم منبر ته وخوت، دغه پېښه یې ذکر کړه او قرآن کریم یې تلاوت کړ، کله چې راکوز شو په دوو سړیو او یوې ښځې یې د (حد پلي کولو) امر وکړ او د حد له کبله دوی ووهل شول.

۳- (عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقْطَعُ الْيَدُ إِلَّا فِي رُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا») (ابن ماجة، چاپ کال نه لري، ج ۲، ص. ۸۶۲).

ژباړه: د عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: لاس به د دینار په څلورمه برخه کې او یا له دې څخه په زیات مال کې پرې کېږي.

## د حدودو د مشروعیت حکمتونه

هېڅوک دې گمان نه کوي، چې الله جل جلاله حدود مشروع کړي او موږ ته یې د تطبیق او عدم تطبیق ترمنځ اختیار راکړی دی؛ بلکې موږ باید په دې پوه شو، چې الله جل جلاله حدود فرض کړي او د عمل کولو امر یې پرې کړی دی او څوک چې پرې عمل کول پرېږدي کافر، ظالم او فاسق دی.

په دې کې شک نشته چې الله جل جلاله حدود د یو لړ حکمتونو او فوائدو پر اساس مشروع کړي دي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

### ۱- د انسانانو د اساسي مصلحتونو ساتل

د حدودو پلي کولو سره د هغو پنځو ضروریاتو ساتنه کېږي، چې فقهاوو پرې اجماع کړې ده، چې هغه د دین، نفس، عقل، نسل او ناموس او د مال ساتنه ده. دا د شرعي مقاصدو لوړه مرتبه او د شریعت د راتلو تر ټولو لوړه موخه ده. که فکر وکړو ټول حدود له دې ضروریاتو څخه تجاوز نه کوي؛ ځکه چې قصاص د نفس ساتنه، د زنا او قذف حدونه د عزتونو او نسل ساتنه، د قطاع الطریق (لارې شوکونکو)

او غلا حدونه د ټولنې او خلکو د مالونو ساتنه او د شرابو حد د عقلونو ساتنه کوي (سعیدان، چاپ کال نه لري، ج۳، ص. ۲۱).

**۲- په اسلامي ټولنه کې د امن ساتنه**

هغه ثمره چې په ټوله کې د الله جل جلاله د دین تطبیقولو او په ځانګړې توګه د حدودو په پلي کولو سره حاصلیږي، په داسې توګه د امن لاسته راوړل دي، چې خلک د خپلو مالونو، نفسونو او عزتونو په ساتنه باندې ډاډمن کیږي او د اسلامي ټولنې د امن اهمیت لهپاره وینو چې شارع یې د ساتنې په موخه یو لړ اساسي قواعد ټاکلي دي. دا له دې امله چې د ټولنې اساسي بنسټونه په امن باندې ولاړ دي، که امن ورک شي؛ نو نه به نفس ثابت پاتې شي، نه به له امن پرته متوازن عقل شتون ولري او نه به عزت خوندي او سالم پاتې شي (مجموعة من المؤلفین، ۱۴۳۲ هـ ق، ج ۱، ص. ۲۷).

امن داسې شرعي غوښتنه ده، چې په قرآن کریم او نبوي سنتو کې یې ذکر راغلی دی:

لومړی: قرآن کریم

۱- د الله جل جلاله دا وینا: ﴿أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَى إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ﴾ (قرآن کریم، القصص، آیت: ۵۷)

ژباړه: آیا دوی ته مونږ داسې حرم (ځای) نه دی ورکړی چې (له قتل او غارته) په امان دی، دې (حرم) ته (له هر طرفه) د هر څېز مېوې راچلولی شوې دي.

۱. د ابراهیم علیه السلام د دعا په اړه د الله جل جلاله دا وینا: ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا﴾ (قرآن کریم، البقرة، آیت: ۱۲۶).

ژباړه: او (یاد کړه اې محمده!) هغه وخت چې ابراهیم علیه السلام وویل اې زما ربه دا ښار (چې کعبه مې پکې ودانه کړې ده) د امن ځای وګرځوه.

**دویم: سنت**

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا) (ترمذي، ۱۹۹۸م، ج۴، ص. ۱۵۲).

ژباړه: په تاسې کې چې څوک شپه په خپل کور کې په امن سره سبا کړي، بدني روغتیا ولري او د ورځې خواړه ولري، دا داسې ده لکه ټوله نړۍ چې د هغه په قبضه کې وي.

د استدلال طریقه: هغه غوره شی چې انسان یې په دې دنیا کې ترلاسه کوي امن او صحت دی؛ نو دا په انسان باندې لوی نعمت دی، داسې ستر او عزتمند نعمت دی چې رعایت کول یې واجب دي (رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء، چاپ کال نه لري، ج۱۵، ص. ۲۰).

امن د هر چا مقصد او هدف دی، چې یوازې په زور او غلبې سره نشي ترلاسه کېدای؛ بلکې د یوې مهمې کړنې په واسطه ترلاسه کېږي، چې هغه د دین قایمول دي او دا هغه هدف دی، چې په اسلامي شریعت کې یې پر ترلاسه کولو هڅونې شوې دي.

هر کله چې امن دومره لوی اهمیت لري؛ نو د هغو کسانو پر وړاندې سختې جزاګانې راغلې دي، چې د اسلامي ټولنې امن او نظم اخلالوي. د حدودو جزاګانې د هغو کسانو په مخ کې سخته توره وه او اوس هم ده، چې د سرغړونې یا برید کولو جرئت کوي. د حدودو په عملي کولو سره د یوې خوندي ټولنې په ژوند کې لویې اغېزې او لویې ګټې ترلاسه کېږي.

۳- د حدودو په پلي کولو سره د مسلمانانو اصلاح کېږي

بېشکه چې الله جل جلاله خلکو ته د اسلامي شریعت د احکامو تابعداریٔ باندې امر کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾ (قرآن کریم، آل عمران، آیت: ۳۲)

ژباړه: (ای محمده! دوی ته) ووایه چې تاسې د الله جل جلاله او د رسول (چې محمد صلی الله علیه وسلم دی) اطاعت کوئ پس که دوی (له دې اطاعت څخه) وګرځېدل؛ نو بېشکه الله جل جلاله د کافرانو سره دوستي نه کوي.

امام مالک بن انس رحمه الله فرمایلي دي: د دې امت وروستني نشي اصلاح کېدای؛ مګر په هغه څه سره، چې لومړني پرې اصلاح شوي وو؛ لومړني د دې امت په اسلام سره اصلاح شوي وو او وروستني به هم یوازې په اسلام سره اصلاح کېږي. له دې امله د مسلمانانو علماء او حاکمان د الله تعالی د احکامو په ساتنه کې مهم رول لري، په ځانګړې توګه د جنایاتو او حدودو په پلي کولو او د عقیدو په برابرولو کې، په داسې توګه چې د ټولنې لهپاره ډاډه او سوکاله ژوند تضمینوي. که داسې نه وای؛ نو په مسلمانانو کې به هم د نورو په څېر ویره، ګډوډي،خفګان او سرغړونه رامنځته شوې وای او داسې مرضونه به پکې خپاره شوي وای، چې په پخوانیو خلکو کې به نه وو تېر شوي او دا به د خلکو د عملونو له امله وای په داسې حال کې چې الله جل جلاله ډېرو ته عفوه او بخښنه کوي (رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء، چاپ کال نه لري، ج۲۹، ص. ۱۶۷).

## ۴- د حدودو په پلي کولو سره د فساد او ګډوډۍ مخه نيول کېږي

په دې کې شک نشته، چې د حدودو له پلي کولو څخه مخ اړول به امت په ګډوډۍ، هلاکت او ټولنيز فساد کې ښکيل کړي، او له دې څخه الله جل جلاله خپل بنده ګان په خپلې دې وينا سره وېرولي دي: ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ (قرآن کريم، النور، آيت: ۶۳).

ژباړه: پس هغه کسان چې زما د رسول له امر څخه مخالفت کوي، ودې وېرېږي له دې چې وبه رسېږي دوی ته څه فتنه (آفت په دنيا کې) يا به ورسېږي دوی ته دردناک عذاب (په اخرت کې).

نبي عليه السلام هم موږ د الله جل جلاله د شريعت په قايمولو کې له تقصير (کمي) څخه وېرولي يو او پر موږ د هغه چا منع کول لازم دي، چې د حق او سمې لارې څخه کږېږي او په دې لړ کې نبي عليه السلام ټولنه د کيشتۍ سره مشابه کړې ده فرمايلي يې دي: (مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلاَهَا وَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا فَكَانَ الَّذِى فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ فَمَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ آذَوهُمْ فَقَالُوا لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا فَاسْتَقَيْنَا مِنْهُ وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا فَإِنْ تَرَكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا جَمِيعًا) (بخاري، ۱۴۲۲هـ ق، ج۳، ص. ۱۳۹).

ژباړه: د الله جل جلاله پر حدودو باندې د ولاړ شخص او د هغه چا مثال چې په حدودو د الله تعالی کې واقع کېږي، د هغو خلکو په څېر دی، چې په يوه کښتۍ باندې قرعه کشي وکړي، ځينو ته د کښتۍ پاسنۍ برخه (منزل) ورسېږي او ځينو نورو ته يې لاندينۍ برخه ورسېږي؛ نو کومو ته چې لاندينۍ برخه رسېدلې وي، د اوبو اخيستلو لپاره په پاسنيو خلکو ورتېرېږي او تکليفوي يې؛ نو هغه (د لاندينۍ برخې والا) ووايي چې موږ به په خپله برخه کې سوری وکړو او د هغې څخه به اوبه ترلاسه کړو؛ تر څو پاسني خلک په تکليف نه کړو؛ نو که پاسني دوی دې کار ته پرېږدي او کښتۍ سوری کړي؛ نو ټول به سره هلاک شي او که له دې کار څخه يې منع کړل؛ نو ټول به نجات ومومي.

هر کله چې موږ مفسدان (د حق او سمې لار څخه وتوونکي او د جرائمو مرتکبين) د الله تعالی د حدودو په پلي کولو سره له خپلو کرغېړنو کړنو څخه منع کړو؛ نو د ژوند کښتۍ به په بحر کې په ارام، اطمئنان او هر ډول تهديد يا هلاکت څخه په سلامتيا سره روانه وي.

## ۵- د حدودو پلي کول د جرمونو له ارتکاب څخه مخنيوی کوي

د اصلاح د وسايلو او لارو چارو له کارولو وروسته د شرعي حدودو تطبيق هغه قوت دی، چې د جرم کولو څخه خلک منع کوي او دا هغه منع کوونکې وسيله ده، چې قاضي ترې د اصلاح په موخه کار اخلي؛ نو د مجرم او نورو ټولو خلکو لپاره د جرمونو څخه منع کوونکي او بندوونکي دي، له همدې امله الله تعالی امر کړی دی، چې د حدودو د تطبيق پر مهال دې يوه ډله د مؤمنانو شتون ولري؛ تر څو

له جرمونو څخه مخنیوی وکړي، د دې مقصد ترلاسه کېدو لهپاره په هر جرم کې داسې جزا ټاکل شوې، چې د جرم سره مناسبه وي (سعیدان، چاپ کال نه لري، ج ١، ص. ١٩٩).

د بېلګې په توګه غلا د زنا په شان نه ده، چې په جزا کې ورسره برابره شي او د حرابت حد د قذف حد سره برابر نه دی؛ نو موږ وینو چې د غله لاس پرې کول د غلا له جرم سره مناسبه جزا ده او د واده شوي شخص سنګسارول او بې واده په دورو وهل د زنا له جرم سره مناسبه جزا ده (سعیدان، چاپ کال نه لري، ج ١، ص. ١٩٩).

په همدې اساس الله جل جلاله داسې فرمایلي دي: ﴿فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ فَمِنْهُمْ مَنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُمْ مَنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُمْ مَنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُمْ مَنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ (قرانکریم، العنکبوت، آیت: ٤٠).

ژباړه: پس هر یو له دغو یادو شوو موږ د خپلې ګناه په (سبب) ونیول، پس ځینې د دوی هغه څوک دي، چې موږ پرې سخت (کاڼي ورونکی) باد ولېږه او ځینې له دوی هغه څوک دي، چې چغې ونیول (چې زړونه یې وچاودل) او ځینې له دوی هغه څوک دي، چې موږ دوی (په اوبو کې) غرق کړل او الله جل جلاله نه و، چې پر هغو ظلم وکړي لیکن دوی وو چې په خپلو ځانونو به یې ظلم کاوه (په کفر او معصیت سره).

هغه جزاګانې چې د الله جل جلاله د حقوقو له کبله ټاکل شوې دي، د هغو جزاګانو په نسبت سختې دي چې د بنده ګانو د حقوقو له کبله ټاکل شوې دي، دا له دې امله چې د الله جل جلاله د حقوقو له کبله د جزا ټاکلو اندازه کې په خپله جرم ته نه کتل کېږي؛ بلکې پر ټولنه او د ټولنې پر حقوقو او عامو مصلحتونو باندې د جرم ناوړه اغېزو ته کتل کېږي (رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء، چاپ کال نه لري، ج٥٦، ص. ٢٢٩).

د بېلګې په توګه که د قطاع الطریق حد په نظر کې ونیسو چې په ځمکه کې فساد کوونکي دي، که دوی د خلکو ډارولو لهپاره وتلو باندې اتفاق وکړي؛ نو شریعت به دوی ته یوازې په دې وتلو باندې هماغه جزا ورکوي که څه هم چې هیڅا ته یې زیان نه وي رسولی، ځکه چې هغو اغېزو ته کتل کېږي، چې ټولنې ته د دې کار له امله ور رسېږي، چې د خلکو ډارول دي او د سفر، تجارت او داسې نورو چارو ځنډېدل دي؛ نو جزا به یې همدغه شان سخته وي (رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء، چاپ کال نه لري، ج٥٦، ص. ٢٢٩).

د حدودو په پلي کولو سره هم جنایتکار او هم د جنایتکار پرته نور خلک د جرمونو له ارتکاب څخه منع کېږي:

**الف ـ جنایتکار (مجرم)**

مجرم سره له دې چې د جرم په تر سره کولو کې جرأت کوونکی دی؛ مګر بې زړه هم دی او دا هغه وخت چې پوه شي، چې د جرم له امله جزا ورکول کېږي او که وپوهېږي، چې جزا نه ورکول کېږي؛ نو بیا ډاروونکی او شریر دی؛ نو له دې امله جزا په بشپړه توګه بندوونکې ده او د مجرم لهپاره د دویم ځل لهپاره له جرم څخه بندوونکې او منع کوونکې ده. که چېرته یې په زړه کې جرم ته د راګرځېدو خیال راځي؛ نو وریادېږي، چې جزا به ورکول شي په همدې اساس د جرم څخه منع کېږي او دا جزا یې د حقې او درستې لارې څخه له کږېدو ژغوري (محیمید، چاپ کال نه لري، ج۱، ص. ۱۲).

**ب ـ د جنایتکار پرته نورو خلکو لهپاره**

د حدودو تطبیق د هغو خلکو لهپاره، چې مجرمین نه دي نصیحت دی؛ تر څو اینده لهپاره په کوم جرم کې واقع نه شي. کله چې جنایتکارانو باندې د حدودو قایمول په خپلو سترګو وګوري؛ نو د داسې جرمونو تر سره کولو په اړه به یې د یوازې فکر کولو څخه هم منع کړي او په یاد به لري، چې باید دې ته ورته ګناهونه تر سره نه کړي، تر څو حد پرې تطبیق نشي.
.(http://www.assakina.com/mohadrat/26524.html)

په همدې توګه د حدودو په قایمولو سره مجنی علیه (پر چا چې جنایت پېښ شوی) د عدل او انصاف احساس کوي او د قهر او غوسې هغه اور یې مړ کېږي، چې مجرم د جرم سرته رسولو په جریان کې بل کړی دی، کله کله چې یو جنایت پر چا واقع شي او په جنایتکار باندې حد قایم شي؛ نو مجنی علیه (پر چا چې جنایت تر سره شوی) ارامېږي او د انتقام اخیستلو کوښښ نه کوي او په دې اړه د ځان سره فکر هم نه کوي، ځکه چې شریعت قایم شو او جنایتکار ته هغه وړ جزا ورکړل شوه، چې د ده د عزت لوټلو، یا مال باندې د تیري کولو او داسې نورو کارونو له امله یې مستحق شوی و .(http://www.assakina.com/mohadrat/26524.html)

همدارنګه د حدودو په پلي کولو سره د خلکو ژوند ژغورل کېږي، په دې اړه الله جل جلاله فرمایلي دي:
﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ (قرآن کریم، البقرة، آیت: ۱۷۹).

ژباړه: او تاسې لهپاره په قصاص کې ژوندون دی ای د عقلونو خاوندانو! د دې لهپاره چې تاسې (له نا حقه وینو څخه) ځان وساتئ.

**۶- د حدودو پلي کول د فرد او ټولنې لهپاره رحمت دی**

ابن تیمیه رحمه الله وایي: د حدودو مشروعیت د الله جل جلاله له لوري په خپلو بنده ګانو باندې رحمت دی، چې په خپلو بنده ګانو باندې یې د رحمت او هغو سره د احسان کولو له مخې مقرر کړي دي، له همدې امله هغه چا ته پکار دي، چې خلکو ته د هغوی د ګناهونو جزاګانې ورکوي، چې د حدودو په

تطبیقولو سره یې مقصد په هغوی باندې ترحم او ورسره نیکي کول وي، لکه څرنګه چې پلار خپل زوی ته تأدیب ورکول مقصد وي او د طبیب مقصد د خپل مریض علاج کول وي (ابن تیمیة، ۱۴۱۶هـ ق، ج۲۸، ص. ۳۲۹).

د حدودو د تطبیق مقصد د غوسې سړول، د انتقام اخیستل او یوازې د قانون او نظام تطبیقول نه دي، ځکه چې دا د رحیم او رحمان ذات له لوري په خپلو بنده ګانو باندې رحمت دی، دا د پلار له لوري زوی ته د تأدیب ورکولو په درجه کې دي او که چېرته یې د مور په مشوره د هغې د شفقت او ترحم له وجې پرېږدي او تأدیب ورنه کړي؛ نو دا زوی خرابېږي؛ لیکن د ترحم له مخې باید تأدیب ورکول شي؛ تر څو اصلاح یې وشي، په همدې ډول حدود هم د دواړو خواوو لهپاره رحمت او نعمت دی، د ښه وضاحت په موخه یې په جلا جلا توګه ذکر کوو:

**الف: د حدودو پلي کول د جنایتکار لهپاره رحمت دی**

د الله جل جلاله د قانون مخالفت کوونکو او له حدودو څخه یې تجاوز کوونکو ته وعظ، نصیحت او لارښوونه فایده نه ورکوي، ځکه چې په زړونو یې مهرونه لګېدلي دي او ګناه ورته خوښه او غوره کړای شوې ده؛ نو منع کوونکې او سخته جزا ورته په کار ده، ځکه چې د جرمونو تر سره کول د انسان په ژوند باندې ډېره ستره اغېزه لري، ضرر ورته رسوي او په خپلو جنایتونو باندې پرېښودل یې د هلاکت سبب ګرځي؛ نو جزا ورکول د جنایتکار لهپاره رحمت دی، که چېرته دی په خپلو جنایتونو کې پرېښودل شي هلاکېږي او ضایع کېږي په همدې اساس د جرمونو څخه خلاصول یې اړین دی او ورکړل شوې جزا د هغې دوا په څېر ده، چې مریض کې د شته مرض لهپاره ورکول کېږي. د دې مثال داسې دی، لکه یو څوک چې په یو خبیث مرض باندې اخته شي او نه ښه کېږي؛ مګر د هغه اندام په پرې کولو سره چې مرض ډېروي؛ نو طبیب هغه اندام پرې کوي؛ تر څو چې ژوند یې وژغورل شي، ځکه چې پرې کولو کې یې د نور بدن د سلامتیا امید وي، همدغه شان جنایتکار ته جزا ورکولو کې د هغه د اصلاح او د دنیا او اخرت له عذاب څخه د خلاصون امید دی (ابن تیمیة، ۱۴۱۸ هـ ق، ج۱، ص. ۷۹).

**ب: د حدودو پلي کول د اسلامي ټولنې لهپاره رحمت دی**

د حدودو پلي کول اسلامي ټولنه له جرمونو پاکوي او داسې پاکه ټولنه یې جوړوي، چې غړي یې په عزت، پاکۍ او هوساینې سره ژوند تېروي، چې اخلاق یې ښکاره نښه او بې حیایي یې د ذلت صفت دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (إِقَامَةُ حَدٍّ بِأَرْضٍ خَيْرٌ لِأَهْلِهَا مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً) (نسائي، ۱۴۰۶هـ ق، ج۸، ص. ۷۶).

ژباړه: په ځمکه کې د یوه حد قایمول د دنیاوالو لهپاره د څلویښتو ورځو باران څخه غوره دی.

**۷- د حدودو پلي کول د جنایتکار لهپاره کفاره ده**

په جنایتکار باندې د حد قایمول د هغه څخه د هغې جرم گناه ختموي چې مرتکب شوی یې دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته فرمایلي دي: (تَعَالَوْا بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لاَ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلاَ تَسْرِقُوا، وَلاَ تَزْنُوا، وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ، وَلاَ تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ، وَلاَ تَعْصُونِي فِي مَعْرُوفٍ، فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ بِهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ لَهُ كَفَّارَةٌ، وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَسَتَرَهُ اللَّهُ فَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ، إِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ، وَإِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ) **(بخاري، ۱۴۲۲هـ ق، ج۵، ص. ۵۵).**

ژباړه: راځئ له ما سره په دې بیعت وکړئ، چې د الله سره به هیڅ شی شریک نه نیسئ او نه به غلا کوئ او نه به زنا کوئ او نه به خپل اولاد وژنئ او نه به په داسې تهمت سره راتگ کوئ چې له ځانه یې جوړوئ او نه به په روا چارو کې زما نافرماني کوئ، ستاسې څخه چا چې پرې وفا وکړه الله تعالی به اجر ورکړي او که له دې څخه چا کومه گناه وکړه او دنیا کې جزا ورکړل شوه؛ نو دا به د هغه لهپاره کفاره وي او چا چې له دې څخه کوم څه وکړل او الله تعالی پرې پرده واچوله؛ نو معامله یې د الله تعالی سره ده، که خوښه یې شوه جزا به ورکړي او که خوښه یې شوه بخښنه به ورته وکړي.

په همدې توگه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو بل حدیث کې فرمایلي دي: (وَمَنْ أَتَى مِنْكُمْ حَدًّا، فَأُقِيمَ عَلَيْهِ، فَهُوَ كَفَّارَتُهُ) **(نیسابوري، چاپ کال نه لري، ج۳، ص. ۱۳۳۳).**

ژباړه: ستاسې څخه چې څوک حد باندې راتگ وکړي او حد پرې قایم شي؛ نو دا یې کفاره ده.

ابن القیم رحمه الله ویلي دي، دا د الله جل جلاله د پراخه او غوره رحمتونو له جملې څخه ده، چې دا جزاگانې یې د جنایتکارانو لهپاره کفارې گرځولې دي په ځانگړې توگه هغه وخت چې د جرمونو څخه د رجوع او نصوحه توبې سره مل وي؛ نو دا جزاگانې او حدود په دنیا او اخرت دواړو کې د الله جل جلاله رحمت دی (ابن القیم، ۱۴۲۳ هـ ق، ج۲، ص. ۷۳).

**۷- د حدودو پلي کول د تقدیري جزاگانو د رفع یا تخفیف سبب گرځي**

الله جل جلاله پر هغه چا چې د حدودو مرتکب کېږي، شرعي جزاگانې ټاکلې دي، چې پلي کول یې حتمي دي، که چېرته دا جزاگانې تطبیق شي، تقدیري جزاگانې رفع کېږي او یا یې د تخفیف سبب گرځي، الله عزوجل فرمایلي دي: ﴿فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ آمَنَتْ فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ﴾ (قرآن کریم، یونس، آیت: ۹۸)

ژباړه: نو ولې نه و اهل د یوې (نافرمانې) قریې چې ایمان یې راوړی وای (د عذاب نازلېدو څخه مخکې) پس ایمان ورته نفع رسولې وای، مگر د یونس علیه السلام قوم چې کله ایمان راوړ (د عذاب د علایمو

په ليدلو) نو موږ له دوی څخه په دې لږ خسيس ژوندون کې عذاب دفع (پورته) کړ او دوی ته موږ د مرگ تر وقت پورې فايده ورسوله.

ابن القيم رحمه الله ويلي دي: (د گناهونو جزاگانې په دوه ډوله دي: شرعي جزاگانې او تقديري جزاگانې، کله چې شرعي جزا قائمه شي، تقديري جزاگانې يا رفع کېږي او يا يې د سپکوالي سبب گرځي او الله تعالی دواړه ډوله جزاگانې خپل بنده باندې نه راجمع کوي؛ مگر هغه وخت چې يوه له دې دواړو د گناه د رفع کولو لهپاره بسنه ونه کړي (ابن القيم، ۱۴۱۸ هـ ق، ج ۱، ص. ۱۱۱).

که چېرې موږ هغه جزاگانې پلي نه کړو چې الله جل جلاله واجب کړي دي؛ نو تقديري جزاگانو ته به واوړي، چې کله به ډېرې سختې وي او کله به اسانې وي؛ خو عامې به وي په داسې حال کې چې شرعي جزاگانې خاص وي (تويجري، چاپ کال نه لري، ج ۱، ص. ۲۹۳۵).

**الله تعالی فرمايلي دي:** ﴿لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ (۷۸) كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ (۷۹) تَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ أَنْ سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ﴾ **(قرآن کريم، المائدة، آيت: ۷۸-۸۰).**

ژباړه: له بني اسرائيلو څخه په هغو کسانو باندې د داود عليه السلام په ژبه سره لعنت کړی شوی دی، چې کافران شوي دي او (په ژبه د) عيسی عليه السلام، دا (لعنت پر دوی) په سبب د دې و، چې نافرماني يې کوله (له احکامو د الله) او وو دوی چې تېرېدل به (له حدودو د الله)، وو دوی چې يو بل به يې له هغه بد عمله چې دوی به کاوه سره نه منع کول، (قسم دی) هغه کار چې دوی به کاوه خامخا بد و، ته به ډېر له دوی وينې چې دوستي به کوي له هغو کسانو سره چې کافران شوي دي. (بيا قسم دی چې) خامخا بد و هغه شی چې پخوا لېږلي وو دوی ته ځانونو د دوی (چې هغه شی موجب و) د دې چې په غضب شو الله پر دی او دوی به تل په عذاب کې وي.

**پایله**

۱- د حدودو مشروعیت د اسلامي شریعت د پنځه ګونو ضروریاتو ساتنه او حفاظت کوي.
۲- د حدودو مشروعیت د جنایتکار، مجنی علیه او عامې ټولنې لهپاره الهي رحمت او پیرزوینه ده.
۳- که حدود په صحیح توګه نافذ شي، ټولنه کې به امن او ثبات قایم او خلک به په حیاء او عزت کې داډمن، سوکاله او له خوشحالیو ډک ژوند ولري.

**وړاندیزونه**

۱- د اسلامي امارت محاکمو ته وړاندیز کوم، چې حدود د حنفي فقهې له احکامو سره سم تطبیق کړي، تر څو ټولنه مو له جرمونو څخه پاکه شي.
۲- علماوو او خطیبانو ته وړاندیز کوم، چې خلکو ته د منبر له لارې د حدودو د مشروعیت حکمتونه تشریح کړي؛ تر څو خلک پوه شي چې اسلامي شریعت په څومره ښه شان سره د جنایتکارانو اصلاح کوي.

**مأخذونه**

القرآن الكريم.

(ج: ٣). المصدر. سعيدان، وليد بن راشد. (ب.ت). تحرير القواعد ومجمع الفرائد. (ج: ١). (ب.ن). http://www.assakina.com/mohadrat/26524.html

ابن القيم، ابو عبدالله محمد بن أبي بكر. (١۴٢٣ هـ ق). اعلام الموقعين عن رب العالمين. (ج: ٢). السعودية. دار الجوزي للنشر والتوزيع.

ابن القيم، ابو عبدالله محمد بن أبی بكر. ( ١۴١٨ هـ ق). الجواب الكافی لمن سأل عن الدواء الشافی أو الداء والدواء. (ج: ١). المغرب. دار المعرفة .

ابن تيمية، تقی الدين ابو العباس. (١۴١٦هـق). مجموع الفتاوی.(ج: ٢٨). السعودية. مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف.

ابن تيمية، تقی الدين ابو العباس. (١۴١٨ هـ ق). السياسة الشرعية في إصلاح الراعي والرعية. (ج: ١).السعودية. وزارة الشؤن الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد.

ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد. (ب.ت). سنن ابن ماجه. (ج: ٢). مصر ـ قاهره. دار إحياء الكتب العربية.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن علی. ( ١٤١٤ هـ). لسان العرب. (ج: ٣). لبنان ـ بيروت. دار صادر. دريم چاپ.

بخاري، محمد بن اسماعيل.(١۴٢٢هـ). صحيح البخاري. (ج: ٣).لبنان ـ بيروت. دار طوق النجاة.

بخاري، محمد بن اسماعيل.(١۴٢٢هـ). صحيح البخاري. (ج: ۵). لبنان ـ بيروت. دار طوق النجاة.

ترمذي،محمد بن عيسى بن سَوْرة. (١٩٩٨م). سنن الترمذي. (ج: ۴). لبنان ـ بيروت. دار الغرب الإسلامي.

تويجري، محمد بن إبراهيم. (ب.ت). موسوعة فقه القلوب.(ج: ١). مصر ـ القاهرة. بيت الأفكار الدولية.

رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء. (ب.ت). مجلة البحوث الاسلامية. (ج: ١۵). المصدر. موقع شبكة مشكاة الإسلامية. http://www.almeshkat.net/

رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء. (ب.ت). مجلة البحوث الاسلامية. (ج: ٢٩). المصدر. موقع شبكة مشكاة الإسلامية. http://www.almeshkat.net/

رئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء. (ب.ت). مجلة البحوث الاسلامية. (ج: ۵٦). المصدر. موقع شبكة مشكاة الإسلامية. http://www.almeshkat.net/

فيومي، أحمد بن محمد بن علي. (ب.ت). المصباح المنير في غريب الشرح الكبير. (ج: ١). لبنان ـ بيروت. المكتبة العلمية.

كاساني، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي. ( ١٤٠٦هـ). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. (ج: ٧). لبنان ـ بيروت. دار الكتب العلمية. دويم چاپ.

مجموعة من المؤلفين. (۱۴۳۲ هـ ق). خطب المسجد الحرام. (ج: ۱).موقع مكتبة المسجد النبوي الشريف http://www.mktaba.org

محيميد، ناصر بن ابراهيم. (ب.ت). وظيفة القضاء فى التعامل مع الإرهاب. (ج: ١). السعودية. موقع وزارة الأوقاف السعودية.

نسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب. ( ١۴٠٦). السنن الصغرى للنسائي. (ج: ۸). سورية ـ حلب. مكتب المطبوعات الإسلامية.دويم چاپ.

نيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن. (ب.ت). صحيح مسلم. (ج:٣). لبنان ـ بيروت. دار إحياء التراث العربي.

# د عمدي قتل په مقابل کې صلحه او د هغې احکام

پوهنمل نقیب الله مشفق، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، فقه او قانون څانګه.
**برېښنالیک:** mushfiqkhosti@gmail.com

**لنډیز**

په اوسنی زمانه کې د ټولنې ډېرى وګړي په ناحقه وژل کېږي او د قاتل د وژنې پر وخت بې ګناه وګړي وژل کېږي، نو له دې امله ما دغه مقاله ولیکله، ترڅو د ټولنې وګړي د انتقام اخیستنې پر ځای د صلحې لار خپله کړي، چې له یوې خوا به قاتل له مرګ څخه وژغورل شي او له بلې خوا به بې ګناه وګړي نه وژل کېږي. قتل د نفس داسې یو فعل دی، چې په هغې سره ژوند له منځه ځي. څوک چې یو مؤمن په قصد سره ووژني؛ نو د هغه سزا دوزخ دی. اسلامي شریعت د وژل شوي شخص ولي ته د قصاص ښننه روا کړې ده. د دیت په مقابل کې د قصاص څخه تېریدل عفوه نه بلکې صلحه ګڼل کېږي.

په قصاص کې په هغه اندازه مال باندې صلحه روا ده، چې طرفینورباندې رضا شوي وي. که د دوه خواوو ترمنځ جګړه وي او په ټولنه کې داسې څوک موجود وي، چې د جګړې په اړخونو باندې صلحه منلی شي، نو صلحه کول ورباندې واجب دي.

دغه څېړنه کتابتوني ده، نو د معلوماتو په راټولو کې مې د قرآن کریم، نبوي سنتو او د فقهې له معتبرو کتابونو څخه ګټه اخیستې ده او د آیاتونو د ژباړې لهپاره مې د کابلي تفسیر څخه ګټه اخیستې ده.

څوک چې یو مؤمن په قصد سره ووژني؛ نو د هغه سزا په دنیا کې قصاص، دیت، د میراث او وصیت څخه محرومیت دی، په اخرت کې یې سزا دوزخ دی. کله چې د قتل جریمه رامنځ ته شي، په نورو مسلمانانو لازمه ده، د قاتل او مقتول د کورنی ترمنځ صلحه وکړي.

**کلیدي کلمې:** بدو کې د ښځو ورکول، د عمدي قتل سزا، صلحه، عمدي قتل، قتل.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

لکه څرنګه چې الله تعالی د انسانانو پیدا کوونکی دی، همدارنګه د انسانانو رب هم دی، د خپلو بندګانو پالنه او ساتنه کوي، الله تعالی د انسانانو د پیدایښت سره سم انسانانو ته لارښوونې کړې دي، په ښو کارونو یې ورته امر کړئ او له بدئ څخه یې منع کړي دي، چې یو یې د بې ګناه مسلمانانو وژل دي، د الله تعالی د امرونو او نواهیو څخه د الله تعالی د غضب او جهنم اور ته د داخلېدلو سبب کېږي، الله تعالی

فرمايي، چې که څوک یو مسلمان په ناحقه مړ کړي؛ لکه د ټولې دنیا انسانان یې چې مړه کړي وي، نو له همدې امله یې د هغه چا قصاص جایز کړی، چې په ناحقه څوک قصداً ووژني، له بله پلوه یې د عفوې او تېریدنې له پاره مسلمانان هڅولي دي او د صلحې ګټې یې ورته ښودلې دي.
د عمدي قتل په مقابل کې صلحه یوه داسې موضوع ده، چې په دې اړه ما کومه ځانګړې لیکنه پیدا نه کړه، د قرآن کریم په تفسیرونو کې د قصاص آیاتونو لاندې دغې موضوع ته اشاره شوې ده، او همدا رنګه د احادیثو په کتابونو کې د قتل باب لاندې په دغه موضوع باندې په بېلابېلو ځایونو کې بحث شوی، خو ما ځانګړې لیکنه پکې پیدا نه کړه.

د دې له پاره چې د الله تعالی امرونه مو پر ځان عملي کړي وي، له ممنوعاتو مو ځانونه ساتلي وي، د ستونزو او شخړو پېښېدو پر وخت مو د صلحې او خېر خواهۍ لاره خپله کړې وي؛ نو ومې غوښتل چې د عمدي قتل په مقابل کې صلحه او احکام یې په دې مقاله کې راجمع کړم؛ تر څو خلک د قتلونو څخه ځانونه وژغوري او که دغه ډول پېښې رامنځ ته شي په وړاندې یې د مشروع صلحې لاره خپله کړي.

**موخې**

د دې مقالې په لوستلو سره به لوستونکي وتوانېږي، چې د قتل تاریخچه، اقسام او اړوند احکام وپېژني، له دې ناوړه عمل څخه به ځانونه وساتي، که په ټولنه کې داسې کړنه ترسره شوه؛ مېشت خلک به یې د صلحې له لارې حل را وباسي.

- د عمدي قتل پېژندل
- د عمدي قتل په مقابل کې د صلحې پېژندل
- د عمدي قتل په مقابل کې د صلحې اړوند احکامو پېژندل

**کړنلاره او د کار توکي**

دغه څېړنه یوه کتابتوني څېړنه ده، نو په دې اساس مې هڅه کړې ده، چې په لومړي قدم کې معلومات په قرآن کریم کې پیداکړم، له دې وروسته مې د نبوي صلی الله علیه وسلم سنتو څخه معلومات را جمع کړي دي، لومړی مې کوښښ کړی، چې حدیث په صحیحینو کې پیدا کړم، که کوم حدیث په صحیحینو کې شتون نه درلود؛ نو د احادیثو له نورو کتابونو څخه مې را نقل کړی دی، همدا راز د فقهې معتبرو کتابونو ته مې مراجعه کړې ده، د هرې وینا نسبت مې خپل ویونکي ته کړی، د قرآن کریم د ایاتونو ژباړې له پاره مې د کابلي تفسیر څخه ګټه اخیستې ده.

**د قتل تاریخچه**

ښکاره ده، چې د انسانانو له پیدا ښت سره سم د قتل جرم هم منځته را غلی دی، د بشر لومړنی قاتل قابیل دی، چې د ابلیس ( شیطان ) په غولوونکې لارښوونې سره یې خپل ورور ( هابیل ) وواژه.

له بله پلوه د دې ناوړه عمل ( قتل ) حکم په مختلفو دینونو کې په مختلفو طریقو سره یادونه شوې ده، چې مونږ په لنډ ډول داسې یادونه ورځخه کوو.

له هغې زمانې څخه چې دولتونه لا جوړ شوي نه وو او خلکو په قبیلوي شکل ژوند کاوه، په دغه دوره کې هم یو تعداد خلک وو، چې په نورو خلکو باندې یې تیری کاوه، ولې دا یوه طبعي خبره ده، چې کله په یو چا باندې تیری وشي؛ نو هغه د تیري کوونکي څخه د غچ اخېستلو په فکر کې کېږي، چې دغه ( غچ اخیستنې ) په پخوا وختونو کې کوم اصلاحي اړخ نه درلود، تر دې چې که خپل غچ یې نه اخېسته، نو بیا به د هغه شخصیت له منځه تلو، همدغه مفکوره وه، چې په دغه دوره کې غچ اخېستل ډېر شدید وو، لکه: د ژوندي انسان څخه پوستکي ویستل، د هغه د بدن د غړو پرې کول، په حیواناتو پورې تړل، په اور کې غورځول، ژوندي ښخول، په جوش اوبو او تېلو کې اچول او داسې نور.

**د قتل تعریف**

قتل یوه عربي کلیمه ده قَتَلَ یې ماضي یَقْتُلُ یې مضارع او قَتْلاً یې مصدر دی، چې په پښتو ژبه کې مړه کولو ته وایي.

القتل هو: فعل من العبد تزول به الحیاة، أو: هو إزهاق روح آدمي بفعل آدمي آخر ( ابومالک، ۲۰۰۳م، ج۴، ص.۱۹۲).

ژباړه: قتل د یوه انسان هغه عمل ته ویل کېږي، چې د هغې په سبب ژوند له منځه ځي، یا په بل ډول: د یو انسان په وسیله د بل انسان روح له منځه تللو ته قتل ویل کېږي.

قتل په اصطلاح کې: " هوالفعل المزهق للنفس او الممیت" یعني قتل د نفس له پاره داسې یو فعل دی، چې په هغې سره ژوند له منځه ځي ( شریفي، ۱۳۸۸ هـ، ص.۳۴) .

البته پورتنی تعریف د قتل له پاره عام تعریف دی او د قتل د ډولونو په نظر کې نیولو سره یې هر یو جلا تعریف لري.

**د قتل منعه او حرمت**

الله(جل جلاله) د مائدې په سورت کې فرمايي: ﴿مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ كَتَبْنَا عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيراً مِنْهُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ﴾ ( قرآن کريم، المائدة، آيت: ۳۲) .

ژباړه : په دې وجه مونږ بني اسرائيلو ته دا حکم ورکړی و، چې چا يو نفس د بل نفس د بدلې نه بغير يا د ځمکې په مخ د فساد کولو نه بغير وواژه؛ نو لکه ټول خلک يې چې وژلي وي او چا چې د يو نفس ژوند بچ کړ؛ نو لکه د ټولو خلکو ژوند يې چې بچ کړی وي، په حقيقت کې زمونږ پيغمبرانو دوی ته څرګندې نښې راوړې دي، سره د دې بيا هم په دوی کې ډير خلک د ځمکې په مخ زياتی کوي.

همدا راز الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَلاَ تَقْتُلُوا أَوْلاَدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاَقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيراً﴾ ( قرآن کريم، الاسراء، آيت: ۳۱).

ژباړه: خپل اولاد د غريبۍ له ويرې مه وژنئ! مونږ هغوی او تاسو ته روزي درکوو، بېشکه د دوی وژل ډېر لوی جرم دی.

له عباده بن صامت څخه روايت دی، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: ( مَنْ قَتَلَ مؤمناً، فاغتَبَطَ بقتله، لم يَقبلِ اللهُ منه صَرْفاً ولا عَدْلاً ) (السجستاني، ۱۴۳۰هـ ق، ج٦، ص.۳۲۷) .

ژباړه: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايي: څوک چې يو مسلمان ووژني او د هغې په وژلو خوشاله شي؛ الله (جل جلاله) د هغه نفلي او فرضي عبادتونه نه قبلوي.

همدارنګه رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي چې: ( لاَ تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا، إِلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا، لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ القَتْلَ ) ( البخاري، ۱۴۲۲هـ، ج ۴، ص.۱۳۳) .

ژباړه: هرڅوک چې يوکس په ظلم سره ووژني؛ ګناه يې دآدم (عليه السلام) لومړنی زوی (قابيل) ته هم رسيږي؛ ځکه چې هغه لومړنی کس دی، چې د قتل بنسټ يې ايښی دی.
په ځينو صورتونو کې قتل جواز لري، چې په لنډه توګه يې لاندې يادونه کيږي:
الف- د قصاص قتل چې مسلمان يا ذمي کافر يې وژلی وي

ب- د محصن زنا کوونکي قتل (رجم) چې زنا یې کړې وي

ج- د هغه مسلمان قتل چې د حربي کافرانو سره همکاري کوي، که څه هم په خپله کافر شوی نه وي، مثلاً په جهاد کې چې څوک کفارو ته د مجاهدینو جاسوسي کوي او د مجاهدینو د وسلې په نوعیت او مقدار باندې یې خبروي او داسې نور کارونه ورته کوي.

د- هغه مسلمان چې له کافرانو سره د جنگ په میدان کې په خپله خوښه ولاړ وي او یا په زور درول شوی وي، مجاهدینو ته یې وژل روا دي او نور کار یې د الله (جل جلاله) سره دی.

هـ- په ځمکه کې د فساد کوونکو قتل لکه قطاع الطریق (لارشو کوونکي) او داسې نور.

و- د مرتد قتل هغه څوک، چې د اسلام څخه واوړي (کافر شي) (وزارة الأوقاف والشئون الإسلامیة، ۱۴۰۴هـ، ج۳۲، ص.۳۲۲).

حنفي فقهاوو د قتل جریمه (ناجایز قتل) په پنځو ډولونو وېشلې ده: عمد– شبه عمد- خطاء- د خطاجاري مجری او په سبب سره قتل. موږ یوازې عمدي قتل په لاندې توگه ترڅېړنې لاندې نیسو (وزارة الأوقاف والشئون الإسلامیة، ۱۴۰۴هـ، ج۳۲، ص.۳۲۳) .

**عمدي قتل**

عمدي قتل د قصدي جرمونو له جملې څخه دی او قصدي جرمونه د هغه جرمونو څخه عبارت دي، چې جنایت کار یو ناروا کار ته په قصدي توگه هڅه وکړي او په دې باندې پوه وي، چې ناروا دی، په عمدي جرمونو کې د عمد عامه معنی همدا ده، مگر عمد په قتل کې خاص مفهوم لري، هغه دا چې ناروا کار ته په قصدي توگه هڅه کول او د هغه نه د خاصې نتیجې انتظار درلودل، که څوک قصداً ناروا کار ته هڅه وکړي، خو هغه نتیجه (قتل) چې په دې کار باندې مرتبه شي، هغه یې مقصود نه وي، نو دا فعل شبه عمد قتل دی او په وضعي قوانینو کې ورته مرگ ته وهل ویل کېږي ( عودة، ۱۳۸۴هـ، ص.۱۳۳).

قتل عمد یعنې چې یو کس په قصد او ارادې سره بل څوک قتل کړي، د عمدي قتل په اړه علماوو مختلف تعریفونه کړي دي: مالکي، حنبلي، شافعي فقهاء او د احنافو څخه صاحبین رحمهم الله په دې نظر دي چې: عمدي قتل په څیرې کوونکو او نه څیرې کوونکو وسایلو سره وژلو ته وایي. امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمایي چې: عمدي قتل هغه دی، چې یو څوک د وژل شوي شخص د وژلو اراده وکړي

او په داسې الې سره یې بدن ته ووهي، چې په هغې سره د بدن اعضاء له بدن څخه جلا کېږي (وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، ۱۴۰۴هـ، ج۱، ص. ۱۰۹).

د عمدي قتل تعریف د هدایې مصنف رحمه الله داسې کړی دی: (فالعمد ما تعمد ضربه بسلاح او ما جرى مجرى) یعنې عمدي قتل دا دی، چې یو کس په اوسپنیزې اسلحې یا د دې په شان بل شي په ذریعه د بل کس د وژلو (قتلولو) کوښښ وکړي او هغه قتل کړي.

همدا راز په حقوقي قاموس کې عمدي قتل داسې تعریف شوی دی: که د فاعل عمل تجاوز وي او د مجنی علیه د وژلو نیت یې هم کړی وي، قتل عمدي ګڼل کېږي (ستانکزی، ۱۳۸۷هـ، ص.۱۱۲).

علامه کاساني د اوسپني د اسلحې مثال کې توره، چاړه، چاقو اود داسې نورو یادونه کړي، د اسلحې په شان یا د دغه رنګ زخمي کوونکو مثال کې یې اور، شیشه او داسې نور ذکر کړي دي (الکاساني، ۱۴۰٦هـ ق، ج۷، ص.۲۳۳).

په هغه پیړۍ کې چې علامه کاساني ژوند کاوه ساینس دومره پرمختګ نه و کړی، نو ځکه یې د ټوپک، بم، توپ، لایزر او داسې نورو اسلحو او انفجاریه موادو څخه یادونه نه ده کړې، خو دغه اسلحې او انفجاریه مواد هم د اوسپنې څخه جوړ شوي، چې د استعمال په نتیجه کې یې د اور نښه هم په ښکاره توګه ښکاري، نو په دې اساس ټولې له اوسپنې جوړې شوې اسلحې چې د استعمال په نتیجه کې یې اور هم تولیدېږي، د اوسپنې او اور د اسلحې له جملې څخه ګڼل کېږي.

په فقه السنه کې عمدي قتل داسې تعریف شوی دی: عمدي قتل هغه دی، چې یو مکلف شخص د یو معصوم الدم (چې شرعاً د قتل وړ نه وي) د وژلو قصد کړی وي او د هغې شي په واسطه د قتل مرتکب شوی وي، چې په غالب ګومان سره د هغې شي په واسطه وژل کیدلی شي، له دې تعریف څخه داسې معلومېږي، چې د عمدي قتل جرم د لاندې ارکانو په تحقق سره صورت نیسي:

۱- قاتل باید عاقل، بالغ او د قتل قصد یې لرلی وي

۲- مقتول باید معصوم الدم انسان وي (د هغه وینه حرامه وي)

۳- هغه آله چې په قتل عمد کې په کار وړل کېږي، هغه باید وژونکې آله وي (سید سابق، ۱۳۹۷هـ، ج۲، ص.٥۱٦).

**د عمدي قتل څخه منعه**

د عمدي قتل د حراموالي په اړه ډېر آیتونه او احادیث راغلي، چې علماء کرامو را غونډ کړي دي، مگر مونږ په لاندې یو څو آیتونو او احادیثو باندې بسنه کوو.

﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ ( قرآن کریم، النساء، آیت: ۹۳).

ژباړه: څوک چې یو مؤمن په قصد سره ووژني؛ نو د هغه سزا دوزخ دی، چې په دې ( دوزخ) کې به همېشه وي، په ده باندې الله عزوجل په غضب دی، د خپل رحمت څخه یې لرې کړی دی او ډېر لوی عذاب یې ورته تیار کړی دی.

یعنې څوک چې یو مسلمان په خطا سره قتل کړي، په هغه باندې الله عزوجل په رحمت سره رجوع کوي او د رحمت د موندلو لاره یې ورته ټاکلې ده، چې کفاره ده، مگر هغه څوک چې دا کار په قصدي توگه وکړي؛ د هغه له پاره یې د رحمت د لاسته راوړلو طریقه نه ده ښودلې، د هغه گناه دومره غټه ده، چې په کفاره باندې نه بښل کېږي، یا په بل عبارت داسې کفاره نشته چې د ذکر شوې گناه سره انډول وي، دا ځکه چې په نوموړي باندې الله عزوجل په عضب دی او د خپل رحمت څخه یې لرې کړی دی او لوی عذاب یې ورته تیار کړی دی (عزیزي، ۱۳۹۵هـ، ج ۳، ص.۱۸۸۶) .

د پورتني آیت د نزول سبب دا سې دی: د مقیس بن خبابه ورور چې هشام بن خبابه نومیده، په بني النجار قبیله کې وژل شوی و، مړی یې پیدا شو، نو نبي کریم( صلی الله علیه وسلم) بني النجار قبیلې ته ذکر شوی مقیس ور واستاوه او یو صحابي یې( چې د فهد د قبیلې څخه و) هم ورسره ولېږه، چې بني النجار ته ووایه چې: یا مقیس ته د ورور قاتل ورکړئ او که قاتل یې درته معلوم نه وي؛ نو د مقتول دیت ورکړئ. بني النجارو وویل چې: موږ قاتل نه پېژنو، خو دیت ورکولو ته تیار یو. مقیس چې د خپل ورور دیت( سل اوښان) ترلاسه کړل او د خپل ملگري په شمول (چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورسره استولی و) بېرته را ستون شو، نو ذکر شوی صحابي یې شهید کړ او مکې معظمې ته د ارتداد په حالت کې بېرته وتښتیده او د مشرکانو سره یوځای شو، نوموړی اولنی سړی و، چې د اسلام څخه مرتد شو، د ده څخه پخوا هېڅوک د اسلام څخه نه و مرتد شوی.

همدارنگه په یوحدیث کې داسې راغلي: ( أن رسولَ اللهِ - صلَّى الله علیه وسلم - قال: "لا یزالُ المؤمِنُ مُعنِقاً صالحاً ما لم یُصِت دماً حَرَاماً، فإذا أصابَ دماً حَرَاماً بَلَّح) ( أبوداود، چاپ کال نه لري، ج۴، ص.۱۰۴) .

ژباړه: همېشه يو مؤمن (په نيکه لاره باندې) ښېره کوونکی نيکي کوونکی روان وي، تر څو يې چې حرامې وينې ته اصابت نه وي کړی، (مؤمن يې نه وي وژلی) نو کله چې حرامې وينې ته اصابت وکړي، (مؤمن ووژني) نوستومانه شي (د خير په کار کې وړاندې نه شي تللی او توفيق نه شي موندلی).

دلته يو سوال پيداکېږي، چې آيا په عمدي قتل سره سړی کافر کېږي؟
ځواب: د څلور واړو مذهبونو اتفاقي خبره دا ده، چې په قصدي قتل باندې سړی نه کافر کېږي او په دوزخ کې به هميشه پاتې نه شي او توبه يې هم قبلېږي (عزيزي، ۱۳۹۵هـ، ج۳، ص.۱۸۸۷).

**د عمدي قتل سزا**

د عمدي قتل کوونکي له پاره په اسلامي شريعت کې درې ډوله سزاگانې ټاکل شوې دي، چې عبارت دي له: اصلي سزا، بدلي سزا او تبعي سزا.

**د عمدي قتل اصلي سزا(قصاص)**

اسلامي امت د قصاص په وجوب اتفاق لري او عقل هم د قصاص په قانونيت حکم کوي؛ ځکه په دې کې عدالت تامينېږي، چې د فاعل سره هم د هغه کړي جنايت په رنگ معامله وشي او په دې کې مصلحت هم دی، ځکه د قصاص د حکم په جاري کولو سره عمومي امن تامينيږي، د وينو د بهيدو مخنيوی کيږي، د نفسونو ساتنه رامنځته کيږي.

د عمدي قتل له پاره د فقهاوو په نزد اتفاقي سزا، قصاص دی او د مشروعيت دليل يې د الله تعالی دغه قرآني آيت دی: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى﴾ (قرآن کريم، البقرة، آيت: ۱۷۸).

ژباړه: اې مؤمنانو! د قتل په جرم کې په تاسو قصاص فرض کړی شوی دی، آزاد به د آزاد، غلام به د غلام او ښځه به د ښځې په بدل کې قصاص کيږي.

همدارنگه د دې حکم تاکېد په زياتو احاديثو کې هم شوی دی، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: ( لاَ يَحِلُّ دَمُ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَأَنِيِّ رَسُولُ اللَّهِ، إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ) ( أبوداود، چاپ کال نه لري، ج۴، ص.۱۲۶).

## د عمدي قتل بدلي سزا

کله چې قصاص ساقط شي، سزا يې ديت او تعزير دی، دا ډول سزا هغه وخت پلې کېږي، چې د مقتول وارثان د قاتل له قصاص څخه تېر شي او له قاتل څخه ديت وغواړي يا په قصاص کې د حق څښتن مجهول او يا ماشوم وي يا قصاص په يو ډول متعذر شي؛ نو د قصاص بدلي سزا قاتل ته ورکول کېږي.

## ديت

هغه جنايت چې په نفس او يا کوم چې د هغې په حکم کې دی، اجرا شوی وي، د هغې په بدل کې چې کوم مال لا زمېږي، هغې ته ديت وايې.

د ديت مصدر قرآن او حديث دي.

الله( جل جلاله) فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلاَّ خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلاَّ أَنْ يَصَّدَّقُوا﴾ ( قرآن کريم، النساء، آيت: ۹۲) .

ژباړه: دا د يومؤمن کار نه دی، چې بل مؤمن ووژني، مگر دا چې خطايي ورڅخه وشي او څوک چې کوم مؤمن په خطايي سره و وژني، نو د هغه کفاره دا ده؛ چې يو مؤمن له غلامی نه آزاد کړي او د وژل شوي وارثانو ته د وينې بيه ورکړي، مگر دا چې هغوی ديت وبښي.

د ديت په مقدار او ډول کې اسلامي فقهاء په درې ډلو وېشل شوي دي.

۱-ابوحنيفه، مالک او پخواني شوافع رحمهم الله په دې نظر دي، چې ديت د اوښانو، سرو او سپينو زرو څخه په يوه کې لازم دی او د دې درې ډولونو څخه هر ډول يې چې ورکړل شي، صحيح دی، چې د اوښـانو څخه سل اوښان، د سرو زرو څخه زردنياره اوسپينو زرو څخه لس زره درهمه دی.

## تعزير

د عمدي قتل دويمه بدلي سزا تعزير دی، تعذير هغو سزا گانو ته ويل کېږي، چې په شريعت کې ټاکلی حد نه لري، اندازه يې د وخت حاکم ته سپارل شوې ده. دا هغه وخت تحقق مومي چې په قصاص کې د حق څښـتن مجهول وي، يا دا چې په ورثه وو کې ماشومان موجود وي، چې ولي يې هم وجود ونه لري او لويانو ته د هغوی د بلوغ له پاره صبر نه کوي، يا اميرالمؤمنين د حکم توشيح نه کوي او يا هم د هغه کسانو څخه چې د قصاص د استيفاء حق لري، ورک شي يا په عمد قتل کې قصاص په يوه نه يوه ډول ساقط يا متعذرشي ، نو بيا تعزير د قصاص څخه د بدلي سزا په بڼه رامنځ ته کېږي.

### تبعي سزا

د عمدي قتل له پاره درېیم ډول سزا تبعي سزا ده. تبعي هغه سزا ګاڼې دي، چې مجرم ته د اصلي سزا د ورکولو ترڅنګ د قاضي له حکم پرته ورکول کېږي، چې هغه د مړي د میراث او وصیت څخه محرومتیا ده، چې په لاندې توګه هر یو څخه بېل بېل بحث کېږي .

### د میراث څخه محرومتیا

د مقتول د میراث څخه د قاتل حرمان د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د دې حدیث په ذریعه ثابت شوی چې: ( لَيْسَ لِلْقَاتِلِ شَيْءٌ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ فَوَارِثُهُ أَقْرَبُ النَّاسِ إِلَيْهِ، وَلَا يَرِثُ الْقَاتِلُ شَيْئًا) ( أبوداود، چاپ کال نه لري، ج۴، ص.۱۰۴) .

ژباړه: د قاتل له پاره د مقتول په مال کې هېڅ حق نه شته، که د مقتول له ده پرته بل وارث نه وي، نو هغه څوک یې وارث دی، چې ده ته په خپلوی کې نږدې وي او قاتل د مقتول په میراث کې د هېڅ شي حق نه لري.

قتل د یو اصل په حیث د ټولو علماوو په نزد د میراث مانع ګرځي، مګر د صفت له حیثه په کې د مذاهبو ترمنځ اختلاف شته.

امام ابوحنیفه( رحمة الله علیه) وایي، چې قاتل د مقتول د میراث نه محروم دی، که قتل هر رنګه وي، که قتل خطا وي، عمد وي او یا شبه عمد، په دې شرط چې په مباشره توګه واقع شوی وي، نه د تسبب په توګه او هغه عدواني هم وي او دا چې قاتل نه صغیر وي او نه لیونی ( زحیلي، چاپ کال نه لري، ج۷، ص.۵۷۱۹) .

### د وصیت څخه محرومتیا

د وصیت څخه محرومیت طبعي سزا ده او په دې اړه تشریعي اصل دا حدیث دی، چې رسول الله( صلی الله علیه وسلم) فرمایي: ( لَيْسَ لِقَاتِلٍ وَصِيَّةٌ) ( البیهقي، ۱۴۲۴هـ، ج٦، ص. ۴٦۰) .

ژباړه: د قاتل له پاره د مقتول په مال کې وصیت صحیح نه دی.

امام ابوحنیفه( رحمة الله علیه) وایي: که قتل په عدواني توګه د عاقل او بالغ شخص له خوا په مباشره توګه واقع شوی و، نو قاتل د مقتول د وصیت څخه محروم دی، خو که د مقتول ورثه وو اجازه ورکړې وي، نو قاتل ته د مقتول وصیت روا دی، مګر امام ابو یوسف( رحمة الله علیه) یې روا نه بولي؛ ځکه چې د ده په نزد د وصیت مانع قتل دی، نه د ورثه وو خوښه.

## د عمدي قاتل اخروي مجازات

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ (قرآن کريم، النساء، آيت: ۹۳).

ژباړه: څوک چې يو مؤمن قصداً مړ کړي، نو د هغه سزا دوزخ ده، چې همېشه به په کې پروت وي او د الله تعالی قهر او لعنت به پرې ورېږي او ده (قاتل) ته الله تعالی ډېره لويه سزا مقرره کړې ده.

له دې آيت څخه معلومېږي، چې الله "جل جلاله" د عمدي قتل مجازات قاتل د تل له پاره په جهنم کې ساتل دي او قاتل يې د داسې عذاب وړ ګڼلی، چې بې له الله "جل جلاله" څخه يې مقدار او اندازه هېڅ چا ته معلومه نه ده او قاتل ته الله "جل جلاله" د خپل غضب زيری ورکړی دی.

په حقيقت کې دا هغه سزاګانې دي، که چېرته د ايمان خاوندان يې واوري او د هغې په اړه فکر وکړي، نو هېڅ کله به د قتل او جنايت په فکر کې نه شي.

د عمدي قتل اصلي جزا قصاص دی، قاضي ته يې د تخفيف او تبديل صلاحت نه شته.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا﴾ (قرآن کريم، الاسراء، آيت: ۳۳).

ژباړه: څوک چې مظلوم وژل شوی وي؛ د هغه وارث ته موږ د بدل اخيستنې حق ورکړی دی.

اسلامي شريعت د وژل شوي شخص ولي ته د قصاص ښښنه روا کړې ده، که وغواړي د ديت او يا بل څه په مقابل کې يې ښښلی شي او په مجرم به هغه څه لازم وي، چې د هغه په مقابل کې عفوه شوې وي او قاضي به ورباندې حکم کوي.

الله تعالی په دې اړه فرمايي: ﴿ فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَٰلِكَ تَخْفِيفٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ﴾ (قرآن کريم، البقرة، آيت: ۱۷۸).

ژباړه: که د کوم قاتل سره د هغه ديني ورور يو څه ښښنې کولو ته تيار شي؛ نو په ښه وجه دې د وژنې د بدلې په اړه اقدام وشي او پر قاتل باندې لازمه ده، چې په صداقت سره هغه بدله ورکړي. دا ستاسو د رب له خوا اساني او رحمت دی.

په پورتني آيت کې د (عُفِيَ) کلمې په تفسير کې مفسرينو مختلف اقوال را نقل کړي دي، چې يو څو يې دا دي:

۱ - فَيَكُونُ مَعْنَى الْآيَةِ عَلَى هَذَا التَّقْدِيرِ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى حَثَّ الْأَوْلِيَاءَ إِذَا دَعَوْا إِلَى الصُّلْحِ مِنَ الدَّمِ عَلَى الدِّيَةِ كُلِّهَا أَوْ بَعْضِهَا أَنْ يَرْضَوْا بِهِ وَيَعْفُوا عَنِ الْقَوَدِ (الرازي، ۱۴۲۰هـ، ج۵، ص. ۲۲۶).

ژباړه: نو د آیت معنا به داسې شي چې: الله تعالی د مقتول وارثان دې ته هڅولي دي، چې کله دوی د قصاص په ځای دیت یا ځینې برخې د دیت ته را وبلل شي؛ نو پرې راضي دې شي او له قصاص څخه دې تېر شي.

۲ - قَوْلُهُ: فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَالْعَفْوُ فِيه أَنْ يَقْبَلَ الدِّيَةَ فِي الْعَمْدِ ( ابن أبي حاتم، ۱۴۱۹هـ، ج ۱، ص. ۲۹۴).

ژباړه: که د کوم قاتل سره د هغه دیني ورور یو څه ښښنې کولو ته تیار شي، نو عفوه په دې کې دا ده، چې په عمدي قتل کې دې دیت قبول کړي.

۳ - وأبيح لنا القصاص والعفو وأخذ المال بطريق الصلح توسعة وتيسيراً ( النسفي، ۱۴۱۹هـ، ج ۱، ص. ۱۵۶) .

ژباړه: زموږ له پاره قصاص، دیت او د صلحې په طریقې مال اخیستل جایز دي، چې دا پراخي او اساني ده.

۴ - روى عن ابن عباس رضى الله عنهما ان هذه الآية نزلت في الصلح عن القصاص على مال ( أبو الفداء، ۱۴۱۹هـ، ج ۱، ص. ۲۸۵).

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې دغه آیت د قصاص څخه په مال سره د صلحې په اړه نازل شوی دی.

کله چې مجرم ته د مال په مقابل کې او یا بغیر له مال څخه عفوه وشي؛ د امام ابوحنیفه په نزد تعزیري جزا ورباندې نه لازمېږي. د قاتل ښښونکي ته الله تعالی د ثواب ورکولو وعده کړې ده او فرمايي: ﴿فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ﴾ ( قرآن کریم، الشوری ، آیت: ۴۰) .

ژباړه: څوک چې معافي او صلحه وکړي؛ الله تعالی یې بدله ورکوونکی دی.

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد عفوه له دې څخه عبارت ده، چې مجاناً وي او د مال په مقابل کې نه وي او د دیت په مقابل کې د قصاص څخه تیریدل عفوه نه بلکه صلحه ګڼل کېږي، ځکه قاتل د دیت په ورکولو هغه وخت مکلف دی، چې په ځان یې ومني ( عودة، ۱۳۸۴هـ، ص.۶۵۷).

**صلحه**

د دې له پاره چې په موضوع باندې ښه پوه شو؛ اړینه بولم چې د صلحې په لغوي او اصطلاحي معنا باندې یو څه بحث وکړم. صلحه یوه عربي کلمه ده، چې په زیاتو معناوو سره راغلې ده، لکه: منفعت، ورتیا، ښه والی، استعداد، جوړښت، نیکي، ښېګړه، نعمت، زیاتوالی، روغه جوړه، پخلا کیدل، اوربند او د جنګ منع کول.

صلحه په اصطلاح کې په بېلابېلو اعتبارونو سره بېل بېل تعریفونه لري، چې د جنګي صلحې تعریف په لاندې ډول دی.

الصلح: هو رفع الحرب والمخاصمات على شروط، تعرف بشروط الصلح او هو عقد يرفع النزاع.

په اصطلاح کې د جنګ بندول او د شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي، په هغو شرطونو سره، چې د صلحې شرطونه بلل کیږي یا په بل عبارت صلحه هغه تړون ته ویل کیږي، چې شخړه وربندې ختمیږي.

د حقوقي اصطلاحاتو په قاموس کې( په قصاص کې صلحه) په لاندې توګه تعریف شوې:

هغه صلحه ده، چې د مقتول د وژنې او د قاتل تر منځ صورت مومي ( ستانکزی، ۱۳۸۷هـ، ص.۴۴) .

صلحه هم د سزا د اسقاط یو سبب دی، مګر په صلحې سره یې د قصاص او دیت څخه نور جرمونه نه ساقطیږي او په نورو جرمونو اثر نه لري، په دې کې د فقهاوو تر منځ هیڅ خلاف نه شته، چې قصاص په صلحه ساقطیږي که د قصاص صلحه د دیت په اندازه وي یا د دېت نه زیاته یا کمه وي صحیح ده، د صلحې په باره کې اصل اجماع او سنت دی.

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار په سلسله د خپل نیکه څخه روایت کړی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم  فرمایلي دي: (مَنْ قَتَلَ عَمْدًا، دُفِعَ إِلَى أَوْلِيَاءِ الْقَتِيلِ، فَإِنْ شَاءُوا قَتَلُوا، وَإِنْ شَاءُوا أَخَذُوا الدِّيَةَ، وَذَلِكَ ثَلَاثُونَ حِقَّةً وَثَلَاثُونَ جَذَعَةً وَأَرْبَعُونَ خَلِفَةً، وَذَلِكَ عَقْلُ الْعَمْدِ، وَمَا صُولِحُوا عَلَيْهِ، فَهُوَ لَهُمْ، وَذَلِكَ تَشْدِيدُ الْعَقْلِ) ( القزویني، چاپ کال نه لري، ج ۲، ص. ۸۷۷) .

ژباړه: که چا قصداً څوک ووژل، د ده واک به د وژل شوي شخص اولیاوو ته ورکول کیږي، که خوښه یې شوه، چې قتل دې شي؛ نو قتل کولی به شي او که خوښه یې شوه، دیت به ورڅخه واخلي، چې دا دېرش حقې( درې کلنې اوښې)، دېرش جذعې( څلور کلنې اوښې) او څلوېښت خلفې( حاملې اوښې) دي، چې همدغه د عمدي قتل دیت دی او په څه شي باندې چې دوی صلحه وکړه، هغه د دوی له پاره دي او دا ډول دیت تر ټولو سخت دیت دی.

د معاویه رضي الله عنه په دوره کې  هدبة بن خشرم یو تن وواژه نو سعید بن العاص، حسن او حسین رضي الله عنهم د مقتول زوي ته د دیت اووه برابره مال ومنلو چې ویې بښي مګر هغه دا صلحه ونه منله او بالاخره یې وواژه ( ابن قدامه، ۱۴۱۵هـ ق، ج۲۵، ص. ۱۴۴).

هرکله چې قصاص مال نه دی؛ نوځکه یې په همغه اندازه مال باندې صلحه روا ده، چې طرفین وربندې رضا شوي وي، که د صلحې بدله لږه وي اوکه ډېره ، د دیت د جنس څخه وي او که نه، سملاسي وي

او که نه؛ صلحه روا ده، خو که صلحه د قصاص په مقابل کې نه وي، بلکې د دیت په مقابل کې وي، نو دا رواه نه ده، چې صــلحه د دیت نه زیات مال باندې صــورت ومومي؛ ځکه چې په دې برخه کې زیاتوالی ربا ګڼل کېږي.

مثلاً : د دیت صلحه په یوسلو شل یعنې د سلو اوښانو څخه زیاته روا نه ده؛ ځکه چې دیت پوره سل اوښان دي او تر سلو زیاتوالی یې ربا ګڼل کېږي ( عودة، ۱۳۸۴هـ، ج۲ ص.۶۵۵).

**د صلحې حکم**

صلحه کول په قرآن، حدیث او اجماع د امت سره ثابت او جایز عمل دی، صلحه که د دوو کسانو، دوو ډلو او یا هم دوو ملتونو ترمنځ وي؛ د صلحې شرعي حکم عام دی.

الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ ( قرآن کریم، الحجرات، آیت: ۱۰).

ژباړه: بېشکه ټول مؤمنان په دین کې سره وروڼه دي، نو اې مؤمنانو مصلحینو! د دوی په منځ کې صلحه وکړئ، او د صلحې کولو په وخت کې د الله څخه ووېرېږئ، د دې له پاره چې الله تعالی په تاسو باندې رحم وکړي.

نبي کریم علیه السلام فرمايي: (الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا) ( القزویني، چاپ کال نه لري، ج۲، ص. ۷۸۸).

ژباړه: د مسلمانو ترمنځ سلحه کول روا دي، مګر داسې صلحه ناروا ده، چې روا ناروا او ناروا روا وګرځوي.

د صحابه کرامو له زمانې څخه تر دې دمه مسلمانان د شخړه کوونکو ترمنځ صلحې کوي، لنډه دا چې ټول امت په دې متفق دی، چې په مطلق ډول صلحه روا ده.

**د صلحې کوونکو شرطونه او احکام**

الف- که د دوه خواوو ترمنځ جګړه وي او په ټولنه کې داسې څوک موجود وي، چې د جګړې په اړخونو باندې صلحه منلی شي، نو صلحه کولورباندې واجب دي؛ ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ﴾ (قرآن کریم، الحجرات، آیت: ۹) .

ژباړه: د دواړو ډلو ترمنځ صلحه وکړئ.

په ذکر شوي آیت کې د جنګیالیو ترمنځ په صلحه کولو باندې امر شوی دی او امر د وجوب له پاره وي.

ب- که د دوه خواوو ترمنځ جګړه وي او په ټولنه کې داسې ځوک موجود وي، چې د جګړې په اړخونو باندې د صلحې د تنفیذ قدرت نه لري، نو صلحه کولورباندې مستحب دي؛ ځکه چې صلحه د خیر او ثواب کار دی او کیدی شي د صلحه کوونکو په سبب جګړه کوونکي له قتل څخه منعه شي.

ج- که د دوو مؤمنانو تر منځ شخړه د مادیاتو او سیاسي قدرت په موخه وي او شخړه د حق په موخه نه وي، نو پر مومنانو مستحب ده، چې دواړو اړخونو ته نصیحت وکړي او د یو اړخ پلوي ونه کړي.

د- صلحه کوونکي باید متقیان او مخلصین وي او په اخلاص سره صلحه کول پیل کړي، ځکه الله تعالی فرمايي: ﴿ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ ( قرآن کریم، الحجرات، آیت: ۱۰).

ژباړه: (د صلحې کولو په وخت کې) د الله څخه ووېرېږئ، ددې له پاره چې الله تعالی په تاسو باندې رحم وکړي.

**د صلحې دیني ارزښت**

د اسلام په مقدس دین کې صلحه خورا زیات ارزښت لري آن تردې، چې د دوو کسانو یا ډلو یا دوو ملتونو ترمنځ په صلحه او روغه جوړه کې که اړتیا ورته پیدا شي، نو اسلام د دې خبرې په روا والي قائل دی، چې د صلحې په وخت کې مصلحین دروغ ووايي، سره له دې چې دروغ لویه ګناه ده، خو د دې له پاره چې د خلکو ترمنځ وینه تویول بند شي، دروغ ویل روا دي او ویونکي ته يې دروغجن نه ویل کېږي.

په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (لیس الكَذابُ الذي يصْلح بينَ الناسِ؛ فينْمي خيراً، أو يقولُ خيراً) ( البخاري، ۱۴۲۲هـ، ج۳، ص.۱۸۳) .

ژباړه: هغه شخص دروغ ویونکی نه دی، چې د خلکو ترمنځ صلحه کوي او په خپلو دروغو سره خلکو ته ګټه رسوي او یا د خیر او ښېګړې خبرې کوي.

**د صلحې په موخه په بدو کې د ښځو ورکول**

په افغاني ټولنه کې دا ډول دود هم ترسترګو کېږي، چې څه وخت د دوو کورنیو یا قبیلو ترمنځ شخړه او جګړه جوړه شي او په هغې کې مړینه رامنځ ته شي، نو د قوم مشران، سپین ږیري او مخور کسان د دواړو کورنیو ترمنځ د شخړې د حل په موخه زیانمنې شوې کورنۍ ته یوه یا څو ښځې د بدو په بدل کې ورکوي.

نو دلته عموما دوه صورتونه رامنځته کېږي:

لومړی - دا، چې په نوموړي کړنلارې سره یقیناً د دواړو لورو ترمنځ د زړه مینه او خپلوي رامنځ ته او دښمني له منځه لاړه شي او د خپلوانو او اقاربو په خبر سره اوسېږي، که ښځه بالغه وي، د هغې خوښې

او رضا په نظر کې نیول شوې وي، مهر ورکول کېږي، او د نکاح د صحت شرطونه په کې پوره وي؛ نو دا صورت یې جایز او روا دی؛ ځکه چې د فتنې د دروازې په تړلو کې لوی مصلحت پروت دی، چې په دې اړه دغه فقهي قاعده هم شتون لري، چې(اذا تعارض مفسدتان روعی أعظمهما ضرراً بارتكاب أخفهما) (وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، ۱۴۰۴هـ، ج۲۸، ص. ۱۸۱).

ژباړه: کله، چې دوه مفسدې سره مخامخ شي، د لوی نه د خلاصون په موخه به وړه عملي کیږي.

دویم - صورت یې دا دی، چې په بدو کې ورکړل شوي ښځې سره په نوموړي کور کې ښه چلند نه کېږي، په درنه سترګه ورته نه کتل کېږي، بلکې د یوې مجرمې په سترګه ورته کتل کېږي او د نوموړې ښځې سره د یوې نوکرې په توګه او د انتقام د اخستنې د یوې وسیلې په حیث چلند کېږي او یا دا چې د نکاح د صحت شرطونه په کې پوره نه وي، نو د نوموړي دود دا ډول د ظلم یو قسم دی او جایز نه دی؛ ځکه چې په نوموړي صورت کې د ښځې اور ته ور ټېل وهل دي او په خپله په ارام سره کښېناستل دي او همدارنګه د نکاح د صحت د شرطونو د نه پوره کېدو په صورت کې دغه ښځه پردۍ ده او مقتول د کورنۍ هیڅ ډول اړیکه ورسره جایزه نه ده.

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ﴾ (قرآن كريم، الانعام، آیت: ۱۶۴).

ژباړه: د هیچا په غاړه به د بل شخص د ګناه پیټی نه اچول کېږي.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمایلي دي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾ (قرآن كريم، التحريم، آیت: ٦).

ژباړه: اې مومنانو! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ د هغې اور څخه وساتئ، چې د سون توکي یې انسانان او ډبرې دي.

بل ځای کې الله جل جلاله فرمایلي دي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ ﴾ (قرآن كريم، النساء، آیت: ۱۹).

ژباړه: اې مومنانو! ستاسو له پاره روا نه دي، چې د زور له لارې ځانونه د ښځو وارثان جوړ کړئ، نه دا روا ده، چې هغوی ورېږوئ او د مهر څه حصه ورڅخه واخلئ، چې تاسو ورکړی دی، مګر هغه وخت یې ربړولی شئ، چې ښکاره ناکاره چلن کوي.

**پایله**

د موضوع په پای کې دې پایلې ته ورسیدم چې:

د انسانانو وژنه یوه داسې جریمه ده، چې د انسانانو د پیدایښت څخه پیل شوې ده، تر دې دمه جریان لري او کیدای شي، چې په راتلونکې کې به هم موجوده وي.

عمدي قتل دې ته وايي، چې يو کس په اوسپنيزې اسلحې يا د دې په شان بل شي په ذريعه د بل کس د وژلو (قتلولو) کوښښ وکړي او هغه قتل کړي.

څوک چې يو مؤمن په قصد سره ووژني؛ نو د هغه سزا په دنيا کې قصاص، ديت، د ميراث او وصيت څخه محروميت دی، په اخرت کې يې سزا دوزخ دی، چې په دوزخ کې به همېشه وي، په ده باندې الله عزوجل په غضب دی، د خپل رحمت څخه يې لرې کړی دی او ډېر لوی عذاب يې ورته تيار کړی دی.

د انسانانو د وژنې گراف را ټيټيدو له پاره تر ټولو غوره لاره قصاص قايمول دي.

صلحه د جنگ بندول او دشخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي، په هغو شرطونو سره، چې د صلحې شرطونه بلل کيږي.

د مسلمانو ترمنځ سلحه کول روا دي، مگر داسې صلحه ناروا ده، چې روا ناروا او ناروا روا وگرځوي.

د قصاص صلحه په هغه اندازه مال باندې روا ده، چې طرفين ورباندې رضا شوي وي، که د صلحې بدله لږه وي اوکه ډېره، د ديت د جنس څخه وي او که نه، سملاسي وي او که نه، خو که صلحه د قصاص په مقابل کې نه وي، بلکې د ديت په مقابل کې وي، نو د ديت څخه په زيات مال باندې صلحه ناروا ده.

که د دوه خواوو ترمنځ جگړه وي، د سيمې په نورو مسلمانانو باندې يې ترمنځ صلحه کول واجب دي.

د خلکو ترمنځ د وينې تويولو د بندېدو په موخه دروغ ويل روا دي او ويونکي ته يې دروغجن نه ويل کيږي.

د بدو له منځه وړلو له پاره د مقتول وارثانو ته جينۍ په نکاح ورکول په هغه صورت کې روا دي، چې د نکاح د صحت ټول شرطونه په کې پوره شي او د جينۍ له پاره د ژوند کولو کوم ښکاره زيان موجود نه وي.

**وړانديزونه**

۱- د ديني علومو له استادانو څخه مې هيله دا ده، چې خپل محصلين د قتل په احکامو او جزا باندې پوره وپوهوي.

۲- علماوو او خطيبانو ته وړانديز کوم، چې خلکو ته د منبر له لارې د قتل بدي او په مقابل کې يې د صلحې او عفوې ښېگڼې پوره بيان کړي.

۳ –له حکومت خاصتاً له قاضيانو څخه مې هيله دا ده، چې د عمدي قتل د ثبوت ورسته زرترزره قصاص جاري کړي؛ تر څو په ملک کې قتلونه بند شي.

**اخځلیکونه**

قرآن کریم

ابن أبي حاتم، أبو محمد عبد الرحمن بن محمد بن إدريس بن المنذر التميمي.( ۱۴۱۹هـ). تفسير القرآن العظيم لابن أبي حاتم. (ط.۳). سعودي: مكتبة نزار مصطفى الباز.

ابن قدامه، شمس الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن محمد بن أحمد.( ۱۴۱۵هـ ق). الشرح الكبير.( ط.۱). القاهرة:هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان.

أبو الفداء، إسماعيل حقي بن مصطفى الإستانبولي الحنفي الخلوتي.( ۱۴۱۹هـ). روح البيان.( د.ط). بيروت: دارالفكر.

ابو مالک، کمال بن السيد سالم.(۲۰۰۳م). صحيح فقه السنة و ادلته و توزيح مذاهب الائمة.(د.ط ). القاهرة: مکتبه التوفيقية.

البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة.(۱۴۲۲ هـ ق). صحيح البخاري.(ط.۱). لبنان: دار طوق النجاة.

البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخراساني.( ۱۴۲۴هـ). السنن الكبرى.( ط.۳). بيروت: دار الكتب العلمية.

الرازي، أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين الملقب بفخر الدين.( ۱۴۲۰هـ). مفاتيح الغيب.(ط. ۳). بيروت: دار إحياء التراث العربي.

ستانکزی، نصرالله. (۱۳۸۷هـ ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس.(ط.۱)، کابل: عدليې وزارت.

سجستاني، ابوداود سليمان بن اشعث.(۱۴۳۰هـ ق). سنن أبي داود.( ط.۱). القاهرة: دار الرسالة العالمية.

السيد سابق.(۱۳۹۷هـ ق). فقه السنة.(ط۳). بيروت: دار الكتاب العربي.

شريفي، سيد مراد.(اسد/ ۱۳۸۸هـ ). قضاءمجله،(دوه دېرشمه گڼه).

عزيز، سلطان عزيز.( ۱۳۹۵هـ ل). عزيز التفاسير.( ط.۴). کابل: رشيديه کتابخانه.

عوده، عبدالقادر.( ۱۳۸۴ هـ). داسلام جنائي تشريع او وضعي قوانين.(ط.۲).کابل: پيغام نشراتي مرکز.

الكاساني، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد الحنفي. (۱۴۰۶ ق). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.(ط.۲). بيروت: دار الكتب العلمية.

النسفي، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين.( ۱۴۱۹هـ). تفسير النسفي.( ط.۱). بيروت: دار الكلم الطيب.

وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية.( ۱۴۰۴هـ ق). الموسوعة الفقهية الكويتية.(ط.۲). کويټ: دارالسلام.

# د لرغونو اثارو په بیارغونه کې د نویو مېتودونو کارونه

پوهنمل گل رحمن مشفق، ننگرهار پوهنتون، ښووني او روزنې پوهنځی، تاریخ څانگه.
برېښنالیک: moshfiqgulrhman123@gmail.com

**لنډیز**

نن ورځ د نوې ټکنالوژۍ کارونه په مختلفو علومو کې تر سترگو کېږي، چې لرغونپوهنه هم له دې مسیره وروسته پاتې نه ده، نوموړي علم ته د نوې تکنالوژۍ داخلېدل د لرغونو اثارو، تاریخي او فرهنگي میراثونو په درک او ساتنه کې ښې پایلې له ځانه سره لرلي دي او د لرغونو میراثونو د بقاء په برخه کې یې اسانتیاوي رامنځته کړي دي. په ساحوي څېړنو کې د لرغونو اثارو موندل ممکن له خطر سره مواجه شي او یا هم تر موندل کېدو ترمخه زیانمن شوي وي، چې د بیارغونې لهپاره یې لرغونپوهان لاس په کار کېږي ترڅو وکولای شي له مخاطراتو یې وژغوري. لرغونپوهان د دې کار د اسانتیا لهپاره په دغه برخه کې اوس مهال له نویو مېتودونو او وسایلو څخه استفاده کوي. د لرغونو اثارو رغونه د پخوانیو مېتودونو په واسطه د دې علم د متخصصینو لهپاره پېچلې پروسې لري ترڅنگ یې د لرغونو اثارو رغونه د پخوانیو مېتودونو په واسطه تل د خطر سره مواجه کېږي او بشري قوه هم پکې تر ډېره حده زیاته مصرفیږي له بله پلوه د یوه لرغوني اثر رغول ممکن ډېر وخت ته اړتیا ولري. پورته موارد هغه ستونزې دي چې د دې موضوع د څېړلو لهپاره یې لاره هواره کړې ده. د څېړنې ماهیت او منځپانگې ته په کتو نوموړې څېړنه له مختلفو زاویو د ارزښت وړ بلل کېږي او هغه دا چې په کُلي توگه نوې تکنالوژیکي وسایل د ټولنو د تاریخي بقاء په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړي دي. د دې ترڅنگ د لرغونو اثارو بیارغونه د نویو تکنالوژیکي وسایلو په واسطه ټولو هغو ځایونو او موزیمونو ته ښکلا وربخښلې ده، چې نوموړي اثار پکې ساتل کېږي. د دې څېړنې څخه موخه داده چې د لرغونو اثارو په بیارغونه کې د نویو مېتودونو اهمیت او کارونه روښانه کـړي . نوموړې څېړنه په کېفي مېتود او د تشریحـي – توصیفي تگلارې څخه په گټه اخیستنې ترسره شوې، د موادو د راټولولو لهپاره اسنادي تگلاره په کار اچول شوې ده. د څېړنې موندنې ښايي چې REXCAN[4] هغه عصري ماشین او درلودونکی د یو عصري سافټ ویر دی، چې د لرغونو اثارو اسکلیټي برخې په ډېر عالي کېفیت سره ترسیموي او بیا یې د رغونې لهپاره قالب بندي( Termoframing) کوي.

**کلیدي کلمې**: بیارغونه، تکنالوژي، ټرموفریمینگ، رکس کن ۴، لرغوني اثار.

**پېلیزه**

**اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِیْنَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلیَ اَشْرَفِ اْللأَنْبِیاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ سَیّدِناَ وَمَوْلَنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَی اَلِهِ وَصَحْبِهِ اَجْمَعِیْنَ, اَمَّا بَعْدُ! وَكَذَلِکَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَى أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا «الکهف، ۲۱.**

په عمومي توګه لرغون پوهان د خپل مسلک د غوښتنې په اساس زیات وخت د کار په ساحه او علمي مسافرتونو کې ترسره کوي او د خپلو پلټنو په جریان کې داسې ځایونو ته ځي چېرته چې لرغوني اثار او نښې نښانې تر سترګو کېږي، دوی په سیمه کې تر لازمو او معینو معلوماتو وروسته خپل تحقیق او څېړنه پیل کوي. لرغونپوهان وړاندې له خپل علمي فعالیت څخه چې، د لرغونو ځایونو پلټنه ده باید د کیندنې د ځای په رابطه زیات او کافي معلومات ولري او دا معلومات، لکه: په نظر کې د نیول شوې ځای لرغونی نوم څه دی؟ د کومو خلکو د اوسېدو ځای و؟ او په دې ډول نورې پوښتنې چې د کیندنې او سپړنې تر عملي کېدو وروسته بشپړېږي. لرغوني پلټنې په هغه ځایونو کې صورت نیسي چیرته، چې لرغوني اثار او علائم موجود وي او دا ځایونه مختلف شکلونه لري، لکه: هدیرې، سمڅې، د لرغونو ښارونو کنډوالې، کلې، جبې، غونډۍ او په لسګونو داسې نور شکلونه لري. لرغونپوه له ټاکلو ځایونو څخه د کیندنو په لړ کې لرغوني اثار او علائم په لاس راوړي او هغه د خپلې مطالعې لاندې نیسي، بیا یې په امتحاني کیندنو پیل کوي. کوم اثار، چې مخکې له پلټنوڅخه لاس ته راځي لکه: کودړې، د تیږو لوښې، مخکني وسایل او الات، چې په خواره واره ډول د دغې ځای په شاوخوا کې پیداکېږي او لرغونپوه په دې توانوي چې په نظر کې نیول شوی ځای په واقعیت کې یو لرغونی ټاټوبی دی. په یو ځای کې د لرغونو اثارو ترلاسه کېدو وروسته ، لرغونپوه باید په دې پوه شي چې دا تیږې او یا لوښې له بل ځای څخه راوړل شوي او دلته ځای پر ځای شوي دي او که د دې ځا ی خپل دي، چې د دې ځای د ورانېدو په صورت کې او یا هم د یو مړي سره د دفن کېدو پر مهال کېښودل شوي دي او که یا؟ د لرغونپوه دا ستونزه د امتحاني ځاه کېندلو وروسته له ځای څخه د موثقه اثارو او علائمو په لاس راوړو سره حل کیږي. د امتحاني ځاه کیندل د لرغون کیندنې د ځانګړې اصولو له مخې په مختلفو شکلو صورت نیسي. خاورین توکي او اثار د لرغونپوهنې په علم کې خورا د ارزښت وړ ګڼل کېږي. نه یوازې دا چې، د تاریخي اثارو رغونه د کلتوري میراثونو په ساتنه کې مرسته کوي، بلکې د دې ترڅنګ د موزیمونو او د هغو ځایونو په ښکلا کې ونډه لري، چېرته چې نوموړي اثار ساتل کېږي. په ساحوي څېړنو کې د لرغونو اثارو سپړنه او رغونه د پخوانیو مېتودونو په واسطه د دې علم د متخصصینو لهپاره پېچلې پروسې لري، ترڅنګ یې د لرغونو اثارو سپړنه تل د خطر سره مواجه کېږي او بشري قوه هم یکې تر ډېره حده زیاته مصرفېږي له بله پلوه د

يوه لرغوني اثر سپړل او رغول ممکن ډېر وخت ته اړتيا ولري. پورته موارد هغه ستونزې دي، چې د دې موضوع د څېړلو لهپاره يې لاره هواره کړې ده. د څېړنې ماهيت او منځپانگې ته په کتو نوموړې څېړنه له مختلفو زاويو د ارزښت وړ بلل کېږي او هغه دا چې په کُلي توگه نوې تکنالوژيکي وسايل د ټولنو د تاريخي بقاء په برخه کې اسانتياوې رامنځته کړي دي. د دې ترڅنگ د لرغونو اثارو بيارغونه د نويو تکنالوژيکي وسايلو په واسطه ټولو هغو ځايونو او موزيمونو ته ښکلا وربخښلې چې نوموړي اثار پکې ساتل کېږي. د لرغونو اثارو ساتنه او سپړنه د لرغونپوهنې په تاريخ کې اوږده مخينه لري لکه د اروپا په ختيځو هېوادونو کې د ورکو لوښو بيارغونه د زرو په وسيله چې، د ۸۰ کالو په اوږدو کې د لرغونو اثارو په بيا رغونه کې کوم تغييرات نه ترسترگو کېده ليکن د ۱۸م پېړۍ په لومړيو کې د نويو تکنالوژيکي وسايلو رامينځته کېدل د دې باعث شول، چې د لرغونو اثارو په بيا رغونه کې د گچو پرته له نورو عصري موادو او وسايلو څخه کار واخېستل شي(Moghimi et al., 2016). نن ورځ د لرغونو لوښو په بيا رغونه کې د هغه د لرغونتوب او ارزښت له مخې په مختلفو لارو مداخله ترسره کېږي، چې يو له دغو کړنو څخه د لوښو په ترميم کې د ورکو شويو ټوټو بيارغونه ده چې په عام ډول د رنگ لرونکو يا غير رنگ لرونکو موادو سره په ترکيب کې رغول کېږي او په دغه کار کې له عامه پروسو څخه استفاده کېږي، چې نوموړی کار تل د خطرونو سره مل وي (Fischer, 2000). د لرغونو اثارو ترميم او بيارغونه د لرغونپوهنې د متخصصينو له خوا په لمسي ډول ترسره کېده اما نن ورځ په دغه برخه کې پرمختگونه تر سترگو کېږي(Forte, 2014). عصري وسايل او پرمختگونه د لرغونپوهانو په کار کې د ښو پايلو باعث گرځېدلي دي. د ۱۹۹۳ م له پيل راهېسې د ټرونډيم پوهنتون د لرغون پېژندنې ځانگې استادانو په يوه څېړنه کې د اوبو لاندې لرغونو اثارو په راسپړنه کې د نويو او تکنالوژيکي وسايلو څخه د گټې اخيستنې په پار لاس په کار شوي ول چې بلاخره يې د Remote vehicle په نوم يوه اله يې جوړه کړه چې د 30m ژور انځور اخېستو توان يې درلوده (Jasinski et al., 1995). د ( Photogrammetry) کارونه په لرغونپوهنه کې هم ځانگړی اهميت لري چې په وسيله يې لرغونپوهان کولای شي د ميداني څېړنو لهپاره سيمه مشخصه کړي دغه راز د اثارو په راسپړنه کې د دې مېتود کارول هم د ارزښت وړ گڼل کېږي؛ ځکه چې نوموړی کار د بيا ترميم لهپاره لاره هواره وي (Mikrut et al., 2018).

**د څېړنې موخه**

په عمومي توگه د دې څېړنې څخه موخه دا ده، چې د لرغونو اثارو په بيارغونه کې د نويو مېتودونو د اهميت او کارونې په برخه کې د رکس کن ۴ رول روښانه کړي.

**د څېړنې ارزښت**

د لرغونو اثارو رغونه د پخوانیو مېتودونو په واسطه د دې علم د متخصصینو لهپاره پېچلې پروسې له ځانه سره لرلې دي، ترڅنگ یې د لرغونو اثارو رغونه د پخوانیو مېتودونو په واسطه له خطر سره مل وه او بشري قوه هم پکې تر ډېره حده زیاته مصرفېدله، له بله پلوه د یوه لرغوني اثر رغول ممکن ډېر وخت ته اړتیا ولري. پورته موارد هغه ستونزې دي چې د دې موضوع د څېړلو لهپاره یې لاره هواره کړې ده. د څېړنې ماهیت او منځپانگې ته په کتو نوموړې څېړنه له مختلفو زاویو د ارزښت وړ بلل کېږي او هغه دا چې په کُلي توگه نوې تکنالوژیکي وسایل د ټولنو د تاریخي بقاء په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د دې ترڅنگ د لرغونو اثارو بیارغونه د نویو تکنالوژیکي وسایلو په واسطه ټولو هغو ځایونو او موزیمونو ته ښکلا وربخښلې ده، چې نوموړي اثار پکې ساتل کېږي.

**د څېړنې توکي او تگلاره**

توصیفي(تشریحي) څېړنې عموماً په ټولنیزو او طبیعي علومو کې تر ډېره حده ترسترگو کېږي، چې په نوموړو څېړنو کې څېړونکي معمولاً په متحولونو باندې تمرکز نه کوي یوازې هغه څه چې پېښ شوي او یا پېښېږي په اړه یې معلومات راټولوي او بشپړوي یې. په توصیفي(تشریحي) څېړنو کې د یو شي د پېښېدو تکرار او د خلکو اولیت او خوښوالي برخې راسپړل کېږي. یادو مواردو ته په کتو د دې څېړنې کړنلاره موخو ته په کتو توصیفي(تشریحي)او ماهیت ته په کتو کیفي ده. په نوموړې څېړنه کې د څېړنې په پار پخوانیو اثارو ته کتنه شوې ده، چې په پایله کې د څېړنې Gap په نښه شوی، چې د نویو مېتودونو څخه د REXCAN4 رول د لرغونو اثارو په کارونه کې څېړل شوی. دغه راز د موضوع په مخینه کې د اسنادي تگلارې څخه په استفادې ډېری منابع سپړل شوي ترڅو د نوموړې څېړنې ستونزه په نښه او د څېړلو لهپاره یې زمینه برابره شي.

**د لرغونو اثارو د بیارغونې تاریخي مخینه**

د لرغونو اثارو بیا جوړونه د لرغونو اثارو زیاته برخه په مستقل او یا هم ویجاړ شوي ډول د لرغونپوهانو لاس ته رسېږي دا ډول مواد او اثار که له ډبرې څخه جوړ شوي وي او که له فلز او یا عضوي موادو څخه بیا هم بیا جوړولو ته اړتیا لري لرغونپوهان او د لرغونو اثارو د بیا جوړولو متخصیصین له خپلو خاصو علمي مېتودونو څخه په گټې اخیستنې سره دا اړتیا لرې کوي او نوموړي پوهان زیار باسي، چې لرغونی (شی) په هماغه شکل چې پخوانۍ درلود (د کار اخستنې په اولو وختونو کې) د بیا جوړونې هڅې تر سره کړي. د لرغونو اثارو بیا جوړونهRepapering په دوه ډوله تر سره کیږي، لومړی د لرغوني اثر (شی) بیا جوړونه په تیوریکي ډول (گرافیکي عددي او نور) دویم د لرغوني اثر بیا جوړول په طبیعي

ډول یا د اثر مادي جوړښت (د هغه شي له پارچو او ټوټو څخه) معمولاً د لرغونو اثارو تیوریکي بیا جوړونه د علمي څېړنو په منظور تر سره کیږي په داسې حال کې چې د لرغوني اثر طبیعي بیاجوړونه د موزیمي ننداري (نمایش موزیم) په منظور تر سره کیږي، چې د لرغونو اثارو د بیا جوړونې دواړه ډولونه ځانه خپل خاص پر نسیپونه او میتودونه لري . د لرغوني اثر بیا جوړونه د علمي څېړنو د ښه بري او له هغو څخه د منطقي پایلو د تر لاسه کیدو په نیت د لرغوني اثر بیا جوړول ضروري دي، دویم دا چې د موزیمونو مینه‌وال هغه اثار چې په پخوانۍ څېره او شکل ویني د زیاتي پاملرنې وړ یې ګرځي، نسبت هغه اثر ته چې ټوټې یې اېښودل شوې وي. د لرغوني اثارو تیوریکي بیا جوړونه په لرغونو اثارو کې د هغو پدیدو بیا راپیدا کول دي، چې په تخنیکي، تکنالوژیکي او وظیفوي لحاظ یې مطالعه او څېړنه زیات ارزښت لري. د تیوریکي بیا جوړونې د کار نتیجه کیدای شي د حساب، فورمول، شکل، چارت، انځورونو، او حتا کلماتو د توضیح په څېر وړاندې شي، په هغه صورت کې چې د تیوریکي بیاجوړونې د کار په نتیجو پوره باوري واوسو کېدای شي له نوموړي اثر څخه د ارزښتمنې منبع په توګه د لرغونو اثارو د څېړنې له‌پاره ګټه پورته کړو . د لرغونو اثارو تیوریکي او ګرافیکي بیا جوړونه په عمده ډول د لرغونپوهانو ډلې ته ضروري او لازمي ده، چې د لرغونو اثارو په هکله علمي څېړنې تر سره کوي. د لرغونو اثارو طبیعي بیا جوړونه د دود په ډول پنځوس فیصده د هغو پارچو ضرورت او موجودیت لازموي چې لرغونی (شی) ورڅخه جوړوو، که چېرې یو لرغونی خاورین لوښی په نظر کې ونیسو او وغواړو چې د طبیعي بیا جوړونې په ډول یې جوړ کړو په هغه صورت کې ضروري ده، چې د نوموړي خاورین لوښي لږ تر لږه په سلو کې پنځوس پارچې یا ټوټې وجود ولري چې وکړای شو په طبیعي ډول هغه خاورین لوښی بیا جوړ کړو چې په پخوا زمانو کې د انسانانو د ګټې اخستنې له‌پاره موجود و، د لرغونو اثارو دا ډول بیا جوړونه د موزیمي نندارو له‌پاره ضروري او ډاډمنه طریقه ده. د مجهزو لابراتوارونو شتون د لرغونو اثارو د بیا رغونې له‌پاره اړین دي. تر هر څه وړاندې د ترمیم او بیا جوړونې لابراتوار باید داسې ځای کې موقعیت ولري. چې لازمه روښنایي، هوا، د تحویې وسایل، او منظم بریښنایي مصون سیستم ولري. په لابراتوار کې باید د الماریو بیلابیل ډولونه موجود وي لکه ښیښه یې الماری، فلزي الماری، د لرګیو الماری چې د لرغونو اثارو د ساتنې او پالنې لازم شرایط برابر کړای شي. د دې تر څنګ ځیني مخصوصې الماری چې د کېمیاوي موادو د ساتنې له‌پاره ترې کار اخېستل کېږي، چې په یادو الماریو کې د کېمیاوي او رادیو اکتیفي موادو د ساتنې په منظور لاندې وسایلو ته اړتیا بریښي: مخصوص کیمیاوي لوښي په بیلابیلو اندازو چې ځیني یې د ښیښې ځیني یې فلزي وي. عطر لرونکي پنبه، ململ، د اندازه کولو وسایل، لکه: طبي ترازو، ډول ډول وزنونه، درجه لرونکي بیلابیل لوښي، ترمامیترونه، زنګ

لرونکی ساعت او نور په همدې ترتیب لیدنیز وسایل ،میکروسکوپ، ذره بین، او د هغې ډولونه او نور د لرغونو اثارو د پاکیدو لهپاره کلک او نرم فلزي، پلاستیکي، مومي، برسونه، ډول ډول ږمنځی د جراحۍ چړې او د هغو ډول ډول سیخونه، د فلز پریکولو قینچې او دا ډول نور وسایل. په لابراتوار کې باید ځینې کیمیاوي مواد هم موجود وي لکه مصنوعي کنډرې (صمغ مصنوعي)پولي بیتل میتا کریلایت، پولي وینل بوتیرال، پولي وینل اسکاک او نور عضوي محلولونه لکه اسیتون، ګیستون، ستیرایت، بنزول، او نور انتي سیپټکونه: خالص سپرایت، فورمالین، تیمول او نور. تیزابونه لکه: د ګوګړو تیزاب، د مالګې، سرکې، لیمو تیزابونه او نور. قلوي ګانې: سودیم هایدرواکساید، پوتاسیم هایدرواکساید او نور د نرمیدلو وسایل: ګلسیرین، د رسم غوړي، پارافین، طبیعي موم او توره چونه (اهاک)هم باید موجود وي تر ټولو مهمه خبره د اور وژلو وسیله او خطر زنګ باید حتما موجود وي چې کار کوونکي د لازم امنیت په لرلو سره خپلې هڅې تر سره کړي، په لابراتوارونو کې یاد شوی شیان او یو زیات شمېر نور مواد چې دلته یې یادونه نه ده شوې باید موجود وي چې د لرغونو اثارو د بیاجوړونو پورسه په ښه ډول پر مخ ولاړه شي، خو ددې تر څنګ باید لرغونپوه سره د ځینو کیمیاوي او مصنوعي موادو او وسایل وي چې په ساحه کې د سیمو د سپړلو او څېړلو پر وخت ورځخه ګټه واخلي او له هغوو څخه لومړنۍ او عاجلې مرستې پوره کړي (salaamtolana.org).

**نمونه اخېستنه یا** Sampling

د تکنالوژیکي وسایلو او تخنیکونو د صنعت په جوړښت او تولید کې د نویو مېتودونو کارونه نه یوازې دا چې کاري اسانتیاوې رامنځ ته کړي؛ بلکې د لرغونو اثارو د جوړښت په برخه کې یې هم کېفیت بې ساری دی. له دې ډلې څخه یو هم Sampling یا نمونه اخېستنه ده چې د ۱۹۹۰ ز کال راهیسې د تکنالوژۍ په برخه کې کارول کېږي. نوموړی مېتود د امریکایي، الماني او جاپاني شرکتونو په همکارۍ رامنځ ته شوی چې پدې برخه کې نوموړیو هېوادونو تر ټولوستره سرمایه ګذاري کړې ده. نمونه اخېستنه عبارت له هغه مېتود څخه ده، چې پرمټ یې د لرغونو اثارو فزیکي موډل جوړېږي. موډل جوړونکي (طراحان) کولای شي له دې مېتود څخه په ګټه اخېستنې د یو اثر واقعي موډل جوړکړي چې نن ورځ د دې مېتود څخه ګټه اخېستنه کم رنګه ده ځکه دې مېتود خپل ځای عصري مېتودونو او وسایلو ته پرېښودلی دی. په دې مېتود کې د لرغونو اثارو د ټوټو جوړول د طبقو په شکل جوړېږي چې د لرغونپوهانو او طراحانو په اند ممکن د موډل په شکل کې واقعیت کم رنګه او پېکه وي بنآ پدې مېتود کې محدویتونه ډېر ترسترګو کېږي ددې ترڅنګ کاري وخت ته هم پکې ډېره اړتیا بریښي او هغه څوک کې موډل جوړوي د ستړیا احساس کوي(King & Tansey, 2002).



(۱)گڼه شکل: درنگ په واسطه نمونه اخېستنه

## موجي ترسيم (Stereo lithography (SLT

موجي ترسيم يا حکاکي ترسيم د لرغونو اثارو د بيا رغونې په برخه کې د ډېرو متنوع ترينه سافټ ويرونو په ډله کې رازځي. د نوموړي سافټ وير په وسيله لرغونپوهان کولای شي د يوه لرغوني اثر موجي انځور ترسيم کړي . نوموړی سافت وير انځور د G, Codeپه شکل ترسيموي G, Codeد SLT سافت وير هغه برخه ده چې انځور ته کېفيت ورکوي او د کېفيت په ښه والي او لوړ والي کې يې مرسته کوي(Graphics & Reality, 2013)




(۲) گڼه شکل: موجي ترسيم

## رکس کن Rexcan [۴]

د لرغونو اثارو د ورکو شویو ټوټو د بیا رغولو لهپاره اوس مهال د نړۍ ډېرى هېوادونه له دې وسیلې څخه کار اخلي چې پرمټ یې د موندل شویو اثارو ورکې شوې ټوټې جوړوي . نوموړې دستګاه دوه برخې لري چې یوه یې لیزري او بله یې سیستم دی. دغه دستګاه په دوه ډلو « دقیق او متوسط» باندې وېشل کېږي. عموماً دقیق رکس کن د صنعتي توکو د بیا ترمیم لهپاره کارول کېږي او متوسط رکس کن بیا د خاورینو لوښو د ورکو شویو ټوټو د ترمیم لهپاره کارول کېږي. متوسط رکس کن تر ډېره حده په لرغونو لوښو کې هغه ساحه سکن کوي کوم چې له خطر سره مواجه شوي وي. رکس کن۴ د لومړي ځل لهپاره په ۲۰۱۰ ز کال کې د جنوبی کوریا په هېواد کې جوړ شو . نوموړې دستګاه د مختلفو برخو څخه جوړه شوې او په هره برخه کې یې مختلف مواد شامل دي چې د اثر په بیا رغولو کې ترې ګټه اخېستل کېږي. هغه برخې او مواد چې په دې دستګاه کې کارول شوي عبارت دي له:

۱. ABS (Acrylonitrile butadiene styrene)
۲. PLA (PolyLactic acid or Polylactide)
۳. PC (Polycarbonate)
٤. HPS (High Impact Polystyrene)

**د لرغونو اثارو په مستند جوړونه کې د رکس کن ۴ کارونه**

نن ورځ د نوېو تکنالوژیکي وسایلو په شتون کې د لرغون پوهانو څېړنې او سپړنې تر ډېره حده اسانه شوي دي. په دغه برخه کې یو له پرمختللو وسایلو څخه رکس کن ۴ اسکنر دی، چې درې ضلعې لري. د رکس کن۴ اسکنر د لرغونو ټوټو د اندازه ګیرۍ لهپاره کارول کېږي، چې د خپلو نوري شعاوو په وسیله د یوې لرغونې ټوټې مستند لرغونپوه ته په لاس ورکوي ترڅو په پایله کې یې لرغونپوه وکولای شي د لرغونې ټوټې ورکه شوې برخه بیا ترمیم کړي. د رکس کن۴ په واسطه د یوې لرغونې ټوټې مستند کول مختلفې پروسې او پړاوونه لري، چې په لومړي پړاو کې لرغونپوه د رکس کن ۴ شعاوو په واسطه د لرغونې اثر هره برخه سکن کوي او تر سکن کولو وروسته په دوهم پړاو کې ترلاسه شوي اطلاعات سیستم ته ورکول کېږي چې په عامه اصطلاح کې ورته سافټ ویر ویل کېږي. په درېیم پړاو کې ټاکل شوی سافټ ویر د لرغونې ټوټې پاتې برخې په موجې شکل ترسیموي چې پایله یې د رکس کن۴ چاپ ګر په واسطه چې د رکس کن ۴ سکنر سره وصل وي ترلاسه کېږي او په وروستي پړاو کې لرغونپوه د ترلاسه شوې پایلې له مخې د ورکو شویو برخو په بیا ترمیم باندې لاس په کار کېږي، چې نوموړې تکنالوژیکي وسیله د لرغونو اثارو په بیا رغونه او مستند جوړونه کې یو له پرمختللو مېتودونو څخه شمیرل کېږي او

لرغونپوهان کولای شي په ډېرې اسانۍ سره د لرغونو اثارو ورکې شوې برخې د همدې سیستم په وسیله بیاځلې ترمیم کړي (Karasik & Smilansky, 2008).



(۳) ګڼه شکل: د ریکس کن ۴ اسکنر نمونه

جدول- ۱: د رکس کن ۴ په واسطه د لرغونو ټوټو د ورکو شویو برخو د ترلاسه کولو پړاوونه

| | |
|---|---|
| دSLTفایل ایجاد | د ورکوو شویو ټوټو موډل جوړونه |
| د چاپ ګر په وسیله یې وروستی موډل ترلاسه کول | د مختلفو طبقو جوړونه |
| د ځانګړو قطعو جوړونه | وروستی فایل |

**پایله**

بشر د تاریخ په اوږدو کې د پوهې په لټه کې وه ترڅو کمال ته ورسیږي. له همدې امله په ټولو علمي ډګرونو کې ټکنالوژي رامنځته شوه، چې په بېلابېلو برخو کې د انسان د ژوند د سوکالۍ او پرمختګ لامل شوه. په اروپا کې د صنعتي انقلاب څخه وروسته، یوازینۍ پدیده چې د ټولنیز ژوند په هر اړخیزه وده کې (په سیاسي، ټولنیز، کلتوري او اقتصادي برخو کې) لوی رول ولوبوه او د خدماتو پروسې ګړندۍ کړي، ټکنالوژي وه. ټکنالوژي د پرمختګ یو له بنسټیزو وسیلو څخه ده چې د ټولنیز ژوند په هر اړخیزه وده او پرمختګ کې مهم رول لوبولی دی، ټولنیز ژوند د ټولنیزو اړتیاو پر بنسټ جوړیږي. که موږ د انسانانو د ټولنیز ژوند ژوره مطالعه وکړو، وبه وینو چې ټولنه له خلکو جوړه ده او دا خلک د کلتور، سیاست او ټولنیز چلند په ډګر کې یو لړ تړونونه لري چې له امله یې بشپړ ټولنیز امنیت او سوکالي ترلاسه کوي. که موږ په لنډه توګه د انسان د ټولنیز ژوند ماضي مطالعه کړو، موږ به وګورو چې بشري ژوند له ابتدا څخه (د غارونو د اوسیدونکو له وخت څخه تر اوسه پورې) ډېرې بدلونونه مشاهده کړي دي. خو په ژوند کې تر ټولو بنسټیز بدلون له صنعتي انقلاب وروسته د ټکنالوژۍ راڅرګندیدل دي چې د بشر په ژوندانه کې یې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. چې په نوموړې څېړنه کې موږ د ټکنالوژۍ په برخه کې یو له هغو عصري وسایلو او مېتودونو څخه یادونه وکړه چې نن ورځ یې د لرغون پوهنې په برخه کې د دې علم د متخصصینو لهپاره اسانتیاوې رامنځته کړې.

**وړاندیزونه**

۱. د لرغونپوهنې د علم متخصصینو، استادانو او د یادې څانګې محصلینو ته مو وړاندیز دی چې په یاده برخه کې وروستۍ برخې، لکه: د قالب بندۍ پروسه (Termoframing) باندې علمي مقالې او مونوګرافونه ولیکي.

۲. پوهنتونونو او لوړوزده کړو مؤسسو ته مو وړاندیز دی چې د لرغونو اثارو د ساتنې او اهمیت په برخه کې سمینارونه او نړیوال کنفراسنونه دایر کړي ترڅو پرمټ یې د لرغونو اثارو د بقاء او ارزښت انځور خپور شي.

## مأخذونه

Antlej, K., & Eriˇ, M. (2011). *Combining 3D technologies in the field of cultural heritage : three case studies*. 1–4.

Fischer, A. (2000). Multi-level models for reverse engineering and rapid prototyping in remote CAD systems. *CAD Computer Aided Design*, *32*(1), 27–38. https://doi.org/10.1016/S0010-4485(99)00081-0

Forte, M. (2014). 3D Archaeology: New Perspectives and Challenges—The Example of Çatalhöyük. *Journal of Eastern Mediterranean Archaeology and Heritage Studies*, *2*(1), 1–29. https://doi.org/10.5325/jeasmedarcherstu.2.1.0001

Graphics, I., & Reality, A. (2013). *IMAGE-BASED MODELING TECHNIQUES FOR ARCHITECTURAL HERITAGE 3D DIGITALIZATION : LIMITS AND POTENTIALITIES*. *XL*(September), 2–6.

Jasinski, M. E., Sortland, B., & Soreide, F. (1995). Applications of remotely controlled equipment in Norwegian marine archaeology. *Oceans Conference Record (IEEE)*, *2*, 566–572. https://doi.org/10.1109/oceans.1995.526818

*Manufacturing Aeronautical Structural*.

King, D., & Tansey, T. (2002). Alternative materials for rapid tooling. *Journal of Materials Processing Technology*, *121*(2–3), 313–317. https://doi.org/10.1016/S0924-0136(01)01145-1

Mikrut, S., Strus, A., Papuci-Wladyka, E., Puntos, J. K., & Glowienka, E. (2018). The Use of Photogrammetry in Archaeology and Multimedia Open-Air Performance in the Castle Square of Kato Paphos. *Proceedings - 2018 Baltic Geodetic Congress, BGC-Geomatics 2018*, 353–358. https://doi.org/10.1109/BGC-Geomatics.2018.00073

Moghimi, M., Stone, R., Rotshtein, P., & Cooke, N. (2016). The Sense of embodiment in Virtual Reality. *Presence: Teleoperators & Virtual Environments*, *25*(2), 81–107. https://doi.org/10.1162/PRES

Scopigno, R., Callieri, M., Cignoni, P., Corsini, M., Dellepiane, M., Ponchio, F., & Ranzuglia, G. (2011). 3D models for cultural heritage: Beyond plain visualization. *Computer*, *44*(7), 48–55. https://doi.org/10.1109/MC.2011.196.

# د افغانستان په پرمختګ کې د جغرافیایي موقعیت اغېز

پوهنیار نظیرګل صدیقي، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، تاریخ او جغرافیې څانګه.
برېښنالیک: Nazirgul.sidiqi@gmail.com

**لنډیز**

ګران هېواد افغانستان ځانګــــړی جغرافیایي موقعیت لري، چې د درېیو اقتصادي، کلتوري او جیو پولیتیکل برخو څخه یې یادونه کولای شو، په سویل او ختیځ کې سویلي آسیا، په شمال کې مرکزي آسیا او په لویدیځ کې د ایران موقعیت افغانستان لهپاره د ډېرو فرصتونو زمینه برابروي؛ خو د ډاډمنـــو ترانسپورتي لارو او اړینو ارتباطي اړیکو د نشتوالي له امله په کمه اندازه توانیدلی چې د خپل موقعیت څخه استفاده وکړي، که څه هم له یو بل سره کلتوري اړیکې لري. له بلې خوا افغانستان په یوه ځانګړي جغرافیایي موقعیت کې د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې له ډېرو اقتصادي فرصتونو برخمن دی، چې د هېواد د پرمختګ، ودانولو او ودې لهپاره ترې ګټه اخیستلای شي. که څه هم په تېرو څو کلونو کې له دغه و ضعیت او فرصتونو څخه د ګټې اخیستنې هڅې روانې دي، خو نتیجه یې نه ده ورکړې. د افغانستان دغه جغرافیایي موقعیت په اقتصادي او سیاسي ډګرونو کې د افغانستان لهپاره کوم فرصتونه او ظرفیتونه برابر کړي، په دې مقاله کې تر بحث لاندې نیول شوي او هڅه شوې چې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت تر ټولو مهمې ځانګړتیاوې په ګوته شي چې د افغانستان د پرمختګ لهپاره ګټور ثابت کیدای شي.

**کلیدي ټکي:** انرژي، پرمختګ، جغرافیایي موقعیت، جنوبي اسیا، د وربښمو لار، سیمه ایزه

همغږي، منځنۍ اسیا.

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله رب العالمین والصلواة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین! قال الله تعالی﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ﴾ ﴿١٥﴾ سوره الملک، سپاره ٢٩)

ژباړه: همغه ذات دی چې ستاسو لهپاره یې ځمکه مسخره کړې ده، نو د هغې په پراخوالي کې سفر وکړئ او د الله له رزق څخه وخورئ او د هغه لوري ته بیا راپاڅېدل دي.

د افغانستان اهمیت له جغرافیایي موقعیت څخه څرګندېږي. پـــه حقیقت کې افغانستان د منځنۍ آسیا، لوېدیځې او جنوبي آسیا د څلور لورې، د براعظمګي او سمندري قدرتونو پوله او په سیمه کې د قوي مخالفو قوتونو کور دی (تانین، ٢٠٠۴). د افغانستان جغرافیایي موقعیت د منځنۍ آسیا او سوېلي آسیا د هېوادونو تر منځ د پل حیثیت لري. په شمال کې یې د منځنۍ آسیا د ګازو، برېښنا،

تېلو او نورو خامو موادو د انرژۍ بډایه هېوادونه لکه: ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان او قرغزستان او په سوېل او ختیځ کې یې دوه هېوادونه پاکستان او هند هغه هېوادونه دي، چې انرژۍ او خامو موادو ته یې سخته اړتیا ده. دغه وضعیت افغانستان ته ځانګړی جیو پولیټیکل، جیو اقتصادی او جیوستراتیژیک اهمیت ورکړی دی. دغه حالت که له یو لوري د افغانستان د پرمختګ او هوساینې لهپاره پکاریږي، نوله بل پلوه یې دغه هېواد د تاریخ په اوږدو کې د نړیوالو سیالیو په ډګر هم بدل کړی او د دې خاورې خلک یې له لازمې سولې او آرامۍ څخه بې برخې کړې دي.

د اتلسمې پیړۍ تر پایه پورې، دا هیواد د وخت د دوو سترو استعماري قدرتونو، انګلستان او فرانسې لهپاره د هند (برصغیر) ته د ننوتلو دروازه وه. په نولسمه پېړۍ کې دغه هېواد د روسیې او انګلستان د دوو قدرتونو تر منځ د یوه حایل په توګه و. په شلمه پېړۍ کې او د سړې جګړې له پیل سره یې د امریکا او شوروي اتحاد لهپاره د نیابتي جګړې ډګر شو او اوس په ۲۱مه پېړۍ کې لا هم د سیمې او نړۍ د هېوادونو ترمنځ د سیالۍ ډګر دی. په ځانګړې توګه روسیه او متحده ایالات. (عارض،۲۰۱۲).

په تېرو څو کلونو کې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له حضور او دغه هېواد ته د نړۍ د پام په اړولو سره د افغانستان تیر حکومت هڅه کړې، چې له دغه و ضعیت څخه په استفادې سره خپلې اړیکې پراخې کړي او په سیمه کې خپلې اقتصادي او سیاسي اړیکې پیاوړې کړيِ؛ خو د مختلفو عواملو له کبله، دا هڅې په کمه اندازه بریالۍ شوي دي، خو د دغو هڅو ناکامي په سیمه کې د افغانستان جغرافیایي اهمیت نه کموي. جغرافیایي فرصتونه او ظرفیتونه لا هم د دې هېواد لهپاره خوندي دي. د افغانستان دغه جغرافیایي موقعیت څه ګټې لري او افغانستان ته یې کوم فرصتونه او ظرفیتونه برابر کړي دي په دې لیکنه کې څېړل شوي دي. په دې مقاله کې لومړی د افغانستان جغرافیایي موقعیت او اهمیت څېړل شوی او بیا یې هغه ظرفیتونه او فرصتونه څېړلي چې د هېواد د پرمختګ لهپاره ګټور ثابت کیدای شي.

## د څېړنې موخې

- د افغانستان جغرافیایي موقعیت پېژندل
- د افغانستان په پرمختګ کې د جغرافیایي موقعیت اهمیت پېژندل
- د افغانستان جغرافیایي موقعیت او په پرمختګ کې د هغې له اغېزو سره اشنا کېدل

## د څېړنې کړنلاره او مواد

د څېړنې تګلاره کتابتوني ده او د موضوع په تړاو له بېلا بېلو سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده او په دې اړه د مو ضوع اړوند معلوماتو تر مطالعې وروسته بیا د افغانستان جغرافیایي موقعیت او په

پرمختګ کې رول روښـــانه شـــوی او دا یې په ډاګه کړې، چې د افغانســـتان جغرافیایي موقعیت په پرمختګ کې څه رول لري.

### د افغانستان جغرافیایي موقعیت

افغانستان په شمال کې له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډه پوله لري. ایران د افغانستان په لویدیځ کې موقعیت لري او پاکستان یې سویل او ختیځ کې موقعیت لري او په شمال ختیځ کې یې چین هیواد پروت دی. افغانســـتان له خپلو ګاونډیانو سره ټولټال ۵۵۱۴ کیلومتره ګډه پوله لري. دغه هېواد له خپلو شـمالي ګاونډیو سره ۲۳۸۴ کیلومتره ګډه پوله لري، نږدې ۹۶ کیلومتره د چین له ســـینکیانګ ایالتونو سره، ۹۴۵ کیلومتره له ایران سره او ۲۲۴۰ کیلومتره له پاکســـتان او جمو کشـــمیر سره مشترکه پوله لري(رحیمي، ۲۰۱۱).




**شکل: ۱- افغانستان نقشه**

د افغانستان د جغرافیایي او جیو پولیتیکي موقعیت ارزښت

د جغرافیایي موقیعت له پلوه افغانســتان د اســیا په مرکز کې د دې وچې د لویو ســیمو په منځ کې د څلور لارې حیثیت لري. د خپل اوږد تاریخ په اوږدو کې په افغانستان باندې په مکرر ډول بریدونه شوي او د نړۍ زبرځواکونه یې نیولو ته هڅولي دي. (غبار، ۱۳۹۰).

افغانســـتان د نړۍ په څلورو خورا نفوس لرونکو ســـیمو کې موقعیت لري او په نړۍ کې د معدني زیرمو بډایه هیواد دی منځنۍ، سویلي آسیا، مرکزي او شمالي آسیا، منځني ختیځ او لرې ختیځ سره د نښلولو د یو پل په توګه موقعیت لري(بینا، ۱۳۸۷).

افغانستان د یوه حساس جغرافیایي موقعیت په توګه چې مرکزي آسیا له جنوبي آسیا سره نښلوي او تل د نړۍ په دې برخه کې د خپلو موخو د ترلاســـه کولو لهپاره د نړۍ د قدرتونو د توجه مرکز ګرځېدلی دی.

افغانســـتان له لرغوني زماني راهیســـې د جیو پولیټیکل او جیوســـتراتیژیک له نظره په ســـیمه کې ځانګړی اهمیت لري او په دې هېواد کې ډېرې تاریخي پېښې رامنځ ته شوې دي. له لرغوني زمانې څخه تر ۱۸۰۰ میلادي کال پورې د هند د دروازې په توګه تل له شـــمال او لویدیځ څخه پرې بریدونه شـوي دي؛ ځکه چې دا د هند خاورې ته د رسـېدو لهپاره تر ټولو مناسـبه لاره ګڼل کېده. ډېرو واکمنانو په دې لاره کې هند ته د رسېدو لهپاره پر افغانسـتان برید کړی، وروسـتی امپراطوري چې غوښـــتل یې له همدې لارې پر هند برید وکړي او انګرېزان له هنده وباسي، هغه فرانســـوی ناپلیون بوناپارټ ؤ، چې د افغانســـتان د هغه وخت پاچا شـــاه زمان له خـــــوا ناپلیون سره ودرید!! (غیاشـــی، ۱۳۸۳). ددې سربېره روســـانو هم دا پلان درلود، چې له هندوکش څخه په تېریدو د هند خاورې یا ګرمو اوبو ته ورسیږي. پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل د همدې پلان یوه برخه وه، نو په دې اساس ناپلیون وروستنی امپراتور نه دی، چې له دې لارې یې غوښتل هند ته ننوځي.

**د افغانستان ستراتیژیک او جیو-اقتصادي موقعیت**

د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د منځنۍ آسیا او سویلي آسیا تر منځ د نښلونکې اړیکې په توګه دغه هېواد ته دا فرصت برابر کړی چې په سیمه کې د سترو اقتصادي پروژو په بریالیتوب کې خورا مهم رول ولوبوي (رحیمي، حسین، ۲۰۱۳)

سره له دې چې د افغانســـتان موقعیت یو ســـتونزمن موقعیت ګڼل کېږي، خو د ســـیمې له مهمو هېوادونو سره د ګاونډیتوب او د منځنۍ آسیا او د فارس خلیج په سیمو کې د تېلو او ګازو له کشف وروسته د دغه هېواد جغرافیایي موقعیت دغه هېواد ته په نړدېوالي کې یو مهم ستراتیژیک موقعیت ورکړی دی. دغه راز دغه ستراتیژیک موقعیت په ۱۹مه پېړۍ کې د روسیې او برتانیې د امپراطورۍ او د شلمې پېړۍ د سړې جګړې پر مهال افغانستان د دوو امپراتوریو په منځ کې د یوه حایل زون په توګه منل شوی ؤ. په دې پېړۍ کې دغه ځانګړی جغرافیایي موقعیت هم په سیمه کې د لویدیځ او په ځانګړې توګه د امریکا د مستقیم او اوږدمهاله شتون د جدي پاملرنې لامل شوی، څو په سیمه کې د لویدیځ د جیوستراتیژیکو ګټو د تعقیب لهپاره ترې ګټه واخیستل شي (رحیمی، ۱۳۹۰).

افغانســـتان د هند د برصـــغیر، منځنۍ آســـیا او د فارس خلیج ترمنځ د ارتباطي پل په توګه د خپل ســـتراتیژیک موقعیت له امله ســـتر جیو پولیټیکل او اقتصـادي اهمیت لري. د نړیوالې ټولنې د ځینو غړو نظر دا دی چې د نړۍ د امنیت او ثبات زیاتره ســـتونزې له منځني ختیځ او د افغانســـتان له

شاوخوا سیمې څخه سرچینه اخلي، له همدې امله د افغانستان امنیت او ثبات نه یوازې د افغانستان د خلکو بلکې د ټولې نړۍ لەپاره حیاتي اهمیت لري. د چین او روسیې د فدراسیون په څېر، نور هیوادونه د منځنۍ اسیا او د کسپین سمندرګي سیمې د انرژۍ لویو زیرمو ته عملي لاس رسی نه لري او هځه کوي چې د بازار د اقتصاد د اړیکو په چوکاټ کې له دغو زیرمو څخه ګټه پورته کړي. افغانستان د انرژۍ د منابعو د لېږد د زیربنا د جوړولو لەپاره یو له خورا مهمو انتخابونو څخه کیدای شي (بینا، ۱۳۸۷).

## په وچه کې د راګیر هېواد په توګه د افغانستان موقعیت

د مشهورو تیوریو په منځ کې چې د نړۍ د نابرابرۍ په لاملونه بحث کوي، یوه هم د جغرافیې تیوري ده. دا نظریه وایي چې د بډایه او بې وزلو هېوادونو تر منځ لوی واټن د دوی د جغرافیایي توپیرونو له امله دی. د نړۍ ډېرې بې وزلې سیمې لکه په افریقا، مرکزي امریکا او جنوبي آسیا کې بې وزله هېوادونه معمولاً د سرطان د کرښې او د مدارینو په منځ کې پراته دي. له بلې خوا، بډایه هېوادونه په ډېرو معتدلو عرض البلدونو کې موقعیت لري. د بې وزلۍ او شتمنۍ دا ځایي غلطت جغرافیې فرضیې ته یو ظاهري او سطحي شکل ورکوي، کوم چې د ډېرې ساینس پوهانو او ټولنیزو علومو کارپوهانو د نظریاتو او نظرونو د پیل ټکی دی. مګر د دې نظرونو کثرت د دې فر ضیې غلطیو ته تاوان نه ورکوي (اجموګلو او نور، ۲۰۱۴).

د هغو عواملو سربېره چې یو هېواد یې په وچه پورې تړلی دی، ډېری افریقایي هېوادونه ناکام شوي او افغانستان هم په وچه پورې تړلی هیواد دی؛ خو موږ باید په دې ټکي ډېر ټینګار ونه کړو. د مثال په توګه، په یاد ولرئ چې سویس هم په وچه کې راګیر هېواد دی، مګر اوس د نړۍ یو له خورا صنعتي هېوادونو له جملې څخه دی، په ۲۰۰۲ کې د صنعت له وجې په دې هېواد کې د سړي سر عاید یې ترټولو لوړ ؤ، چې د جاپان په پرتله ۲۴٪ ډېر ؤ. دا هېواد په هغه کال کې په دویم ځای کې ؤ، د امریکا په پرتله ۲،۲ ځله، د چین په پرتله ۲۴ ځله او د هند په پرتله ۱۵٦ ځله ډېر ؤ (شر، ۱۳۹۰).

د کتاب لیکوالان ولې ملتونه ناکامیږي؟ دوی د ډېرو دلایلو په ورکولو سره ثابته کړه، چې د جغرافیې او پرمختګ ترمنځ هېڅ اړیکه شتون نلري. د دوی په وینا تاریخ ښایي دا ثابته کړي، چې د جغرافیاوي اقلیم او اقتصادي وضعیت ترمنځ هېڅ ساده یا باثباته اړیکه شتون نلري.

له دې ټولو سره سره، افغانستان باید د خپلې ملي ستراتیژۍ په جوړولو کې د وچې کلابندۍ او هغه کړکیچونه په پام کې ونیسي-چې د افغانستان د جغرافیې له امله د ګاونډیو هېوادونو پر ملي ګټو اغېز کوي. په بل عبارت، د افغانستان د محاصرې ګواښ هغه وخت حل کیدای شي، چې نورې اسانتیاوې چې د افغانستان جیوپولیټیک د هیواد سیاسي تصمیم نیونکو ته ورکړي دي، وکارول

شي. د افغانستان ترانزيتي لار او د ګاونډيو هېوادونو له ګډو اقتصادي ګټو سره اړيکه به يې دا ګواښ له منځه يوسي (رحيمي، ۲۰۱۰). که افغانستان په ځينو مواردو کې په وچه کې راګير وي، د افغانستان په ګټه تمامېدای شي. افغانستان د خپل وضعيت له مخې کولای شي دغه ځانګړنه په يوه فرصت بدله کړي. هغه څه چې په دې مقاله کې به ترې يادونه وشي افغانستان به سم مديريت او هوښيار سياست سره وکولای شي له خپل موقعيت څخه په غوره توګه د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړيکو د پراختيا لهپاره کار واخلي او له دې لارې به ډېره ګټه ترلاسه کړي.

**افغانستان هغه هيواد دی، چې د غريبو هېوادونو انرژي يې له بډايه هېوادونو سره تړلې ده**

د افغانستان جيو-اقتصادي، جيو-ستراتيژيک او جيو-سياسي موقعيت له تاريخي پلوه خورا مهم دی. د ورېښمو په لرغونې لارې کې موقعيت، جنوبي اسيا او د مهمو ګاونډيو هېوادونو په منځ کې يې موقعيت هغه عوامل دي چې د دولت له خوا له فرصتونو څخه د ګټې اخيستنې پر بنسټ د هېواد لهپاره ګټه او تاوان لري. د افغانستان يوه مهمه ګټه د منځنۍ اسيا او جنوبي اسيا ترمنځ د ټرانزيټ او ترانسپورتي مرکز په توګه کارول دي (رحيم، ۲۰۱۵).

يو له هغو فکتورونو څخه چې انرژي ته لاسرسی کې شکيل دي د هر هېواد جيو پوليټيکل مسئله ده. افغانستان د خپل جيوپوليټيک موقعيت له مخې د سيمې د هېوادونو ترمنځ د انرژۍ په لېږد کې رغنده رول لوبولای شي. افغانستان د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د ګاونډيتوب له امله، چې په سيمه او نړۍ کې د انرژۍ د يوې مهمې سرچينې په توګه بلل کيږي، د سيمې د اقتصاد په وده کې مهم رول لري. څرنګه چې د منځنۍ اسيا هېوادونه په وچه کې پراته دي، له دې سيمې څخه د نورو هېوادونو د مصرفي بازارونو ته د تېلو او ګازو لېږد د بېلابېلو پايپ لاينونو جوړولو ته اړتيا لري، د افغانستان جيو پوليټيک موقعيت د منځنۍ اسيا د انرژۍ د لېږدولو لهپاره د سوېلي اسيا د لارې د اسانتيا وړتيا لري او پدې سره به د انرژۍ د تبادلې (ټرانزيټ) سکتور کې د محور په توګه راڅرګند شي (عليرضا، ۱۳۹۰).

افغانستان د منځنۍ اسيا او سوېلي اسيا تر منځ د تر ټولو لنډې او ارزانه ترانزيتي لارې په توګه د دغو دوو سيمو ترمنځ د سوداګرۍ د بشپړتيا د امکاناتو په پرانيستلو او په دې توګه په ټوله سيمه کې د نوې سوداګرۍ په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي (تڼيوال، ۱۳۹۱: ۵) د بديلو لارو په پرتله، افغانستان کولای شي د منځنۍ او جنوبي اسيا تر منځ لنډ او خورا اقتصادي سړکونه، د اورګاډي پټلۍ او د ګاز او بريښنا د ليږد لينونه چمتو کړي (سروش، ۲۰۱۴).

له افغانستان څخه د ګازو او تېلو د نل ليکې انتقال د هېواد په سياسي او اقتصادي مسايلو کې ژورې او مثبتې پايلې لري. له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته د ګازو او تېلو د نل ليکې تېرېدو د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ اړيکې پياوړې کړې، ثبات او سوله يې راوستې ده (عليرضا، ۱۳۹۰).

د ګازو د انرژۍ د لېږد یوه پروژه چې له افغانستانه تېرېږي او د سیمې هېوادونه سره نښلوي د ټاپي نل لیکه ده. TAPI د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د هېوادونو د نومونو له لومړیو تورو څخه اخیستل شوی او د افغانستان له لارې پاکستان او له پاکستان څخه هند ته د ترکمنستان د ګازو د لېږد د پروژې نوم دی. دا پروژه چې تړون یې په ۲۰۱۰م کال کې د څلورو هېوادونو د استازو له خوا په اسلام اباد کې لاسلیک شوی و، عملي کار یې د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په ۱۳ مه د افغانستان د ولسمشر، د ترکمنستان د ولسمشر، د پاکستان د لومړي وزیر او مرستیالانو په حضور کې پرانیستل شو. د ترکمنستان په مروه ښار کې په دغه قرارداد کې ترکمنستان د ګازو عرضه کوونکی یا پلورونکی، پاکستان او هند د ګازو عمده کاروونکي او پېرودونکي دي او افغانستان د ګازو د پایپ لاین د ترانزیتي هېواد او د دغې پروژې کوچنی کاروونکی دی. د افغانستان لپاره د دې پروژې مستقیمې اقتصادي ګټې، د هغه څه له مخې چې تر اوسه ویل شوي، د دې ګاز د ۱۶٪ د تادیاتو په بدل کې کارول او د ټرانزیټ حق په توګه د کال څلورسوه (۴۰۰) ملیون ډالر ترلاسه کول دي. د افغانستان لپاره د دې پروژې د نورو اقتصادي ګټو تر څنګ کولای شو په هېواد کې دننه د دې پروژې د عملي کار په ترڅ کې د دغه هېواد اتباعو ته د کار پیدا کولو یادونه وکړو. له بلې خوا، د دې پروژې پلي کول د پاکستان پالیسۍ او صادقانه فعالیت ته اړتیا لري. اوس چې الحمدالله په افغانستان کې امنیت تامین شوی، نو ددې پروژې پلې کیدل هم شونې دي. نو که پاکستان غواړي چې دغه ګاز وکاروي، باید په افغانستان کې د اسلامي امارت حکومت په رسمیت وپېژنی او له دې دولت سره صادقانه چلند وکړي او دا هغه ستره ګټه ده چې د افغانستان اسلامي امارت ترې ګټه پورته کولای شي (آریا، ۲۰۱۴). همدا ډول بله پروژه، چې په تېرو څو کلونو کې په لاره اچول شوې او د افغانستان د اقتصادي رول لپاره یې شرایط برابر کړي، د کاسا(۱۰۰۰) بریښنا پروژه ده. CASA-1000، د سیمه ییز بریښنا بازار یو مهم زیربنا په توګه، له قرغزستان او تاجکستان څخه پاکستان ته د دیارلسوه (۱۳۰۰) میګاواټو لیږد ظرفیت سره، په سیمه کې د بریښنا د پیرودلو او پلور لیږد پیل کولو لپاره خورا مناسب پلیټ فارم چمتو کوي. د افغانستان له لارې له منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د بریښنایي انرژۍ په لېږدولو سره به د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا هېوادونو ګډې اقتصادي ګټې په سیمه ییزه سوداګرۍ کې برابرې شي. د افغانستان رول په سیمه کې د بریښنایي انرژۍ د ترانزیت په برخه کې د یوه اغېزمن هېواد په توګه رامنځته شوی او په ورته وخت کې په دې پروژه کې د بریښنایي انرژۍ د ترانزیت له لارې د عایداتو شتون او لاسته راوړل به د ثبات د ټینګښت لپاره یو عامل وي(safi,2011) .

که دا پروژه په راتلونکو څو کلنو کې پلې شي، افغانستان به د یوه ترانزیتي هېواد په توګه په کال کې له ۴۵ تر ۶۵ میلیونه ډالره عاید ترلاسه کړي. افغانستان به پاکستان ته د هر کیلو واټ ساعت بریښنا په بدل کې ۱.۲۵۵ سنټه ترلاسه کوي. له بلې خوا، د CASA 1000 بریښنا لیږد کولای شي له افغانستان

سره د تېلو د واردولو له امله د مالي فشــار په مقابل کې مرســته وکړي او خدمات هم ښــه کړي. افغانستان به له دې پروژې ۳۰۰ میگاواټه برېښنا په ټیټه بیه پیري (خبرگزاری صدای افغان،۱۳۹۴).

له همدې امله، افغانســتان چې د دغو دوه سـیمو ترمنځ موقعیت لري، د دې وړتیا لري چې په سـیمه کې د انرژۍ یو مهم بازار شي. د افغانسـتان دغه رول که له یوې خوا د دغو دوو سـیمو له اقتصـادي ودې او د دوی ترمنځ د همکاریو په پراخولو کې مرســته کولای شي، له بلې خوا کولای شي د افغانســتان لهپاره ســترې اقتصـادي او سـیاسي گټې ولري؛ ځکه چې د پورتنیو دوو پروژو یو تر ټولو مهم کاروونکي پاکسـتان دی او د دې پروژو پلي کول په افغانسـتان کې د اسـلامي امارت سره ښـه روابطو ته اړتیا لري، نو که پاکســتان غواړي له دې پروژو گټه پورته کړي، باید په افغانســتان کې د دې ښــه امنیت څخه په اســتفادې له افغان حکومت سره همکاري وکړي. او دا د گټو تر څنگ د اقتصادي اړخه تر ټولو ستره گټه ده، چې د افغانستان اسلامي امارت ترې گټه پورته کولای شي.




شکل: ۲- د ټاپي (TAPI) نقشه

**د افغانستان اوبه د پرمختگ یوه بله سرچینه ده**

اوبـه یوه بلـه طبیعي سرچینـه ده چې د هېوادونو پـه اقتصـــادي ځواک او اړیکو کې ډېره اغېزمنـه تمامیدای شي. هـــایدروپولیتیک یو له هغو فکتورونو څخه دی چې په نړیوال سـیسـتم کې به په راتلونکي کې خورا مهم رول ولوبوي او پخپله به د هیوادونو ترمینځ د نوي ســیاسي - ســیمه ایزو

کټګوریو لامل شي. په راتلونکي کې، هغه هېوادونه چې دا زېرمې لري، په نړیوال سیستم کې به یو ستراتیژیک موقعیت ولري (رحیمي، ۲۰۱۱).

په افغانستان کې د ډېرو سیندونو د سرچینو موقعیت چې په پای کې ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي، د دې جیوپولیټیک کوډونو په کارولو سره د اړیکو په پراختیا کې د افغانستان لهپاره یو مهم فرصت برابر کړی دی. د دې کوډونو سمه ګټه اخیستنه او د مناسبې هایدروپولیټیک پالیسي پلې کول او د افغانستان لهپاره به د سولې او دوستۍ لاره هواره کړي، او هم له دې کوډونو سمه اقتصادي ګټه پورته کړي. د هغو سرحدي سیمو پراختیا، چې د دغو سیندونو په لاره کې دي، د همدې تګلارې لومړۍ پایله به شي (رحیمي، ۱۳۹۱).
په تېرو څو کلونو کې افغانستان هڅه کړې چې د هېواد پر سیندونو د بندونو په جوړولو سره خپلې اوبه مدیریت کړي او د دغو اوبو د ضایع کېدو مخه ونیسي ــ خو د هېواد د اوبو دغه مدیریت د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لهپاره د اوبو د اهمیت له امله د ځینو هېوادونو غبرګونونه راپارولي دي. کله چې په هرات ولایت کې د سلما بند کار پیل شو، د ایران د "هفت صبح" ورځپاڼې سرلیک و؛ د افغانستان تر ټولو ستره زیربنایي پروژه، ایا د مشهد ښار ته د اوبو رسولو بحران به رامنځ ته شي؟ هغه خپله اندیښنه څرګنده کړه.

څو کاله وړاندې یو شمېر نورو ایراني ورځپاڼو هم په دې اړه اندېښنه ښودلې وه؛ د **۱۳۹۲** کال د لیندۍ په **٦** مه، شرق ورځپاڼې په یو راپور کې د نورو سرلیکونو لکه "افغانانان مشهد وچوي؟" تر سرلیک لاندې "د ایران په ختیځ کې وچکالۍ" یوه مقاله خپره کړه. دا په رسنیو کې منعکس شوی، دا د سلما بند انتقاد کوي. د **۱۳۹۲** لمریز کال د لیندۍ په **۲۵**مه د جام جم ورځپاڼې په یوه راپور کې چې په اسلامي شورا کې د مشهد او کلات د خلکو د استازي امیرحسین غازي زاده د وینا له مخې «هریرود به مشهدیانو پورې وتړل شي» د دوستي بند په اړه لیکي: "له شاوخوا دوه نیمو کلونو راهیسې د بهرنیو چارو وزارت له خوا له افغان لوري سره خبرې اترې او مکتوبونه شوي، چې تر اوسه یې کومه پایله نه ده لرلې. افغانستان اوبه نه لري. له همدې امله، دا امکان نلري چې هغه به د سلما بند خلاص نه کړي. که څه هم، د استخراج په صورت کې باید ایران او ترکمنستان تاوان ورکړي، خو د هیرمند پیښې ته په پام سره فکر کوو چې دا تاوان به ناشونی وي." غازي زاده په سمه توګه د هیرمند بند ته اشاره کوي چې په افغانستان کې د سیستان د اوبو د بډایه کولو لهپاره کارول کېده او له هغه وروسته موږ هیڅکله د اوبو په مسئله کې له افغان لوري سره خبرې اترې ونه کړې. (هفت صبح، ۱۳۹۵).
دغه راز پخواني ولسمشر ـ محمد اشرف غني چې د سلواغې په **۲۰**مه یې په یوه خبري غونډه کې خبرې کولې، د اوبو مسئلې ته اشاره وکړه او د افغانستان د اوبو پر مدیریت یې ټینګار وکړ او ویې

ویل: له چین پرته مـــورږ د ټولو ګاونډیانو د اوبو سرچینه یو. خو مورږ پخپله له دوو بنســتیزو شـیانو ځوریږو، یا سـیلاب یا وچکالي. افغانسـتان په تېرو ۲۵ کلونو کې یوه درجه ګرم شـوی دی. مورږ او تاسو طبیعي بندونه درلودل، د افغانسـتان غرونه زمورږ لهپاره بندونه وو چې، زمونږ لهپاره واوره ذخیره کوي. او زمورږ د اوبو لګولو سیسـتم چمتو کوي. اوس واوره په یوه شـیبه د واورې یا د باران په بڼه راځي. له همدې امله په دې بندونو کې د ذخیره کولو پرته مورږ نشــو کولای خپل زراعت ته وده ورکړو. له همدې امله د اوبو مدیریت د افغانستان لهپاره یو له مهمو مسئلو څخه دی (قانی، ۱۳۹۶).

نو ځکه ویلای شـو چې نن ورځ د اوبو مسـئله د هېوادونو لهپاره تر ټولو مهمه مسْـله ده. البته د دې مطلب دا نه دی، چې د افغانسـتان د اوبو مدیریت د افغانسـتان او ګاونډیانو ترمنځ شـخړې زیاتوي؛ بلکې د افغانســتان د اوبو مدیریت د افغانســتان ګاونډیان دې ته اړ باسي چې د امتیازاتو د ترلاســه کولو لهپاره د اوبو په برخه کې خپلې همکارۍ زیاتې کړي. د اوبو په برخه کې له افغانســتان سره اقتصــادي، ســیاسي او حتی فرهنګي اړیکې پراخوي او له افغانســتان سره په هره ممکنه توګه د همکارۍ هڅې کوي. په دې توګه افغانستان کولای شي د خپلو اوبو په سم مدیریت او له ګاونډیو هېوادونو سره د رغنده ډیپلوماسۍ له لارې په افغانستان کې د سولې، ودانولو، بیارغونې او پراختیا او د سیمې له هېوادونو سره د ګټورو او دوستانه اړیکو په پراخولو کې له دې منابعو کار واخلي.

**د ورېښمو لار هم د افغانستان په پرمختګ کې بې اغېزې نه ده**

په ســیمه کې د افغانســتان مرکزیت د دې لامل شــوی چې دغه هېواد له ګاونډیو هېوادونو سره د پراخو همکاریو په زمینه کې مهم رول ولوبوي، یو وخت دا سیمه چې اوس مهال د افغانستان په نوم یادېږي، د اړیکو د ټینګښـت په برخه کې د اړیکو نقطه وه. نړیوال اقتصـاد، چې اصـلي بېلګه یې د ورېښــمو لار ده، چې د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د سـوداګریزو اړیکو د اصـلي لارې په توګه کارول کېده (بینا، ۱۳۸۷).

د چین د ورېښــمو لرغونې لار، چې څه دپاسه دوه زره کاله پخوا کارول کېده، اوس هم په نړۍ کې ډېره مشـهوره ده. د ورېښــمو لار د چین او د اروپا، آسـیا او افریقا د هېوادونو ترمنځ د پله په توګه د ختیځ او لویدیځ ترمنځ د مادي او کلتوري تبادلې په برخه کې مهم رول لوبولی دی. دغه سـړک په پخوانیو وختونو کې د منځنۍ آسیا له لارې له جنوبي، لوېدیځې آسیا او اروپا او افریقا سره د چین د ځمکنۍ سـوداګرۍ لاره وه. په دې وروسـتیو کلونو کې د ورېښــمو د لارې مفکوره بیا راژوندۍ شــوې او لویـدیځو او ختیځو مفکرینو د هغې د بیا پیـل او پراخولو پلانونـه وړانـدې کړي دي (احمدی، ۱۳۹۵).

په تېرو څو کلونو کې د ورېښــمو لارې د بیا پیلولو لهپاره دوه پلانونه، یو د امریکا متحده ایالاتو او بل د چین د حکومت له خوا وړاندې شــوي دي. د امریکا د متحدو ایالتونو پلان د لومړي ځل لهپاره د دغــه هېواد د بهرنیو چارو د وزیرې هیلري کلنټن له خوا په ۲۰۱۱ کال کې څرګند شو او د چین دغه پــلان د لومړي ځل لهپاره د چین د ولسي جمهوریت د مشــر له خوا بیان شو. شي جین

پینګ په ۲۰۱۳ کال کې  د امریکا لخوا وړاندې شوی پلان د وریښمو د نوي سړک پروژې اصلي جوړونکي "فریډریک ستار" د پراخو مطالعاتو پراساس دی. د وریښمو د نوې لارې د امریکا پلان د روسیې زیربناوې (سړکونه، ریل پټلۍ او د انرژۍ د لېږد لین) د منځنۍ اسیا له هېوادونو او بیا افغانستان، پاکستان او هند سره نښلوي. د ایران په لرې ساتلو او جیو پولیټیکل او جیوستراتیژیک اهمیت په نظر کې نیولو سره، دا پلان هڅه کوي چې یو څه په سیمه کې د ایران رول کم کړي او ختیځ ته د لاسرسي لپاره نوې لارې رامینځته کړي. په عین وخت کې د چین د وریښمو د نوي سړک پلان چې په دوه ډوله ځمکنۍ او سمندري لارې لري موخه یې داده چې ختیځه آسیا له مرکزي آسیا، مرکزي آسیا له لویدیځې آسیا او لویدیځه آسیا له مدیترانې او ختیځې اروپا سره ونښلوي او پدې سره به جنوبي چین سمندر د مدیترانې سمندر سره وصل شي (احمدی، ۱۳۹۵).

دا باید په پام کې ونیول شي چې "د وریښمو د نوې لارې اقتصادي کمربند یوازې یو سړک نه دی، دا یو اقتصادي، سیاسي، امنیتي او جیو پولیټیکل پلان دی چې د پرانیستې او څو قطبي پروسې سره په لاره کې نږدې ټول هېوادونه شامل دي. د دې پلان عملي کول په پروژه کې د فعالو هېوادونو د ودې او سوکالۍ لپاره یو عامل دی. (توراپي، ۲۰۱۵). د امریکا د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې هیلري کلنټن د وریښمو د لارې اهمیت په لاندې ډول څرګند کړ: «د وریښمو نوې پروژې د سیمه ییزې همکارۍ د رامنځته کولو، د سیاسي انعطاف د رامنځته کولو، د اقتصادي ودې د ښه کولو، د سوداګرۍ د تنوع او د پانګونې د وړاندیز لپاره د پلان یوه وسیله ده. د ترانسپورت، کانونو او انرژۍ سکتورونه دي. دا ټول د منځنۍ آسیا جمهوریتونو ته یو بې ساری تاریخي فرصت وړاندې کوي، چې په نړیوال اقتصاد کې مهم لوبغاړي شي. د پایلې په توګه، په لویه او کوچنۍ کچه کې ډېری دوه اړخیزې او څو اړخیزې پروژې شتون لري چې موخه یې د وریښمو د لرغوني سړک په څېر د سوداګرۍ او تبادلې سیستم بیارغونه ده (فیډرونکو او همکاران، ۲۰۱۳).

د افغانستان د بهرنۍ تګلاره یو له مهمو موخو څخه دا ده، چې د دوامداره ګډ پرمختګ لپاره د سیمه ییزو اقتصادي انحصارونو په رامینځته کولو سره د دولتونو ترمنځ د شخړو کمول ... سیمه کولای شي د وریښمو لارې له بشپړ ظرفیت څخه د افغانستان د سوداګرۍ او ټرانسپورټ په سیمه ایز مرکز بدلولو سره ګټه پورته کړي (حیدري، ۲۰۱۵).

افغانستان چې د وریښمو د نوې لارې په زړه کې دی، کولای شي یو ځل بیا د سوداګرۍ او کلتور په ډګر کې خپل ویاړلی تاریخي مقام ترلاسه کړي او د دغه لارې په تیریدو سره د ارتباطي عنصر په توګه بدل شي. لکه څنګه چې دا ترانسپورتي پروژې د افغانستان لپاره مهمې دي، د منځنۍ آسیا او نړۍ لپاره هم مهمې دي. د ترانسپورت زیربناوې او د انرژي سرچینې د هر اقتصاد لپاره اصلي او

حیاتي فاکتور دي. د منځنۍ آسیا لهپاره، د افغانستان له لارې ترانزیت یو حیاتي شریان دی چې په وچه کې تړلي هیوادونه له مهمو نړیوالو بازارونو سره نښلوي (اسیا پراختیایي بانک، ۲۰۱۱).
د ورېښمو لارې په کارولو سره افغانستان کولای شي لرې ختیځ او اروپایي هېوادونو سره صادرات او واردات وکړي او هم به په وارداتو کې د عاید کمښت هم وګورو. د ورېښمو لارې اړوند پروژو په کارولو سره چینایي او افغان پانګوال کولای شي په دواړو هېوادونو کې پانګونه وکړي. همدارنګه د واخان دهلیز د ورېښمو د لارې یوه له مهمو دروازو څخه ده چې له دې لارې به بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان صادرات او واردات کېدل. د دغه دهلیز بیا احیا کول به د هیواد وارداتي لګښتونو کې د پام وړ کموالی راولي او حتی د دې دهلیز بیا احیا کول به له همدې لارې چین ته د عینک د مسو کان خام مواد انتقال کړي. نو د دغه سړک اقتصادي اهمیت نه یوازې افغانستان بلکې چین ته هم ګټه رسوي (afghanistan and silk roadchina،1393).
د افغانستان د ورېښمو د نوې پروژې پــــه پلي کېدو سره به یو ځل بیا د اقتصاد په ډګر کې خپل تاریخي ځای بېرته ترلاسه او په سیمه کې د ټرانزیټ او سوداګرۍ په یو مهم مرکز بدل شي. د دغه سړک په جوړېدو سره به له یوې خوا د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا د هېوادونو ترمنځ سوداګریزې او ترانسپورتي اړیکې نورې هم پراخې شي او له بلې خوا به له لوېدیځې آسیا او په پای کې له اروپا سره د لېرې ختیځ سوداګریزې اړیکې پیاوړې شي. د دې لارې په بیا راتللو سره به یې افغانستان د سیمې اقتصادي شریانونه فعال کړي او له دې لارې کولای شي د سیمې د هېوادونو ګټې د افغانستان له ګټو سره ونښلوي او دغه هېوادونه همکارۍ او سیمه ییز ادغام ته چمتو کړي. د ورېښمو د نوې لارې لهپاره یو له اساسي شرطونو څخه په افغانستان کې د امنیت شتون دی. لله الحمد چې، د اسلامي امارت په راتګ سره په افغانستان کې سرتاسري امنیت شتون لري، نو دواړه هېوادونه چین او افغانستان باید ددغې پروژې اهمیت ته په کتو شپه او ورځ کار وکړي.

**د افغانستان جغرافیه او سیمهییز ادغام**

همکاري او همغږي د ټولنیز ژوند په تاریخ کې د بېلابېلو انساني ټولنو د جوړښت بنسټ ګرځېدلی، چې د ارسطو، افلاطون، اګوستنت، ابن خلدون او هیګل په لیکنو کې لیدل کېږي. همغږي هغه حالت ته ویل کیږي، چې په هغه کې ډلې، سازمانونه، بنسټونه یا هیوادونه د اجتماعي ګټو د ساتلو لهپاره له یو بل سره پراخه همکاري کوي او د یو ډول یووالي په لور حرکت کوي. په معاصره نړۍ کې د هماهنګۍ بریالۍ بېلګې، په اروپا کې د هماهنګۍ بهیر او په پای کې د اروپایی اتحادیې جوړېدل او د جنوب ختیځې آسیا هېوادونو (آسیان) ترمنځ همغږي د دې لامل شوې، چې کارپوهان او سیاستوال دې تجربې ته په کتو سره په دغه هماهنګۍ په نسبي توګه بریالي وګڼي. د زیاتو ګټو او مناسبو همکاریو د ترلاسه کولو لهپاره د مطلوبې تجربې په توګه، د هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې د نسبي امنیت تضمین کولو سره، په ځانګړې توګه د سیمه ییزم په بڼه. په دې اساس، ۲۱مه پېړۍ په نړۍ کې د دغـــو متقابلو ګټو او تجربو په پام کې نیولو سره د دولتونو له خوا د سیمه

ییزو او بیا انسجام پیړۍ ګټل کیږي (زرى، ۲۰۱۳). د تاریخ پـــه اوږدو کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت د دغه هېواد خلکو ته ډېر فرصــتونه او ننګونې راوړې دي. له یوې خوا دغه هېواد له څو پېړیو راهیسـې اروپا او آسـیا د وربښـمو د لرغونې لارې په توګه سره نښـلوي او له بلې خوا بېلا بېلو براعظمونو (وچو) ته د سوداګریزو توکو او افکارو د لېږد لەپاره د یوه پل په توګه اغېزمن شوی دی. (رحیمی، ۲۰۱۳). له بلې خوا د افغانســتان مهم ســتراتیژیک موقعیت په تاریخي دورو کې د سـیمه ییزو او غیر ســیمه ییزو قدرتونو تر منځ د ســیالۍ ډګر ګرځېدلی، چې د خپل جغرافیایي موقعیت او تر یوه حده یې د بډایتوب له امله د سیمې او نړۍ د هېوادونو ترمنځ د سیالۍ ډګر ګرځېدلی دی. د طبیعي زیرمو او تر یوې اندازې پورې په افغانسـتان کې د فعالې سـیمه ییزې ډیپلوماسـۍ نشـتوالی د دغو سیالیو انګیزه وه. که څه هم د پورته یادو سیالیو کچه بدله شوې، د شوروي اتحاد له ړنګېدو او په ګاونډیو سیمو کې د نویو اقتصادي قدرتونو راڅرګندېدل (په ختیځ کې چین او جاپان، په جنوبي آسـیا کې هند، د روسـیې فدراسـیون او تر یوه حده په منځنۍ آسـیا کې قزاقسـتان، ترکیه، ایران او متحده عربي امارات. په منځني ختیځ کې) ننګونې او فرصــتونه دوی د ســیمه ایزو همکاریو په وړاندې نوي نظـــرونه راوړي دي. د ۴۰ کلنې جګړې وروسـته په افغانسـتان کې د طالبانو دولت د سیمه ییزو ګټو د همغږۍ لەپاره نوی ابعاد اضافه کړی دی (بینا، ۱۳۸۷).

افغانســتان د انرژۍ د یوه پل په توګه – د انرژۍ بډایه هېوادونه د انرژۍ له اړتیا لرونکو هېوادونو سره نښلـوي – کولای شي په افغانستان کې د سیمه ییزې ادغام او امنیت د سیمې د هېوادونو د همکارۍ په جلبولو کې اغېزمن رول ولوبوي. د افغانســتان جغرافیـایي موقعیـت د ګاونډیو او ســیمـه ییزو هېوادونو باثباته اقتصـادي ثبات او سیاسي پرمختګ د دغـــه هېواد له پرمختګ او ثبات سره تړلی دی. افغانستان کولی شي د امنیت او ښې حکومتوالۍ د پیاوړتیا، د بهرنۍ مستقیمې پانګې اچونې د فرصتونو په برابرولو، د ترانسپورتي شبکو په جوړولو او پراختیا او د سیمه ایز ادغام لەپاره د اقتصادي او ټولنیزو زیربناوو په جوړولو سره اغیزمن رول ولوبوي. دغه هېواد کولای شي د ګاونډیو هېوادونو له پولو سره د مخابراتي شــبکو په نښــلولو، د برېښــنایي انرژۍ د وېش اســانتیاوو ته د لاسرسي او د شانګهای د همکاریو سازمانونو، سارک او ایکو سازمانونو د فعالیتونو د نښلولو لەپاره له جغرافیایي موقعیت څخه په استفادې سره خپله په وچه کې راګیر والی له منځه یوسي (رحیمی، ۲۰۱۳).

په حقیقت کې د افغانســتان او د منځنۍ آســیا د جمهوریتونو په څېر په وچه کې د راګیر هېوادونو لەپاره سیمه ییز ادغام اړین دی. د سیمه ییز انسجام زیاتوالی نه یوازې د سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ ســوداګري او اړیکه زیاتوي، بلکې له بهرني بازار سره د دې ســیمې د اړیکیو په ټینګولو سره د نړیوال اقتصاد په کچه له سیمه ییز بازار څخه بهر هم انسجام پراخېږي (شفا، ۲۰۱۵).

د هغه څه له مخې چې ويل شوي، افغانستان کولای شي له خپل جيوپوليټيک او جيوستراتيژيک موقعيت څخه په استفادې د سيمې د اقتصادي او سياسي انسجام لپاره مهم او کليدي رول ولوبوي. له دې و ضعيت څخه د ښې ګټې اخيستنې لپاره افغانستان ته لازمه ده، چې د سيمې له هېوادونو سره په بېلابېلو برخو کې خپلې اړيکې پياوړې کړي، د هېوادونو له فرصتونو او اقتصادي اړتياوو څخه په استفادې سره د شخړو د کمولو او اقتصادي او سياسي همکاريو د زياتولو لپاره هڅې وکړي. له دغو هيوادونو سره په دې توګه، افغانستان کولای شي، چې د خپل تاريخي جغرافيايي موقعيت څخه ګټې اخيستنې په توګه په سيمه کې د سوداګريزې لارې په توګه يو هېواد جوړ کړي او د خپلو اتباعو لپاره يو غوره اقتصادي او سياسي شرايط برابر کړي.

**پايله**

هغه څه چې افغانستان يې مهم کړی د دغه هېواد جغرافيه ده. افغانستان د سيمې په درېيو کلتوري، اقتصادي او جيو پوليټيک برخو کې يو ځانګړی جيوپوليټيک، جيو اقتصادي او جيوستراتيژيک موقعيت لري. دغه جغرافيايي موقعيت د دې هېواد لپاره په اقتصادي او سياسي ډګرونو کې مهم فرصتونه او ظرفيتونه برابروي، چې په سمه او سالم مديريت سره کولای شي په سياسي او اقتصادي برخو کې د هېواد روښانه راتلونکی رامنځته کړي او د هېواد د علمي سوکالۍ او هر اړخيزې پرمختيا لامل شي. د دې فرصتونو او وړتياوو څخه خورا مهم په لنډ ډول لاندې تشريح شوي:

افغانستان چې د منځنۍ آسيا د انرژۍ له بډايه هېوادونو او د جنوبي آسيا د انرژۍ له بې وزلو هېوادونو څخه دی، د يوه پل په توګه چې دغه دوه سيمې سره نښلوي، د ترانزيت، سوداګرۍ او ټرانسپورټ په برخه کې د يو مهم رول د لوبولو لوړ ظرفيت لري. که څه هم دغه هېواد د خپل معاصر تاريخ په اوږدو کې له دغه موقعيت څخه سمه ګټه نه ده پورته کړې، خو په تېرو څو کلونو کې د افغان حکومت او د سيمې د هېوادونو هڅې په ډېرو برخو په تېره بيا د ګازو او برېښنا د توليد په برخه کې همکارۍ پراخې شوې دي. د انرژۍ د لېږد پروژې کولای شي د دې احتمالي ظرفيت لوړ کړي د دې ډول همکاريو روښانه بېلګې د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګازو د انتقال د لين پروژه (TAPI) او د (CASA-1000) په نوم له قرغزستان او تاجکستان څخه پاکستان ته د ۱۳۰۰ ميګاواټه برېښنا د لېږد پروژه ده. د لومړي ځل لپاره به دا پروژې افغانستان، پاکستان، هند، ترکمنستان، تاجکستان، قرغزستان او د سيمې ټول هېوادونه د لويو ګټو د شريکولو په حالت کې راولي. د ګټو دغه شريکول د سيمې هېوادونه دې ته اړ باسي چې په بېلابېلو برخو کې په ځانګړې توګه د امنيت د تامين او په سيمه کې له ترهګرۍ او افراطيت سره د مبارزې په برخه کې د يو لړ ملي ګټو پر وړاندې همکاري وکړي. د افغانستان له ګټو سره د سيمې د هېوادونو د ګټو

نښلول د دغه هېواد لهپاره په اقتصادي او سیاسي ډګر کې اغېزمن تمامېدای شي او افغانستان ته د پرمختګ په لور لار هواروي.
یو بل ظرفیت او فرصت چې د افغانستان جغرافیې د دې هېواد لهپاره رامنځته کړی، د اوبو سرچینې دي. په افغانستان کې د ډېرو سیندونو د سرچینو موقعیت چې ګاونډیو هیوادونو ته بهیږي یو فرصت دی چې پــــه ښکاره او د پام وړ په سـیمه ییزو اړیکو کې د افغانسـتان د معاملې ځواک زیاتوي. افغانســتان د دې تر څنګ چې کولای شي له دې منابعو څخه د خپل هېواد د اقتصــادي څرخ په بدلولو کې ګټه پورته کړي، په ســیمه ییزه برخه کې کولای شي له دې منابعو څخه د ګاونډیو هېوادونو د نفوذ د مخنیوي لهپاره ګټه پورته کړي. البته، د دې موخې لهپاره د دې سرچینې کارول پیاوړې او هوښیارې ډیپلوماسۍ ته اړتیا لري. له همدې امله افغانستان د خپلو اوبو په سم مدیریت او له ګاونډیو هېوادونو سره د رغنده ډیپلوماسۍ له لارې کــــولای شي چې له دې زېرمو څخه په افغانستان د ودانولو، بیارغونې او پرمختګ او د سیمې له هېوادونو سره د ګټورو او دوستانه اړیکو په پراخولو کې کار واخلي.
د وریښـــمو نوې لار چې په تېرو څو کلونو کې په لاره اچول شــوې، یو بل فرصــت دی چې په اقتصادي او سیاسي برخو کې او په ټولیز ډول د افغانستان د پرمختګ لهپاره اغېزمن تمامېدای شي. دا لاره چې د افغانســتان د جغرافیې زړه دی، له یوې خوا د ســیمې هېوادونه د ځمکې له لارې سره نښــلوي، له بلې خوا ختیځ او منځنۍ اسـیا له لویدیځې اسـیا او په پای کې له اروپا سره نښــلوي. له همدې امله که له یوې خوا دغه لار په ســیمه کې د افغانســتان له لارې د ســوداګریزو توکو د لېږد رالېږد بهیر اسانه کوي او افغانستان ته اقتصادي ګټه رسوي، له بلې خوا د سیمې او نړۍ بازارونو ته د افغاني توکو صادرات ګړندي کوي. دا کولای شي په افغانسـتان کې د پرمختګ دغه بهیر لا نور هم چټک کړي.
هغه څه چې ویل شــوي په نهایت کې به د ســیمه ییز همغږي لامل شي. دا همغږي په اقتصــادي، سـیاسي، کلتوري او نورو برخو کې ښـکاره کیدی شي. دا همغږي یو له اړتیا او په ورته وخت کې د افغانستان له هیلو څخه ده، لکه څنګه چې د افغانستان په اړه د سیمه ییزو همکاریو په ستراتیژۍ کې کرښه شوې ده. له همدې امله افغانستان کولای شي په سیمه ییز ادغام سره د پرمختګ لهپاره کلک او دوامداره ګامونه پورته کړي.

**وړاندیزونه**

۱- د افغاستان جغرافيايي مو قعيت او پرمختګ کې رول باندې دې علمي کنفرانسونه او سمينارونه ترتيب شي؛ تر څو د مسلک اړوند مينه وال او دولت د يادې موضوع په اهميت پوهه شي.

۲- د دې مو ضوع په اړه نورې فرعي څېړنې ترسره شي؛ تر څو دولت او د ټولنې نور وګړي د افغاستان جغرافيايي موقعيت په اهميت او پرمختګ کې يې له رول څخه خبر شي.

۳- د افغانستان جغرافيايي موقعيت او په پرمختګ کې د رول په اړه د اسلامي امارت توجو راجلب شي، چې د يو ځانګړې متخصص ټيم په واسطه د دې مو ضوع په اړه د ټول افغانستان لهپاره يو جامع پلان ترتيب کړي؛ تر څو د ياد جغرافياوې موقعيت څخه سالمه استفاده ترسره شي..

۴- اسلامي امارت دې د افغانستان له جغرافيايي موقعيت څخه ساتنه او په اقتصادي برخه کې ترې اعظمي استفاده وکړي.

**مأخذونه**

احمدي، ميرهارون. (۱۳۹٦). جغرافياى فزيکي افغانستان، کابل: انتشارات نويسا.

اميراحمديان، بهرام، صالحی دولت آبادی، روح‌الله، (۱۳۹۵)، ابتکار (جاده ابريشم) جديد (اهداف، موانع و چالش‌ها)، فصلنامه مطالعات

آريا، سلطان احمد، (۱۳۹٤)، تاپی؛ برد، برد يا باخت، باد؟ روزنامه ماندگار، سال هفتم، شماره ۱۷۱۰، چهار شنبه، ۷ دلو ۱۳۹٤.

بی‌نا، (۱۳۸۷)، استراتيژی همکاری‌های منطقه‌ای- ۱۳۷۸-۱۳۹۲، کابل: دارالانشای استراتيژی انکشاف ملی افغانستان.

ترابی، قاسم و صانعی، راضيه، (۱۳۹۵)،
موانع تحقق ابرپروژه جاده ابريشم از چشم انداز نظريه همگرايي، فصلنامه تخصصی علوم انسانی، سال دوازدهم، شماره سي وپنجم، تابستان ۱۳۹۵.

تڼيوال، محمد ظريف. (۱۳۹۱). د افغانستان عمومي جغرافيه، جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

رحیمی، حسین، (۱۳۹۳)، افغانستان و سازمان‌های همکاری منطقه‌ای، سیاست خارجی افغانستان در سپهر همکاری های منطقه‌ای، زیر نظر: دکتور فرامرز تمنا، کابل: مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت امور خارجه.

رحیمی، سردار محمد، (۱۳۹۱)، ژئوپلیتیک افغانستان در قرن بیستم، کابل: انتشارات سعید.

روابط بین الملل، سال نهم، شماره ۳۶، زمستان ۱۳۹۵.

زارعی، بهادر، شاهدوست، حسن، زینی‌وند، علی، (۱۳۹۳)، فرصت‌ها و چالش‌های همگرایی منطقه‌ای در خلیج فارس، پژوهش‌های جغرافیای انسانی، دورة ٤٦، شمارة ٤، زمستان ۱۳۹۳.

سروش، حسن، (۱۳۹۳)، موقعیت ژئوایکونومیک افغانستان و اهمیت آن برای اقتصاد بین آسیایی مرکزی و آسیای جنوبی، سیاست خارجی افغانستان در سپهر همکاری‌های منطقه‌ای، زیر نظر: دکتور فرامرز تمنا، کابل: مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت امور خارجه.

شاران، تیمور، (۱۳۹۰)، نگاهی به پس منظر توسعه اقتصادی در کشورهای توسعه یافته، فصلنامه مطالعات استراتیژیک، شماره بیست و پنجم و بیست ششم.

طنین، ظاهر، (۱۳۸٤)، افغانستان در قرن بیستم، تهران: محمد ابراهیم شریعتی افغانستانی.

عارض، جیلاني. (۲۰۱۲). جغرافیای طبعي افغانستان،بنگاه: انتشارات میوند.

عجم اوغلو، دارون و رابینسون، جمیزای، (۱۳۹٤)، چرا ملت های شکست می خورند؟ ترجمه: محسن میردامادی و محمد حسین نعیمی‌پور، تهران: انتشارات روزنه.

علیرضایی، محمد حنیف، (۱۳۹۰)، افغانستان و اهمیت انرژی، فصلنامه مطالعات استراتیژیک، شماره بیست و پنجم و بیست ششم.

غبار، میر غلام محمد، (۱۳۸۸)، افغانستان در میسر تاریخ، پیشاور: دارالسلام کتب خانه.

غیاثی، انجینیر توریالی، (۱۳۸۳)، ما و جامعه مدنی، مشهد: کانون فرهنگی میهن.

Asian Development Bank, 30 September 2011, Afghanistan and the Modern Silk Road, Available at :https://www.adb.org/features/afghanistan-and-modern-silk-road- Fedorenko, Vladimir, (2013), The New Silk Road in Central Asia, Rethinking Institute Washington DC, Available at :http://www.rethinkinstitute.org/wp-content/uploads/2013/11/Fedorenko-The-New-Silk-Road.pdf

Haidari, M.Ashraf, (2 September 2015), The Silk Road through Afghanistan, Available at :http://foreignpolicy.com/2015/09/02/the-silk-road-through-afghanistan.

Heal, Adam,(2015) ESCAP, United Nations, Afghanistan and central Asia: Straitening Trade and Economic Ties, Availableat :http://www.unescap.org/sites/default/files/Afghanistan%20and%20Central%20Asia-Strengthening%20Trade%20and%20Economic%20Ties.pdf

http://8am.af/1393/10/30/afghanistan-and-a-big-dream-to-revive-the-silk-road-china

Rahim, Shoaib Ahmad, (2015), How can Afghanistan retake its position as a transit and transport hub between Central Asia and South Asia? The Silk Road through Afghanistan, 6th Regional Economic Cooperation Conference on Afghanistan, Kabul, 3-4 September 2015. Available at :http://www.pajhwok.com/en/opinions/how-can-afghanistan-retake-its-position-transit-and-transport-hub-between-central-and-south-www.avapress.com/vdcf0xdyew6d0va.igiw.html

www.7sobh.com/id/101344

www.8am.af/1396/01/21/ashraf-qani-afghanistan-middle-east

www.mew.gov.af/fa/article/61451

# د اسلامي شریعت په رڼا کې د ګناهونو د بښنې لاملونه

پوهنیار محمد اسحاق شهزاد، پکتیکا لوړو زده کړو مؤسسه، ښوونې او روزنې پوهنځی، اسلامي ثقافت څانګه.

برېښنالیک: ishaqshahzad821@gmail.com

**لنډیز**

څرګنده ده چې له انبیاوو (علیهم السلام) پرته نور ټول انسانان په ګناهونو کې ښکېل دي؛ نو د اخروي عذاب څخه د بچاو او ژغورنې په پار اسلامي شریعت کې داسې لاملونه او اسباب موجود دي، چې الله تعالی پرې خپلو بنده ګانو ته بښــنه کوي او دا یې پر دوی ډېره زیاته مهرباني او ســتر رحم دی، چې داسې فرصتونه یې ورته برابر کړي دي، ترڅو دوی پرې د الله تعالی له لوري د بښنې مستحق شي، دغه لاملونه عبارت دی له: توبې، استغفار ، حدود، مصیبتونه، کفارې او نېکو اعمالو څخه؛ نو بریالی شخص هغه دی، چې له هغو فرصــتونو څخه ګټه پورته کړي، کوم چې دده په اختیار کې دي؛ ترڅو د جهنم له اور څخه پرې ځان وژغوري او جنت ته د داخلېدلو لامل یې شي پټه دې نه وي، چې په دې ټولو کې مهم لامل یې توبه ده، په دې سره الله تعالی خپل بنده ته تېر ستر او واړه ګناهونه بښـي؛ نو باید مسـلمان له ګناه څخه وروسـته سـمدسـتي توبه وباسي؛ ځکه انسـان په دې نه پوهیږي چې مرګ ورته څه وخت راځي او د دې تر څنګ اســتغفار ویـل، نېـک اعمال کول خپـل روزمره عـادت وګرځوي او په هغو مصیبتونو صبر وکړي چې پر ده راځي، چې دا ټول یې د ګناه د بښنې له سترو لاملونو څخه دي.

**کلیدي کلمې:** اسلامي شریعت، استغفار، بښنه،توبه، ګناهونه، لاملونه.

**سریزه**

**بسم الله الرّحمن الرّحیم الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقیین والصلاة والسلام علی أشرف الأنبیاء والمرسلین محمد وآله وصحبه أجمیعین أما بعد:**

په دې کې هیڅ شک نشته، چې د بنده حقیقي کامیابي په دې کې ده، چې خپل ځان له ګناهونو څخه پاک کړي، په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ **قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا * وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا** ﴾ ( قرآن کریم، الشمس، ایت: ۹-۱۰ ).

**ژبـــاړه:** په رښـتیا سره بری هغه چا تر لاسـه کړ، چې نفس یې پاک کړ او هغه څوک ناکام شـو چې دغه (نفس یې په ګناهونو کې)پټ کړ.

او همدا راز هغه څوک بايد د الله تعالی له رحمت او مهربانۍ څخه نا اميده نه شي، چې پر خپل ځان يې ظلم کړی وي او ګناهونه يې ترسره کړي وي؛ ځکه هغه ذات ټول ګناهونه ښښـي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿ **قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ** ﴾ ( قرآن کريم، الزمر، ايت: **۵۳** ).

**ژباړه**: اې پيغمبره صلی الله عليه وسلم! زما هغو (مؤمنو)بنده ګانو ته، چې پر خپلو ځانونو يې تېری کړی دی، ووايه: د الله تعالی د رحمت څخه مه نا هيلي کېږئ؛ په يقيني ډول الله تعالی ټولې ګناوې ښښـي، هغه ښه ښښونکی او مهربان دی.

الله تعالی په دې عالم ؤ، چې د بشرـ په طبعيت کې نيمګړتيا، نقصـان او د ګناهونو ترسره کول موجود دي؛ نو په دې لار کې يې د خپلو بنده ګانو د ګناهونو ښښـنې لپاره بېلا بېل لاملونه ښودلي دي، چې دغه چاره يې پر دوی خورا زيات رحم او مهرباني ده؛ ترڅو دوی د الله تعالی په وړاندې له ګناه څخه پاک ودرېږي او هغه ذات يې په خپل فضل او مهربانۍ سره جنت ته داخل کړي.

## د څېړنې موخې

۱- د دې څېړنې څخه زما موخه دا ده، چې هر مسـلمان د اسـلامي شريعت د نصـوصـو په رڼا کې د ګناهونو د ښښنې له لاملونو اړوند اګاه شي.

۲- د دې اړينې موضوع په روښانه کولو سره خپل ديني مسؤوليت اداء کول.

۳- په همدې ډول په دې امت باندې د اسلامي شريعت مهرباني او ترحم په داسې توګه رابرسېره کول، چې دوی ته يې د ګناهونو څخه د ښښنې اسانه لارې چارې منځ ته راوړې دي.

۴- له ګناهونو څخه د ښښـنې لارې چارې د اسلامي شريعت له معتبرو مصادرو او مراجعو څخه راجمع کول او په يوه علمي مقاله کې يې ټولنې ته وړاندې کول.

## کړنلاره او توکي

د دې موضوع په ليکنه کې مې له لاندې کړنلارې او مېتود څخه ګټه اخيستې ده.

- د موضوع اړوند مې اصلي مصادرو او مراجعو ته رجوع کړې ده.
- اړونده موضوع مې د معتمدو شرعي نصوصو څخه بيان کړې ده.
- د موضوع د استناد لپاره مې لومړی قرآني نصوصو ته او له هغې وروسته نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده.
- هڅه مې کړې ده، چې احاديث په لومړي قدم کې له صحيحينو څخه رانقل کړم.
- د موادو په ترتيب او څېړنه کې مې هڅه کړې ده، چې د مسئلې حقيقت او واقعيت راڅرګند کړم او په دې اړه له افراط او تفريط څخه ډډه وکړم.
- د څېړنې بڼه تحقيقي او مېتود يې کتابتوني دی.

**۱- توبه ويستل**

**د توبې پېژندنه:** رښتينې توبه دې ته وايي چې بنده په موجوده(حاضر)وخت کې له ګناه څخه منع شي او په تېر شويو کړنو پښېمانه شي او دا عزم او قصد وکړي، چې په راتلونکي کې به ترې نه هم داسې(د ګناه) کړنه نه ترسره کېږي او که چېرته حق د شخص پورې تړاو درلود؛ نو هغه ته به يې يوه طريقه باندې وسپاري(ابن کثير، ۱۴۰۱هـ، ج ۴، ص: ۳۹۲) .

**د توبې شروط:** علماوو د توبې د صحت لپاره ځانګړي شروط ټاکلي دي؛ نو که چېرته ګناه داسې وي چې يوازې د الله تعالی له حق سره يې تړاو درلود؛ نو درې شروط لري:

أ- په موجوده وخت کې له ګناه څخه منع کېدل.
ب- په ګناه او مخالفت پښېمانتيا.
ج- دا قصد کول چې په راتلونکي کې به د دې په څېر کومې ګناه ته نه راګرځي.
خو که چېرته ګناه داسې وه، چې د بنده له حق سره يې اړيکه درلوده؛ نو شروط يې څلور دي، درې پورتني او څلورم دا چې: د بنده له حق څخه به ځان خلاصوي(يعنې د بنده حق به ورسپاري) (الزحيلي، د نشر کال نه لري، ج ۷، ص:۵۵۴۰).

**د توبې حکم**:علماء وايي: توبه له هرې وړې او سترې ګناه څخه فورا واجب ده او تاخير يې جايز نه دی(الهرري، ۱۴۲۱هـ، ج ۲۹، ص: ۴۷۷) .

ځکه انسان په دې نه پوهېږي چې مرګ ورته کله راځي.

**په توبې سره د ګناه ښښنه:** د قرآنکريم او نبوي سنتو له ډېرو نصوصو څخه په څرګنده توګه معلومېږي، چې په توبې سره ټول پخواني ستر او کوچني ګناهونه ښښل کېږي؛ بلکې الله تعالی په توبه ويستلو باندې امر کړی دی او په بنده باندې يې د هغې(توبې) مثبتې اغېزې او ښېګڼې واضح کړې دي، چې دغه نصوص په لاندې ډول دي:

الله تعالی فرمايي:

**أ- ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ...** ﴾ (قرآن کريم، التحريم، ايت: ۸ ).

**ژباړه**: اې مؤمنانو! الله ته توبه وباسئ خالصه توبه کېدای شي، چې الله ستاسې بدۍ درڅخه ايسته کړي او تاسې داسې جنتونو ته ننباسي چې لاندې به يې ويالې بهيږي.

ب–﴿....وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (قرآن کریم، النور، ایت: ۳۱).
**ژباړه**: اې مؤمنانو! تاسې ټول په ګډه سره الله تعالی ته توبه وباسئ، ښايي چې برى درپه برخه شي.
ج– ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى﴾ (قرآن کریم، طه، ایت: ۸۲).
**ژباړه:** البته چا چې توبه وویستله، ایمان یې راوړ او ښه عمل یې وکړ بیا سم روان شو؛ د هغه لپاره زه ډېر بښونکی یم.
او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هم په خپلو ويناوو کې د هغه چا د بښنې څرګندونه کړې ده څوک، چې الله تعالی ته توبه وباسي په دې اړوند د ابو هریره (رضي الله عنه) نه روایت دی، چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:(**مَنْ تابَ قبلَ أنْ تطْلُعَ الشمسُ مِنْ مَغْرِبِها ، تابَ اللهُ عليْهِ**) (النیسابوري، ۱۴۱۸هـ، ج ۴، ص: ۲۷۰۳).

**ژباړه:** چا چې توبه وویستله مخکې له دې، چې لمر د لویدیځ له لورې راوخیژي؛ نو الله تعالی به یې توبه قبوله کړي.

امام ابن رجب(رحمه الله) وروسته د ځینو هغو دلائلو له ذکر کولو، چې د توبې امر په کې موجود دی او د ګناهونو د بښنې لامل جوړېږي، وایي: د دې نصوصو ظاهر په دې دلالت کوي، چې چا الله تعالی ته رښتینې توبه وویسته او په اړه یې د توبې شروط پوره وي؛ نو د نوموړي اړوند دا یقین او بروسه کیدای شي، چې الله تعالی یې توبه قبلوي لکه څرنګه چې د کافر د اسلام د قبلیدو اړوند دا یقین کیدای شي، چې اسلام یې د الله تعالی په وړاندې قبول دی، کله چې په درست او صحیح ډول اسلام راوړي، چې دا د جمهورو علماوو وینا ده او د ابن عبدالبر(رحمه الله)وینا په دې دلالت کوي چې دا اجماع ده. (ابن رجب، ۱۴۲۴هـ، ج ۱، ص: ۳۹۴).

بلکې د توبه ویستونکو اړوند د الله تعالی رحمت او مهرباني ډیره زیاته او پوره ده؛ تر دې چې په دې اړوند الله تعالی یوازې د دوی ګناهونه نه بښي؛ بلکې ګناهونه ورته په نېکیو او حسناتو بدلوي الله تعالی فرمایلي دي: ﴿إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴾ (قرآن کریم، الفرقان، ایت: ۷۰).

**ژباړه:** مګر دا چې چا (له دغو ګناهونو څخه وروسته) توبه ویستلې وي، ایمان یې راوړی وي او غوره عمل یې کړی وي؛ د دغسې خلکو بدۍ به الله تعالی په نېکیو بدلې کړي او الله ښه بښونکی او خورا زیات مهربان دی.

په همدې ډول په دې امت باندې د اسلامي شریعت اسانتیا، مهرباني او شفقت له ورایه ترسترګو کېږي، پداسې توګه چې توبه ویستل په کې کوم داسې سخت کار نه غواړي، چې د بنده نفس په کې له منځه

ولاړ شي او یا د مباحو (روا) چـــارو او شیانو څخه منع شي؛ بلکې توبه هغه وخت قبلیږي، چې ګناهګار یوازې کړې ګناه پریږدي، د هغې اړوند پښـــیماني څرګنده کړي او دا قصـــد وکړي چې دوباره به هغې ګناه ته نه ورګرځي؛ خوپه دې اړوند که مونږ د پخوانیو امتونو څخه د موسـی (علیه السـلام) قوم ته نظر واچوو نو لیدل کیږي، چې الله تعالی هغوی په توبه کې د ځانونو په وژنه باندې مامور کړي ؤ الله تعالی فرمايي: ﴿ وَإِذْ قَالَ مُوسَـــى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَـــكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴾ (قرآن کریم، البقر، ایت: ۵۴ ).

**ژباړه:** او (یاد کړئ) کله چې موسی علیه السـلام (له دې نعمت سره درسـتون شـو؛ نو) خپل قوم ته یې وویل: "اې خلکو، تاسـې په خدايي سره د خوسـکي په نیولو پر خپل ځان سـخت ظلم کړی دی؛ نو تاسې د خپل خالق په وړاندې توبه وباسئ او په خپلو کې سره ووژنئ په همدې کار کې ستاسې د خالق په وړاندې ستاسـې ښـه توب دی، په هغه وخت کې سـتاسـې خالق توبه درڅخه قبوله کړه هغه ښـه توبه قبلوونکی او د رحمت ښښتن دی).

امام ابن جریر طبري (رحمه الله) د دې ایت د تفسـیر لاندې لیکي: کله چې موسـی (علیه السـلام) خپل قوم بني اسرئیلوته وویل: اې زما قومـــــه! تاسـو پرخپلو ځانونو ظلم کړی دی او د دوی پر خپلو ځانونو ظلم دا ؤ، چې داسـې کړنې یې پرې ترسره کړې، چې هغه ورته نه وې پکار؛ نو په نتیجه کې یې دوی د الله تعالی له لوري د جزاء مستحق وګرځېدل، په همدې ډول هرڅوک چې داسې کړنه ترسره کړي، چې د الله تعالی له لوري د جزاء وړ وي؛ نو دغه شـخص پر خپل ځان ظالم دی، ځکه خپل نفس یې د الله تعالی د جزاء مســـتحق کړ او هغه کړنه چې دوی (بني اسرائیلو) ترسره کړې وه او د هغې له کبله یې پر خپلو ځانونو ظلم کړی ؤ هغه د دوی ارتداد ؤ، چې خوســـکی یې د معبود په توګه نیولی ؤ او دا هغه وخت ؤ چې موسی (علیه السلام) له دوی څخه جدا شوی ؤ؛ نو بیا موسی (علیه السلام) دوی ته د خپلې ګناه څخه د راګرځېدو امر وکړ؛ تر څو الله تعالی ته له خپل ارتداد څخه توبه وباسي او اوامرو ته یې تسلیم شي؛ نو په دې لار کې یې دوی ته خبر ورکړ چې د دوی د ګناه څخه توبه ویستل د خپلو ځانونو وژل دي (الطبري، ۱۴۲۴هـ ،ج۲، ص: ۷۲ ).

**۲-استغفار ویل (ښښنه غوښتل)**

**د اســـتغفار پېژندنه:** له الله تعالی څخه د بنده د ښښـــنې غوښـــتنه ده، ترڅو یې تېرې تېروتنې او ګناهونه ورته وبښي، او د جهنم له اور څخه یې وساتي.

**د استغفار او توبې ترمنځ توپیر**

أ- توبه یوازې د توبه ویستونکي د خپل ځان لپاره وي؛ خو استغفار (ښښـنه غوښتل) د بنده د خپل ځان او د نورو لپاره هم کېدای شي.

ب- په توبه کې په تېرو بدو کړنو پښېمانتيا وي او دا قصد پکې موجود وي، چې په راتلونکي کې به هم له دغو چارو څخه منع کېږي؛ خو استغفار په تېر وخت کې چې کومې تيروتنې شوې وي د هغې د بښنې غوښتنه ده؛ نو په دې کې په راتلونکي وخت کې د نه کولو عزم لازم(واجب) نه وي (الکشميري، ۱۴۲٦هـ، ج ٦، ص: ۲۱۸).

په همدې اساس أبو الحسن مبارکفوري (رحمه الله) وايي: توبه په تېرو بدو چارو باندې پښېمانتيا ده او دا عزم او قصد کول دي، چې په راتلونکي وخت کې به يې هم نه ترسره کوي، خو استغفار د تيرو (بدو)چارو د بښنې غوښتنه ده؛ نو په دې کې د نه ترسره کولو عزم په راتلونکي وخت کې لازم(واجب) نه وي. (المبارکفوري، ۱۴۰۴هـ، ج ۸، ص: ۳).

ج- توبه کې چې کله د هغې شروط موجود شي د بنده تېر، موجوده او راتلونکی ټول اصلاح کېږي؛ نوپه دې اساس د پښېمانتيا په شرط سره يې تېر اصلاح کېږي او د ګناه پريښودلو شرط سره يې موجوده او بېرته نه راګرځېدو شرط سره يې راتلونکی اصلاح کېږي؛ خو استغفار بيا داسې نه دی؛ بلکې په دې سره د تېر د اصلاح اراده کېږي؛ نو دا هغه وخت ګټه رسوي چې يوازې پښېمانتيا او په تېرو کړنو باندې د عذاب څخه وېره ورسره ملګرې شي، چې دا په حقيقت کې يو ډول دعا ده؛ نو په دې کې هغه څه شرط دي کوم څه چې په دعا کې شرط دي،لکه: د زړه حضور، رښتنې غوښتنه او الله تعالی ته عاجزي کول.

**په استغفار ويلو سره د ګناهونو بښنه:** مسلمان ته پکار دي، چې هميشه استغفار ووايي او د الله تعالی څخه د خپلو کړو ګناهونو بښنه وغواړي او ترڅنګ يې په تېرو بدو کړنو پښيمانتيا څرګنده کړي، د زړه له غفلت څخه ځان وژغوري، په خپله غوښتنه کې رښتينې اوسي او الله تعالی ته خپله عاجزي وړاندې کړي.

په قرآنکريم کې د استغفار ويلو او د ګناهونو څخه د بښنې غوښتلو ته هڅونه شوې او دا يې هغه چاره بللې، چې الله تعالی پرې د خپلو بنده ګانو ګناهونه معاف کوي الله تعالی فرمايلي دي:

**أ-﴿ وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾** (قرآن کريم،آل عمران، ايت: ۱۳۵).

**ژباړه:** او کوم کسان چې داسې دي، چې کله کومه د شرم ناروا چاره ور څخه صادرېږي يا کله د کومې ګناه په کولو هغوی پر خپل ځان ظلم کوي؛ نو ورسره جوخت الله تعالی ور يادېږي او له هغه څخه د خپلو ګناهونو بښنه غواړي؛ ځکه چې له الله تعالی پرته بل څوك د ګناهونو بښونکی دی؟ او هغوی له پوهې او ادراك سره پر خپلو (بدو) کړنو ټينګار نه کوي.

**ب-** ﴿....**وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**﴾ ( قرآن کريم، البقرة، ايت: ۱۹۹ ).

**ژباړه**: او له الله تعالی څخه بښنه وغواړئ په يقيني توګه هغه بښونکی او رحم کوونکی دی.

**ج-** ﴿ **وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا** ﴾ ( قرآن کريم، النساء، ايت: ۱۱۰ ).

**ژباړه**: که څوك بد عمل وکـــړي يا پر خپل ځان ظلم وکړي او له هغه وروسته له الله تعالی څخه بښنه وغواړي؛ نو الله تعالی به بښونکی او رحم کوونکی ومومي.

**د–** ﴿ **لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ** ﴾ ( قرآن کريم، النمل، ايت: ۴۶ ).

**ژباړه**: ولې له الله تعالی څخه بښنه نه غواړئ؟ ښايي چې پر تاسې رحم وشي.

په همدې ډول په نبوي احاديثو کې هم استغفار او له ګناه څخه بښـنې غوښـتلو ته هڅونه شـوې او دغه کړنه يې د الله تعالی له لوري د بښــنې لامل ګڼلي ده، په دې اړوند د ابو هريره(رضي الله عنه) نه روايت دی، چې رسـول الله (صـلی الله عليه وسـلم)فرمايلي دي: (**لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللَّهُ بِكُمْ، وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ، فَيَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ، فَيَغْفِرُ لَهُمْ**) ( النيسابوري، ۱۴۱۸هـ ، ج۴، ص: ۲۱۰۶ ).

**ژباړه**: که چيرته تاسو ګناه نه کوئ؛ نو تاسو به الله تعالی بوځي او داسې قوم به راولي، چې ګناه به کوي او د الله تعالی نه به يې بښنه غواړي او هغه به ورته بښنه کوي.

او په يو حديث قدسي کې راځي، چې الله تعالی فرمايي(....**يا ابنَ آدمَ لو بلغت ذنوبُكَ عَنانَ السَّـــماءِ ثمَّ استغفرتَني غفرتُ لَكَ، ولا أبالي** )

( الترمذي، د نشر کال نه لري، ج۵ ، ص: ۵۴۸ ).

**ژباړه**:اې انسـانه! که سـتا ګناهونه د اسـمان تر کنارو ورسـېږي او بيا له ما بښـنه وغواړې؛ نو بښـنه به درته وکړم او پر ما يې څه باک نشته(يعني ماته کومه لويه خبره نه ده).

لکه څرنګه چې اســتغفار ګناهونه بښــي، په همدې ډول د الله تعالی د عذابونو مخنيوی هم کوي، الله تعالی فرمايلي دي: ﴿...**وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ** ﴾ ( قرآن کريم، الأنفال، ايت: ۳۳ ).

**ژباړه**: او نه د الله دا عادت دی چې خلك بښنه غوښتونکي وي او هغه ورته سزا ورکړي.

الله تعالی ددې خبر ورکړی دی، چې هغه بښــنه غوښــتونکي(اســتغفار ويونکي) ته عذاب نه ورکوي؛ ځکه اســتغفار هغه ګناه له منځه وړي کومه چې د عذاب سـبب ده؛ نو عذاب هم ورسره له منځه ځي( ابن تيمية، ۱۴۲۳هـ ، ج۸ ، ص: ۱۶۳ ).

دا د الله تعالی مهرباني او رحمت دی چې شریعت یې په داسې توګه اسانه کړی، چې هغه پاک ذات کله خپلو بنده ګانو ته د طاعتونو او نېکو اعمالو امرکولو په دې پوهه او عالم ؤ، چې د بشریت په طبیعت کې د دغو اعمالو په ترسره کولو کې کمی، نیمګړتیا او نقصان شته؛ نو په شریعت کې یې ورته داسې اسانتیا رامنځته کړه، چې د عباداتو له ترسره کولو وروسته یې ورته استغفار ویل مشروع کړي دي؛ ځکه په دې(استغفار ویلو) سره د الله تعالی څخه د عباداتو په ترسراوي کې د کمي او نقصان د بښنې غوښتنه ده؛ له دې کبله د لمانځه او ځینو نورو عبادتونو وروسته استغفار ویل مشروع شوي .

د لمانځه څخه وروسته د استغفار ویلو اړوند دغه حدیث موجود دی:

**عن ثَوْبَان رضي الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذَا انْصَرَفَ مِن صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا...)** ( النیسابوري، ۱۴۱۸هـ ، ج ۱، ص: ۴۱۴ ).

**ژباړه:** د ثوبان (رضي الله عنه)څخه روایت دی فرمایي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) و، چې کله به یې د لمانځه څخه سلام وګرځاوه، درې ځله به یې استغفار ویل.

نو د بنده لپاره مناسبه دا ده چې کله د یو عبادت څخه فارغ شي په هغې کې د کمي او نقصان له کبله دې استغفار ووایي او د الله تعالی شکر دې وباسي؛ چې ده ته یې د اداء کولو توان(توفیق) ورکړ ( السعدي، ۱۴۲۰هـ ، ص: ۹۲ ).

**۳- حدود**

**د حد پېژندنه:** د(شریعت)له لوري ټاکل شوې جزاء ده، چې د الله تعالی د حق له کبله پلي کېږي.

نو له دې کبله قصاص او تعزیر ته حد نه ویل کېږي؛ ځکه قصاص د بنده حق دی او د تعزیر جزاء ټاکلې نه ده ( البابرتي، ۱۳۸۹هـ ، ج ۱، ص: ۴۱۴ ) . لکه: د زنا حد، د قذف حد، د غلا حد د شرابو حد وغیره...

**په حدودو سره د ګناه بښنه:** شرعي حدود د بنده نه هغه ګناه ساقطوي، چې له کبله یې په ده باندې حد جاري شوی دی او په اخرت کې یې د الله تعالی له عذاب څخه ژغوري، په دې اړوند لاندې حدیث موجود دی:

**(عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه –وكان شهد بدرا، وهو أحد النقباء ليلة العقبة– قال إنَّ رَسولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ قَالَ، وحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِن أصْحَابِهِ: بَايِعُونِي علَى أنْ لا تُشْرِكُوا باللَّهِ شيئًا، ولَا تَسْرِقُوا، ولَا تَزْنُوا، ولَا تَقْتُلُوا أوْلَادَكُمْ، ولَا تَأْتُوا ببُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بيْنَ أيْدِيكُمْ وأَرْجُلِكُمْ، ولَا تَعْصُوا في مَعروفٍ، فمَن وفَى مِنكُم فأجْرُهُ علَى**

**اللَّهِ، ومَن أصَابَ مِن ذلكَ شيئًا فَعُوقِبَ في الدُّنْيَا فَهو كَفَّارَةٌ له، ومَن أصَابَ مِن ذلكَ شيئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ فَهو إلى اللَّهِ، إنْ شَاءَ عَفَا عنْه وإنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ علَى ذلكَ** ) ( البخاري، ۱۴۲۱هـ ، ج ۱، ص: ۱۲ ).

**ژباړه**: د عباده بن صامت رضي الله عنه نه روایت دی(نوموړي د بدر په غزاء کې شرکت کړی ؤ او د عقبې د بیعت په شپه یو له مشرانو څخه ؤ)، فرمایي: چې بیشکه رسول الله(صلی الله علیه وسلم) په داسې حال کې چې یو شمېر صحابه یې چاپیر ولاړ ؤ، وفرمایل: ماسره بیعت وکړئ،چې د الله تعالی سره به هیڅ شی نه شریکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل بچیان به نه وژنئ او په داسې دروغو به راتګ نه کوئ، چې تاسو(د خپلو پښو او لاسونو ترمنځ)له ځانه جوړ کړي وي او په نیکو چارو کې به نافرماني نه کوئ؛ نو چا چې (په دغو مذکورو چارو کې په وعده) پوره والی وکړ؛ نو اجر یې په الله تعالی دی او څوک چې له دغو چارو څخه د کوم شي ترسره کوونکی شو او په دنیا کې د هغې اړوند مجازات شو(جزاء یې ورکړل شوه)؛ نو دا د ده لپاره د ګناه ښښوونکی دی او څوک چې له دغو څخه کوم شی تر سره کړي او بیا الله تعالی پرې پرده واچوي؛ نو نوموړی الله تعالی ته سپارل شوی،که د هغه خوښه وه ښښنه به ورته وکړي او که خوښه یې وه جزاء به ورکړي؛ نو موږ ورسره په دغو چارو بیعت وکړ.

دغه حدیث په دې څرګند دلیل دی، چې حدود د ګناهونو ښښوونکي او د هغې لپاره کفاره ده چې دا د سفیان ثوري او امام أحمد(رحمهما الله) نظر دی او امام شافعي (رحمه الله )وایي: په دې باب کې چې حد د ګناه لپاره کفاره ده ما د عباده بن صامت (رضي الله عنه) له حدیث څخه پرته، چې هغه له دغه (حدیث)څخه ډېر ښه وي نه دي اورېدلي( ابن رجب، ۱۴۲۲هـ ، ج ۱، ص: ۷۹ ).

د علماو ترمنځ په دې مسئله کې اختلاف دی چې آیا حدود په خپل ذات کې د ګناهونو لپاره کفاره او ښښوونکي دي؟ او که نه باید توبه ورسره ملګرې شي؟ ځینو ویلي دي چې:حد په یوازې توګه د ګناه د ښښنې لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې ترڅنګ یې توبې ته ضرورت دی خو زیاتو علماوو دې ته ترجیح ورکړې ده، چې په بنده باندې د حد پلي کول په خپل ذات کې د ګناه لپاره کفاره ده، د پورته حدیث(د عباده بن صامت رضي الله عنه حدیث) له کبله او په همدې توګه دا چې په یو بنده باندې حد پلی کېږي؛ نو له دې کبله وي چې نوموړی ګنهګار دی، خو که بیا موږ وواېو چې په اخرت کې به هم ورته عذاب ورکول کېږي؛ نو د ده په حق کې دوه جزاګانې جمع شوې او د دنیا جزاء د اخرت له جزاء سره یو ځای کېدل لازم نه دي؛ بلکې دلیل په دې دلالت کوي چې د دنیا جزاء داخرت جزاء ساقطوي ( ابن رجب، ۱۴۲۲هـ ، ج ۱، ص: ۸۰ )، او په دې سره د الله تعالی د رحم ستر والی تر سترګو کېږي، چې جزاګانې یې مشروع کړې دي؛ تر څو د بنده ګانو ګناهونه پرې وښښي او هم د ټولنې او ګناهګار لپاره د اصلاح سبب وګرځي.

په همدې ډول امام کاســـاني حنفي(رحمه الله)وايي: **أنه شـــرع للزجر المحض ليس فيه معنى تكفير الذنب، بخلاف الحدود فإن معنى الزجر فيها يشوبه معنى التكفير للذنب** ( الكاساني، ۱۴۲۷-۱۴۲۸هـ ، ج۷ ، ص: ۶۴ ).

**ژباړه:** دغه(تعزير) يوازې د رټنې لپاره مشـــروع شوی دی خو حدود داسې نه دي؛ بلکې په دې کې د رټنې ترڅنګ د ګناه د بښنې معنی هم شريکه ده.

**۴-کفارې**

**د کفارې پېژندنه:** کفـــــارې هغه ځانګړې مقصـودې کړنې دي، چې شريعت د مشـخصـې ګناه او يا مخالفت په صـورت کې غوښتې وي ( المطرفي، ۱۴۲۹هــــ ، ص: ۳۱ )، تر څو د کړي مخالفت يا ګناه لپاره يې د بښنې لامل شي.

لکه: د رمضان په ورځ کې د جماع کولو کفاره، د ظهار کفاره، د قسم کفاره، د خطا قتل(وژلو) کفاره .

**په کفارو سره د ګناه بښــنه :** دغه مشـخصـې کفارې د هغو ګناهونو بښـونکې او له منځه وړونکې دي ،چې لـه املـه يې پـه ده کفـاره لازمـه شـوې ده پـه دې اړونـد کـه مونږ پـه قرآنکريم کې د خطا قتل(وژنې)کفارې ته نظر واچوو؛ نو علت يې دا بيان شـــوی چې دغه کفاره د قاتل لپاره د الله تعالی له لوري داسې توبه ده، چې ګناه يې پرې ښښـل کېږي الله تعالی فرمايي: ﴿ **وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَــلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّــدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَـــلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا** ﴾ ( قرآن کريم، النساء، ايت: **۹۲** ).

**ژباړه**: دا د يو مؤمن کار نه دی، چې بل مؤمن ووژني؛ مګر دا چې خطا ورڅخه وشي او څوك چې کـوم مؤمن په خطايي سره ووژني؛ نو د هغه کفاره د يو مؤمن مريي ازادول او د وژل شـــوي وارثانو ته د وينو بيه ورکول دي؛ مګر دا چې د وژل شـوي وارثان قاتل وبښـــي، خو که هغه وژل شـوی مسـلمان له کوم داسې قوم څخه ؤ چې له هغه سره ستاسې دښـمني وي؛ نو د هغه کفاره د يو مؤمن غلام ازادول دي او که هغه وژل شوی مومن د کوم يو داسې نامسلمان قوم وګړی ؤ، چې له هغه سره ستاسې تړون ؤ؛ نو د هغه وارثانو ته به د وينو بيه ورکول او د يو مؤمن غلام ازادول وي؛ نو که څوك غلام و نه لري، پر لـه پسې دې دوه مياشتې روژه ونيسي، دا پر دې ګناه باندې الله تعالی ته د توبې ايستلو طريقه ده او الله د علم او پوهې خاوند دی.

د﴿ **تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ** ﴾ معنی دا ده: يعنې کومې کفارې، چې الله تعالی په قاتل باندې واجب کړې دي؛ دا د الله تعالی له لوري د خپلو بنده ګانو لپاره توبه ده او پر دوی يې رحمت دی او په همدې ډول دا د هغې

ګناه بښـــنه ده ،چې کېدای شي له دوی څخه د څه کمي او يا د ځان نه ژغورنې په نتيجه کې منځ ته راغلي وي لکه څرنګه چې د خطا قاتل څخه واقع کېږي ( السعدي، ۱۴۲۰هـ ، ص: ۱۹۲ ).

امام بغوي (رحمه الله) ددې ايت ﴿ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ ﴾ تفســير کې وايي:الله تعالى دغه(کفاره) د خطا قاتل لپاره توبه ګرځولې ده او هغه په هغه چا عالم دی، چې په خطا يې قتل کړی وي او په هغه څه حکيم او پوهه دی چې ستاسو ترمنځ پرې فيصلې کوي ( البغوي، ۱۴۱۷هـ ،ج۲، ص: ۷۲].

**۵- مصيبتونه**: کوم مصيبتونه چې مومن ته رسېږي، که هغه مرضونه وي يا نفسي-او مالي افتونه وي او يا هم غم او خپګان وي دا ټول يې د ګناهونو د بښنې لاملونه دي؛ نو مسلمان ته پکار دي، چې د مصيبت په وخت کې صـبر، اسـتقامت او حوصـلې نه کار واخلي، الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ **الَّذِينَ إِذَا أَصَـابَتْهُمْ مُصِـــيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَـــلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ** ﴾ ( قرآن کريم، البقرة، ايت: ۱۵۶-۱۵۷ ).

**ژباړه:** هغه کسان چې کله ورته کوم مصيبت ورسيږي؛ نو ووايي: موږ د الله تعالى يوو او د هغه لوري ته ور ګرځېدونکي يو، دا هم هغه کســان دي چې د دوی د رب له خوا پرې بښــنه او رحمت دی او همدا کسان د سمې لارې موندونکي دي.

په دې اړوند چې په مســلمان باندې مصــيبتونه د هغه د ګناهونو رژوونکي دي لاندې احاديث موجود دي:

**أ- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضــي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُــولُ اللهِ صَــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ :(مَا يَزَالُ البَلَاءُ بِالمُؤْمِنِ وَالمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ)** ( الترمذي، د نشر تاريخ نه لري، ج۴، ص: ۶۰۲ ).

**ژباړه:** د ابو هريره (رضي الله عنه ) څخه روايت دی، فرمايي چې رســول الله(صــلى الله عليه وســلم) فرمايلي دي:هميشه به په مؤمن سړي اومؤمنې ښځې باندې ازميښت او مصيبت د هغه په نفس، بچي او مال کې موجود وي، تر دې چې د الله تعالى سره يې ملاقات وشي او په ده باندې هېڅ ګناه نه وي موجوده.

**ب– عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَا مِنْ مُصِيبَةٍ تُصِيبُ المُسْلِمَ إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا عَنْهُ، حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا** ( البخاري، ۱۴۲۱هـ ج۷، ص: ۱۱۴ ).

**ژباړه:** د نبي کريم صـلى الله عليه وسـلم بي بي عائشي-( رضي الله عنها ) څخه روايت دی فرمايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هېڅ مصيبت مسلمان ته نه رسيږي؛ مګر دا چې الله تعالى پرې د هغه ګناهونه ښښي، تردې چې د اغزي څخه وردديږي.

**ج- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: مَا يُصِيبُ المُسْلِمَ، مِنْ نَصَبٍ وَلاَ وَصَبٍ، وَلاَ هَمٍّ وَلاَ حُزْنٍ وَلاَ أَذًى وَلاَ غَمٍّ، حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا، إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ.** ( البخاري، ۱۴۲۱هـ ، ج۷، ص: ۱۱۴ ).

**ژباړه:** ابو سعید خدري او ابو هریره (رضي الله عنهما) د نبي (صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي فرمایي: نه رسیږي یو مسلمان ته هیڅ ستړتیا، مرض (درد)، خپګان، تر دې چې اغزي څخه وردرېږي؛ مګر الله تعالی پرې د هغه ګناهونه ببښي.

**د- عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ – رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ ٱللَّهِ، كَيْفَ ٱلصَّلَاحُ بَعْدَ هَذِهِ ٱلْآيَةِ: ﴿ مَنْ يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ ﴾ (قرآن كريم، النساء، ايت: ۱۲۳) ، فَكُلُّ سُوءٍ عَمِلْنَاهُ جُزِينَا بِهِ؟ قَالَ: غَفَرَ ٱللَّهُ لَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ– قَالَهُ ثَلَاثًا– يَا أَبَا بَكْرٍ أَلَسْتَ تَمْرَضُ، أَلَسْتَ تَحْزَنُ، أَلَسْتَ تَنْصَبُ، أَلَسْتَ تُصِيبُكَ ٱللَّأْوَاءُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَهُوَ مَا تُجْزَوْنَ بِهِ فِي ٱلدُّنْيَا ( الحاكم، ۱۴۱۸هـ ،ج۳، ص: ۷۸ ).**

**ژباړه:** د ابو بکر صدیق رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی فرمایي:ما وویل اې د الله تعالی رسوله! څه ډول به سلامتیا وي(د بنده لپاره) وروسته لدې ایت څخه؟ ژباړه:(هر څوک چې بدي وکړي د هغې سزا به وموмي)؛ نو هره بده کړنه چې مونږ ترسره کوو بدله به يې ګورو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دري ځله وویل اې ابوبکره! الله تعالی دې درته ببښنه وکړي آیا ته نه مریضیږې؟آیا ته نه غمجن کیږې؟آیا ته نه ستړی کیږې؟آیا تا ته سختی نه رسیږي؟ ما وویل هو ولې نه؛ نو هغه(صلی الله علیه وسلم)وویل: په دې سره تاسو ته په دنیا کې سزا درکول کیږي.

**٦-نیک (غوره) اعمال**

**د غوره عمل پیژندنه:** غوره(صالح) اعمال د بنده هغه وینا،کړنه او نیت دی، چې د الله تعالی ر ضا په کې موجوده وي. ( العزي، ۱۴۳۲هـ ، ج ۲، ص: ۱٦۳).

**د غوره عمل شروط:** غوره(صالح) عمل هغه دی، چې لاندې درې شرطونه په کې موجود شي:

أ- یوازې د الله تعالی د رضا لپاره به وي ځکه الله تعالی فرمایلي دي: **﴿ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ ﴾** ( قرآن کریم، البینة، ایت: ۵ ).

**ژباړه:** او هغو ته پرته له دې بل هیڅ حکم نه ؤ ورکړل شوی چې: د الله بندګي وکړئ، خپل دین د هغه لپاره په خالص ګرځولو سره په یوه لار شئ، لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ همدا ډېر زیات سم صحیح دین دی.

ب- عمل به د هغه څه موافق وي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته راوړي دي ځکه الله تعالى فرمايي: ﴿...وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ (قرآن كريم، الحشر، ايت: ٧).

**ژباړه**: څه چې پېغمبر (صلى الله عليه وسلم) تاسې ته درکوي، هغه واخلئ او له څه شي څخه چې تاسې منع کوي، له هغه څخه منع شئ د الله تعالى څخه ووېرېږئ، الله تعالى سخت سزا ورکوونکى دى.

ج- د عمل تر سره کوونکى به يې مؤمن وي ځکه الله تعال فرمايلي دي﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ (قرآن كريم، النحل، ايت: ٩٧).

**ژباړه**: هر څوك چې ښه عمل وکړي که هغه نارينه وي او که ښځه په دې شرط چې مؤمن وي؛ پر هغه به موږ په دنيا کې سپېڅلى ژوند تېر کړو او (په اخرت کې به) دغسې خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.

نو کله چې له دغو شرطونه څخه يو يې له منځه ولاړ شي عمل باطلېږي(التويجري، ١٤٣١هـ، ص: ٤١١).

**په نېکو اعمالو سره د ګناه ببښنه**:د شرعي نصوصو له پلټنې څخه وروسته داسې معلومېږي، چې نېک او غوره اعمال د مسلمان د ګناهونو د ببښنې لاملونه دي، په دې اړوند الله تعالى فرمايلي دي: ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ ﴾ (قرآن كريم، هود، ايت: ١١٤).

**ژباړه:** او لمونځ د ورځې په دواړو خواوو کې او څه د شپې په ساعتونو کې قائم کړه په حقيقت کې نېکۍ بدۍ له منځه وړي، دا د هغو خلکو لپاره يوه يادونه ده چې د الله تعالى په ياد لرونکي دي.

ددې ايت په سبب نزول کې د شريعت دغه اسانتيا په ډاګه راڅرګندېږي، چې نيکۍ ګناه له منځه وړي په دې اړوند د عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) نه روايت دی، چې يو سړي يوه ښځه ښکل کړه؛ نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم تــــه راغى اوپه دې اړوند يې هغه ته خبر ورکړ؛ نو الله تعالى دغه ايت نازل کړ: ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ﴾ (قرآن كريم، هود، ايت: ١١٤). نو سړي وويل: اې د الله رسوله! دا يوازې زما لپاره دى، هغه صلى الله عليه وسلم وويل:(لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ) (البخاري، ١٤٢١هـ، ج ١، ص: ١١١).

**ژباړه**: زما د ټول امت لپاره دی.

او أبو ذر رضي الله عنه وايي: ما ته رســول الله صــلى الله عليه وســلم وويل :(**اتَّقِ اللهَ حيثما كُنْتَ، وأتبعِ السيِّئةَ الحَسَنةَ تَمْحُها، وخالِقِ الناسَ بخُلُقٍ حسَنٍ** ) ( ابن حنبل، ۱۴۱۴هـ ، ج ۳۵، ص: ۲۸۴ ).

**ژباړه**: هر چيرې چې يي د الله تعالی څخه ويريږه او بدۍ پســې نيکي ترسره کړه؛ تر څو له منځه يې يوسي او د خلکو سره په ښو اخلاقو تعامل کوه.

په همدې ډول که مونږ د قرآنکريم او نبوي سنتو په نصوصو کې نظر واچوو، ډېر داسې عبادتونه به په نظر راشي؛ چې هغه د ګناهونو د ښښنې لامل جوړيږي لکه: لمونځ، حج، وغيره...

د عثمان بن عفـان (رضي اللـه عنـه) څخـه روايـت دی فرمـايي:چې رســول اللـه (صــلى اللـه عليـه وسلم)فرمايلي دي:( **مَن تَوَضَّأَ فأحْسَنَ الوُضُوءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِن جَسَدِهِ، حتَّى تَخْرُجَ مِن تَحْتِ أَظْفَارِهِ** ) ( النيسابوري، ۱۴۱۸هـ ، ج۱، ص: ۲۱٦ ).

**ژباړه:** چا چې په ښـې طريقې سره اودس وکړ؛ نو له بدن څخه به يې ګناهونه ووځي تردې چې د نوکانو له لاندې څخه يې بهر شي.

او د ابو هريره (رضي الله عنه )څخه روايت دی فرمايي، چې بيشـکه رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم فرمـايلي دي:( **العُمْرَةُ إلى العُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِما بيْنَهُمَا، والحَجُّ المَبْرُورُ ليسَ له جَزَاءٌ إلَّا الجَنَّةُ** ) ( البخاري، ۱۴۲۱هـ ، ج۳، ص: ۲ ).

**ژباړه:** يوه عمره کول تر بلې عمرې پورې د هغو ګناهونو ښښــنه کوي، چې د دوی ترمنځ دي او يو قبول شوی حج د دې بدله جنت دی.

او همدا راز د ابو هريره (رضي الله عنه) نه روايت دی فرمايي، چې بېشــکه رســول الله صــلى الله عليه وسـلم فرمايلي دي: ( **مَن قالَ: سُبْحانَ اللَّهِ وبِحَمْدِهِ، في يَومٍ مِائَةَ مَرَّةٍ؛ حُطَّتْ خَطاياهُ وإنْ كانَتْ مِثْلَ زَبَدِ البَحْرِ** ) (البخاري، ۱۴۲۱هـ ، ج۸ ، ص: ۸٦).

**ژباړه:** چا چې **-(سُـبْحانَ اللَّهِ وبِحَمْدِهِ)**– پاکي، ثنا او صــفت الله تعالی لره دي- په ورځ کې ســل ځله وويل؛ نو ګناهونه به يې پرې لرې شي که څه هم د بحر د زګ په اندازه وي.

**يادونه:**دکتور وهبه الزحيلي (رحمه الله) ددې ايت: ﴿ **وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّــيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ** ﴾ ( قرآن کريم، هود، ايت: ۱۱۴ )، تفســير لاندې وايي: چې ﴿ **الْحَسَـنَاتِ** ﴾ ټول غوره اعمال دي او ﴿ **السَّـيِّئَاتِ** ﴾ کوچني ګناهونه دي،کوم چې لوی ګناهونه(کبائر)

دي؛ نو ددې د ښښنې لپاره حدود(ټاکلی جزاء) او یا توبه ده څکه الله تعالی فرمايي: ﴿ **إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا** ﴾ (قرآن کریم، النساء، ایت: ۳۱).

**ژباړه:** که تاسې له هغو سترو گناهونو څخه ډډه وکړئ، چې تاسې ورڅخه منع شوي یاست؛ نو وړې وړې گناوې به مو له حسابه وغورځوو او تاسې به د عزت ځای ته ننباسو.

نوموړی(دکتور) بیا وايي: چې د دغه ایت مدلول په هغه حدیث سره لا نور هم قوي کېږي،کوم چې امام مسلم رحمه الله د أبو هریره (رضي الله عنه) څخه رانقل کړی دی، چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: ( **الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ**) (الزحیلي، ۱۴۲۲هـ، ج۲، ص: ۱۰۸۱).

**ژباړه:** پنځه وخته لمونځونه او یو د جمعې لمونځ تر بلې جمعې پورې او یو رمضان تر بل رمضان پورې د گناهونو ښښنه کوي کله، چې يې ځښتن له سترو گناهونو څخه ځان وساتي.

**پایله**

له پورته څېړنې څخه لاندې پایلې په لاس راځي:

۱: د اسلامي شریعت په نصوصو کې د بنده گانو د گناهونو څخه د ښښنې ځینې لاملونه راغلي دي؛ نو مسلمان ته پکار دي، چې هغه لاملونه په نظر کې ونیسي؛ ترڅو په اخرت کې يې له اور څخه د خلاصون ذریعه شي.

۲- توبه ویستل، استغفار ویل، حدود، مصیبتونه، کفارې او نېک اعمال هغه څه دي، چې الله تعالی پرې د خپلو بنده گانو گناهونه ښښي .

۳- اسلامي شریعت خپل پیروان د گناه څخه د ښښنې په لار کې په داسې څه نه دي مکلف کړي، چې ددوی له توان نه پورته وي.

۴: د گناهونو څخه د ښښنې اړوند تر ټولو مهمترینه لار توبه ده، چې په دې سره الله تعالی د خپل بنده ټول ستر او کوچني گناهونه ښښي.

۵: اسلامي شریعت په دې ټینگار کړی دی، چې د بنده گانو په حقوقو کې د توبې ترڅنگ حق باید دهغه ځښتن ته وسپارل شي .

۶: اسلامي شریعت پر خپلو پیروانو د شفقت او مهربانی ځادر په داسې توگه راخپور کړی، چې دوی ته يې د جهنم له اور څخه د ژغورنې اسانې لارې چارې ښودلې دي.

**وړاندیزونه**

۱- ټولو مسلمانانو ته مې وړاندیز دا دی، چې ژبه یې باید همېشه په استغفار ویلو ګویا وي او ترڅنګ یې په کړو ګناهونو پښیماني ښکاره کړي او په راتلونکي کې ترې نه ځان وساتي .

۲- د پوهنتونونو استادانو ته مې دا وړاندیز دی، چې باید محصلین د ګناه څخه د بښنې په لاملونو د اسلامي شریعت په رڼا کې آګاه کړي؛ تر څو اخروي ژوند یې له نیکمرغیو څخه ډک شي.

۳- د مساجدو امامانو ته مې دا وړاندیز دی، چې عوامو ته د ګناه په بدو پایلو او ورڅخه د بښنې لارې چارې د اسلامي شریعت په رڼا کې څرګندې کړي.

۴- د اسـلامي ټولنې هر وګړی باید له هر ډول ګناهونو څخه ځان وژغوري او د ترسره کولو په صـورت کې یې الله تعالی ته رښتینې توبه وباسي.

**اخځلیکونه**

قرآن کریم
: ابن رجب، أبو الفرج عبدالرحمن بن شهاب الدین البغدادي(۱۴۲۲هـ). فتح الباري شرح صحیح البخاري. السعودیه-الدمام: دار ابن الجوزي.
ابن تیمیة، أحمد بن عبدالحلیم بن عبدالســلام (۱۴۲۳هــــ). مجموع فتاوی ابن تیمیة. الریاض: مطابع الحکومة.
ابن حنبل، أحمد بن محمد الشیباني (۱۴۱۴هـ). مسند الإمام أحمد بن حنبل، بیروت: دار الرسالة.
ابن رجب، أبو الفرج عبدالرحمن بن شــهاب الدین ،(۱۴۲۴هــــ). جامع العلوم والحکم. بیروت: دار الرسالة.
ابن کثیر ،أبو الفدء إسماعیل بن عمر الدمشقي(۱۴۰۱هـ). تفسیر القرآن العظیم. بیروت دار الفکر.
البابرتي،أکمل الدین محمد بن محمد بن محمود (۱۳۸۹هـ). العنایة شرح الهدایة. مصر: شرکة مکتبة و مطبعة مصطفی البابي الحلبي وأولاده.
البخاري، أبو عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري الجعفي. (۱۴۲۱هــ). صحیح البخاري. الریاض: دار السلام .
البغوي، أبو محمد الحسین بن مسعود (۱۴۱۷هـ). معالم التنزیل. السعودیة- الریاض: دار الطیبة.
الترمذي،أبو عیسی محمد بن عیسی بن سورة (ب ت). سنن الترمذي. الریاض: دار السلام.

التويجري، محمد بن إبراهيم (١٤٣١هـ).مختصر الفقه الإسلامي في ضوء الكتاب والسنة.ط:١١، السعودية: دار أصداء المجتمع.

الحاكم،أبو عبدالله محمد بن عبدالله النيسابوري. (١٤١٨هـ). المستدرك على الصحيحين. بيروت: دار المعرفة.

دار ابن الجوزي.

الزحيلي، وهبة بن مصطفى (١٤٢٢هـ). التفسير الوسيط للزحيلي.ط:١، دمشق: دار الفكر.

الزحيلي، وهبة بن مصطفى(ب ت). الفقه الإسلامي وأدلته.ط:٤، سورية-دمشق:دار الفكر.

السعدي، عبدالرحمن بن ناصر(١٤٢٠هـ). تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان. بيروت:مؤسسة الرسالة.

الطبري، أبو جعفر محمد بن جرير (١٤٢٤هـ). جامع البيان عن تأويل القرآن. الرياض: دار الكتب.

العزي، نجم الدين محمد بن محمد الشافعي. (١٤٣٢هـ).حسن التنبه لما ورد في التشبه. ط:١ سورية: دار النوادر.

الكاساني، علاءالدين أبوبكر بن مسعود(١٤٢٧-١٤٢٨هـ).بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع.ط: ١، مصر: مطبعة الجمالية.

الكشميري، محمد أنور شاه الديوبندي (١٤٢٦هـ)فيض الباري على صحيح البخاري.ط:١ ،بيروت: دار الكتب العلمية.

المباركفوري، أبوالحسن عبيدالله بن محمد عبدالسلام(١٤٠٤هـ). مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح. بنارس- الهند: إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء.

المطرفي، رجاء بن عابد(١٤٢٩هـ). الكفارات في الفقه الإسلامي،ط:١ ،المدينة المنورة: مكتبة الملك فهد الوطنية.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري(١٤١٨هـ). صحيح مسلم. القاهرة: دار الحديث.

الهرري، محمد الأمين بن عبدالله الشافعي (١٤٢١هـ). تفسير حدائق الروح والريحان.ط:١. بيروت-لبنان: دار الطوق.

# تاثیر ادبیات بالای جامعه در افغانستان

هدایت الله سلیم، محصل پوهنتون شیخ زاید، پوهنځی زبان و ادبیات، دیپارتمت پارسی دری صنف سوم.

ایمیل آدرس: hedaytullahsaleem@gmail.com

**چکیده**

هر زمانی که برای انسان‌ها پیغمبر عالم یا هرکسی دیگر که بـــه عنوان راهنما مردم آمده اند یگانه کار شـان دعوت به ســوی خداوند متعال اســت قســمت بزرگ از این مســوولیت را ادبیات به عهده دارد. ادبیات اشکار کردن احساسات پنهان انسانی و به در آوردن انسان در آفاق زیبا و بی منتهاست. ادبیات در واقع همچـــون کشتی‌یی است که انسان را بـــه میانهٔ امواج سیل آسای افکار بشری می‌برد و انسان با صادقانه ترین بیان از روح خود که به سوی کمال و هدف دور- بسیار دور- امتداد یافته سخن می گوید. انســـان در مســـیر حرکت تکاملی‌اش که نیاز به قدرت دارد تا مراحل بحرانی معنویاتش را پشـــت سر بگذارد و بر توان حرکتش بیفزاید و ادبیات قادر اسـت که در روح انسـان این سرود الهی را بـــه نوا در آورد سرودی که بر سرعت حرکت و زیبایی آفاق و آرامش و اســتقرار روح می‌افزاید. همچنین ادبیات یکی از عرصه تاثیر گذار در اجتماع است. که ادبیات می‌تواند ملتی را جهت دهد و به انقلاب بکشانده و به ســنگر مبارزه ســوق دهد یا برعکس از مبارزه، حرکت و فعالیت به مفاره‌های تنهایی و عزلت بکشاند. ادیب موفق با ابداعات هدفمند ادبی‌اش می‌توانـــد ملتی را به حرکت بیاورد و به خیزش وادار سازد. جامعه‌ای که در آن ادبیات مثل مفسـده‌ای شرم آور به گوشه کنار زندگی اجتماعی و خصـوصی آدمی رانده می‌شود، جامعه‌ای است محکوم به توحش معنوی و حتی آزادی خود را به خطر می‌اندازد. وقتی‌که ادبیات در یک جامعه حضور نداشته باشد آن جامعه بیروح می‌باشد؛ یعنی ادبیات در کل روح یک جامعه اســت اگر نباشــد جامعه روبه فوت می‌رود و تنها جســم‌اش باقی می‌ماند. وقتی‌که ادبیات نباشد احساسات و عواطف یک ملت خاموش شده و صفات ناپسندیده جامعه جای اخلاق پسندیده را می‌گیرد و اخلاق مردم زیبایی و آراسته‌گی خود را از دست می‌دهد.

**واژه‌ها کلیدی**: ادبیات، افغانستان، تأثیر ادبیات، جامعه و روح و روان.

**۱.مقدمه**

الحمدالله رب العلمین والصلات والسلام علی سیدالمرسلین و خاتم النبین محمد و علی آله و صحبه اجمعین و من تبعهم با حسان الی یوم الدین.

در دنیای امروز یگانـــه چیزی که ما را به شناخت کلیت انسانی‌مان رهنمون می‌کند، در ادبیات نهفته است. این نگرش وحدت بخش، این کلام کلیت بخش نه در فلسفه پیدا می‌شود و نه در تاریخ، نه در هنر و نـــه بی گمان در علوم اجتماعی. ادبیات از طریق متونی که به دست ما رسیده، ما را به گذشته می‌برد و پیوند می‌دهد با کسانی که در روزگاران سپری شده سوداها به سر پخته‌اند، لذت‌ها برده‌اند و رؤیاها پرورانده‌اند، و همین متون امروز به ما امکان می‌دهد که لذت ببریم و رؤیاهای خودمان را بپرورانیم. این احساس اشتراک در تجربه جمعی انسانی در درازنای زمان و مکان والاترین دستاورد ادبیات است و هیچ‌چیز به اندازه ادبیات در نوشتن این احساس برای هر نسل مؤثر نیست.

یکی از تاثیرات سودمند ادبیات در سطح زبان تحقیق می‌یابد؛ جامعه‌أی که ادبیات مکتوب ندارد، در قیاس با جامعه‌أی که مهم‌ترین ابزار ارتباطی آن کلمات در متون ادبی پرورده شــده و تکامل یافته حرف‌هایش را با دقت کم‌تر، غنای کم‌تر و و ضوح کم‌تر بیان می‌کند. جامعۀای بی‌خبر از خواندن که از ادبیات بوی نبرده، همچون جامعۀای از گنگ دچار زبان‌پریشـــی اســـت و به ســـبب زبان ناپخته و ابتدایی‌اش مشکلات بزرگ را در برقراری ارتباط خواهد داشت. این در مورد افزار نیز صدق می‌کند. که هرگز نمی‌خواند، یا کم می‌خواند یا فقط پرت و پلا می‌خواند، بی‌گمان اختلالی در بیان دارد، این آدم بسیار حرف می‌زند، اما اندک می‌گوید، زیرا واژه‌گانش برای بیان آن‌چه در دل دارد بسنده نیست.

**۲. هدف تحقیق**

هدف اصلی تحقیق حاضر مبنی بر این است که ادبیات چه است؟ بالای جامعه چه تاثیرات دارند؟، بالای روح و روان مردم چقدر تاثیرات داشـــته؟، اگر داشـــته چه بوده می‌تواند؟ و اگر ادبیات وجود نمی‌داشت چه رخُ می‌داد؟

**۳. میتود و روش تحقیق**

جمع کردن مواد این مقاله به شکل کتابخانی و ساحوی بوده، از کتاب‌ها و مقاله‌های دست اول استفاده شده است و همچنان با چندین تن استادان به شکل مصاحبه زمینه را مساعد نمودیم تا در رابطه به مو ضوع مورد نظر، نظریات و اقول شـــان را جمع آوری و نظریات هر کدام شـــان را در متن جابجا نمودیم.

**۴. اهمیت تحقیق**

ادبیات یگانه چیزی است که انسان را به اخلاق نیکو وادار می‌سازد هدف اصلی از این تحقیق مبنی بر این است که تأثیر ادبیات بالای جامعه در افغانستان چه است؟ ادبیات کدام پیام و رسالت‌شان را برای مردم رسانده و آگاهی حاصل شود، که چقدر تاثیر خاص بر اخلاق و کردار مردم و اجتماع دارد.

**۵.ادبیات:** به هر اثر نوشته شده، ادب یا ادبیات می گویند، از این واژه برای سخنی که از میزان سخنان عادی برتر و والاتر بوده و دارای کلمات زیباتر است استفاده می‌شود. مردم، سخنان برتر و والاتر را در ذهن و زبان خود، ضبط و برای هم‌دیگر نقل می کنند و از خواندن و شنیدن آن‌ها دگرگون گشته و برای احساس غم، شادی یا لذّت نیز استفاده می کنند.

واژه ادبیات در فرهنگ‌ها و لغت نامه‌ها جمع ادبیه و منسوب به ادب خوانده شده و عبارت از دانش‌های است که متعلق به ادب می‌باشد که علوم و آثار ادبی را شامل می‌شود. این کلمه در برابر واژه یونانی لیتراه به معنای تمام آثار ادبی یک ملت، یک کشور و یا یک دوره است که در آن شاخه‌های مانند: ادبیات شفاهی و مکتوب، مختصات ادبی، داستان‌ها، سرودها و روایات مرتبط با رسوم و آداب مردمان و بالآخره ادبیات تطبیقی با همه شاخه‌ها و ریشه‌های خود شامل می‌باشد. به اصطلاح دیگر: ادبیات یک اثر هنری خلاق خوانده شده است؛ اثری که هنرمند به آن می‌پردازد و تنها یک فرضیه، یک تصور و یا یک نظام فکری خاص نیست، برای اینکه فرضیه‌ها، انگارها، تصورات و نظام‌های فکری متنوع به ساخت آن راه یافته و آن را شکل می‌دهیم. (abankelas.ir/، آقای محمد رابع حسنی ندوی) یکی از متفکرین اسلامی در اثر خویش ادبیات از نظر اسلام چنین بیان می‌دارد، ادبیات زنده‌گی را به نمایش می‌گذارد و آن را به تصویر می‌کشد و برای خواننده و شنونده تصویرهای را عرضه می‌کند که جلوهای رنگارنگ در آن بازتاب یافته است. در ادبیات زیبایی‌های جهان هستی و حیات و اشکال متنوع آن ظاهر می‌شود؛ تا جایی که اگر نگاه مستقیم و زنده‌گی برای ما مساعد نگردد، می‌شود آن را در آیینه ادب، با و ضاحت تمام به نظاره گرفت.( شریفی، ۹ص) در یک تعریف کلی ادبیات به تمام محصولات ذوقی و فکری یک ملت گفته می‌شود؛ که بصورت مکتوب یا به صورت نقل قول ادبیات شفاهی به ثبت رسده باشد؛ اما اروپایان معمولاً در فرهنگ‌هایشان ادبیات را این‌گونه تعریف کرده اند. ادبیات دانشی است که شامل مجموعه آثار مکتوب یک ملت و یا یک مملکت و یا یک زبان مشخص می‌شود؛ امروزه در ادبیات هر ملت، علاوه بر آثار مکتوب آثار غیر مکتوب نیز به چشم می‌خورد که آنها را ادبیات شفاهی می‌گوییم. آثار منظوم در زمینه دانش‌های از قبیل طب، ریا ضی، نجوم و فلسفه... نمی‌توانیم آنها را جزء آثار ادبی به شمار آوردم و نمی‌توانیم ادبیات گفت.

چون در آنها احساس، عواطف و تخیل وجود ندارد. طبق آنچه گفته شد به نظر می‌رسد علمی‌ترین تعریفی که از ادبیات می‌توان ارایه داد این است که بگوییم ادبیات عبارت است از مجموعهٔی آثار مکتوب و نامکتوب یک ملت که عواطف و احساسات آدمی را تحت تاثیر قرار دهد. در نتیجهٔ می‌توان گفت ادبیات هر دوره نماینده و حیات و فراز و نشیب‌های اجتماعی آن دوره بوده است و همراه با تحولات اجتماعی در زمان‌های مختلف تغییر می‌یابد و در هر عصر معنی و مفهوم خاص خود را پیدا می‌کند. (دکتر علی پور دریایی: www.com.civilica). «هر جامعه ادبیات را نظر به داشته‌های فرهنگی، هنری، اجتماعی و ادبی که دارند تعریف می‌کند؛ ادبیات یک ساحه بسیار گسترده را در بردارد. به همین خاطر نمی‌توانیم تعریف واحد به ادبیات داشته باشیم. پس باید گفت که ادبیات تمامی داشته‌های هنری، فرهنگی، ادبی، اجتماعی و... یک ملت یا یک جامعه را در خود منعکس می‌دهد. به طور کوتاه می‌توان گفت که تمام خُلق‌ها و تمامی رفتارهای پسندیده یک جامعهٔ چه به شکل کتبی و چه به شکل شفاهی باشد و مورد ستایش و ارزش روان باشد. ادبیات گفته می‌تواند.» (نورالله شاداب، مصاحبه خصوصي، ۲۰/۲/۱۴۰۳ شنبه ساعت ۸:۳۰ قبل از ظهر.) « در واقع می‌توان گفت که کاری نهایی ادبیات در واقع آرمان‌گرایی است؛ آرمان‌گرایی از گذشته‌ها تا به امروز یک تصور نسبتاً غلط در قسمت آرمان‌گرایی که از ادبیات وام می‌گریم وجود دارد. چون آرمان‌گرایی ادبیات تنها خلق آفرینش آثار ادبی نیست؛ بلکه پُسته زرین و پُسته واقعی با خواندن ادبیات تاثیر پذیر، فهم واقعی، درک شناختی و معرفتی از ادبیات برسیم با آرمان‌گرایی و آرمان‌های انسانی خود تبدیل به یک آثر هنری شویم، چون هنر خلقیت ادبیات در ملکه و ذهن هر انسان وجود ندارد؛ ممکن است که صدها کس ادبیات بخواند؛ ولی هیچ‌گاه نتواند شعر، هنر، داستان، رومان، پارچه شعری یا هنری... را خلق کند. ولی با دانستن ادبیات می‌توانیم آرمان‌گرایی را از ادبیات وام بگریم با وام گرفتن آرمان‌گرایی خود را تبدیل با یک آثر هنری برازنده، شاخص و برجسته سازیم، و در جامعه خود تقدیم می‌شویم. بهترین و حد عظمی کار ادبیات این است که فرد را تبدیل به یک اثر برجسته و مدبیر کند؛ وقتی‌که آرمان‌گرایی در وجودی انسان نمو کند از دیدن، برخورد، تعامل، تفاهم و از گفتگو آن به عنوان یک اثر هنری لذت برده می‌شود» (کاکا خان شاهزاده، مصاحبه خصوصی، ۱۷ /۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۹ قبل از ظهر) «پس گفته می‌توانیم که ادبیات مجموعهٔ از آثار هنری و ذوقی و چکیده از غرایز معنوی ملت هاست، و تمدن هر ملت به نسبت عظمت و وسعت ادبیات‌اش شناخته می‌شود، و به طوری کلی ادبیات تابع زمان و مکان و نمائنده آداب و رسوم و تمدن مردم آن کشور است. ادبیات ابتدا از شعر آغاز شد و وقتی شعر شاعری به اوج خود رسید، تازه نوشته‌های نثری نیز آغاز شد.»

**٦. تأثیر ادبیات بالای جامعه**

ادبیات شـاخه هنر اسـت که در آن به وسـیله ایجاد هنر را بیان و زبان را شـکل می‌دهد مانند: ادبیات هنری، آموزشـی و مسـتند در ادبیات به مقایسـه با موسـیقی ایجاد صحنه یا نمایش آثار از اهمیت بس فراوانی برخوردار است به گونه دیگر ادبیات مجتمع آثار مطبوع است که به عرصهٔها مسایل گوناگون علوم به این یا آن رسته ویژه اختصاص یافته باشد. مانند ادبیات تخنیکی، مجموعه ادبیات اختصاصی، ادبیات در باره تاریخ، ادبیات گسترده در باره محیط زیسـت؛ امروز در عصری که رشته‌های گوناگون علوم بـــا هم در ارتباط و مکمل یک دیگر اند، کار شـناس علمی مطبوع در عرصهٔها گوناگون برکنار باشــد. ادبیات مجموعه متن‌های اســت که آثار ماندگار و برجســته پیشــینیان این یا آن تبار یا ملت را تشکیل می‌دهد. ادب و ادبیات آن گونه سخنانی است که از میزان سخنان عامیانه برتر بوده و مردم آن سـخنان را در میان خود حفظ و نقل کرده اند، از خواندن و شـنیدن آنها دگرگون گشته، احساس غم و شادی کرده لذت برده اند. به صورت معمول متن‌های ادبی به دو بخش تقسیم می‌شود. این گروه بندی در سخن شناسی، زبان پارسی و ادبیات جهانی سنت دیرینه دارد. سخنوران و دانشمندان رشتهٔ ادبیات از دیرباز کوشـیده اند خط فا ضل میان این دو گروه را از نگاه تعریف و تمایز ارائه دارند. اداب عبارت اســت از رفتار پســندیده به هنجارهای جامعه- خصــلت خوش، روش هنری، فضــل و معرفت. ادبیات دانشی است که با تسلط بر آن شخص درست و نادرست، خوب و بد را تشخیص دهد. پیشینیان آنرا شامل علوم صرف، نحو، لغت، اشتقاق، معانی، عروض، بیان، بدیع، قافیه و بهره یافتن از هر دانشی بقدر نیاز دانسته اند (رحمت الله روند- Jawedn.com.s).

ادبیات ایده‌ها خیالی، افکار و خرد را می‌آفریند. و قواعد اساسی حکم بر طبیعت انسان و همچنین ساختار جهان را بررسی می‌کند. ادبای دانا در قدیم فهمیده بودند که اساساً امور خیر اساس در انسان خود را از طریق ارزش‌ها و نظام دینی که با آن سـاختارهای در جامعه ایجاد کرده اسـت، تجلی می‌کند تا بشر در تاریکی و تباهی، دست و پا نزند و به تحقیق و تحلیل آینده برای بهبود جامعه بپردازد. ادبیات هم برای قلب و هم برای روح مردم تسکین است، از این رو می‌تواند ابزار قدرتمندی برای تغییر باشد. (علی غفاری، cilica.com).

جامعه بدون ادبیات، یا جامعهٔ که در آن ادبیات مثل مفســده‌ای شرم آور به گوشــه کنار زندگی اجتماعی و خصوصی آدمی رانده می‌شود و به کشتی انزوا طلب بدل گردد، جامعه‌ای است محکوم به توحش معنوی و حت آزادی خود را به خطر می‌اندازد. ادبیات یکی از اسـاسـی ترین و ضروری ترین فعالیت‌های ذهنی است، فعالیت بی بدیل برای شکل گیری شهروندان در جامعه‌ی دموکراتیک مدرن،

جامعه مرکب از افراد آزاد. مردان و زنان همهٔ ملت‌ها در هر کجا که هســتند در اصــل برابرند و تنها بی‌عدالتی اســت که در میان آنان بذر، تبعیض، ترس و اســتعمار می‌پروراند. همه چیز بهتر از ادبیات به ما نمی‌آموزد که تفاوت‌ها را که تجلی قدرت آفزایش چند وجهی آدمی است بزرگ بداریم. مطالعهٔی ادبیات خوب بی‌گمان لذت بخش است؛ اما در عین حال به ما می‌آموزد که چه هستیم و چگونه ایم، با وحدت انســانی‌مان و با نقص‌های انســانی‌مان، با اعمال‌مان، رویاهامان و اوهام مان، به تنهایی مان و با روابطی که ما را به هم می‌پیوندد، در تصــویر اجتماعی‌مان و در خلوت وجدانمان. زندگی در پرتو ادبیات بهتر شــناخته و بهتر زیســته می‌شــوند. در دنیای امروز یگانه چیزی که ما را به شــناخت کلیت انســانی رهنمون می‌کند در ا دبیات نهفته اســت. این نگرش وحدت بخش این کلام کلیت بخش نه در فلاسـفه یافت می‌شـود، نه در تاریخ، نه در هنر، نه در علوم اجتماعی... جامعهٔای بی‌خبر از دانش که از ادبیات بویی نبرده، همچون جامعهٔ ای از کروگنگ‌ها دچار زبان پریشی است و به سبب زبان ناپخته و ابتدایی‌اش مشکلات عظیم در برقراری ارتباط خواهد داشت. اما مسئله تنها محدودیت کلامی نیست. محدودیت فکر و تخیل نیز در میان است. مسئله فقر و تفکر نیز هست، چرا که افکار و مفاهیم که ما به واسطه آنها به رمز و راز وضعیت خود پی می‌بریم، جدا از کلمات وجود ندارد. ما سخن گفتن درست، پرمغز، سنجیده و زیرکانه را از ادبیات خوب می‌آموزیم. در دنیای بی‌سواد و بی‌بهره از ادبیات، عشق و تمنا چیزی متفاوت با آنچه مایه‌یی ار ضای حیوانات می‌شـود نخواهـــد بود، و هرگز نمی‌تواند از حد ارضای غرایز بدوی فراتر برود (عبدالله کوثری، /Faryad.blogta.com).

ادبیات یکی از عرصـــه‌های تأثیر گزار در اجتماع اســـت. ادبیات می‌تواند ملتی را جهت دهد و به انقلاب بکشـــاند و به ســـنگر مبارزه ســـوق دهد و یا برعکس از مبارزه، حرکت و فعایت به مفاره‌های تنهایی و عزلت بکشـــاند. ادیب موفق با ابداعات هدفمند ادبی اش می‌تواند ملتی را به حرکت بیاورد و به خیزش وادار سـازد و یا در خواب سـنگین فرو گرداند. ادباء همواره در تاریخ بشرـ ملت‌ها را رهبری کرده اند و تمدن‌ها را بنیاد نهاده اند و حتا توانسته اند حرکت‌های فکری و اجتماعی را سـمت دهند. از همین رو یکی از رازهای موفقیت جریان‌های فکری و گسترش سریع آنها در میان اقشار مختلف جامعه وجود ادبیات بلند و حضــور ادباء بزرگ در لایه‌های جامعه بوده اســـت (دکتور عبدالصــبور فخری، .(.www.gaheez.af/

«ادبیات بالای به جامعه یک تأثیر والا دارد دســت آوردهای که در ادبیات وجود دارد؛ تمام افرادی جامعه از محتوای آن اســتفاده می‌کند و از آن بهره می‌برد و بخاطر آراســتن اخلاق پســندیدهٔی مردم جامعه تأثیر دارند. توســط ادبیات اخلاق ناپســند جامعه مردم عوض می‌شــود و به اخلاق و صــفات

شایسته تبدیل می‌شود. از این محتویات و شاهکاری‌ها جامعه استفاده می کند. تأثیرات بالای جامعه نشان می‌دهد.» (صالح محمد صالح، مصاحبه خصوصي، تاریخ ۲۰/۲/۱۴۰۳. یکشنبه ساعت۱۱ قبل ازظهر). « در طول تاریخ وقتی‌که ما به ادبیات پارسی نگاه می‌اندازیم و آثار ادبی آن را بررسی می کنیم؛ هر کدام شان گنجینه‌های از فرهنگ، هویت، میراث فکری و فرهنگی ما است. وقتی‌که از این میراث‌ها بهرمند شویم... یکی از هدف‌های بزرگ و یا حجم بزرگ از ادبیات پارسی ما ادبیات متاحد است. این همان ادبیات است که ارزش‌ها و آرمان‌های انسانی را ترویج می‌دهد. در واقع برای خواننده ادبیات هم احساس و عاطفه ایجاد می کند. و احساسات آنها را تحریک می کند؛ که از این آموزه‌ها و ارزش‌ها بهرمند می‌شوند یعنی همه ادبیات ما انسانیت را ترویج می کند پس اگر به ادبیات آشنایی داشته باشیم آزادی و استقلال تمدن، فرهنگ ما در تمام عرصه‌های بالا میرود و ما شاهد یک جامعه آزاد، همه پذیر، انسان محور و انسان دوست خواهیم بود.» (محمد رضایی، مصاحبه خصوصي، تاریخ ۱۷/۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۱۰ قبل از ظهر). « هر جامعه حیثیت یک سکه را دارند که از دو روی ساخته شده باطن و ظاهر جامعه که ادبیات در آنجا ریشه و پایگاه ندارند یا به حاشیه رفته آنها کمتر درگیر اخلاق است؛ ولی عیب کار نیسبت به تأثیر ادبیات بالای جامعه از گذشته بسیار قدیم تا اکنون یک روی کرد نیسبتاً خام است. چون ما در مضمون تاریخ ادبیات در دیگر شاخه های شان کوشش نمودیم که ادبیات را از نظر تاریخی نگاه کنیم؛ در کشوری مثل افغانستان که سال‌ها درگیر جنگ است ممکن است تاریخ نویسی یک مقدار جان دارانه نوشته شده باشد. می‌توانیم همان تصویر واقعی جامعه خود را از دل ادبیات بیرون کشید و با خواندن ادبیات می‌توان ساختارهای خود را بشناسیم. یک تصویر واقعی از جامعه خود بسازیم. در طول تاریخ جوامع که کمتر درگیر کشمکش بودند یگانه حرف اولی شان شعر و هنر است مخصوصاً ادبیات پارسی که مشحون از اخلاق عشق عرفان معنویت... بوده. ولی مشخصاً تأثیر ادبیات بالای جامعه در افغانستان درروزگاری کشمکش‌های که پدر پسری خود را می کشت وقتی‌که این خشنودها را می‌بینیم که جامعه و ما از نظر نبودی احساس عاطفه و رویهٔ پاک یک مقدار دورتر به حاشیه گذاشته شده است. اگر بخواهیم که جامعهٔی ما در افغانستان ملبس به لباس اخلاق؛ احساس عاطفه باشده یقیناً که این خود همان ادبیات است نه چیز دیگر. یگانه پدیدهٔ که فریاد می کشد نسبت به تبلیغ، عاطفه و احساس ادبیات است. اگر واقعاً به ادبیات چنگ زده شود بدون شک که جامعه سر شار از عاطفه و احساس محبت می‌شود؛ ادبیات همیشه در کوشش این است که انسان‌ها بدون شک که یک قدم نزدیک‌تر به سوی آدم شدن می‌روند.» (کاکا خان شاهزاده، مصاحبه خصوصی، ۱۷/۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۹ قبل از ظهر) تاثیر ادبیات بالای جامعه یک تاثیر اصلاحی است و جامعه را

به طرف شگوفایی، نیک‌بختی و به همدیگر پذیری سوق می‌دهد. تمامی غنامندی و ارزش‌های که در یک زبان نهفته اســت برای جامعه بیان می‌کند. چیزی که در این عرصــه بســیار مهم اســت؛ غنامندی ادبیات است که خودشان از جامعه غنامند می‌شود. در این صورت در خدمت جامعه است. اکثر شان در شروع بشــکل کتبی می‌آید و ماندگاری پیدا می‌کند، به همین علت تاثیرشــان فوق‌العاده اســت. حتا امروز بعضـی از جوامع والا در دنیا بر اساس ادبیات با قدامت که شـهرت جهانی پیداکرده است. از آن جمله غرب خصـوصاً یونان باسـتان است در متون کلاسـیک بسیار ادبیات غنی و گسـترده داشـته حتا نمایش نویسـی ادبیات دراماتیک یا تمثیلی بسـیار شـکل پیشرفته بوده امروز هم در این عرصـه بسـیار کاری زیاد می‌کند در شرق هم گونه‌های بسیار زیاد داریم. مثلاً: هند، جاپان، چین و به صورت قاطعانه باید گفت که سر زمین آریانای بزرگ نمونه‌های بســیار خوب از آثار قدیمی و کلاســیک ادبی وجود دارد. به همین خاطر می‌توان گفت که ادبیات بسـیار دامنهٔ گسـترده دارد و به خاطر شــناســایی تمامی مفاهیم و ارزش‌های چه تاریخی و چه فرهنگی باشد؟ ادبیات تلاش می‌کند؛ تا این مسایل را برای مردم به معرفی بگیرد.

ادبیات در حقیقت بالای جامعـــــه در افغانســتان هم تأثیرات محدود به جغرافیه خود را داشــته؛ و همچنان ما ادبیات را در جامعه افغانســتان از منظر همان آرزش‌های که داریم آن را مطرح می‌کنیم. در کُل دیده می‌شود؛ که ادبیات در جامعه افغانستان حثیت یک پُل را بـــه خود گرفته و منحیث یک پُل ارتباطی میان نســلی که در کلاســیک بوده یا دارا به نیاکان ما وصــل می‌ســازد؛ ادبیات اســت که تمام داشته‌های نیاکان را در خطه دارد. و نمونه‌های ادبیات: حماسی، غنائی، نمایشی و تعلیمی را به شـکل ادبی بیان شده در ادبیات انعکاس یافته. ادبیات مسوولیت بسیار بزرگ دارد و در حقیقت آیینهٔ یی برای جامعه است. چون تمام داشته‌ها و ارزش‌ها که نیاکان ما در ایجاد آن نقش بارز دارند، دوباره برای ما به معرفی می‌گیرد. همچنان به نســل‌های آینده نشــان می‌دهد که واقعاً در این سر زمین پهناور و تاریخی بزرگانی بودند که شـمع ادبیات هنر، فرهنگ را همیشـه به دوش گذشـته و سـتاره‌های تاب ناک در این عرصــه بوده اند که در حقیقت یک درس انگیزش برای ما و دیگران می‌دهد؛ تا ما با این انگیزهٔ جزم و پُرشور و روح عالی به پیش برویم و ادبیات را بهترین راهنما برای زنده‌گی خود بدانیم و نقش و قدم که بزرگان ما برداشته‌ها را تعقیب نماییم. این در حقیقت همان مؤرثیت فرهنگی بزرگان و نیاکان ماست که باید به نسـل آینده انتقال گردد. این وظیفه ادبیات در افغانسـتان می‌تواند باشـد( نورالله شـاداب، مصـاحبه خصوصي، ۲۰/۲/۱۴۰۳ شنبه ساعت ۸:۳۰ قبل از ظهر).

در نتیجه می‌توان گفت که زنده گی هیچ ملتی جدا از ادبیات نیست ادبیات نزد اشخاص و ملل به عنوان غذا و چاشنی زندگی مطرح بوده است و مردم از دیر زمان با رمز جاذبه ادبیات ذاتاً جذب زیبایی برخودار است و مردم را به سوی خود جذب می‌کند و با زنده‌گی عجین می‌شود. پایگاه والایی برخوردار است که نمی‌توان آنها را از زنده‌گی مردم تفکیک کرد.(hawzah,net/fa/magazine). پس باید گفت که ادبیات می‌تواند ما را از حفره‌های روان خویش آگاه سازد. ادبیات، یک جهان دیگر را پیش روی ما قرار می‌دهد؛ جهانی که در ساحت تخیل می‌تواند تلخ‌ترین و شیرین‌ترین وقایع را به تصویر کشیده و ما را با آنها آشنا سازد تا از احساس بی‌پناهی مان در مواجهه با مصائب جهان حقیقی بکاهد. ادبیات، تصویرما در آیینهٔ تخیل است که به سوی ما دست دراز کرده است!

**۷. تاثیر ادبیات بالای روح و روان انسان**

در تخیل، همه چیز ممکن است. بسیاری از ما نسبت به لذت غوطه ور شدن در دنیای تخیل آگاهی دآریم؛ دنیایی که همه چیز در آن پرشور و البته منسجم تر از آن چیزی است که در دنیای واقعی تجربه می‌کنیم. ادبیات زاهدان تخیل است و فراتر از دیگر هنرها، قدرت زایندگی دارد. مهم‌ترین کاربرد ادبیات در راستای اهداف درمانی، مطالعه به قصد رهایی و فاصله گرفتن از روزمرگ است. پناه آوردن به ادبیات می‌تواند راهکاری در جهت خارج ساختن ما رزکار زار دغدغه‌های روزمره به حساب آید؛ به نحوی که بتوانیم با شهامت و انگیزهٔ دو چند به میدان مقابله با دغدغه‌های مذکور بازگردیم. بطور مثال مطالعهٔی زمان یکی از اصلی‌ترین روش‌های تحمیل نظم به زندگی‌های نامنظم و پُر فراز و نشیب ما محسوب می‌شود. زیرا ما هم‌زمان با مطالعه، در حال زیستن هستیم؛ خواه از آن آگاه باشیم یا خیر. بنابر این ادبیات یک منبع حیاتی برای بازخوانی زنده‌گی ما محسوب می‌شود که سرشار از نکات ظریف، انسانی و در راستای حل و فصل تنازعات فردی است. از همین رو، بسیاری از داستان- به خصوص داستان‌ها کلاسیک- برکنار آمدن با درگیری‌های درونی انسان یا شرایط دشوار پیرامون او متمرکز هستند (مجید صادق حسینی، Nikaram.com). زندگی هیچ ملتی جدا از ادبیات نیست؛ ادبیات نزد اشخاص وملل، به عنوان غذای روح مطرح است و مردم از دیر زمان با آن زیسته اند و انس داشته اند، هم‌اکنون نیز این حالت وجود دارد. دامنه گسترده ادبیات و شاخ‌ها و برگ‌های آن به حدی است که هر قوم، ملتی و هر شخصی را با فرهنگ‌های مختلفی که دارند، به نوعی آن را دربر می‌گیرد. مردم ذاتاً جذب زیبایی‌های هنری می‌شوند. کاملاً هنر، نوعی شناخت زیبایی، به کارگیری زیبایی، خلق و پدید آوردن زیبایی در آثار هنری است. حس جمال طلب و زیبایی دوست در سرشت انسان به ودیعت نهاده شده است. خداوند متعال نیز، خالق زیبایی و جمال را دوست دارد. ادبیات به شکلی

مفاهیم ذهنی و احساس‌های درونی و اندیشه‌های بشری است، در قالب نافذ و گیرا و چون از زیبایی برخوردار است مردم را به سوی خود جذب می‌کند و با زندگی عجین می‌شود. از مجموعهٔ آنچه فرهنگ ملل و ادبیات را تشکیل می‌دهد، یک سرای از شعرها، داستان‌ها و مثال از چنان جایگاه و پایگاه والایی برخوردار است که نمی‌توان آنها را از زندگی مردم تفکیک کرد. مردم با ادبیات خود شان زندگی می‌کنند و ادبیات سایهٔ بر ذهن و زندگی آنها می‌افکند و از همین رهگذر است که ادبیات مردمی شکل می‌گیرد. اگر این گونه آثار ادبی، پیوند با اندیشه‌ها و باورهای مکتوبی هم داشته باشد فراگیرتر خواهد بود زیرا حس دینی و معتقدات مذهبی فراگیر ترین عنصری است که مردم را به یک‌دیگر پیوند می‌دهد و عامل ارتباط و هم‌بستگی و وحدت میان انسان‌هاست. ترجمه آثار ادبی به زبان‌های دیگر، نشانهٔ وجود روح و پیام خاصی در آنهاست که مردم دیگر هم آن محتوا را با فطرت خویش مأنوس می‌یابند. این مرز شکنی در ادبیات، علاوه بر جنبه محتوایی و غنای آن جنبه بیان زیبایی هم دارد که زمین و زمان را درمی‌نورد و یک اثر ادبی خوب متعلق به همه جهان می‌شود نه کشور یا زبان خاص. و به همین دلیل در قرون مختلف ماندگار می‌شود و به زبان‌های دیگر نیز ترجمه می‌شود. ( جواد محدثی، Srahim.blogfa.com)

در واقع ادبیات برخاسته از روح و روان انسان است. چنان که استاد بهار می‌گوید: شعر آن است که از دل بجوشد و بر دل بنشیند. ادبیات چیزی نیست جز تراوشی روحی انسان چیزی که از روح بر می‌خیزد بر روح‌های دیگر تأثیرات خود را دارد. چنانچه که ادبیات و شعر هر دو شان خاستگاه الهی دارند و هر دو شان یکجا بوجود آمده که نوعی از الهام است. پس ادبیات بالای روح روان انسان تأثیرات عمیق دارد. ادبیات چیزی نیست جز انسان سازی همیشه فریاد و شکایت از فقر، جنگ، بدبختی، تنگ دستی... برای کسان می‌کند که عامل این کارها است. در کل ادبیات مردم را بسوی انسانیت و همدیگر پذیری دعوت می‌کند. یکی از بزرگ‌ترین رسالت ادبیات انسان سازی است. تاثیر مهم دیگر آن که روح و روان انسان را آرام می‌کند و اضطراب را از بین می‌برد. (محمد رضایی، مصاحبه خصوصي، تاریخ ۱۷/۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۱۰ قبل از ظهر).

### ۸. جامعه در نبود ادبیات

وقتی‌که ادبیات در یک جامعه وجود نداشته باشد جامعه بیروح شده و روبه افول می‌رود تنها جسم‌اش باقی می‌ماند. وقتی‌که ادبیات نباشد احساسات و عواطف یک ملت خاموش می‌شود همچنان صفات ناپسند جامعه جای اخلاق پسندیده را می‌گیرد اخلاق مردم زیبایی و آراسته‌گی خود را از دست می‌دهد. و دیگر این که ادبیات زادهٔ زبان است به همین خاطر است اگر ادبیات نباشد، زبان به حالت

رکود می‌رود و زبان شـکل معیاری و هنری خود را از دسـت می‌دهد و بی ارزش می‌شـود. در نبود ادبیات جامعه دیگر هویت فرهنگی ندارد.( نورالله شاداب، مصاحبه خصوصي، ۲۰/۲/۱۴۰۳ شنبه ساعت ۸:۳۰ قبل از ظهر) در یک جامعه نبود ادبیات به این معنا ست که در آن جامعه انسان در عصر شکارگر است؛ که از اخلاق، عواطف، درک تعامل و گفتگو آگاه نیست. چون یگانه چیزی که در ادبیات وجود دارد و آن را ترویج می‌کند خُلق گفتگو، معنا و حرف است ادبیات تعامل جنگ گفتگوها اند نه جنگ اسلحه و صلاح. جنگی تعقل، تدبر، احساس و عواطف است. در جامعه افغانی وقتی‌که پدر پسر خود را می‌کُشت به معنایی این است که ما از احساس و عاطفه فاصله گرفته‌ایم اصلاً از ادبیات آگاهی نداریم. نبود ادبیات یک فاصله جبران نا پذیر است که در آن قرار داریم و آن را در جامعه تجربه می‌کنیم. اگر در این حوزه توجه نگردد. ممکن است این بی‌احساسی و بی‌عاطفه‌گی در میان جامعه از سوی دیگر روح و روان جامعه ما را از هم پراگنده می‌کند. ( کاکا خان شاهزاده، مصاحبه خصوصی، ۱۷/۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۹ قبل از ظهر.) ادبیات جلوهٔ از زبان است؛ اما سخن بالاتر از سخن عادی اند: از طرف دیگر بیان نیات انسان یا بیان مافی‌الضمیر انسان است. ولی در کُل نمی‌توانیم جامعه را تصور کنیم که در آن جامعه ادبیات وجود نداشته باشد. در معنای خاص مثلاً شعر رومان خوانده نشوده و کسی نتواند متن ادبی بنویسد هیچ کس نتواند همین احساسات و عواطف درونی خود را به نابودی رو به رو خواهد کرد.

**۹. عوامل کم رنگ بودن ادبیات**

در قسمت کم‌رنگ شدن ادبیات خصوصاً در کشور ما عوامل گوناگون دخیل است. از جمله نبودن امنیت و آرامش وقتی‌که امنیت نباشد و انسان آزادی معنوی نداشته؛ هیچ‌گاه نمی‌تواند احساسات درونی و عواطف خود را بیان کند و این سبب می‌شود که هیچ اثر ادبی خلق نگردد. عامل دیگر اقتصاد است که در آمدها مردم رو به کثرت می‌رود. همه مردم تلاش می‌کند که راهی بروند که از آن تأمین معیشت خود را کند. همین جاست که ادبیات رونق نمی‌گیرد و باعث رکود آن می‌شود، تا ادبیات یک ملت سقوط کند. عامل دیگر بیسوادی یا ضعف در قسمت زبان آموزی است. در فلسفهٔ قرن بیستم انیشتاین می‌گوید؛ محدودهٔ جهان من محدودهٔ زبان من است یعنی به هر اندازه که زبان من گسترده و بزرگ است به همان اندازه جهان من هم بزرگ است و هر کس که از زبان بهرمند نباشد و سوادی کافی از زبان خود نداشته باشد نمی‌تواند به ادبیات عادت بگیرد و از ادبیات خود بهره ببرد چون ادبیات از گذشته دور تا امروز در تحول و در تطول‌ها بوده و نیاز به یک دانش زبانی داریم تا از

ادبیات بهره‌مند شـویم و اسـتفاده اعظمی نمایم (محمد رضـایی، مصـاحبه خصـوصي، تاریخ ۱۷/۲/۱۴۰۳ پنجشنبه ساعت ۱۰ قبل از ظهر).

**۱۰. نتیجه گیری**

در این تحقیق باید ا ضافه کرد که قبل از این همه‌یی تحقیقات که درباره تاثیر ادبیات انجام داده شـده بود روی کتاب‌ها و دیگر نوشته استوار بود؛ اما ما شیوه یی دیگر را امتحان کردیم؛ بنابر این جمع آوری را از دو شیوه انجام دادیم. یکی از کتاب‌ها معتبر، مقاله‌های بین‌المللی و دیگر از راه مصاحبه و گفتگو با اسـتادان معاصر پوهنتون های معتبر در مورد مو ضوع ذیل پُرسـیدیم، و نظریات شـان را جمع آوری کرده و در قالب نثر در آوردیم.

آدامی فطرتاً طوری خلق شـــده اســت که در هر زمان و در مکان احتیاج به تربیت و ادب دارد. از زمان حضرت آدم تا حضــرت خاتم‌النبین و مرتبت، همــواره تشویش انسان بر این است که باید تعلیم، تربیت و ادب را بگیرد. به همین اســاس گفته می‌توانیم که زندگی هیچ ملتی جدا از ادبیات نیســت. ادبیات نزد اشـخاص و ملل، به عنوان غذای روح و چاشـنی زندگی مطرح بوده اسـت و مردم از دیرزمان با آن می‌زیســته اند و انس داشــته اند. دامنه ادبیات به حدی گســترده اســت که هر قوم و ملتی و هر شـخصی را با فرهنگ‌های مختلفی که دارند، به نوعی در بر می‌گیرد. نگاهی به فرهنگ مکتوب ملت‌ها (کتاب)، شـعرها و سرودها، دیوان‌های اشـعار، امثال و حکم و ضرب المثل‌ها، داسـتان‌ها وافسـانه‌ها، نقاشی‌ها، خوشنویسی‌ها ، خطاطی‌ها و هنرهای گوناگونی که به کلام و سخن و نوشته مربوط می‌شود، گستردگی دامنه ادبیات را نشان می‌دهد.

**سرچشمه‌ها**

القران کریم.
شریفی، محمد فاضل.(۱۳۸۸). ادبیات کودک در افغانستان. نشرات اکادمی علوم.
تاثیر ادبیات بر جامعه «ادبیات اجتماعی» علی غفاری **.cilica.com**.
جواد محدثی، **/Srahim.blogfa.com.**
دکتور عبدالصبور فخری، ادبیات چیست؟ **/www.gaheez.af.**
دکتر علی پور دریایی، ادبیات چگونه زندگی ما را بهبود می بخشد، **www.com.civilica.**
رحمانی، آرش. چرا مطالعه ادبیات برای جامعه ضروری است؟**Arashrahmani.blogfa.com/post/1/** .
رحمت الله روند، ژانویه/۲۰۱۷/۲۳ **Jawedn.com.s.**
ماریوبارگاس یوسا، «چرا ادبیات؟» برگردانیده عبدالله کوثری، **/Faryad.blogta.com**
مجید صادق حسینی، ادبیات و تاثیر آن بر سلامت روان، **/Nikaram.com..**
علی آبان، ادبیات چیست؟ ویکی پدیا، دانشنامه آزاد.

# مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد په وړاندې د برېښنايي حکومتوالۍ رول

پوهنمل عبدالرحيم احمدي، شيخ زايد پوهنتون، کمپيوټر ساينس پوهنځی، معلوماتي ټکنالوژۍ څانګه.
پوهنيار عبدالروف خاموش، شيخ زايد پوهنتون، کمپيوټرساينس پوهنځی، معلوماتي سيستمونو څانګه.
برېښناليک: abdurahim.ahmadi@gmail.com
برېښناليک: raufkhamosh@gmail.com

**لنډيز**

د نننۍ عصري ټکنالوژۍ په وخت کې د هېوادونو ترمنځ د برېښنايي خدماتو په برخه کې سيالي رامنځ ته شوې ده، تر څو يو له بل څخه ښه خدمات وړاندې کړي او خپل هېوادونه د نورو له محتاجۍ څخه خلاص او ازادې برنامې پر مخ يوسي. برېښنايي حکومتوالي د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ د يوه هېواد په بېلابېلو سکتورونو کې عامه خدمات وړاندې کوي او د بشر ژوند ته يې ګڼ شمېر اسانتياوې برابرې کړې دي. د عامه خدماتو وړاندې کول بغير له برېښنايي حکومتوالۍ څخه په بېلا بېلو ډولونو فساد ته زمينه برابروي. د دغه څېړنې عمده هدف په افغانستان کې د مالياتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برېښنايي حکومتوالۍ دندې ارزيابي کول دی. په ياده څېړنه کې د مختلط څېړنيز ميتود څخه کار اخيستل شوی او د نمونې اخيستنې لەپاره تصادفي او قضاوتي ميتودونه کارول شوي دي. د څېړنې پايلې په ګوته کوي چې د مالياتي خدماتو په برخه کې د بانکي حساب په پرانستلو کې (Taxpayer Identification Numbers) TIN کارول، مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول، د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول او د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم اړوند برخه کې په زياته اندازه د فساد مخه نيولې ده. د يادو پايلو پر بنسټ د هېواد مالي ادارو ته د فساد د مخنيوي او غوره عامه خدماتو وړاندې کولو په پار لازمې سپارښتنې شوې دي.

**کليدي ټکي:** برېښنايي حکومتوالي، برېښنايي خدمات، فساد، معلوماتي سېستمونه، TIN

**پېژندنه**

بِسْمِ اَللّٰهِ اَلرَّحْمٰنِ اَلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين. د برېښنايي حکومتوالۍ کارول په نننۍ عصر کې د پرمختللو او پرمختلونکو هېوادونو د پرمختګ وسيله ګڼل کېږي، چې پرمټ يې يو له بله سره د عامه، اقتصادي، تعليمي، مخابراتي، امنيتي او داسې نورو خدماتو په وړاندې کولو کې يو له بله سره سيالي کوي. همدا برېښنايي حکومتوالي ده، چې د عامو ولسونو لاسرسی حکومتي چارواکو او مسؤلينو ته رسوي تر څو د دوی غوښتنې او اړتياوې په پام کې

ونیول شي. له بله اړخه حکومتي ادارې هم د خپلو خدماتو د کیفیت لوړولو او د عام ولس رضایت او اعتبار ترلاسه کولو په پار د برېښنایي حکومتوالۍ عملي کولو ته اولیت ورکوي، ترڅو د دولتي کارونو په سرته رسولو کې شفافیت رامنځته شي، کیفیت یې لوړ شي او اړوند برخو کې د فساد مخه ونیول شي.

د افغانستان په مالیاتي او نورو ډېرو خدماتو کې هم د برېښنایي حکومتوالۍ کارولو ته ډېر ارزښت ورکړل شوی دی او په دې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه شوي دي. دولتي ادرې په خپلو اداري مراحلو کې تر ډېره بریده مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژي کاروي، ولې ځینې دولتي ادارې د عام ولس لخوا د عامه خدماتو په وړاندې کولو کې په فساد تورنې شوي دي او له خدماتو څخه یې خوښ نه دي.

د څېړنې پایلې د مالیې وزارت لهپاره د برېښنایي حکومتوالۍ له لارې د فساد په مخنیوي کې د اوږد مهاله او لنډ مهاله پلانونو او تصمیم نیولو لهپاره موثقه سرچینه کیدلی شي. همدارنګه د څېړنې پایلې په عملي کیدو سره به په افغانستان کې د فساد د مخنیوي او دولتي کارونو کې د شفافیت راوستلو او کیفیت لوړولو پالیسیو ته غنا وروبخښل شي. په دې توګه به افغانستان هم د خپلو سیالو هېوادونو سره د برېښنایي حکومتوالۍ خدماتو په وړاندې کولو کې د سیالۍ ډګر د سرلیکې خواته ځان ورسوي.

### ۱-۱ د څېړنې مسئله

فساد په افغانستان کې یوه سنجیده، پلان شوې او پیچلې مسئله ده. د اسیا فونډېشن لخوا په ۲۰۱۷ عیسوي کال ترسره شوي سروې کې ۸۳٫۷٪ سلنه ګډونوال فساد ته په افغانستان کې د یوه غټ مشکل په توګه ګوري. په یاد کال کې د فساد معلومولو محلي سروې کې د ۷۲٪ سلنه ګډونوالو لخوا په دې اخرو کلونو کې د هېواد د پرمختګ پر وړاندې فساد ډېره جدي ستونزه بلل شوې ده. سر بېره پر دې د انټیګریټې واچ ۲۰۱۸ میلادي کال راپور تر ډېره په هېواد کې په فساد او خپلولۍ پاللو ټینګار کړی دی، همدا راز د فساد پراختیا د عامو خلکو په باور باندې ډېر منفي تاثیر لري، چې د فساد محلي سروې زیاته برخه یعنې ۷۳٪ سلنه ګډونوال د هېواد په محلي ادارو او عامه خدماتو باندې بې باوره شوي دي. له بله اړخه د فساد ضد سرچینې U٤ له ادرسه په ۲۰۱۸ عیسوي کال کې افغانستان د ۱۸۰ هېوادونو ترمنځ ۱۷۲ یا اتم نمبر په فساد ککړ هېواد بلل شوی دی. همدارنګه په همدغه وخت کې نړیوال بانک هم افغانستان د نړۍ په لسو فساد ککړو هېوادونو کې شمار کړی دی [۱۰]. خو په ۲۰۱۹ عیسوي کال د شفافیت نړیوالې فساد پېژندونکې ادارې د راپور له مخې افغانستان په فساد کې د یو سلو اتیاوو هېوادونو له منځ څخه ۱۷۳ یا په فساد ککړ اووم هېواد بللی دی [۹]. سر بېره پر دې افغانستان د اداري فساد پر وړاندې د ډېرو سختو

ننګونو سره مخ دی [۸]. د سیګار ۲۰۲۰ عیسوي کال د جنوري میاشتې راپور په ګوته کوي، چې که افغانستان د خارجي مرستندویانو کومکونه غواړي اوس هم د فساد سره د مبارزې د سروې اړتیا شته [۱۱]. ددې لهپاره چې یادې ستونزې ته حل پیدا شوی وي، نو یوې څېړنې ته اړتیا ده، چې په افغانستان کې د برښنایي حکومتوالۍ رول د فساد پر وړاندې وڅېړل شي. تر څو په راتلونکي کې د برښنایي حکومتوالۍ په مرسته شفافې او لوړ کیفیت لرونکي دولتي ادارې ولرو او پر مټ یې افغاني ټولنې او سیمې ته غوره خدمات وړاندې شي.

### ۱-۲ د څېړنې موخې

د دې څېړنې عمده موخه د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد په وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ دندې ارزیابي کول دي، چې د یادې څېړنې په سروې کې د ګډونوالو نظرونه د برښنایي حکومتوالۍ رول د فساد په وړاندې تر عنوان لاندې راټول شوي دي او په لاندې فرعي موخو تمرکز کوي:

- د مالیاتي خدماتو په برخه کې د برښنایي حکومتوالۍ رول د فساد په وړاندې ارزیابي کول.
- د مالیاتي خدماتو په برخه کې د برښنایي حکومتوالۍ پرمټ د فساد د مخنیوي په پار لازمې سپارښتنې کول.

### ۱-۳ د څېړنې پوښتنې

یادې څېړنې عمده پوښتنه په مالیاتي خدماتو کې د فساد په وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ په اړه ده، چې ایا برښنایي حکومتوالي د فساد په وړاندې موثره تمامیدلای شي؟ چې په لاندې فرعي پوښتنو باندې مشتمله ده.

- ایا د مالیاتي خدماتو په برخه کې برښنایي حکومتوالي د فساد سره د مبارزې پر وړاندې رول لوبولی شي؟
- څنګه کولی شو د برښنایي حکومتوالۍ په کارولو سره په مالیاتو کې فساد له منځه یوسو؟

### ۱-٤ د څېړنې ارزښت

تر اوسه په هېواد کې د فساد پر وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ د رول په اړه ډېرې کمې څېړنې ترسره شوې دي او یاده څېړنه به په دې برخه کې نورو څېړنو ته لاره پرانیزي. د دغه څېړنې لاسته راوړنې د مالیې وزارت لهپاره خورا مهمې دي، چې پر بنسټ به یې د برښنایی خدماتو په پلانونو، پالیسیو او لوایحو کې لازم او د پام وړ اصلاحات راولي. همدارنګه د یادې څېړنې پایلې به حکومت وهڅوي چې ټول مؤسسات او شخصي شرکتونو ته د TIN (Taxpayer Identification Numbers) استعمال جبري کړي، تر څو یو خوا د دولت په عوایدو کې زیاتوالی راشي او بل طرف د دوه ګونو دندو تشخیص

اسان شي. سر بېره پر دې مالیې وزارت اړوند اداري لکه مستوفیتونه او نور به ددې څېړنې لاسته راوړنې د یوه لاربښود په توګه وکاروي تر څو د مالیاتي خدماتو په وړاندې کولو کې د عام ولس رضایت، ننګه او ملاتړ ترلاسه کړي.

### ۵-۱ د څېړنې اړتیا

څرنګه چې دا وروستۍ څو لسیزې برېښنایي حکومتوالۍ ډېر چټک پرمختګ کړی دی او د هېوادونو تر منځ رقابتونه رامنځ ته شوېدي، د دې لهپاره چې هېواد مو په برېښنایي حکومتوالۍ د پرمختګ څخه برخمن شي نو دې څېړنې ته ضرورت لیدل کیږي تر څو د مالیاتي خدماتو برخه کې هم اړوند خدمات رامنځ ته او چټک شي. دا څېړنه به د لیکوال سره په علمي ترفیع کې د یوه علمي اثر په ډول و کارول شي او داسې نور...

### تېرو لیکنو او څېړنو ته کتنه

### ۱-۲ برېښنایي حکومتوالي

برېښنایي حکومت د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ ګډ کارول دي، چې د حکومت کړنې او خدمات چټک کوي[۱]، [۱۲]. په ځانګړي ډول، برېښنایي حکومت د برېښنایي ټکنالوژۍ له داسې کارولو څخه عبارت دی، چې د حکومت اداري کارونو پرمخ وړلو کې موثریت، اغېزمنتوب او د خدماتو په وړاندې کولو کې پرمختګ رامنځ ته کړي [۱۲]. همدارنګه برېښنایي حکومت هغه حکومتي اداره په ګوته کوي، چې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ څخه په ګټه اخیستنې په کارونو کې موثریت لټوي. د نورو سره معلومات شریکوي او په اغېزمنه توګه خلکو ته خدمات وړاندې کوي [۱]. په عام ډول له محلي معلومات او خدمات په ډیجیټل یا د انټرنیټ په واسطه ښاریانو، شرکتونو او د حکومت نورو ادارو سره شریکول له برېښنایي حکومتوالۍ څخه عبارت دي، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ او انټرنېټ د کارولو څخه په استفادې دولتي خدمات ښاریانو، شرکتونو او نورو دولتي ادارو ته چټک کوي او مشتریان یې دولتي خدماتو ته څلورویشت ساعته ټوله اونۍ لاس رسی لري [۲]، [۱۳]. د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ کارولو په بې ساري ډول په دولتي خدماتو، صنعتي ادارو جوړښتونو، د معلوماتو په شریکولو کې موثریت او کیفیت ته په کتو تغییرات رامنځ ته کړي دي [۱٤]. په همدې ترتیب ویلای شو چې د ټکنالوژۍ پر مټ د ښو خدماتو، ښې حکومتوالۍ، د ښاریانو او تجارتي شرکتونو تر منځ د موثرو او اغیزناکو اړیکو جوړول، د انټرنیټ څخه په ګټه اخیستنې د کارونو تر سره کول او ښاریانو ته د معلوماتو او خدماتي کړنو لیږل له برېښنایي حکومت څخه عبارت دي [۳].

### ۲-۲ افغانستان کې فساد

که څه هم په نړۍ کې د خدماتي شرکتونو او نورو ادارو په وړاندې فساد یو د پام وړ خطر بلل کیږي، چې اقتصادي پرمختګ کمزوری کوي او د موثرې پانګونې لهپاره خنډ او مانع ګرځي [٤]. د نړۍ زیات

هېوادونه دا دوه لسيزې بېلابېل ډوله برښنايي خدمات د مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخيستنې پيل کړي دي، تر څو په خپلو داخلي کارونو او خدماتو کې پرمختګ او همدارنګه د نړيوالو تجارانو سره خپلې اړيکې غښتلې کړي [۵]. له بله اړخه د نړيوال بانک لخوا فساد د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په مقابل کې يو عمده او لوی خنډ بلل شوی دی [٦]. همدارنګه شاهين يوسف زاده او زاهيقينګ ضيا خپله ليکنه کې فساد په افغانستان کې د غټو ستونزو په سرليکه کې ياد کړی دی. نوموړی زياتوي چې افغانستان په زياته کچه له فساد څخه اغېزمن شوی هم دی [۷].
يوناما زياتوي چې په افغانستان کې زياتو بنسټونو په عين وخت کې د فساد پر وړاندې مبارزه کړې ده، چې دغه مبارزه د کوم چوکاټ يا واحد فريم ورک په نظر کې نيولو پرته د فساد پر وړاندې تر سره شوې ده. افغانستان کې د فساد پر ضد بنسټونه د مالي ستونزو او اداري کارمندانو د پوره وړتيا نه درلودلو له امله د پرمختللي فساد پر وړاندې دومره پراخ تدابير نشي نيولای، تر څو په مکمله توګه د فساد مخنيوی وکړي. همدارنګه مهم بنسټونه ازاد او مستقل هم نه بلل کيږي، ځکه چې د ولسمشر د صلاحيتونو لاندې خپل کارونه پر مخ وړي. د دې نيمګړتياوو تر څنګ بيا هم په دې نږدې تيرو کلونو کې د فساد پر وړاندې ځينې مهم اقدامات ترسره شوي دي، چې د هغوی له ډلې څخه يو د جزا قانون او دويم د افغانستان د فساد ضد ستراتيژي تصويب کول يادولی شو [۱۰]. روڼتيا او عامه کنټرول د اداري فساد سره د مبارزې بنسټيز اصول دي. دواړه اصول د برښنايي حکومتوالۍ اغېزناک فعاليت په ګوته کوي، کوم چې په ۲۱مه پيړۍ کې د خلکو او دولت ترمنځ د شفاف او حساب ورکوونکي برښنايي مواصلاتو معرفي کولوسره د اداري فساد او بيوروکراسۍ پر وړاندې د مبارزې له‌پاره نوي ميکانيزمونه وړاندې کوي[۳].

### ۳-۲ د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول:

د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول د نمونې په ډول د قزاقستان هېواد له تجربو څخه استدلال کيږي، چې ياد هېواد د برښنايي حکومتوالۍ په عملي کيدو سره د پراخ زيان او اداري فساد کمولو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري. د څېړنې پايلې په دې ټينګار کوي، چې برښنايي حکومتوالي د يوې مهمې وسيلې په صفت د فساد په کمولو کې اغېزناک رول لوبوي[۳]. همدارنګه د برښنايي حکومتوالۍ عملي کېدو او فساد تر منځ اړيکې د بنګله دېش هېواد اړوند د يوې علمي څېړنې نتايج ښيي، چې برښنايي حکومتوالي کولای شي په يوه هېواد کې د فساد کچه راټيټه کړي [۱]. همدا راز د جنوبي کوريا په هېواد کې د تر سره شوې څېړنې پايلې دا په ډاګه کوي، چې که څه هم د فساد پر وړاندې نور عوامل لکه علم، رواج، سياسي ثبات او اقتصادي پرمختګ اغېزې لري خو تر ټولو مهم يې د فساد ضد وسيلې په توګه د برښنايي حکومتوالۍ په کار اچونه معرفي شوې ده [٦]. دا چې برښنايي حکومتوالي د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ په مرسته عامه خدمات وړاندې کوي او په اړوند برخو کې د فساد مخنيوی هم کوي، چې نمونه يې د څېړنې موخو ته په کتو په لاندې برخه کې په لنډ ډول ليکل شوې ده:

## ٤-٢ د مالياتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول

مالياتي خدمات چې په يوه هېواد کې د اړوند ماليې وزارت او مستوفيتونو مربوط کيږي، د يوه هېواد عايداتو په مديريت او پرمختګ کې مهم رول لوبوي. ياد ارګانونه د مالياتو راټولولو لپاره ځانګړي او مجهز کمپيوټري معلوماتي سېستمونه کاروي، چې پر مټ يې د مالياتو راټوليدل ښه اداره کېږي. همدا راز د يادو ادارو لخوا د مامورينو لپاره ځانګړی ميکانيزم کارول کيږي تر څو د ټولو دولتي او خصوصي سکتورونو مامورينو څخه د مالياتي قوانينو او لوايحو پر بنسټ ماليه د دولت خزانې ته جمع شي او اړوند برخو کې د فساد مخه ونيول شي [۱۵].
خو که د پورته خدماتو وړاندې کولو لپاره په يوه هېواد کې د برښنايي حکومتوالۍ پاليسي شتون ونه لري، شايد له يادو خدماتو د هېواد وګړي، خصوصي او دولتي سکتورونه څه ډول چې لازمه وي ګټه پورته نه کړي. يو مامور به په عين وخت کې زياتې رسمي دندې ترسره کوي او ماليه به د يوې دندې دولت ته سپاري. همدارنګه د قوانينو خلاف خپل سري ماليات به د دولتي ارګانونو لخوا راټوليږي او د دولت خزانې ته به هم نه جمع کېږي، چې فساد ته پراخه زمينه برابروي [۱۷]. پورته ستونزو ته هغه وخت د پای ټکی ايښودل کېږي، چې په يوه هېواد کې د برښنايي حکومتوالۍ عملي کېدو له مخې د ماليې وزارت او مستؤفيتونو له ويب سايټونو د ماليې اړوند قوانين او لوايحو ته د عامو وګړيو، خصوصي او دولتي سکتورونو لاسرسی شتون ولري. د خرڅولو او اخيستلو او همدارنګه رسمي وخت کې که يو مامور ډېرې دندې ترسره کوي بايد د TIN له لارې يې د دولت خزانې ته هغومره ماليه هم جمع شي. همدارنګه اړوندو ادارو کې د مالياتي معلوماتي سيستم کارولو لپاره بايد داسې پاليسي شتون ولري، چې له مخې يې په غير قانوني توګه څوک د چا څخه ماليه نه ترلاسه او نه ورڅخه تېر شي [۱٦].

### د څېړنې کړنلاره

د څېړنې ټوله کړنلاره په لاندې ۱- شکل کې ښودل کېږي، چې مخکنۍ برخې يې وړاندې تشريح شوې او پاتې برخې به يې په ترتيب سره په لاندې برخو کې وښودل شي.




۱- شکل (د څېړنې کړنلاره)

### ۳-۱ د څېړنې ډیزاین

یاده څېړنه د ډیزاین په برخه کې د څېړنې ساحه او د نمونې اخیستولو میتود او اندازه په بر کې نیسي چې په لاندې برخو کې تشریح شوي دي.

### ۳-۲ د څېړنې ساحه

د یادې څېړنې ساحه په ملي سطح ده، چې ټول هېواد افغانستان په بر کې نیسي. یاده ساحه د انټرنیټ پر مټ د ګوکل فارم سروې له لارې تر پوښښ لاندې نیول شوې ده. همدارنګه د څېړنې اهدافو ته په کتو د مالیاتي برخې او برښنایي حکومتوالی ماهرانو او تجربه کارانو سره مخامخ، سکایپ او تلیفون له لارې مرکې ترسره شوي دي.

### ۳-۳ د نمونې اخیستنې میتود او اندازه

یاده څېړنه کې د کمي برخې اړوند تصادفي یا (Randomize) نمونې اخیستنې میتود کارول شوی، چې ټول ۲۰۰ ګډونوال په تصادفي توګه د انلاین سروې له لارې د څېرونکي لخوا غوره شوي دي. همدارنګه د کیفي برخې اړوند له قضاوتي یا (Judgmental) چې د (Purposive) نمونې اخیستلو په نوم هم یادېږي، کار اخیستل شوی دی. د دغه میتود له لارې څېرونکي د څېړنې اهدافو ته په کتو د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د مالیاتي سیستم او برښنایي حکومتوالی له تجربه کارانو سره مخامخ، سکایپ او تلیفون له لارې مرکې ترسره او د ریکارډر په ذریعه یې ریکار کړي دي.

**۳-٤ ډاټا راټول**

په دې څېړنه کې د لومړي لاس ډاټا څخه کار اخيستل شوی، چې د معلوماتو راټولولو په اوله برخه کې د ګډونوالو د پروفايل اړوند د جنسيت، عمر، تعليمي سويه چې له دولسم څخه پورته په نظر کې نيول شوي شامل دي. دويمه برخه کې د مالياتي خدماتو اړوند د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول ته په کتو د بانکي حساب په پرانېستلو کې د TIN کارول، په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول، د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول او د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم فرعي مواردو په اړه معلومات راټول شوي دي.

**۳-۵ د لومړي لاس ډاټا**

د يادې څېړنې موخو ترلاسه کولو لهپاره د لومړي لاس ډاټا ډېره اړينه وه، چې له مخې يې څېړونکي په دې وتوانيدل، تر څو د مالياتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول ارزيابي کړي. د کمي برخې لومړي لاس ډاټا د ګوګل فارم سروې له لارې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه ۲۰۰ ګډونوالو په پوره حوصله، د دوی په رضايت له څېړونکي سره شريکه کړې ده. همداراز د هېواد له بېلابېلو سيمو ۲۰ تجربه کارانو له څېړونکي سره د نيمه جوړښت لرونکو يا Semistructure مرکو له لارې د دوی د تجربو او مهارتونو له مخې معلومات شريک کړي دي.

**۳-٦ پايلې**

د يادې څېړنې پايلې د څېړنې موخو او ډاټا ته په کتو په دوو برخو کې ارايه شوي دي، چې يوه يې د کمي برخې پايلې دي او بله برخه يې د کيفي برخې پايلې دي. يادو پايلو باندې په ترتيب سره د کمي برخې د معلوماتو په تحليل کې له (Descriptive statistics) ميتود څخه کار اخيستل شوی دی، چې پايلې يې د SPSS په مرسته د شمېر، سلنې، اوسط او ګرافونو له لارې خلاصه شوې دي. همدارنګه د کيفي برخې پايلې (Qualitative Content Analysis) له مخې چې د اندازه ګيرۍ واحد يې خبره وه تحليل او خلاصه يې د پراګرافونو په ډول وړاندې شوې ده.

**۳-۷ مناقشه**

په دې برخه کې د څېړنې پايلې د يوې لنډې مفاهمې په توګه تر بحث لاندې نيول شوې دي.

**۳-۸ خلاصه او سپارښتنې**

ياده برخه کې د څېړنې پايلې د يوې خلاصې په توګه وړاندې او د څېړنې پايلو ته په کتو ګران هېواد افغانستان کې د ښې برښنايي حکومتوالۍ پلي کيدو په پار لازمې سپارښتنې شوي دي.

**د څېړنې پایلې**

د څیړنې په دې برخه کې د ګډونوالو لخوا د ځواب شوو کمي او کیفي برخو تحلیل او ارزونه ده، چې په دواړو کمي او کیفي برخو کې خلاصه کیږي.

**د کمي برخې پایلې**: د څېړنې اړوند کمي برخې پایلې په لاندې برخو کې تشریح او خلاصه شوې دي:

**٤-١ د ګډونوالو پروفایل**

د دې څېړنې ګډونوال د عمر له لحاظه ترټولو زیات شمېر ۱۲۳ تنه د ۲۱ څخه تر ۳۰ کلونو، تر منځ عمر لرونکي دي، چې د ټولو ګډونوالو ۶۱,۵٪ سلنه کیږي، ورپسې ٤۷ تنه ګډونوال د ۳۱ څخه تر ٤۰ کلونو تر منځ عمر لرونکي دي، چې د ټولو ګډونوالو ۲۳,۵٪ سلنه حسابیږي او ۲۷ تنه د ۱۸ څخه تر ۲۰ کلونو تر منځ عمر لرونکي دي، چې د ټولو ګډونوالو ۱۳,۵٪ سلنه کیږي، همدارنګه ډېر کم شمېر چې شمېر یې ۳ تنه کیږي د ٤۱ څخه تر ۵۰ کلونو، تر منځ عمر لرونکي ګډونوال دي، چې د ټولو ګډونوالو له جملې څخه ۱,۵٪ سلنه جوړوي. که څه هم د یادو عمرونو لرونکو ګډونوالو شمېر او سلنه یو تربله توپیر لري، خو له ۵۰ کلونو زیات عمر لرونکو کسانو په دې څېړنه کې ګډون ندی کړی. سر بېره پر دې، په یاده څېړنه کې ګډونوال تر ډېره د ماستري په کچه لوړې زده کړې لري، چې شمېر یې ۷۵ تنه او د ټولو ګډونوالو ۳۷,۵٪ سلنه جوړوي. ورپسې د لیسانس تر کچې لوړو زده کړو لرونکي دي، چې شمېر یې ۷۲ تنه کیږي او د ټولو ګډونوالو له جملې څخه ۳٦,۰٪ سلنه حساب شوي دي. همدارنګه ۳۹ تنه ګډونوال دولسم پاسان دي، چې د ټولو ګډونوالو له جملې څخه یې ۱۹,۵٪ برخه نیولې او په کم شمېر ګډونوال د دوکتورا لوړې زده کړې لري، چې شمېر یې ١٤ تنه دي او د ټولو ګډونوالو ۷,۰٪ سلنه حسابیږي. د ګډونوالو پروفایل په اړه خلاصه په لاندې ۱- جدول کې د شمېر او سلنې له مخې وړاندې شوې ده:

۱- جدول (د ګډونوالو پروفایل)

| عمومي شاخصونه | فرعي شاخصونه | شمېر | سلنه |
|---|---|---|---|
| | د ۱۸ تر ۲۰ کلونو تر منځ | 27 | 13.5 |
| | د ۲۱ تر ۳۰ کلونو تر منځ | 123 | 61.5 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| عمر | د ۳۱ تر ٤٠ کلونو تر منځ | 47 | 23.5 |
| | د ٤١ تر ٥٠ کلونو تر منځ | 3 | 1.5 |
| | له ٥٠ کلونو زیات | 0 | 0.0 |
| زده کړې | دولسم پاس | 39 | 19.5 |
| | لیسانس | 72 | 36.0 |
| | ماستر | 75 | 37.5 |
| | دوکتورا | 14 | 7.0 |

**٤-٢ د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول**

د مالیاتو په برخه کې د برښنایي حکومتوالۍ خدمات د هېواد په پرمختګ کې مهم رول لري او افغانستان چې د برښنایي حکومتوالۍ پرمټ په ډېر لږ وخت کې د مالیاتي خداماتو وړاندې کولو جوګه شو اړوند برخه کې یې د فساد پر وړاندې مثبت رول لوبولی، چې په لاندې برخو کې تشریح شوې دي:

**٤-٢-١ د بانکي حساب په پرانیستلو کې د TIN کارول**

د څېړنې موندنې په ګوته کوي، چې ترټولو زیات ګډونوال، چې شمېر یې ۹۹او د ټولو ګډونوالو ٤٩,٥٪ سلنه جوړوي، په دې فکر دي چې د بانکي حساب په پرانستلو کې د TIN کارول اړوند برخه کې په زیاته اندازه د فساد مخه نیولې ده. همدار راز ۵۵ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۲۷,٥٪ سلنه کیږي په دې اند دي، چې د بانکي حساب په پرانیستولو کې په حتمي توګه د TIN کارولو اړوند برخه کې په بې ساري توګه د فساد مخه نیولې ده. سر بېره پر دې، ۳۱ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ١٥,٥٪ سلنه کیږي په دې باور دي، چې د بانکي حساب په پرانېستلو کې د TIN کارولو اړوند برخه کې په متوسطه اندازه د فساد مخه نیولې ده. همدارنګه، ۱۱ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ٥,٥٪ سلنه کیږي په دې فکر دي چې د بانکي حساب په پرانیستلو کې د TIN کارولو په اړوند برخه کې په کمه اندازه د فساد مخه نیولې ده. خو په ډېر لږ شمېر ګډونوالو، چې شمېر یې ٤ او د ټولو ګډونوالو ۲,٠٪ سلنه جوړوي په دې ټینګار کړی، چې د بانکي حساب پرانېستلو د TIN کارول اړوند برخه کې هیڅ د فساد مخه نیولې نه ده.

له بله اړخه، د څېړنې د کیفي برخې پایلې په ډاګه کوي، چې د بانکي حساب په پرانیستو کې د TIN کارول د برقي حکومتوالی بنسټ دی، چې له مخې یې د هر مامور څخه د هېواد د مالیاتو پالیسیو سره سمه مالیه اجرا کیږي. بله مهمه خبره پکې دا ده چې دولت ډېر په اسانی سره توانیدلی شی، چې د مامورینو په اړه که له یوې څخه زیاتې دندې ولري شواهد پیدا او دوهم معاش پرې وځنډوي. دې کار په اړوند برخه کې تر ډېره د فساد مخه نیولې او شفافیت هم رامنځ ته شوی دی. د پورته احصایوي پایلو خلاصه د شمېر او سلنې له مخې په ۲-جدول او ۲-شکل کې ښودل شوې ده:

۲- جدول (د بانکي حساب په پرانستلو کې د TIN کارول)

| د اندازه کولو واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هیڅ نه | 4 | 2.0 |
| په کمه اندازه | 11 | 5.5 |
| په متوسطه توګه | 31 | 15.5 |
| په زیاته اندازه | 99 | 49.5 |
| په بې ساري توګه | 55 | 27.5 |
| ټول | 200 | 100 |




۲- شکل ( د بانکي حساب په پرانستلو کې د TIN کارول)

## ۲-۲-٤ په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول

د څېړنې موندنې په ګوته کوي، چې ۸۷ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ٤۳,٥٪ سلنه جوړوي، په دې باور دي، چې د هېواد په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول اړوند برخه کې په زياته اندازه د فساد مخه نيولې ده. د دې ترڅنګ ٦۳ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ۳۱,٥٪ سلنه حسابيږي په دې ټينګار کوي، چې د هېواد په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول په اړوند برخه کې په بې سارې توګه د فساد مخه نيولې ده. سربېره پر دې، ٤۱ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ۲۰,٥٪ سلنه کيږي، دوی په دې فکر دي، چې د هېواد په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارولو په متوسطه توګه د فساد مخه نيولې ده. علاوه پر دې، ۸ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ٤,۰٪ سلنه جوړوي، دوی په دې ټينګار کوي، چې د هېواد په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارول اړوند برخه کې په کمه اندازه د فساد مخه نيولې او شفافيت رامنځته شوی دی. مګر يواځې ۱ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۰,٥٪ سلنه جوړوي، په دې خيال دی چې د هېواد په مستوفيتونو کې د معلوماتي سېستمونو کارولو د فساد مخه هيڅ نيولې نه ده. له بله اړخه، د څېړنې کيفي برخې پايلې دا په ګوته کوي، چې معلوماتي سېستمونو د هېواد مستوفيتونو اړوند مالياتو په اړه ريکارډ ساتلو کې مهم رول لوبولی دی او اړوند برخه کې تر ډېره د فساد مخه هم نيول شوې ده، چې پر مټ يې په منظم ډول له شرکتونو، دوکانونو او داسې نورو کاروباريانو ماليه د يوه سيستم له مخې راټوليږي او د دولت خزانې يعنې بيت المال ته جمع کيږي. د پورته احصايوي پايلو خلاصه د شمېر او سلنې له لورې په ۳-جدول او ۳-شکل کې ښودل شوې ده:

۳- جدول (مستوفيتونو کې د معلوماتي سيستمونو کارول)

| د اندازه کولو واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هېڅ نه | 1 | 0.5 |
| په کمه اندازه | 8 | 4.0 |
| په متوسطه توګه | 41 | 20.5 |
| په زياته اندازه | 87 | 43.5 |
| په بې سارې توګه | 63 | 31.5 |
| ټول | 200 | 100 |




۳- شکل (مستوفيتونو کې د معلوماتي سيستمونو کارول)

### ۳-۲-٤ د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول

د څېړنې موندنې ښيي، چې ۹۳ ګډونوال چې د ټولو ګډونوالو ٤٦,٥٪ سلنه کيږي، په دې ټينګار کوي، چې د ماليې وزارت له ويب سايټ څخه د قوانينو او لايحو خپرولو په اړوند برخه کې په زياته اندازه د فساد مخه نيولې ده. د دې ترڅنګ ۵۲ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۲٦,۰٪ سلنه کيږي، په دې نظر دي چې د ماليې وزارت له ويب سايټ څخه د قوانينو او لوايحو خپرولو په اړوند برخه کې په بې ساري توګه د فساد مخه نيولې ده. همدا رنګه ۳٦ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۱۸,۰٪ سلنه جوړوي، په دې باور دي، چې د ماليې وزارت ويب سايټ له طريقه د قوانينو او لوايحو خپرولو په اړوند برخه کې په متوسطه توګه د فساد مخه نيولې ده. سر بېره پر دې ۱۸ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۹,۰٪ سلنه حسابيږي، په دې تمرکز لري، چې د ماليې وزارت ويب سايټ له لارې قوانينو او لوايحو خپرولو اړوند برخه کې په کمه اندازه د فساد مخه نيولې ده. يواځې ۱ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۰,۵٪ سلنه جوړوي، تصور کوي، چې د ماليې وزارت له ويب سايټ څخه د قوانينو او لوايحو خپرولو په اړوند برخه کې هيڅ د فساد مخه نيولې نه ده. له بله اړخه د څېړنې کيفي برخې پايلې دا په ډاګه کوي، چې د دولتي ادارو له ويب سايټونو د قوانينو او لوايحو په اړه تازه معلومات خپرول د برښنايي حکومتوالۍ ابتدايي حالت دی. د ماليې وزارت د ويب سايټ له لوري د ماليې په اړه د قوانينو او لوايحو څخه د کاروباريانو، شرکتونو، مامورينو او داسې نورو... خبرولو په اړوند برخه کې د فساد مخنيوی کړی دی. د پورته ذکر شويو احصايوي پايلو خلاصه د شمېر او سلنې له مخې په لاندې۴-جدول او ۴-شکل کې ښودل شوې ده:

۴- جدول (د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول)

| د اندازه کولو واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هیڅ نه | 1 | 0.5 |
| په کمه اندازه | 18 | 9.0 |
| په متوسطه توګه | 36 | 18.0 |
| په زياته اندازه | 93 | 46.5 |
| په بې سارې توګه | 52 | 26.0 |
| ټول | 200 | 100 |




۴- شکل (د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول)

### ٤-٢-٤ د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم

د څېړنې موندنې په ګوته کوي، چې تر ټولو زيات ګډونوال، چې شمېر يې ۱۰۳ او د ټولو ګډونوالو ۵۱,۵٪ کېږي، په دې اند دي، چې د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم په اړوند برخه کې په زياته اندازه د فساد مخه نيولې ده. د دې ترڅنګ ٦١ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۳۰,۵٪ سلنه جوړوي، په دې نظر دي، چې د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم اړوند برخه کې په بې ساري توګه د فساد مخه نيولې ده. سر بېره پر دې ۲۷ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ۱۳,۵٪ سلنه کيږي، دوی په دې باور دي چې د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم په اړوند برخه کې په متوسطه توګه د فساد مخه نيولې ده. سر بېره پر دې ۸ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو ٤,۰٪ سلنه کيږي، په دې فکر دي چې د ماليې

وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم په اړوند برخه کې په کمه اندازه د فساد مخه نيولې ده. مګر يواځې ۱ ګډونوال، چې د ټولو ګډونوالو يواځې ۰,۵٪ سلنه جوړوي، په دې نظر دی، چې د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم په اړوند برخه کې د فساد هيڅ مخه نيولې نه ده. له بله اړخه د څېړنې کيفي برخې پايلې په ډاګه کوي، چې افغانستان کې کمپيوټري مالياتي سېستمونه د برښنايي حکومتوالۍ پرمختللې پړاو دی، چې په اړوند برخه کې يې ګڼ شمېر سهولتونه رامنځ ته کړي او په بې ساري کچه يې د فساد مخه نيولې ده. د پورته احصايوي پايلو خلاصه د شمېر او سلنې له مخې په لاندې ۵-جدول او ۵- شکل کې ښودل شوې ده.

۵- جدول (د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم)

| د اندازه کولو واحد | شمېر | سلنه |
|---|---|---|
| هيڅ نه | 1 | 0.5 |
| په کمه اندازه | 8 | 4.0 |
| په متوسطه توګه | 27 | 13.5 |
| په زياته اندازه | 103 | 51.5 |
| په بې ساري توګه | 61 | 30.5 |
| ټول | 200 | 100 |




۵-شکل (د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم)

### ٤-٢-٥ د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پروړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول مقایسوي پایلې

د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول په اړه د څېړنې مقایسوي پایلې د اوسط له مخې ښیي، چې په لومړۍ کټګورۍ کې تر ټولو زیات د مالیې وزارت کمپیوټري مالیاتي سیستم کارولو د فساد مخه نیولې ده او اوسط یې ٤,٠٨ دي. ورپسې دوهمه کټګورۍ کې مستوفیتونو کې د معلوماتي سیستمونو کارولو د فساد مخه نیولې ده، چې اوسط یې ٤,٠٢ دی. همدارنګه درېیمه کټګورۍ کې د بانکي حساب په پرانېستلو کې د TIN کارول په زیاته اندازه د فساد مخه نیولې ده، چې اوسط یې ٣,٩٥ حساب شوی او په څلورمه کټګورۍ کې د مالیې وزارت ویب سایټ څخه د قوانینو خپرولو د فساد مخه نیولې چې اوسط یې ٣,٨٨ دی.

له بله اړخه د کیفي برخې موندنې د پورته پایلو ملاتړ کوي او زیاتوي، چې په اړوند برخو کې یې د فساد مخه نیولې او شفافیت رامنځ ته شوی دی. د یادو مقایسوي پایلو خلاصه د شمېر او اوسط له مخې په ٦- جدول کې ښودل شوي ده.

٦-جدول (د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پروړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول مقایسوي پایلې)

| د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پروړاندې د برښنایي حکومتوالۍ رول | شمېر | اوسط |
|---|---|---|
| د بانکي حساب په پرانستلو کې د TIN کارول | 200 | 3.95 |
| مستوفیتونو کې د معلوماتي سیستمونو کارول | 200 | 4.02 |
| د مالیې وزارت ویب سایټ څخه د قوانینو خپرول | 200 | 3.88 |
| د مالیې وزارت کمپیوټري مالیاتي سیستم کارول | 200 | 4.08 |

### ٣-٤ د کیفي برخې پایلې

د څېړنې اړوند کیفي برخې پایلې په لاندې برخو کې خلاصه شوي دي:

### ۱-۳-٤ د مالياتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برېښنايې حکومتوالۍ رول

د مالياتو په برخه کې د برښنايي حکومتوالۍ خدمات د هېواد په پرمختګ کې مهم رول لري، او ګران هېواد افغانستان چې د برښنايي حکومتوالۍ پرمتې په ډېر لږ وخت کې د مالياتي خدماتو وړاندې کولو جوګه شو په اړوند برخه کې يې د فساد پر وړاندې مثبت رول لوبولی، چې په لاندې برخو کې تشريح شوي دي.

### ۲-۳-٤ د بانکي حساب په پرانېستلو کې د TIN کارول

د څېړنې موندنې ښايي، چې "د دولتي، نيمه دولتي او خصوصي سکتور څخه د معاشاتو په برخه کې د ماليې راټولول کولای شي دولت په مالي برخه کې حمايه کړي" (۱٦ تجربه کارانو ويلي)." ياده برخه کې شفافيت هغه وخت رامنځ ته کېدای شي، چې د بانکي حساب په پرانيستو کې TIN وکارول شي او له مخې يې له هر مامور څخه د هېواد د مالياتو پاليسيو سره سمه ماليه اجرا شي" (۱۸ تجربه کارانو ويلي). "په دې وسيله به دولت ډېر په اسانۍ سره وتوانيږي، چې د مامورينو په اړه که له يوې څخه زياتې دندې ولري شواهد پيدا او دوهم معاش پرې وځنډوي، چې دې کار په اړوند برخه کې تر ډېره د فساد مخه نيولې او شفافيت هم رامنځ ته شوی دی" (۱۷ تجربه کارانو ويلي).

### ۳-۳-٤ مستوفيتونو کې د معلوماتي سيستمونو کارول

د څېړنې پايلې څرګندوي، چې "د برښنايي حکومتوالۍ خدمات اکثره د معلوماتي سېستمونو پر مټ وړاندې کيږي" (۱۷ تجربه کارانو ويلي). همدا راز "معلوماتي سيستمونو د هېواد مستوفيتونو اړوند مالياتو په اړه ريکارډ ساتلو کې مهم رول لوبولی دی" (۱۹ تجربه کارانو ويلي). "د يادو سيستمونو په بنسټ د يوه ميکانيزم له لارې په منظم ډول له شرکتونو، دوکانونو او داسې نورو کاروباريانو ماليه راټوليږي او د دولت خزانې يعنې بيت المال ته جمع کيږي" (۱٦ تجربه کارانو ويلي). نو ويلي شو "چې د معلوماتي سيستمونو کارول ياده برخه کې تر ډېره د فساد مخه نيولې ده او شفافيت رامنځ ته شوي دی " (۱۹ تجربه کارانو ويلي).

### ٤-۳-٤ د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرول

د څېړنې موندنې ښايي "د دولتي ادرو له ويب سايټونو د قوانينو او لوايحو په اړه تازه معلومات خپرول د برښنايي حکومتوالۍ لومړنی حالت دی" (۱۷ تجربه کارانو ويلي). ″د ماليې وزارت ويب سايټ له لوري د ماليې په اړه قوانينو او لوايحو څخه د کاروباريانو، شرکتونو، مامورينو او داسې نورو... اړوند برخه

کې د خبراوي په موخه خدمات وړاندې کيږي" (۱۸ تجربه کارانو ويلي). د ۲۰ تجربه کارانو څرګندونې په نښه کوي چې "د ماليې وزارت ويب سايټ څخه د قوانينو خپرولو په اړوند برخه کې يو څه د فساد مخنيوی کړی دی، ځکه له دوی څخه څوک د قانون خلاف ماليه نشي اخېستلی او نه د ماليې ورکولو انکار کولای شي".

### ۵-۳-٤ د ماليې وزارت کمپيوټري مالياتي سيستم

د څېړنې موندنې ښايي چې "د برښنايي حکومتوالۍ عملي کيدو ته د وزارتونو په کچه د خدماتو وړاندې کيدو په پار د کمپيوټري معلوماتي سيستمونو کارول اړين دي" (١٦ تجربه کارانو ويلي). "په افغانستان کې د وزارت په سطحه د کمپيوټري مالياتي سيستمونو کارول د برښنايي حکومتوالۍ پرمختللی پړاو دی، چې پر مټ يې د ټول ملک لەپاره مالياتي چارو کې تنظيمات او ګڼ شمېر سهولتونه رامنځ ته شوي دي" (۱۷ تجربه کارانو ويلي). "ياد خدمت په اړوند برخه کې په بې ساري توګه د فساد مخ نيوی کړی دی" (۲۰ تجربه کارانو ويلي).

## مناقشه او نتيجه ګيري

### ۵-۱ مناقشه

د نوموړې څېړنېزې رسالې منځپانګې ته په کتو سره دې پايلې ته رسېږو، چې د يوه هېواد د مالياتي خدماتو په برخه کې د برښنايي حکومتوالۍ عملي کول او پر مټ يې خدمات وړاندې کول د هغه هېواد د پرمختګ سبب ګرځي. که څه هم په تېرو کلونو کې پرمختګ ته په کتو، د هېواد په مالياتي برخو کې د برښنايي حکومتوالۍ څه سېستمونه رامنځ ته شوي دي، چې پر مټ يې هېوادوالو ته خدمات وړاندې کېږي. دا څېړنه چې د مالياتي خمدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول ارزيابي کولو باندې تمرکز کوي په دوه ډوله پايلو مشتمله ده، چې يوه يې د کمي برخې پايلې او دوهمه يې د کيفي برخې پايلې دي. خوشبختانه ويلی شو، چې يادې پايلې يو د بل ننګه او ملاتړ لري. د څېړنې ميتود ته په کتو د کمي برخې پايلې د کيفي برخې په پايلو حمايه شوي دي. د څېړنې اړوند تيرو اثارو ته په کتو برښنايي حکومتوالي د فساد په وړاندې په مختلفو برخو کې مثبت رول لرلای دی، چې د يادې څېړنې پايلې نورې هم حمايه او د څېړنې ارزښت په ګوته کوي [۴]. د دې تر څنګ د تيرو اثارو نورې څېړنې هم ورته نظر لري چې برښنايي حکومتوالي د فساد په وړاندې مثبت رول لرلای دی او د يادې څېړنې د پايلو ننګه او ملاتړ کوي [۲] او [۱۸].

## ۵-۲ نتیجه ګیري او خلاصه

په مخکني جدول کې د کمي برخې پایلو مقایسه د اوسط له مخې ترسره شوې ده، مقایسوي پایلې چې د فرعي برخې اړوند په پام کې نیول شوې د اوسطونو دوباره اوسط نیولو له مخې ښودل کېږي. د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې برښنايي حکومتوالۍ رول لوبولی، چې اوسط یې **۳,۹۸۲۵** دی. د یادې پایلې خلاصه د اوسط له مخې په لاندې ۵-۱ جدول کې ښودل شوې ده.

۵-۱ جدول (د څېړنې خلاصه او نتیجه ګیری)

| دمالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پر وړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول | اوسط |
|---|---|
| د مالیاتي خدماتو په برخه کې د فساد پروړاندې د برښنايي حکومتوالۍ رول | 3.9825 |

باید یادونه وکړو چې پورته ۵-۱ جدول کې پایلې د کیفي برخې پایلو په واسطه په عمومي او فرعي برخو کې حمایه شوې او تائیدوي یې. دا چې د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ په مرسته د خدماتو وړاندې کول له برښنايي حکومتوالۍ څخه عبارت دي، د څېړنې پایلې په ډاګه کوي چې که څه هم د مالیاتي خدماتو په برخه کې د برښنايي حکومتوالۍ خدمات لا تر اوسه په ابتدايي حالت کې دي، خو د فساد پر وړاندې یې مهم رول لوبولی دی. پایله ښيي، چې د مالیاتي خدماتو په برخه کې د بانکي حساب په پرانیستلو کې د TIN کارول، مستوفیتونو کې د معلوماتي سیستمونو کارول، د مالیې وزارت ویب سایټ څخه د قوانینو خپرول او د مالیې وزارت کمپیوټري مالیاتي سیستم کارول خدماتو په اړوند فرعي برخو کې په زیاته اندازه د فساد مخه نیولې ده.

## ۵-۳ وړاندیزونه

۱. برښنايي حکومتوالي په ګران هېواد افغانستان کې تر اوسه نوې ده، یاده څېړنه به د برښنايي حکومتوالۍ په برخه کې نورو څېړنو ته دروازه پرانیزي، تر څو یاده برخه کې په راتلونکي کې نورې څېړنې هم ترسره شي.

۲. د یادې څېړنې موندنې د مالیې وزارت لهپاره د برښنايي حکومتوالۍ په اساس د مالیاتي خدماتو په وړاندې کولو کې خورا مهمې ثابتیدلی شي، چې له مخې به یې اړوند برخه کې شفافیت او پرمختګ رامنځ ته شي.

۳. د ماليي وزارت ته وړانديز کيږي تر څو په ټولو موسساتو او شخصي شرکتونو کې د TIN پروسه جبري کړي، په دې سره به د مالياتو په راټولولو کې زياتوالی راشي او بل طرف به د دوه ګوونو وظيفو مخنيوی شوی وي او بې کاره هېوادوالو ته به د کار زمينه مساعده شوي وي.

٤. همدا راز د دې څېړنې موندنو په بنسټ د افغانستان لوړو زده کړو وزارت کمپيوټر ساينس پوهنځي کريکولم کې د اړتيا په بنسټ وړانديز کيږي، چې ياد کريکولم کې د اوسني وخت اړتياوو او غوښتنو ته په کتو د بريښنايي حکومتوالۍ په نوم مضمون ور اضافه او ځای پر ځای شي. ترڅو له پوهنځي څخه فارغيدونکي محصلين د دې توانايي ولري، چې د برښنايي حکومتوالۍ په برخه کې خپله مسلکي وړتيا ښکاره او اړوند برخه کې د هېواد پرمختګ ته غنا وروبخښي.

۵. سر بېره پر دې، په هېواد کې ټولو وزارتونو ته سپارښتنه کېږي، چې خپل اړوند ويب سايټونه د بريښنايي حکومتوالۍ په پرټالونو بدل کړي، تر څو هېوادوال وکولای شي د اړوندو وزارتونو خدماتو ته له هره ځايه په هر وخت کې لاسرسی ولري او له ورتللو پرته خپل کارونه پر مخ يوسي.

٦. د ماليې وزارت ته وړانديز کېږي، چې د هېواد په کچه د ګمرکونو يو ګډ انلاين سيستم چې کنترول يې هم له ياد وزارت څخه ترسره کېږي، ايجاد کړي. په دې نوښت سره به د ګمراکاتو له لارې د مالياتو راټوليدو کې شفافيت زيات او فساد به د صفر کچې ته ښکته شي.

### ۴-۵ مأخذونه


1. Seo JW, Mehedi HM. E-government efforts against corruption in Bangladesh: What we have done and what we have to do. Governance and Development. 2016:141.
2. Ojha A, Palvia S, Gupta MP. A model for impact of e-government on corruption: Exploring theoretical foundations. Critical thinking in e-governance. 2008:160-70.
3. Sheryazdanova GR, Abdina AK, Abdildina HS, Kakimzhanova MK, Sadykova TM, Gappasova AG. Development of electronic government in Kazakhstan as a tool to combat corruption. Indian Journal of Science and Technology. 2016 Feb;9(5):1-7.
4. Abu–Shanab EA, Harb YA, Al–Zoubi SY. E–government as an anti–corruption tool: citizens perceptions. International Journal of Electronic Governance. 2013 Jan 1;6(3):232-48.
5. Park CH, Kim K. E-government as an anti-corruption tool: Panel data analysis across countries. International Review of Administrative Sciences. 2020 Dec;86(4):691-707.

6. Iqbal MS, Seo JW. E-governance as an anti corruption tool: Korean cases. 한국지역정보화학회지. 2008 Jun;11(2):51-78.
7. Yusufzada S, Xia Z. Public administration in Afghanistan: challenges and way forward. Open journal of social sciences. 2019 Jun 3;7(6):142-60.
8. Bashardost Z, Ahmadi J. The Main Challenges of Public Management in Afghanistan and the Possible Solutions. Journal of Social and Political Sciences. 2019 Nov 7;2(4):865-75.
9. Bjelica J. Afghanistan's Anti-Corruption Institutions: Too many, and with too few results. Afghanistan Analysts Network. 2019 May 20.
10. Bak M. Corruption in Afghanistan and the role of development assistance. Transparency International.; 2022.
11. SPECIAL INSPECTOR GENERAL FOR AFGHANISTAN RECONSTRUCTION ARLINGTON VA. Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction, USAID's Afghanistan Development Assistance for Legal Access and Transparency Program: Audit of Costs Incurred by Checchi and Company Consulting Inc.
12. Teo TS, Srivastava SC, Jiang LI. Trust and electronic government success: An empirical study. Journal of management information systems. 2008 Dec 1;25(3):99-132.
13. Von Haldenwang C. Electronic government (e-government) and development. The European journal of development research. 2004 Jun 1;16:417-32.
14. Galloway L, Mochrie R. The use of ICT in rural firms: a policy-orientated literature review. info. 2005 Jun 1;7(3):33-46.
15. Talab HR, Maki MI, Mohammed YN, Flayyih HH, Ibrahim AM. The role of e-Government on corruption and its impact on the financial performance of the government: An empirical analysis on the Iraqi government. Journal of Engineering and Applied Sciences. 2019;14(4):1349-56.
16. Ramaswamy M, Selian AN. The role of E-government in combating corruption in transition countries. Issues in Information Systems. 2009;10(2):66-75.
17. Ntulo G, Otike J. E–government: Its role, importance and challenges. School of Information Sciences. MoiUniversity. 2013;1:16.
18. Iqbal MS, Seo JW. E-governance as an anti corruption tool: Korean cases. 한국지역정보화학회지. 2008 Jun;11(2):51-78.

# The Role of E-Governance as Anti-Corruption Tools in Financial Services

Senior Teaching Assistant Abdul Rahim Ahmadi Shaikh Zayed University, Computer Science Faculty, Information Technology Department.
Email: abdurahim.ahmadi@gmail.com
Teaching Assistant Abdurauf Khamosh Shaikh Zayed University, Computer Science Faculty, Information Systems Department.
Email: raufkhamosh@gmail.com.

## Abstract

In today's modern technological landscape, competition has arisen between countries in the field of electronic services, aimed at providing better services than one another and making their nations less reliant on external assistance. Electronic governance offers public services across different sectors of a country, leveraging communication and information technology, and has significantly facilitated human life. The unavailability of e-governance opens the door to various forms of corruption. This study's primary objective is to evaluate the role of e-governance in combating corruption within the tax services sector in Afghanistan. A mixed research method was employed, utilizing both random and judgmental sampling techniques. The research findings indicate that the use of Taxpayer Identification Numbers (TIN) for opening bank accounts, the implementation of information systems in government offices, the publication of laws on the Ministry of Finance's website, and the computerized tax system of the Ministry of Finance have all contributed to reducing corruption in the relevant sector. Based on these findings, necessary recommendations have been made to the country's financial organizations to further prevent corruption and enhance public service delivery.

**Keywords**: Electronic Government, Electronic Services, Corruption, Information Systems, TIN.

**The influence of literature on society in Afghanistan**

Hedayatullah Salim student of Shaikh Zayed University, Language and Literature Faculty, Persian-Dari Department.
**Email:** hedayatullahsalim@gmail.com

**Abstract**

Whenever for humans, the prophet of the world or anyone else who came as a guide to the people, their only task was to call to the oneness of God Almighty, literature bears a large part of this responsibility. Literature is to reveal the hidden human feelings and bring people to beautiful and boundless horizons. Literature, in fact, is still a ship that takes a person to the middle of the flood waves of human thoughts, and a person speaks with the most honest expression of his soul, which is stretched towards perfection and a far-far-away goal. Man is on the path of his evolutionary movement, which needs strength to overcome the critical stages of his spirituality and increase his power of movement, and literature is capable of reviving this divine hymn in the human soul, a hymn that praises the speed of movement and the beauty of horizons and peace and the settlement adds to the spirit. Also, literature is one of the influential fields in society. that literature can direct a nation and lead it to revolution and lead it to the stronghold of struggle, or on the contrary, it can lead it from struggle, movement and action to loneliness and seclusion. A successful writer with his purposeful literary innovations can move a nation and force it to rise or drown it in a deep sleep. A society in which literature, like a shameful corruptor, is pushed to the corner of a person's social and private life and becomes a vessel of isolationism, is a society condemned to spiritual brutality and even endangers its freedom. When a society does not have literature, that society is like soulless, literature is the soul of a society as a whole, if it is not, the society will die and only its body will remain. When there is no literature, the feelings and emotions of a nation are silenced, and the undesirable traits of the society take the place of the good morals, and the morals of the people lose their beauty and elegance.

**Keywords:** literature, influence of literature, society, Afghanistan and spirit.

# Means of Forgiveness of Sins in the Light of Islamic Shariah

Teaching Assistant Muhammad Ishaq Shahzad, Paktika Higher Education Institute, Faculty of Education, Department of Islamic Culture.

Email: ishaqshahzad821@gmail.com

**Abstract**

It is clear that all human beings, except the prophets (peace be upon them), are sinful. Therefore, in order to avoid the punishment of the hereafter and to attain salvation, Islam has provided means and opportunities for forgiveness, through which Allah, the Almighty, showers his mercy and forgiveness upon his servants, and enables them to become worthy of his forgiveness. These means include: repentance, seeking forgiveness, prescribed punishments, Calamites, compensation for sin and performing good deeds. The successful person is the one who takes advantage of these opportunities and saves himself from the fire of hell, and becomes worthy of entering paradise. It is evident that repentance is the most important of these means, through which Allah, the Almighty, forgives the sins of his servants and shows them his great mercy. Therefore, a Muslim should repent immediately after committing a sin, because one does not know when death will come, and should make seeking forgiveness, performing good deeds, and persevering through hardships a part of their daily routine, as these are all means of seeking forgiveness.

**Keywords**: Islamic Shariah, Seeking Forgiveness, Forgiveness, Repentance, Sins, Means.

**Afghanistan's geographical location and its role in development**

Teaching Assistant Nazir Gul Sidiqi Shaikh Zayed University, Social Science Faculty, Department of History and Geography.

**Email:** nazirgul.sidiqi@gmail.com

## Abstract

The dear country of Afghanistan has a special geographical location. The country is located between three economic, cultural and geopolitical divisions of the region, South Asia to the south and east, Central Asia to the north and Iran to the west. Afghanistan, which lies between these three regions, although these regions, especially Central Asia and South Asia, can open many opportunities for each other, but due to the lack of reliable transportation routes and necessary communication routes, they Very few have been able to do profitable and constructive business, although they have cultural ties with each other. On the other hand, Afghanistan enjoys many economic opportunities in terms of trade and transit in a special geographical location and can use it for the development, construction and growth of the country. Although efforts have been made to take advantage of this situation and opportunities in the past few years, but it has not yielded results. This geographical location of Afghanistan has provided opportunities and capacities for Afghanistan in the economic and political fields. It can be effective for development.

**Key words:** Geographical location, development, Central Asia, South Asia, Energy, Silk Road, Regional coordination.

# Utilization of New Methods in The Restoration of Ancient Antiquities

Senior Teaching Assistant Gulrahman Mushfiq, Nangarhar University, Education Faculty, History Department.
Email: moshfiqgulrhman123@gmail.com

**Abstract**
Today, the use of new technology in various disciplines is visible, and the discipline of archeology is not left behind in this direction, the inclusion of new technology in the science of archeology has had a good result in the survival and understanding of ancient and cultural artifacts, and in the field of survival of ancient objects from It has provided more facilities In field research, the origin of ancient artifacts may be faced with dangers or they may have been damaged before their discovery, for this purpose archaeologists do their best to prevent the ancient artifacts from perils . Archaeologists use modern methods and tools for this work. The importance of the present research is to show the use of modern methods and tools in the reconstruction of ancient monuments. The current research was launched on a qualitative basis and using a descriptive method, which determines the role of Rexcan 4 in the reconstruction of ancient artifacts, the findings of the research indicate that Rexcan 4 has a strong software that the skeletal figure draws the ancient artifacts with excellent quality and is prepared for molding.

**Keywords:** Anciant antiquities, Rexcan[4], Restoration, Technology, Termoframing.

**Peace and rules against deliberate murder**

Senior Teaching Assistant Naqibullah Mushfiq, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Department of Fiqa and Law.
**E-mail:** Mushfiqkhosti@gmail.com

**Abstract**
In these times many members of the community are being killed unjustly and innocent people are killed during the murder of the killer, So I rote this article. So, the people take the path of peace instead of revenge, on the one hand the killer will be saved from death in the other hand innocent people will not be killed.
Assassination is an act for the soul, which abolishes life. Whoever kills a believer intentionally; so, his punishment is hell. Islamic Sharia has allowed the guardian of the deceased person to forgive him. passing Qisas against the debt is not considered forgiveness but peace. In Qasas permissible to settle for the same amount of property, which the parties have agreed on, then it is not permissible to accept reconciliation on the sides of the war, so it is obligatory for them to reconcile. This research is a library, so I have used Holy Quran, hadith and fiqa in gathering information and I have used Kabuli Tafsir. Whoever kills a believer intentionally; So, his punishment in this world is qisas, diyat, deprivation of inheritance and will, his punishment in the Hereafter is Hell. When a murder fine occurs, it is obligatory on other Muslims to make peace between the family of the killer and the victim.

**Key words:** giving women in bad, Intentional murder, intentional murder Caesar, murder, peace.

# The wisdom of the legitimacy of hudud in Islamic law

Senior Teaching Assistant Fakhruddin Izam, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Department of Islamic culture.

**E-mail:** fakhruddin.izam123@gmail.com

**Abstract**

Limits are one of those prescribed penalties that are obligatory due to Allah’s rights, such as; the limits of adultery, wine, theft, false accusation, robbery and the limit of rejection (deviation from religion), for all the mentioned crimes punishments are specified and determined in the Islamic law, which are not changeable. In this article, the identification of limits, legitimacy and wisdom have been explained to the people to so that they would protect themselves from the crimes to have peace, stability, justice and prosperity in the society. As this is a library study, therefore, an attempt has been made to firstly get information from the Holy Quran and then from the *Sunnah* of the Prophet. Furthermore, authentic and reliable sources of jurisprudence have been taken into consideration and each saying has its relevance to its speaker. For the interpretation of Quranic verses *Kabli* commentary has been utilized. The legitimacy of the limits protects and preserves the five essentials of the Islamic Shari'ah and is a divine mercy and blessing for the criminal, the victim and the general community. If the limits are accurately enforced, there will be peace and stability in the society and people will have a safe, prosperous and happy life with dignity and respect.

**Key Words**: Criminal, Legitimacy, Limit, Prohibition, Reform, Wisdom.

# Controlling of Inflation in Islamic System

Senior Teaching Assistant Rahmatullah Mangal, Shaikh Zayed University, Faculty of Economics, Department of Banking and Finance.
Email: rahmatmangal86@gmail.com

**Abstract**

All those policies, which do not contradicted with Islam, are considered permissible in Shari'ah. In order to have a stable economy, inflation is a very important issue in the economy. The purpose of this research is to find out what are the causes of inflation? And is inflation beneficial or harmful to the economy? What are the factors? And what are the Islamic solutions to the Inflation? We have answered the same questions in this research and to achieve this goal we have done qualitative research. This research is qualitative research. Qualitative research examines the research problem from the point of view of various economists in depth and in a short time. Institutional policies, approvals, books, articles and institutional reports to prepare relevant information for research. This method (Document analysis) is used because in this method, these different sources can be analyzed in order to get the materials we need. Researchers have used the method of content analysis for this type of research to collect information from other previous studies. As a result of this research, we have clarified all the causes due to which inflation occurs and we have found most of the ways that various economists have identified for the occurrence of inflation and solutions. This study can help the general public, businessmen and government policy makers to understand the causes of inflation, so that the general public can understand why inflation occurs, businessmen and government related sectors. It helps to do business with any countries so that the businessmen and the nation are not harmed.

**Key words:** inflation, factors of inflation, deflation, solutions in Islam, types of inflation.

# The role of Forensic medicine in determining of homicide

Senior Teaching Assistant Pasoon Miakhil, Shaikh Zayed University, Law and political science Faculty, Department of Law.

Email addres: pasoonwafamiakhil@yahoo.com

## Abstract

Determining the cause and manner of death with accuracy is essential in legal and medical contexts. Forensic medicine plays a vital role in differentiating between natural death and homicide, a challenging task due to the potential absence of witnesses or clear signs of foul play. This study explores the importance of forensic medicine in determining homicide. Homicides are generally classified into five categories: willful homicide, quasi-intentional murder, accidental murder, equivalent to accident, and indirect murder. Forensic medicine, through the meticulous collection of trace evidence and toxicological analysis of bodily fluids and tissue during crime scene investigation, provides compelling evidence that supports a natural death or suggests homicide. This information is critical for law enforcement as it helps to identify suspects, reconstruct events leading to death, and ultimately ensures that justice prevails. This comprehensive approach ensures that even the most meticulously concealed crimes can be highlighted, ensuring that no crime remains buried.

**Keywords:** The killing stage, Symptoms of murder, Determination of time of murder, Abandonment of the body, Forensic Medicine.

# Examining Freedom of Speech Through a Secular-Liberal Lens

S.T.A Dr. Ahmad Javid Shakib, Shaikh Zayed University, Faculty of Journalism and Public Relations, Department of Journalism.
Email: javid.shakib@gmail.com

## Abstract

Freedom of speech and opinion is regarded as one of the fundamental human rights. Islam acknowledges the freedom of speech for all individuals. In the contemporary era, this right is enshrined in Article 19 of the United Nations Universal Declaration of Human Rights. Despite international support for freedom of expression, totalitarian and authoritarian regimes continue to challenge this principle. The Western considered that, she is committed to freedom of speech and media from a secular liberal perspective, but there are criticisms regarding its impartiality and fairness. This paper aims to investigate whether Western secular liberals truly for the freedom of all people in a neutral and non-discriminatory manner or if their claims of freedom of expression are, in fact, biased and discriminatory. To assess the neutrality and non-discrimination of Western liberalism's approach to freedom of expression, the author examines two significant international cases from the 21st century: the first one is the "war on terrorism" and the second one is Palestinian genocide by Israel. This analysis includes a review of books, academic articles, and media coverage related to both cases. The findings of the analysis reveal a dualistic approach in Western media regarding the "war on terror" and the Palestinian genocide, suggesting that Western liberal media often undermines the principles of freedom of speech. Rather than being champions of this right, they can be seen as perpetuating discrimination against Islam and Muslims, similar to the actions of authoritarian and totalitarian regimes.

**Keywords**: freedom of expression, liberalism, war on terrorism, human rights, discrimination.

# Superstitions, Myths and others evil practices associated with ignorance

Assistant Professor Mohammad Walid Ishaqzai, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Islamic culture Deprtment.

**Email:** walid.ishaqzai2008@gmail.com

**Abstract**

As the topic of my research is very broad, I would like to order it; I will provide information about what is necessary and important about superstitions, myths and other such bad practices.

First- Without a doubt that witchcraft is one of the secret and evil affairs that existed in human societies from the past, sorcerers would use witchcraft and magic in societies for corruption, even in Islamic societies. They used magic and magic for various reasons.

Second- Ignorance and ignorance: Some Muslims turn to witchcraft and magic due to ignorance, because they think that dawn does not cause any harm or deficiency in religion.

Third- Gaining wealth: Some corrupt people have made magic and magic a profession and profession to get wealth from the common people and weak people.

Fourth- The Holy Quran and the Prophet's Sunnah strongly emphasize on the belief of monotheism in the matter of beliefs and strongly command to refrain from any kind of shirk with the entity of Allah (the Most High), as Allah, the Most High, has said. He also said in the Holy Quran:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (Alnisa:48) Translation: Without a doubt, Allah does not allow that one should associate with Him, and He forgives except this (other sins) whom He wills.

**Key Words:** Magic, events and incidents, witchcraft, evil whispers, oblivious people.

## Pashto modern poem and sadism

Assistant Professor Gul Rahman Rahmani, Baghlan University, Languagse and Literature Faculty, Department of Pashto Language and literature.

Email: G.rahman_rahmani@yahoo.com

**Absract**

Although Sadism is a term related to Psychology and Psychological Science, it means to enjoy and get pleasure from another person's suffering. However, it is linked with Pashto literature, and there are innumerable examples of Sadism, especially, in Pashto Contemporary Poetry. On the other hand, in terms of gender, it is strongly observed in the poems of female poets as well. Psychologically, women are a bit complex against tyrannical society while self-indulgency is also a part of their nature and use their beauty and adornment as an annoying tool to harass the opposition party and enjoy harassing them, but if they are not praised and their favors are not feel/understood then to take revenge, they calm themselves with the pain of the opposition. Because of this, researcher of psychology and literature have also named that a type of mental illness. Conversely, another form of Sadism is called Masochism which is extremely strong in Pashto Poetry and many male poets have been enjoyed their suffering, panic, and falling situation. In Folkloric Poetry both forms are almost equal and there are more examples of mental and physical sadism; this article focuses on three male and three female contemporary poets.

**Key words**: Sadism, pome, masochism, sociopath, sadist, love, test.

# The Wisdom and Philosophy of polygamy of the Messenger of Allah (PBUH)

Assistant Professor Mohammad Walid Ishaqzai, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Islamic Culture Department.

**Email:** walid.ishaqzai2008@gmail.com

**Abstract**

As it is clear, before the coming of the holy religion of Islam, it was customary in Arab societies to marry more than one woman, in such a way that no limit was set for it; But as soon as the bright sun of Islam appeared, all related bad customs were reformed and regulated, it was considered permissible for each Muslim man to marry four women; But on the condition that he will have the financial and psychological strength and power and will also do justice and fairness between his wives, in the same order, the scholars about the wisdom of the Messenger of Allah (peace and blessings of Allah be upon him) to marry more women. He adds that the Messenger of Allah (peace and blessings of Allah be upon him) has conducted many marriages based on the four major wisdoms such as: educational wisdom, legislative wisdom, social wisdom and political wisdom. With this action, Hazrat Umar (RA) was compared to his first Caliph Abu Bakr Siddique (RA) .

The marriage of the Prophet's (peace be upon him) with daughters of Hazrat Umar (RA) and Abu Bakr Siddique (RA) was the greatest reward and favor for both of them. A great secret and wisdom is also revealed, that related marriages led to the reduction of harm caused by the infidels to the Muslim nation and the entry of great and strong people into the holy religion of Islam; until, the greatest enemy of Islam, became servant of the holy religion of Islam and the greatest blessing of faith.

**Key words:** Wisdom and philosophy, the Messenger of God (Peace be upon him), polygamy, Arab society.

## Introduction and Analysis of Al-Mu'tasim Victory of Amuria

Associate professor Zarwali Sediqi, Shaikh Zayed University, Faculty of Social Science, Defartment of History.
**Email:** zarwalisedeqi@gmail.com

**Abstract**
The city of Amuria in the southwest of Turkey, which was considered to belong to Rome in the past, and in addition, there were Muslim settlements in a number of cities such as Zabatara, Multiya and Samisat, which sometimes fought with the Romans, in this series, during the Abbasid caliphate, there is a tribe of Amuria, which has been repeatedly stated in the history, and this mention has been studied and analyzed in this scientific article. Al-Mu'tassim was the eighth caliph of the Abbasid Caliphate, his caliphate lasted from 218 to 227 AH, and because of several exceptional deeds he carried out during his reign, his name is known throughout history, one such deed was hearing a Muslim Roman woman cry out for help, mentioning Al-Mu'tasim's name in her cry and pleading with him to assist her, in this regard, he organized a large army without delay and reached Rome with full courage and bravery, and in his revenge, he destroyed their old capital, Amoriya, and he taught the Roman Caesar Tufel such a lesson that until now, it is the shining period in history and Muslims are proud of this achievement. In this article it is discussed, if at the moment Muslims make the past eras of unity, love and self-sacrifice among themselves an example for their lives? Without a doubt, the past will be followed by the world and the Muslims will not be condemned in every corner of the world, rather, the ruler is safe from the oppression of the infidels, Just as they will not distressed to the cries and screams of the Muslims of Palestine and Gaza, Israel and other tyrannical regimes will never have the courage to do this again and to do violence and injustice to a Muslim and if this fire of hypocrisy and misery between us; Therefore, the Islamic world and all Muslims will always choose an even worse situation than the current situation.

**Key words**: Abbasid Caliphate, Al-Mu'tasim, , Amuria, Roman Caesar, Zabatra.

## Means of Proving Crime

Associate professor Amanullah Zadran, Shaikh Zayed University, Law and political science Faculty, Department of political science.

Email: amanullah.zadran@gmail.com

**Abstract**

The instruments of initiation of a criminal case are those on the basis of which a criminal case is initiated. After the occurrence of the crime and with the discovery of those reasons, based on which the suspect can be brought under judicial investigation, and when all these tools are available, in the context of establishing the occurrence of the crime, the perpetrator can be identified. We can compare them and by collecting these tools, we can identify and diagnose the perpetrator.

Reasons for proof are the set of tools that are used to prove a case, and when the court issues an order, it is obliged to mention the reasons for the order in the decision. Since acquittal is the main condition; Therefore, any means or reason should not be used to convict and punish a person. In the Criminal Procedure Law, there are 5 types of reasons that are relied upon in all stages of judicial prosecution, which are confessions, testimony, documents, identification and evidence.

In order to better investigate this matter, I have also examined the tools of criminal prosecution and the tools of proving the crime. In this study, I came to the conclusion that criminal proceedings are initiated on the basis of criminal proceedings and the crime is not proven; however, in the case of the presence of the evidence of the criminal case, the crime is confirmed on the perpetrator.

**Key words:** Criminal proceedings, tools, crime, Affirmation, movement.

## Types of foreigners

Associate Professors Mohammad Shafiq Mandozai, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Administration and Diplomacy Department.
Email: shafiqmandozy@gmail.com

**Abstract**

The legal status of foreigners and their rights and obligations are among the topics of international private law. which is currently at the forefront of international topics; Therefore, on this basis, even though individuals live in a certain place from a geographical point of view and have a material and legal relationship with this place, they are also related to the state as a political governor and legal governor, so that according to this relationship, the government will take care of them. To support the hypocrites abroad and internally these people can enjoy the rights that the government has taken into consideration for everyone. In practice, people change their residence based on various factors such as: political, commercial, economic, war, etc. Also, the recognition of the right of entry, residence (Iqamat) and the exit of foreign nationals is mandatory. Also, the travel, residence and living of people in a permanent or temporary form, it causes the said country to differentiate between its citizens and that person and deprive such persons of some rights and some of them.

The purpose of this bibliographic article is to make the readers understand that foreigners are deprived of certain rights based on special conditions, if we want to deprive foreigners of private rights; So it means that this foreigner is not allowed to live in this country. This is a bibliographic research article and it uses sources that are considered reliable at the international and domestic level. No, and the other is that my writing is in Pashto language; Therefore, all literature of Pashto language has been taken into consideration and in this writing, simple language has been used.

**KeyWords**: Permanent foreigners, ordinary foreigners, veteran refugees, displaced persons, tourists

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2024, No: 35**

## Editorial Board

- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assist. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**
- **Assist. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **S. T. A. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**